
څراغ
اسدالله غضنفر

## لیکلړ

**ګڼه** **سرلیک** **مخ**

### لومړۍ برخه

### د روغې ټولنې ارزو


۱. لیکوال ..................................... ۵
۲. زوړ او نوی ..................................... ۷
۳. قدرت او شخصیت ..................................... ۱۰
٤. د وطن مینه ..................................... ۱۳
۵. کار ..................................... ۱٦
٦. د کور خزانه ..................................... ۱۸
۷. کار، کمال او مینه ..................................... ۲۰
۸. لیډر ..................................... ۲۲
۹. زما ګټه ..................................... ۲٤
۱۰. حیثیت او رقابت ..................................... ۲٦
۱۱. د نوي کال په درشل کې ..................................... ۲۷
۱۲. نوښت او عدالت ..................................... ۳۱
۱۳. تبعیض ..................................... ۳٤
۱٤. تېرېګره رڼا ..................................... ۳٦
۱۵. د کار یو طلایي اصل ..................................... ۳۹
۱٦. مستقیم او غیرمستقیم تبعیض ..................................... ٤۱
۱۷. ترافیکي پېښې ..................................... ٤۳
۱۸. نن، پرون او سبا ..................................... ٤۷

۱۹. رشتیا او دروغ........................................................ ٤۹
۲۰. ښویېدلی........................................................ ٥۰
۲۱. په وطن باندې باور........................................................ ٥۲
۲۲. د بې عدالتۍ کلتور........................................................ ٥٤
۲۳. طلايي عمر........................................................ ٥۷
۲٤. د ریا خرقه........................................................ ٦۳
۲٥. شهادت........................................................ ٦٦
۲٦. خشونت او زموږ اخلاقي دنده........................................................ ٦۹
۲۷. خوشحاله سنبله........................................................ ۷۲
۲۸. اوازه........................................................ ۷٥
۲۹. تفریح........................................................ ۷۷
۳۰. مړینه او ټولنه........................................................ ۸۰
۳۱. د ګدایانو دنیا........................................................ ۸۹
۳۲. د خدای مخلوقات........................................................ ۹٥
۳۳. د کورنیو ځلانده ماضي........................................................ ۹۹
۳٤. بوډا او بودا........................................................ ۱۰٤
۳٥. د قضاوت بدوي تعبیر........................................................ ۱۰٦
۳٦. موږ او نوی تمدن........................................................ ۱۰۸
۳۷. بې دینه توره........................................................ ۱۱۰
۳۸. هغه راځي........................................................ ۱۱۲
۳۹. له حکومت سره درې ډوله رابطه........................................................ ۱۱٥
٤۰. د زغم مخالفان څه وايي؟........................................................ ۱۱۸
٤۱. څلور بلاګانې........................................................ ۱۲۰

۴۲. امن، امېد او په ځان باور.......................۱۲۳
۴۳. ځوانان.......................................۱۲۶
۴۴. موږ ولې شاته پاتې یو؟..........................۱۲۹
۴۵. د میندو مرګونه.................................۱۳۲
۴۶. د قدرت تنده...................................۱۳۵
۴۷. د عمر ګلونه...................................۱۳۸
۴۸. د تظاهر لومه..................................۱۴۲
۴۹. د ماشوم د شوخي حق.............................۱۴۵
۵۰. پر ځان مېین...................................۱۴۸
۵۱. د وطن په هدیرو کې..............................۱۵۱
۵۲. د هوټلونو ودونه................................۱۵۴
۵۳. له ماشومانو سره تشدد...........................۱۵۷
۵۴. د شیطان کور...................................۱۶۰

**دویمه برخه**

**ادب او فرهنګ**

۵۵. ادبیات څه ته وایي؟.............................۱۶۳
۵۶. د اثر ادبیت...................................۱۶۸
۵۷. ذوقونه بدلېږي..................................۱۷۰
۵۸. د ویسا د لسمې کالیزې په پلمه...................۱۷۳
۵۹. د حنان بارکزي دوه بیتونه.......................۱۷۷
۶۰. ادب د ټولنې هینداره ده؟.........................۱۷۸
۶۱. زرغون لښتی...................................۱۸۰
۶۲. د لیکوال د لارې څلور خنډونه.....................۱۸۳

٦٣. خوبونه............................................................ ١٨٦
٦٤. هنر څه را زده کوي؟.............................................. ١٨٨
٦٥. د بشير ګوانښ يو بيت.............................................. ١٩١
٦٦. مېړتون............................................................ ١٩٢
٦٧. د ورمې سبا درې بيتونه........................................... ١٩٤
٦٨. فطرت حالت........................................................ ١٩٦
٦٩. جادويي څراغ........................................................ ١٩٨
٧٠. قلم او بغاوت........................................................ ٢٠٠
٧١. وصال............................................................... ٢٠٣
٧٢. چلم او تنباکو....................................................... ٢٠٥
٧٣. وخته تم شه!........................................................ ٢٠٨
٧٤. د نوم پاتېدلو لار.................................................... ٢١٠
٧٥. د شعر جوهر........................................................ ٢١٤
٧٦. دی معمار د سلامت د عمارت و.................................. ٢١٥
٧٧. د اساطيرو سيورى.................................................. ٢٢٠
٧٨. د ليکوالۍ يو اصل.................................................. ٢٢٨
٧٩. د فلسفي فکرونو شاعر............................................. ٢٣٠
٨٠. د ليکوال اجرونه او کړاوونه........................................ ٢٣٤
٨١. اروا پوهنيزه کره کتنه............................................... ٢٣٨
٨٢. پوښتونکى........................................................... ٢٥٨
٨٣. د فورماليتسي کره کتنې دوه مثالونه................................ ٢٦١
٨٤. در مکنون........................................................... ٢٧٨
٨٥. د هرې ژبې ادب خپلې غوښتنې لري................................. ٢٨١

۸۶. ز. ب........................................۲۸۵
۸۷. په لرغوني مصر کې هنر او ادبيات..........۲۸۹
۸۸. د افغانستان منظرې..............................۲۹۳
۸۹. اخبارونه او سفرونه..............................۲۹۵
۹۰. ادب او اکاډيميک مرکزونه....................۲۹۸
۹۱. دريم هنر.............................................۳۰۱
۹۲. د سمې زده کړې دوه شرطونه..................۳۰٤
۹۳. زموږ د ښوونې او روزنې پاشل شوی نظام.........۳۰٦
۹٤. انحصار...............................................۳۰۸
۹۵. امتحان...............................................۳۱۱
۹٦. صرف مير............................................۳۱۳
۹۷. اړتياوې..............................................۳۱۵
۹۸. ذکر د خنزيرانو......................................۳۱۸
۹۹. وړانديز...............................................۳۲۱
۱۰۰. د لرغونو يونانيانو عقيدې......................۳۲٤
۱۰۱. د ادب او ژورناليزم شريکه ساحه.............۳۲۹
۱۰۲. د خوشحال خټک درې خبرې...................۳۳۲


**دريمه برخه**

**گرامر**


۱۰۳. يو....................................................۳۳۵
۱۰٤. لا.....................................................۳٤۲
۱۰۵. پوهاند که پوهانده؟..............................۳٤۷
۱۰٦. هم...................................................۳۵۱

۱۰۷. روستاړې یا......................................... ۳۵۷
۱۰۸. د ژبې دوې متقابلې غوښتنې........................ ۳۶۰
۱۰۹. د نالیکل شوېو فعلونو جملې.......................... ۳۶۳

## څلورمه برخه

## هغه ما لیدلي خلک

۱۱۰. زموږ کلیوال......................................... ۳۷۲
۱۱۱. په وده کې ونډه......................................... ۳۷۶
۱۱۲. د وحشي ژویو دنیا..................................... ۳۸۳
۱۱۳. زړې نخښې............................................ ۳۸۸
۱۱۴. ښکلې فطرت........................................... ۳۹۰
۱۱۵. دوستي او دښمني....................................... ۳۹۲
۱۱۶. ذکر د شراب او شرابیانو................................ ۳۹۵
۱۱۷. د فرعون د زمانې یادگار................................ ۴۰۱
۱۱۸. د کندز هندوان او سیکان............................... ۴۰۴
۱۱۹. فرغانه چیان........................................... ۴۰۸
۱۲۰. د ښاروالي جاروکش..................................... ۴۱۳
۱۲۱. ... که مپرس........................................... ۴۱۵
۱۲۲. نخښې.................................................. ۴۱۶
۱۲۳. غرنی خوب.............................................. ۴۱۹
۱۲۴. غیرتمن عالم........................................... ۴۲۲
۱۲۵. د مهاجرت نخښه........................................ ۴۲۵
۱۲۶. له پلار سره پلي تگونه................................. ۴۳۰
۱۲۷. وروستی ورځ........................................... ۴۳۵

## پنځمه برخه

## درې مرکې

۱۲۸. کلمې به د پیسو غونډې په احتیاط لګوو............٤٤٠

۱۲۹. د نطاقي په باب مرکه......................٤٥٥

۱۳۰. د ښکلا په باره کې مرکه....................٤٦٢

# د سر خبرې

چې د دې کتاب د چاپېدو اراده مې وکړه، د نوم په فکر کې یې شوم. د ځراغ کلمه مې ورته خوښه کړه خو تشویش راسره و چې هسې نه د بل چا د کتاب نوم وي. د ځینو باخبرو دوستانو په قول، په دې عنوان بل پښتو کتاب نشته.

ځراغ د مطالبو د تنوع او محتوا له مخې زما د مقالو یوې بلې ټولګې( کلتور او ټولنه) ته ورته دی. په تېرو دوه، دوه نیمو کلونو کې د کلتور او ټولنې له چاپېدو وروسته ځینو دوستانو راته وویل چې په لیکنو کې یې ډلبندي پکار وه او دا خبره هم راته وشوه چې مثلا په یوه لیکنه کې ( تېر کال ) وایم خو د لیکنې نېټه نه ده معلومه او لوستونکی نه پوهېږي چې له ( تېر کاله) منظور څه وخت دی؟

د دې مشکل د مخنیوي لپاره مې د ځراغ د هرې مقالې په پای کې د هغې د لیکلو کال ذکر کړ او پاتې شوه د مقالو د ډلبندۍ کار چې اسانه نه و. ځینې مقالې په اسانۍ سره په یوه ګروپ کې راتلې، مثلا د ګرامر په اړه لیکنې، خو د ځینو نورو ډلبندي سخته وه.

هغه لیکنې چې ( د روغې ټولنې ارزو) تر عنوان لاندې یې لولئ، د وګړي او ټولنې له مسایلو سره تعلق لري. د کتاب د مقالو په دې برخه کې د فرد او ټولنې د ځینو لویو ستونزو او له دغو ستونزو د راوتلو په باره کې خبرې شوې دي.

د ( فرهنګ او ادب) تر مشترک عنوان لاندې اکثره لیکنې له ادب تیوري، کره کتنې او د فرهنګ له عمومي مسایلو سره تعلق لري. د فرهنګ او ادب د برخې یو شمیر مقالې د نورو د شعرونو لوستلو راباندې لیکلې دي، یعنې د یو چا شعر د لیکلو موضوع راکړې ده.

زه چې د ليکلو او لوستلو په وخت له ګرامري ستونزو سره مخامخ شم او په کتابونو کې يې ځواب پيدا نکړم، پخپله پسې لټون پيل کړم او چې يوې نتيجې ته ورسېږم، له لوستونکو سره يې شريکه کړم. په دې برخه کې څو کلن لټون په دې پوه کړی يم چې پښتو پښويه د ځوانو محققانو لپاره د کار ډېره لويه او جالبه ساحه ده. استاد زيار يو نيم ځل تاسف څرګند کړی دی چې اکثرو لايقو محصلانو د ژبپوهنې په ځای ادبپوهنې ته مخه کړې ده. داسې ولې شوې دي؟ زما په ګومان يو دليل يې دا دی چې ګرامر تر ادبپوهنې دقيق علم راښکاري او وېرېږو چې په ژبنيو بحثونو کې تېروتنه به مو د پټېدو نه وي، حال دا چې که د نوې خبرې د کولو شوق کوو نو ريسک به منو. ګرامري بحثونو ته د زړه نه ښه کولو بله وجه دا ده چې موږ په جزوي مسايلو ډېر غور نه کوو او عمومي مسايل تشريح شوي راښکاري. د ( ځراغ) د ګرامر د برخې مقالې تر ډېره حده د ژبې د ګرامر له جزيياتو سره تعلق لري.

د ( ماليدلي خلک) عنوان مې د رحمان بابا له يوې مصرعې راواخيست چې فرمايي: ليده نه شي هغه ما ليدلی خلق. د کتاب د دې برخې ليکنې تر ډېره حده د ځينو کسانو،ځايونو او خلکو په باره کې زما د خاطرو او مشاهدو په اساس راپورتاژونه دي.

د کتاب په وروستيو پاڼو کې درې مرکې لولئ. مرکې د خپل شکل په برکت له نورو ليکنو په اسانه بېلې شوې مګر يو مشکل پکې شته او هغه دا چې د مقالو برعکس، دلته د بياکتنې او کمي زياتي چانس نه و. په دغو مرکو کې شوې خبرې که مې اوس کولای، يو څه به بل ډول وې. د مقالو د بيا کتنې په وخت څو ځايه په تکرار شويو خبرو او مثالونو پېښ شوم چې د کمېدو کوښښ مې يې وکړ.

د دې کتاب د چاپ په باره کې چې مې د مومند خپرندويې ټولنې له ګران هدايت الله عادل سره خبرې کولې، راته ويې وويل « کلتور او ټولنه» او

«جادوګر هنر» ختم شوي او د بیا خپرېدا اراده یې لرو. دې خبرې خوشحاله کړم او دا خوشحالي ځکه له تاسې سره شریکوم چې زمونږ په وطن کې یو وخت د کتاب چاپ دومره اسانه نه و او که به چاپ شو، لوستونکی یې نه پیدا کاوه. «غوره نثرونه» زمونږ د شلمې پیړۍ یو شهکار دی خو دغه شهکار په کلونو کلونو د چاپ په انتظار پروت و. پلار مرحوم مې ویل چې په دیارلس سوه څودېرشمو کلونو کې یې د یوې حکومتي ادارې په الماري کې د غوره نثرونه قلمي نسخه لیدلې وه، چې ډېرې دوړې ورباندې ناستې وې.

له اوسنۍ ټکنالوژي چې چاپ یې اسانه کړی دی او د بیان له اوسنۍ ازادي چې د سانسورچیانو مخه یې ډب کړې ده، مننه پکار ده، خو که لوستونکي نه وي، نه د خلکو د اقتصاد بهتري، نه ټکنالوژي او نه د بیان ازادي له لیکوال سره اصلي مرسته کولای شي. په وروستیو څو کلونو کې د لوستونکو شمېر څو برابره زیات شوی دی. اوس لوستونکي دې ته تیار دي چې د لیکوال کتاب ولولي خو ایا لیکوال هم تیار دی چې د لوستو وړ کتاب ولیکي؟ خدای دې وکړي چې دې پوښتنې ته د ځراغ د لوستونکي ځواب مثبت وي.

اسدالله غضنفر، د ۱۳۹۵ کال د کب اوومه

لومړۍ برخه :

# د روغي ټولني ارزو

# لټون

ژوند یوه منډه ده او په دې منډه کې تر نورو مخکې کېدا ته کامیابي وایو. هغوی چې خپلې مخې ته نه بلکې نورو ته ګوري، سرعت یې کمېږي او دا خطر شته چې پښه یې چېرته له تیږې سره ولګېږي یا بل مشکل ورپېښ شي. د نورو په کار کې کار لرل او د نورو په کامیابي باندې زړه خوړل، په ژوند کې د ماتې او ناکامۍ سبب ګرځي.

که له کامیابي څخه مطلب په خپلو کارونو کې پرمختګ وي نو د دې پرمختګ لپاره ارام ذهن او لازم وخت پکار دی. هغه څوک چې د نورو په خصوصي ژوند کې د لټون عادت لري، نه یې ذهن ارام وي او نه خپلو چارو ته کافي وخت مومي. دغه عادت د شخصیت د ودې مخه نیسي او د وګړي د اخلاقي زوال سبب ګرځي. د بل چا د شخصي لیک لوستل، د نورو د خبرو د اورېدو لپاره د دروازې شاته درېدل او یا بل چا ته په غلا غلا ورکتل چې څه خوري، څه کوي او څه یې اغوستي دي، په اخلاقي لحاظ جواز نه لري.

هر هغه کلتور چې د نورو په شخصي ژوند کې د مداخلې جواز پکې زیات دی او د بل په کار کارلرل ورکې عیب نه ګڼل کېږي، د ټولنې د پرمختګ لاره یې اغزنه ده. ټولنه هغه وخت وده کوي چې وګړي یې وده وکړي او د وګړیو وده هاله اسانه وي چې د ټولنې غړي له ځانونو د یو بل مفتشان او څارونکي جوړ نه کړي. په اروپا کې وده هغه وخت چټکه شوه چې د ټولنې غړیو د یو بل

خصوصي حريم ومانه او د يو بل په خصوصي ژوند باندې تبصره يې د شرم چاره وبلله.

د دې لپاره چې د فردي ژوند په چارو کې کامياب شو، چې په اخلاقي لحاظ وده وکړو او ټولنه مو ترقي وکړي، دا راته ضرور ده چې تر وسه وسه د يو بل په شخصي ژوند کې له مداخلې لاس واخلو او د قرآن کريم په دې قول عمل وکړو چې : ولا تجسسوا يعنې د بل په کار کې تجسس مه کوئ. په تورات کې تجسس ( د سترګو شهوت) بلل شوی دی او بنيادم ته اخطار ورکول کېږي چې تر هغې پوهې چې خدای پر انسان لورولې ده، ورهاخوا دې څه نه زده کوي. د لټون نه کولو دا توراتي تعبير د ودې او نېکمرغی مخه نيسي. انسانانو اوسنی عظيم تمدن د لټون په برکت جوړ کړی دی. هغو قامونو چې د لټون ځای خطا کړی دی او په فطرت کې نه بلکې د يوبل په شخصي ژوند کې تجسس کوي، ښه ورځ نه ده ليدلې.

د ۱۳۹۳ منی

# زوړ او نوی

ځینې کسان پټکی په سروي، ځینې لوڅ سر ګرځي. څوک پطلون اغوندي، څوک ملي جامې خوښوي. یو بهَ د پخوا په څېر د اتڼ شوقي وي، د بل زړه به نوې نڅا وړی وي.

د زوړ او نوي ټکر همېشه موجود و خو په وروستیو سلو کلونو کې چې د لویدیځ تمدن په زرګونو نوې جلوې د سیلاب غوندې ناڅاپه راغلې، دغه ټکر تر بل هر وخت شدید شو.

ځینو کسانو چې د لویدیځ تمدن کمالونه ولیدل، دومره زیات یې تر اثر لاندې راغلل چې د هغو په خم کې رنګېدل او ژغورېدل یې ښېځي یو شی وبلل. ځینو نورو ته لویدیځ کلچر دومره بد او بدرنګی ښکاره شو چې له هغه سره په مقابله کې یې ټوابونه ولیدل.

تاریخ راته وایي چې هیڅ کلچر په یوه حال نه پاتېږي. د وسایلو تغییر، د علم پرمختګ او اقتصادي تحولات په فکرونو او ذوقونو باندې خامخا اثر اچوي.

پخوا چې اوسنی دواګانې او معالجې نه وې او میکروب نه و پېژندل شوی، د ګڼو مرضونو سبب شیطان ګڼل کېده. په پخوانی معالجه کې له بدن څخه د

شیطان د وتلو لپاره د اورادو ویل او د دمونو کول عام وو خو اوس دمگرې هم چې ناروغ شي، ډاکتر ته ورځي.

پخوا چې اکثره کارونه په ازاده فضا کې کېدل نو لوڅ سر صحي مشکلات پیدا کول خو اوس چې د پټي کار هم تر ډېره حده د تراکتور په ذریعه تر سره کېږي، د لوڅ سر عادت مخ په زیاتېدو دی. پخوا بل ته ډوډۍ ورکول خورا لوی اخلاقي ارزښت و، ځکه یو خو لوږه ښځي زیاته وه او بله دا چې هوټلونه عام نه وو او چې چېرته به د دسترخوان څښتن نه و، هلته مسافرو ته ډوډۍ نه پیدا کېده. اوس هم زموږ په کلیو کې تر ښارونو د ډوډۍ ورکولو اهمیت زیات دی ځکه په کلیو کې هوټلونه او رستورانونه نشته.

زموږ لپاره لویه پوښتنه دا ده چې خپل زوړ کلچر به له نویو اړتیاوو او نوي کلچر سره څنگه پخلا کوو؟ هغوی چې د پخواني ژوند په ارزښتونو کې تغییر ته تیار نه دي، د هغو کسانو مثال یې دی چې د موټر په زمانه کې د ا وښ سورلي لازمه گڼي او دلیل یې دا دی چې: نیکونه خو مو په موټرونو کې نه سپرېدل. هغوی چې د ټولنې پخواني کلتور او ارزښتونو ته اهمیت نه ورکوي او خلک مجبور گڼي چې باید نوی رنگ ومني، په یو بل افراط کې راگېر دي. دوی د ټولنې او بې روحه طبیعت تر منځ فرق هېر کړی دی. موږ د پیسو او ټکنالوژي په زور ممکن وچه صحرا په یوه کال کې په گلستان بدله کړو خو ذهنیتونه او ذوقونه دومره په اسانه نه بدلېږي. سعدي وایي هغه مینه چې په زړه کې د ځایولو لپاره یې وختونه پکار وو، له زړه څه د ایستلو لپاره هم وختونه غواړي.

د دې لپاره چې په ټولنه کې کشمکشونه او اختلافونه تر وسه وسه کم شي، پکار ده د نویو غوښتنو او زړو ارزښتونو تر منځ د پخلاینې لارې چارې ولټوو. د ټولنې د مصلحانو او مفکرانو لوی کار دا نه دی چې د دغه کشمکش د یوې غاړې استازیتوب وکړي بلکې لوی کار یې دا دی چې د دواړو غاړو پخلاینې ته لار ومومي.

موږ په تېرو سلو کلونو کې د نويو غوښتنو او پخوانو ارزښتونو د نږدې کولو په چاره کې ځکه چندان کامياب نه وو چې د نويو غوښتنو اکثرو مدافعانو له نويو فکرونو او ارزښتونو د شخصي گټو استفاده کړې ده. مثلا خپل اولاد يې په مکتب کې شامل کړی دی خو له دې سره يې دلچسپي نه ده لرلې چې د نورو اولاد هم مکتب ووايي، ځکه که ټول خلک نوی علم حاصل کړي بيا به د دوی او د عام ولس تر منځ توپير ختم شي. موږ په دې وطن کې داسې مرشدان پيژنو چې په خپلو لوړو يې د لويديځ په پوهنتونونو کې سبق ويلی دی مگر خپل مريدان يې نه دي هڅولي چې زامن ښوونځيو ته واستوي.

له بلې خوا موږ تر ډېره حده د نوي تمدن ظواهرو او خوندونو ته کتلي دي، نه هغو کمالونو ته چې د لويديځ په ترقي کې يې اصلي ونډه لرلې ده. په تېرو سلو کلونو کې په لسگونو زره افغانان د نړۍ په عصري پوهنتونونو کې د زده کړو لپاره بهر ته لاړل خو ډېرو لږو يې په خپله ټولنه کې د علم او فکر په نوي کولو کې برخه واخيسته. دريشی راغلې، نيکټايی راغلې او د مېلو او چړچو طريقې نوې شوې خو شهکارونه رانه غلل، تخنيکونه رانه غلل او د نويو فکرونو د خپرولو لازمه هڅه ونه شوه.

د ټولنې د کلتور قوت ته په کمه سترگه کتل، د نويو اړتياوو د واقعي اهميت نه پيژندل ، د نوي ژوند په ښېگڼو کې د عام ولس نه شريکول او د ټولنې د نسبتا رسېدلي قشر له خوا خپل تاريخي رسالت هېرول ځينې هغه عوامل دي چې زموږ ټولنه يې تر ډېره حده د نوي تمدن په ارزښتونو باندې بې باوره ساتلې ده. دې بې باوري نه يوازې وروسته پاتې او بې وسه ساتلي يو بلکې سره وېشلي او په يو بل بدگومانه کړي يو.

د ۱۳۹۳ منی

# قدرت او شخصيت

انسان چې اجتماعي ژوی دی، په ټولنه کې په شخصيت او حيثيت پسې ګرځي. هغه څوک چې مونږ يې بې شخصيته او بې حيثيته ګڼو، هغه هم په خيال کې يا د ټولنې په يوه وړه کړۍ کې د ځان لپاره حيثيت غواړي. دغه راز ماشومان هم د حيثيت تږي دي. زما وړه لور چې د اول ټولګي امتحان يې تازه تازه ورکړی دی، پرون له خپلې مور سره ښوونځي ته تللې وه چې د نتايجو پارچه واخلي. مور په کور کې دا خبره همېشه کوو چې درس مهم دی، درجه مهمه نه ده خو مور يې راته ويل چې د نومرو تر معلومېدو له مخه د نجلۍ شونډې وچې وې.

په نورو باندې د ځان د منلو ذريعې ډېرې دي. دغه ذريعې په څو ډولونو وېشلای شو:

ځينې کسان د خپل کار او لياقت له مخې په ټولنه کې په حيثيت پسې ګرځي. دا د حيثيت د پيدا کولو تر ټولو غوره او ګټوره طريقه ده. يو ښه موچي،

یوه لایقه ښوونکې، یو تکړه شاعر یا مهربانه نرسه ټولنې ته خدمت کوي او د خدمت په بدل کې یې په ټولنه کې قدر کېږي.

ځینې نور کسان د خپلو وسایلو په مټ په ټولنه کې په حیثیت پسې ګرځي. زه چې کوچینی وم، د ګرمۍ په موسم کې به په ښوونځي کې ډېر تږی کېدلم. د ښوونځي څنګ ته په یوه کور کې یو بوډا او د هغه مېرمن اوسېدل. دوی به زما غوندې تږیو ماشومانو ته د کور د کوهي سړې اوبه ورکولې. یو بل څوک مې یادېږي چې خپل موټر به یې پلیو لارویانو ته دراوه او بې پیسو به یې لېږدول.

یو شمېر نور کسان په خپلو وسایلو کې خلک نه شریکوي مګر له دې خوند اخلي چې نور ورته ووایي چې څومره ښه موبایل دې اخیستی دی! دوی ممکن ډېرې قیمتي جامې، قیمتي موټر، ګرانبیه موبایل یا نور وسایل د دې لپاره واخلي چې خلک په حسرت ورته وګوري. د وسایلو په زور په نورو باندې د ځان د منلو دا رنګه هوس معمولا هغو کسانو ته ورپیدا کېږي چې د شخصیت او حیثیت مانۍ یې له دننه شړېدلې وي. دوی چې په خپل شخصیت تکیه نه شي کولای، په وسایلو باندې یې تکیه وي او څرنګه چې له خپل پټ حقارته څورېږي او په ټولنه کې ځان بې حیثیته احساسوي نو غواړي د وسایلو د برترۍ په زور له ټولنې انتقام واخلي. البته، ډېر داسې کسان هم شته چې ښه وسایل د ښه ژوند لپاره غواړي نه په نورو باندې د کلانکارۍ کولو لپاره. د دغو دوو ډلو توپیر پکار دی.

یو بل ډول ځان منل د زور او قدرت په مټ ځان منل دي چې ټولنې ته یې د ځان منلو تر ټولو خطرناک ډول بللای شو. ځینې کسان خپل حیثیت په دې کې ویني چې نور ورڅخه ووېرېږي او په زور یې د ځان تابع کړي. دا یوازې دیکتاتوران نه دي چې دغه ناروغي لري بلکې د کلي، کوڅې بدمعاشان او ټول هغه کسان چې خپل شخصیت او حیثیت یې له زور او قدرت سره غوټه کړی

دی، په همدې مرض مبتلا دي. هغوی چې د زور او وېرولو له لارې په نورو باندې د ځان د منلو لیونی هوس ورسره دی، د ارواپوهانو په اند، روحي ناروغان حسابېږي.

دغه کسان که څه هم د نورو د توهین، تحقیر، بې حیثیته کولو او ان وژلو تږي وي خو د بل هر انسان غوندې د ضمیر خاوندان دي. دوی د دې لپاره چې ضمیر غلی کړي، د خپلو ظلمونو لپاره خامخا دلایل پیدا کوي. دغه دلایل د دوی د کلتوري او تعلیمي سویې په اساس پیاوړي یا کمزوري وي خو اصلي مقصد پکې دا وي چې خپل ضمیر او د ټولنې ضمیر ورباندې تېر باسي. هیټلر چې د نورو د وژلو او ځورولو لېونی تنده ورسره وه، اول په یهودو شروع وکړه او دلایل یې پیدا کړل چې دا چون یهود دي نو بد خلک دي نو وژل یې پکار دي. ستالین چې هیټلر ته ورته اخلاقي ناروغي لرله، په دې نوم سرونه رېبل چې دوی د انقلاب یا د ده په حساب د حق د لارې مخالفان دي نو وژل یې پکار دي. د نورو د ځبلو، سپکولو، غمجنولو او وژلو تږي هیڅ وخت بې دلیله نه پاتېږي. هسې وایي چې د قتل کوم شوقي خپله انا حلاله کړې وه او چې پوښتنه ورنه وشوه نو د خپلې پوهې په اندازه یې دلیل راوړ او ویې ویل: څه توره تېره وه، څه ابۍ ورَسته وه!

۱۳۹۳

# د وطن مینه

درويش دراني وايي:

پښې يې په خپله خاوره تېنګې لکه ونه نه کړې

پردي وطـــن ته په روزي پسې ساده روان دی

زموږ زلمو له پېړيو راهيسې د کار په لټه پردو وطنونو ته سفرونه کړي دي او پرديسي زموږ د ژوند او ادب په يوې مهمې موضوع بدله شوې ده .

د پخوانو يو مشهور قول دی چې: که دنيا غواړې هندوستان ته او که دين غواړې عربستان ته لاړ شه. نن سبا چې د تيلو په برکت د خليج د غاړې عرب ملکونه شتمن شوي دي، زموږ ګڼ ځوانان په روزي پسې دغو هېوادونو ته ځي. دوی په عربي هيوادونو کې خوشحاله ژوند نه تيروي ، په کلتوري لحاظ د پرديتوب احساس کوي او کوربانه ورسره په کبر چليږي، خو مادي ګټې يې مجبوروي چې ځواني په پرديسي کې خاورې ايرې کړي.

دغسې کس معمولا په وطن کې د اوسېدلو او په اجتماعي ژوند کې د شريکېدلو ارمانجن وي. کله چې يې دغه ارمان پوره شي نو که ښه او خوشبينه سړی وي، لمونځونه به په جماعت وکړي، له خلکو سره به مړ ژوندی وپالي او د ولس بې خيري به و نه غواړي خو په غالب ګومان د وطن په باره کې ژور فکر ته به ضرورت احساس نه کړي ځکه وطن يوازې د ده د مصرف ځای دی، نه د ګټې، او دی که اوس وطن ته هم راغلی ، زوی يې خارج ته استولی دی چې پيسې ورته وګټي. که له وطن څخه منظور کلی او له وطنوالو څخه منظور د کلي اوقبيلې غړي وي، دی شايد ښه وطنپال او ولسپال وبللای شو خو که له وطن څخه منظور هيواد او له خلکو څخه منظور ملت وي، د هيوادپال او ملتپال القاب کيدای شي ورسره ونه ښايي؛ البته، د هيوادپالنې او ملتپالنې د پياوړي

احساس له نشتوالي سره سره دغه کس په هیواد کې له ګډوډي کرکه کوي او د ملت تباهي يې ځوروي، خو د ده برعکس،هغه څوک چې د ګټې ذريعې يې غيرقانوني دي، په هيواد او خلکو يې ښه ورځ نه پيرزو کيږي، ځکه د حالاتو له ښه کېدلو او د قانون له واکمنېدلو سره دا امکان زياتيږي چې حساب ورسره وشي.

له هيواد سره د اقتصادي ګټو په نه تړاو سربيره د وطنپالنې د احساس د کموالي لوی علت دا دی چې مونږ په پيړيو پيړيو په استبداد کې ژوند کړی دی. کله چې د هيواد په کچه فکر کوو، طبعا فکر مو سياسي ماهيت لري او له سياسته ويريږو.

په پيړيو پيړيو تصور کيده چې حکومت د هغه چا حق دی چې توره يې تر نورو تېره ده. هغه څوک چې ډير کسان به يې ووژل، کله منارونه به يې ودرول او واکمن به شو، خلکو ته معمولا ظالم نه بلکې د يوه مرموز او خدای ورکړي امتياز څښتن ښکاريده چې ارادت ورته پکار دی او اطاعت يې لازم دی. دغسې واکمن د سياسي مخالفانو وژل خپل حق ګاڼه او بلکې خپل نژدې دوستان يې هم په وړو خبرو او بدګومانيو وژل او تباه کول. دا متل د اوږدو تجربو پيداوار دی چې وايي: د پاچا شکرې په غم لړلې. خوشحال خټک د واکمنو د غليمانو په باره کې نه بلکې د ملاتړو په باره کې فرمايلي دي:

**چې پادشاهانو ته واخلي تورې**
**د دوی خبرې شي په ملک مشهورې**
**که بيا باور کا په پادشاهانو**
**هغه به ميندې په ځان کا بورې**

کله چې د قدرت ځاله د غومبسو ځاله شي، طبعا د لاس نه وروړلو پلويان زياتيږي، يعنې داسې کسان زياتيږي چې په ملي او هيوادني ژوند کې غرض ونه کړي او د رحمان بابا غوندې ووايي:

## په ساحل کشتۍ د هیڅا نه ډوبېږي
## که څوک نه کا په دریا باندې غرض

موږ اوس که څه هم د تاریخ په یوه پرمختللې مرحله کې ژوند کوو او توقع لرو چې واکمن مو د تورې په زور نه بلکې د قانون او د خلکو د خوښې او اجتماعي تړون په اساس په سوله ییزه طریقه واک ته ورسیږي، مگر د حکومت د موسسې په باره کې د پیړیو زوړ تصور لا راسره دی او گومان کوو چې په ملي او هیوادنیو چارو کې او یا په بله ژبه د هیواد د سیاست په چارو کې که مداخله ونه کړو، خوندي به پاتې شو او بیړۍ به مو ډوبه نه شي. له بلې خوا گڼ هغه کسان چې په سیاست او هیوادنیو چارو کې د غرض کولو شوق ورسره دی، د پخوانیو خلکو غوندې یوازې د تورې او زور لاره په مخ کېویني. دوی دې ته پام نه کوي چې دنیا بدله شوې ده او اوس مثبت بدلونونه په زور او په جبر نه بلکې په قلم، په رایه او په انتخاباتو راځي. د تورې په زور د خپلې خوښې حکومت جوړول که په هر نیت وي خو نتیجه یې د وطن او وطنوالو تباهي ده.

د دې لپاره چې د وطن واقعي مینه په زړونو کې زرغونه شي، د سیاست له قانوني، منطقي او سوله ییزو لارو سره بلدتیا پکار ده او بل یو داسې اقتصاد پکار دی چې وگړي د ونو غوندې خپله روزي په خپله خاوره کې ومومي. ژمنې رسنۍ، د معارف مناسب کتابونه، وطني موسیقي، شعرونه، زموږ د لیکوالو ناولونه، لنډې کیسې، راپورتاژونه، یونلیکونه او خاطرې او دغه راز د هیواد د مختلفو سیمو عکسونه، انځورونه او فلمونه ، دا ټول کولای شي چې په زړونو کې د وطن د مینې ډیوه بله کړي خو د دې لپاره چې دغه ډیوه د زماني د توفانونو په منځ کې هم بله پاتې شي، پکار ده خپلو سیاسي او اقتصادي ستونزو ته حل لارې ولټوو.

۱۳۹۳

# کار

ځوان چې ځنګه ومړ، ځان يې په خورا ښکلي ځای کې ولید. دغه وخت په سپینو جامو کې یو کس ورته راغی، ورته ويې ويل: خواړه، خوندونه، ساتېرې ، هر څه چې دې پکار وي، دلته میسر دي.

ړوند له خدایه څه غواړي؟ دوې سترګې. ځوان هم په مزو شروع وکړه. کلونه واوښتل. له مزو يې ورو ورو زړه تور شو. یوه ورځ بیا هماغه د سپینو جامو والا راپیدا شو. ځوان ورته وويل: چې څه مې زړه غوښتل هغه مې ټول وکړل، اوس غواړم یو کار ولرم او یو څه ګټه ورسوم.

د سپینو جامو والا ورته وويل: وبخښه، دلته هر څه درکولای شو خو کار نه شو درکولای. دلته کار نشته.

ځوان په قهر وويل: که همېشه داسې وي، زړه به مې وچوي، تر دې خو دوزخ راته ښه دی.

د سپینو جامو والا ورو وويل: نو اوس چېرته يې !

دغه حکایت راته وايي چې که کار نه وای، د ژوند د شیبو ډکول به ډېر سخته وو .اکثره کسان ګومان کوي چې کار د ډوډۍ لپاره له مجبورۍ کوي، مګر کار په ډوډۍ سربېره هويت او شخصیت رابخښي او وخت ورسره په اساني تیرېږي. هغوی چې د کار نشتوالي ته هوسېږي، د پاسني حکایت د ځوان غوندې به بالاخره سخت په تنګ شي .

ځيني کسان له کار سره ځکه په تنګ وي چې لوړ مقصد ورته نه لري.
هغه مرديکار چې غواړي کال دا وخت استا کار شي او ترقي وکړي، يو لوړ مقصد يې ټاکلی او په ژوند کې يې د خوشالي امکان زيات کړی دی

د شلمې پېړۍ لوی ليکوال او د نوبل د ادبي جايزې وړونکي همينګوې به پر ديوال ځوړند کاغذ باندې څه کرښې ايستلې او د خپل کړي کار اندازه به يې وربانديې انځوروله. په کار کې د خپل پرمختګ د اندازه کولو او احساسولو لپاره د خپلو طريقو لرل، د ځان د تشويق سبب ګرځي. هغوی چې د ځان د هڅولو په چل نه پوهيږي او په دې تمه ناست وي چې نور به وربانديې آفرين وايي، اشتباه کوي. بنيادم که په خپل کار کې د همينګوې غوندې ډير کامياب او نابغه هم وي، د ځان هڅولو ته محتاج دی.

په کار کې د کاميابي يو بل مهم شرط دا دی چې جسم او ذهن هغومره ستړي کړو چې د صحت اصول يې اجازه راکوي. هغوی چې د بې خوبي په بيه سبق وايي، هم له خپل صحت سره ظلم کوي او هم به يې د سبقونو مزه نه وي. زه يو څوک پيژنم چې تتې رڼا ته به يې د ښوونځي کتابونه لوستل. په درسونو کې کامياب شو خو نظر يې اوس ډير کمزوری دی او د هغه چا ټوکه وربانديې وشوه چې يوسف عليه السلام يې د مصر په بازار کې په لږو پيسو وپلوره. هغوی چې دقت کوي، د کارونو نتيجه يې معمولا ډيره ښه وي. په دقت کولو ځان عادتول د کاميابي يو لوی سبب دی. هغه کار چې دقت پکې نه وي، برکت پکې نه وي.

کله چې په کار کې دقت وکړو، د صحت اصولو ته پام وساتو، د خپل زيار د اندازه کولو طريقې ومومو او په دې پوه شو چې کوم مقصد ته به څنګه ځان رسوو، نو له کار سره به مو مينه پيدا شي او ځان او ټولنې ته به د شر نه بلکې د خير باعث وګرځو.

۱۳۹۳

# د کور خزانه دار

نارینه به لویې مېلمستیاوې جوړوي چې نوم یې ښه شي او ناروغه مور یا مېرمن به ډاکتر ته نه پرېږدي ، ځکه چې پیسې نشته. زه یو څوک پیژنم چې اولاد ته د کورس پیسې نه ورکوي خو په کال کې یو یا دوه ځله لوی خیرات کوي. په اوسنۍ زمانه کې چې په ژوند کې بې تعلیمه پرمختګ ناکېدونی یا تقریبا ناکېدونی دی، د کورسونو لوستل ضرور دي خو دغه سړی چې ذکر یې وشو، په خپل نوم دومره میین دی چې د اولاد له تعلیمه پیسې سپموي او د خیرات په نوم یې په لویو مېلمستیاوو لګوي. یوه سپین سارې ښځه مې پیژندله چې پنځه، شپږ زامن یې وو. ټولو زامنو یې ودونه کړي وو او ټول په یوه کور کې اوسېدل. ګوزاره یې ښه روانه وه خو دې سپین سارې خوابنې به چای، بوره، وچه مېوه او غوړي په خپل کنټرول کې ساتل. د دغو شیانو کلیانې به ورسره وې. چې نږور به ورته راغله او مثلا د چای به یې ورته وویل، د خوابنې شونډې به وخوځېدې، بدرد به یې وویل چې مصرف ډېر کوئ، زما زامن یې په څومره زحمت ګټي او تاسې یې په څومره بې باکي لګوئ. دې به دا خبره هم زیاته کوله چې که زه نه یم، کور به اور واخلي. دې په نږورګانو باندې د خپل تسلط د ساتلو او د ځان د

مهم ثابتولو لپاره دغه چل کاوه. په کور کې طبعا نور مصارف هم کېدل خو دې د خپلې ځوانۍ د وخت له تجربې سره سم ګومان کاوه چې بوره او چای ډېر مهم او قیمتي شیان دي. مثلا کورت یې په کنټرول کې نه ساتل ځکه د دې د ځوانۍ په زمانه کې بوره ګرانه او کورت ارزانه وو.

د کورنۍ ځینې غړي چې د پیسو واک ورسره وي، د کور د نورو غړیو د لباس او نورو وسایلو انتخاب په خپل لاس کوي. مثلا وایي به، نه سور کمیس مه اخله، شین واخله، سور درسره ښه نه ښکاري. دغسې کسان چې د کور په خزانه باندې ناست وي، د خزانه داري له امتیازه په نورو باندې د تسلط لپاره استفاده کوي.

زموږ په ګڼو ښاري او کلیوالو کورنیو کې د هغو ښځو عواید هم معمولا د نارینه وو جېبونو ته ځي چې کار کوي او پیسې ګټي. دغه عواید که د فشار او ارعاب له لارې د نارینه وو جېب ته ځي، خشونت ګڼل کېږي.

د ۱۳۹۳ ژمی

# کار، کمال او مینه

د شلمې پېړۍ مشهوره لیکواله او ژورنالیسته اوریانا فالاچي په ۲۰۰۶ کال کې د اووه اویا کلونو په عمر مړه شوه. دا د سږو په سرطان مبتلا وه او د مړینې یو علت یې دا و چې د وروستي کتاب د لیکلو په خاطر یې خپل علاج شپږ میاشتې وځنډاوه.

ځینې کسان د لیکوالي له کار سره دغسې لېونۍ مینه لري خو یو شمېر نور گومان کوي چې دلچسپي یې ډېره ده، مگر وخت ورسره نشته. ځینو محصلانو او زده کوونکو ته د امتحان په ورځو شپو کې د لیکلو ډېر پیاوړی شوق ورپیدا شي. دوی احساس کوي چې که امتحان یې په مخ کې نه وای نو ډېرې ښې لیکنې به یې کړې وې. دوی چې د وروستي امتحان له پارچې راپاځي، ناڅاپه یې پام شي چې د لیکلو شوق ورسره نشته. په هغه ورځ یا سبا یې شاید فکر وکړي چې امتحان ستړي کړي دي، یو څه استراحت ورته پکار دی، مگر له استراحته وروسته هم د لیکلو هغه شوق په ځان کې نهویني چې د ازموینې په ورځو کې یې احساس کړی و.

د سخت او جبري کار په ورځو کې د ځان د تېرایستلو لپاره ممکن داسې وگڼو چې دغه جبري کار خنډ شوی دی ،کنه نو ډېر څه به مو کړي وو. همدا

وجه ده چې د هغه سخت کار له تمامېدو وروسته د نورو کارونو جذبه هم ختمه شي.

هغوی چې له یو کارسره واقعي مینه لري، وخت ورته خامخا پیدا کوي. واقعي مینه په چارو کې د پرمختګ کونجي ده. دا کونجي به له کومه کوو؟ هیڅوک له موره لیکوال یا د بل کسب او هنر څښتن نه پیدا کېږي. په اوله کې یو څه هڅه پکار وي. کله چې د معرفت په یوه ساحه کې یو څه ز ده کړو او یو څه تجربه تر لاسه کړو، بیا مو ورسره ورو ورو واقعي مینه پیدا شي او په ژوند کې داسې پړاوونه هم راشي چې د لیکنې زحمت د ژوند په تر ټولو لوی مقصد او خوند بدل شي.

د ژوند په دغسې پړاوونو کې ځینې کسان بېخي نویو چارو ته مخه کړي او له ځان سره ووایي چې دا هنر او امتیاز خو لرم، راځه د یو بل امتیاز څښتن شه! دوی شاید بل امتیاز تر لاسه کړي مګر په غالب ګومان هغه اول امتیاز او کمال به په خپل قوت ورسره پاتې نه شي ځکه په یوه زړه کې صرف یوه مینه ځایېږي.

د ۱۳۹۳ ژمی

# ليډر

يوه سپين ږيري راته وويل: ارمان، ارمان که داوود خان ژوندی وای، داسې به نه کېدل!

له ځوانانو شايد همدا خبره په يوه بله بڼه واورو: ملت يوه رهبر ته اړتيا لري، يو داسې چا ته چې وېې ژغوري.

ايا يو کس کولای شي چې ملت وژغوري؟ که د ټولنې د ادارې چارې د تکړه او مخلصو کسانو په لاسونو کې هم وي خو چې ميندې او پلرونه اووه، اته ماشومان زېږوي مگر ډوډۍ، روزنې، روغتيا او ښوونې ته يې سم فکر نه کوي، په بهتري به څنگه ډاډه کېږو؟

په يوه ډرامه کې مې لوستي وو چې استاد د لرغوني روم د اتلانو په باره کې خبرې کوي او شاگرد ورته وايي: هغه ملتونه څومره بختور دي چې اتلان لري! استاد يې خبره داسې ورسموي: هغه ملتونه څومره بدمرغه دي چې اتلانو ته ضرورت لري!

په دې کې شک نشته چې گاندي د هندي ټولنې په ژغورلو کې برخه لرله، مگر که گاندي د اټک د دې غاړې اوسېدونکی او ليډر وای او همدا د زغم، عدم تشدد، پلوراليزم او په نفس باندې کنټرول فکرونه ورسره وای، ترکومه حده به ژغورندوی و؟

د يوه ناجي او ژغورندوی ارزو د اساطيرو په اندازه لرغونی ده. دا خبرې د زخمونو د ټکور غوندې اثرناکې دي چې : يو څوک راځي، يو څوک راروان دي او يو څوک مو ژغوري! گومان کوم يو ملت چې څومره بې وسه او وارخطا شي، هغومره يې په ليډر او اتل باندې تکيه زياتېږي.

موږ له لیډر څخه معمولا د ملک او ټولنې د سیاسي لارښود معنا اخلو، حال دا چې د ټولنې هر ګروپ او هر واحد لیډر لرلای شي. هغه څوک چې په کور کې یې خبره منل کېږي، د کور لیډر دی او هغه چې په کلي کې سترګې وراوړي، د کلي لیډر دی. د ټولنې یا د ټولنې د یوې برخې په ژغورلو کې د لیډر له تاثیره انکار نه شی کېدای خو په لیډر باندې زیاته تکیه کول او له مشره ډېره توقع لرل، سمه خبره نه ده.

په کور کې، په کلي کې او په هېواد کې په لیډرانو باندې زیاتې تکیې، دوې منفي نتیجې لرلي دي: یو دا چې لټ، بې فکره او بې تحرکه پاتې شوي یو. ګومان کوو چې یو څوک شته چې کارونه سموي یا یو څوک باید وي چې کارونه سم کړي، حال دا چې که سمون غواړو نو هر یو به د خپل کار په ساحه کې او د خپل وس په اندازه برخه پکې اخلو. د ټولنې سمون کوم خیالي مفهوم نه دی؛ سمون دا دی چې که زه لیکوال یم، نو مقاله به سمه لیکم او که ته طبیب یې نو طبابت به سم کوې.

په لیډر باندې د زیاتې تکیې بل عیب دا دی چې لیډر ورسره بې لارې شي. هر انسان د عزت او قدرت تږی دی. کله چې لیدر ویني چې ټوله تکیه پرده شوې ده ، دی د همدې حالت د دوام ارزومن شي او بیا یې ډېر کوښښ دا وي چې د نورو لیډرانو د ظهور مخه ونیسي. زما په نظر واقعي لیډر هغه څوک دی چې لیډران جوړوي. مطلب دا چې نور تر لاس نیسي او د ځان حد ته یې رسوي. لیډر چې د ځان غوندې نور کسان پیدا کوي، معنا یې دا ده چې په ټولنه کې د کار کسان زیاتېږي او په چارو کې برکت لوېږي.

۱۳۹۳

# زما ګټه

شاوخوا نیمه پیړۍ پخوا په لواړګه کې یوه شپه مشاعره وه. د شاوخوا کلیو ډیر اوسېدونکي یې اورېدو ته راټول شوي وو. د کوهاټ له سیمې یوه راغلي شاعر په خپل نظم کې دا خبره وکړه چې: چا مسافر ته ولې لار وښیم، ځکه په دې کې زما څه ګټه ده؟

مسافر شاعر په سبا سهار پېښور ته د تلو نیت وکړ او د پېښور د بسونو د اډې په لور وخوځېد. له څه مزله وروسته یې له یوه بزګره وپوښتل چې د بسونو اډې ته کومه لار تللې ده؟ هغه په خندا ورته وویل: چا مسافر ته ولې لار وښیم، ځکه په دې کې زما څه ګټه ده؟

شاعر دا خاطره ډیر موده پس په نولس سوه څواتیایمو کلونو کې د پېښور د پښتو اکیډیمي په مجله کې چاپ کړه. د شاعر نوم مې هېر دی او خاطره یې تر دې پورې رایاده شوه چې پرون د کابل په قلعه فتح الله کې یوه ډاکټر ته ناروغه ورغله. ډاکټر معاینه کړه او نسخه یې ورته ولیکله. ناروغې چې جیب ته لاس کړ، د دوه سوه افغانیو په ځای یې سل افغانۍ ورته ونیولې او ویې ویل چې نورې پیسې ورسره نشته. ډاکټر نسخه څیرې کړه . بیوزلې ناروغه له کتنځي تش لاس ووته.

دغه ډاکټر به په جسمي لحاظ روغ وي خو په روحي لحاظ یې ناروغ بللای شو. د اوسنۍ ارواپوهنې یو لوی کشف دا و چې وګړي یې په ښو او بدو نه بلکې په روغو او ناروغو ووېشل. هغوی چې بد یې بولو، په حقیقت کې روحي ناروغان دي. ځان لیدل او بل نه لیدل، خطرناکه روحي ناروغي ده. روحي ناروغان د جسمي هغو برخلاف ډیر ځله په دې نه پوهیږي چې مریضان دي. دوی ته

ځانونه تر نورو هوښيار ښکاري او گومان کوم دا متل د دوی لپاره شوی دی چې هوښياره مرغۍ په دوو لومو کې نښلي. دوی ته په ځانماري او ځانولي کې گټه ښکاري خو دې ته يې پام نه وي چې انسان يوازې د اوبو نه بلکې د حيثيت تنده هم لري او حيثيت يوازې د ښه کولو او گټور اوسېدلو له لارې حاصلېدای شي.

د انسان لويه ارزو دا ده چې خوشحاله ژوند وکړي. لکه څنگه چې څېړنو ثابته کړې ده د خوشحالي د حصول يوه بهترينه لاره نيکي کول دي .

تاسې به دې حقيقت ته خامخا پام شوي وي چې له کومې موضوع سره مينه لرئ د هغې په باره کې مو ذهن ښه کارورکوي. که زه له سياست سره مينه ولرم د سياست په باره کې به مې نويو خبرو ته پام شي او که له ادبياتو سره دلچسپي ولرم، په ادبياتو کې به نوښت راته اسانه وي. استعداد او مينه د يوې سکې دوه مخونه دي. هغه څوک چې له ځانه نه شي راوتلای، د جهان پيژندل ورته سخته شي.

د واقعي هوښياري، حيثيت او خوشحالي اصلي راز دا دی چې له ځانه راووځو او د خدای له مخلوق سره مينه وکړو. زما خير په دې کې دی چې ستا خير هم وغواړم.

د ۱۳۹۳ کال د جدي اته ويشتمه

# حیثیت او رقابت

ستا رقیب ستا پرون دی. که تر پرون بهتره وې نو رقیب ته دې ماته ورکړې ده.

هغه لیکوال چې د خپل تېر کال په لیکنه کې عیبونه پیدا نه کړي، معنا یې دا ده چې تر تېر کال نه دی بهتره شوی او رقیب ماته ورکړې ده.

هغه ژورنالیست چې د تیر کال او سږ کال د راپورونو په کیفیت کې یې فرق نشته، وده یې نه ده کړې.

هغوی چې خپل پرمختګ له نورو سره پرتله کوي، په لوی لاس ځان ته ستونزې جوړوي. هر څوک د بېلې سیارې غوندې د خپل تقدیر په بیل مدار باندې مزل کوي. علامه اقبال ویلي وو چې که یې په چمن کې اغزی هم پیدا کړی یې ، د فطرت د قانون احترام کوه او د چوخېدلو چل زده کړه. نیکمرغي مې دا نه ده چې د بل غوندې شم، نیکمرغي مې دا ده چې د خپلو شرایطو په چوکاټ کې هغه څوک شم چې راسره ښایي .

واقعي وده دا نه ده چې تر بل چا مې رتبه لوړه شي،واقعي وده دا ده چې وړتیا مې زیاته شي،ځکه رتبه بل راکوي او بل یې اخلي خو وړتیا په خپل مټ حاصلوم او ساتل یې زما په لاس کې دي. پلار مرحوم مې د استاد بېنوا په اره کې راته ویلي وو چې کله وزیر شو، نو له یارانو دوستانو یې غوښتنه وکړه چې وزیر صاحب نه بلکې بېنوا یې وبولي، ځکه وزارت ورنه اخیستل کیدای شي خو خپل نوم یې خپل دی. بېنوا صاحب چې د وزیر له خطاب سره دلچسپي نه لرله یوازې دا وجه نه وه چې وزارت یو موقت امانت و بلکې په دې وجه یې هم د بېنوا نوم غوره باله چې ده واقعي وړتیاوې لرلې او په دې پوهېده چې په بېنوایي کې یې لا لوی عزت دی.

د ۱۳۹۳ ژمی

# د نوي کال په درشل کې

د هغو مناسبتونو په باره کې خبرې چې هر کال يې لمانځو، هم اسانې دي او هم ګرانې. اسانې ځکه دي چې په کلونو کلونو ليکنې وربانديې شوې او تيارې جملې ورته لرو. نوروز، پسرلی، کمکی اختر، لوی اختر، د خپلواکۍ ورځ، د ښځو نړيواله ورځ او... خو که غواړو له نوي اړخه ورته وګورو نو خبرې وربانديې سختې شي.

زما په خيال د نوي کال په مناسبت مراسم جوړول او پام وراړول له دريو اړخونو اهميت لري: يو دا چې د وخت او عمر د تېرېدو په باره کې مو حساسيت زياتوي ، بل خوشحالي کولو ته يوه پلمه راجوړوي او دريم دا چې د نورو دودونو او مراسمو غونډې د يوازې توب او فنا کيدلو د درد په کميدلو کې برخه اخلي.

خوشحال خټک فرمايلي دي چې: غم په زړه کې بد غليم دی، څو توانېږې خواروه يې. غمجنه روحيه مو نه يوازې ځوروي بلکې د وخت په تېرېدو سره روحي او شخصيتي ستونزې راپيدا کوي.

خو له بده مرغه، زموږ په ټولنه کې داسې کسان چې د ژوند له ښايستونو خوند واخلي او د مايوسيو، نهيليو او غمونو لښکر ته ماته ورکړي، ډېر نه دي. د غم او نهيلي منفي عواطفو مو يوازې په دې دليل په ذهنونو باندې سيوری نه دی کړی چې په بېوزلۍ او ناامنۍ کې اوسو، بلکې موږ په کلتوري لحاظ هم خوشحالي او تفريح ته چندان په درنه سترګه نه ګورو. موږ په دې خبره کې لوی حکمت وينو چې : که راحت غواړې زحمت درلره بويه، خو په دې اړه مو غور نه دی کړی چې د زحمت د ايستلو او د کار د کولو لپاره تفريح ضروري ده. هغوی چې د تفريح په اهميت نه پوهېږي که د کار په اهميت پوه هم وي، د کار سبکه او روحيه به نه لري.

په داسې ټولنه کې چې نه عیني شرایط او نه ارزښتونه په کافي اندازه د تفریح او خوشحالي قدردان دي، د تفریح او خوشحالي فرصتونو ته باید په کمه سترګه ونه ګورو او د خوشحال خټک خبره هېره نه کړو چې فرمایي:

په راتلو درسره ډېرې خوښۍ راوړې
په خوشحال باندې دې قدر دئ نوروزه

له بلې خوا د نوي کال رابریدو ته پام اړول د دې سبب کېږي چې د وخت او عمر په اړه لا حساس واوسو او د ژوند شېبې لا مهمې وګڼو. د متمدنې ټولنې د غړي یوه ځانګړنه دا ده چې وخت ورته سرمایه ښکاري او په ضایع کېدو یې خوابدی کېږي، حال دا چې د نوي عصر له روح سره نا اشنا کس د ورځو، اونیو او میاشتو تېرېدو ته خاص اهمیت نه ورکوي. مونږ ممکن خپل ماشوم په اته کلنۍ کې په لومړي ټولګي کې شامل کړو او دلیل مو دا وي چې تېر کال مو ورپام نه و. مور ممکن ووایو: اوس خو ژمی دی ، کال ته به یې ګورو. مونږ چې د وخت د تېرېدو په اړه حساس نه یو، په شخصي یا اجتماعي ژوند کې د پرمختګ لپاره دقیق پلان او پروګرام نه لرو او د زمانې له کاروانه شاته پاتې یو. پرمختګ هغه بنیادم کولای شي چې د عمر او وخت حساب ورسره وي.

د کال ختمېدا او نوي کېدا ته پام کول مو دې ته هڅوي چې په شخصي یا اجتماعي ژوند کې د تېر کال کامیابۍ او ناکامۍ وشمېرو او نوي کال ته نوی تدبیر او پلان ولرو.

لکه څنګه چې له ونو، غنو، وښو او طبیعته جدایي سخته ده، دغسې له خپلو ځېلو او ریښو بیلیدل مشکل دي. بنیادم د خپلو تیرو دودونو د ادامې په مرسته ځان له خپلو خلکو او ماضي سره وصلوي او د یوازې پاتیدو او فنا کیدو درد ورباندې کراروي.

که خپل شمسي کال ته راشو نو د پام وړاړولو او قدرداني لپاره یې یوه بله لویه وجه هم شته. زمونږ د کال نوي کیدل او د طبیعت ځوانیدل سره په یوه

وخت دي. که په دې ورځو کې کال هم نه نوی کیدای ، د پسرلي د راتلو په ویاړ خوشحالي او قدرداني پکار وه. په پسرلي کې چې طبیعت زلمی کیږي او وابنه زرغونیږي، د بنیادم په روح کې طراوت او تازه ګي غزوونې کوي او په زړه کې ویدې ارزوګانې راویښېږي.

له نباتاتو سره د انسان د ژور پیوستون یو ثبوت دا دی چې شاعرانو ته د معشوقو یعنې تر ټولو محبوبو کسانو د اندام د انځورولو په وخت تر ډیره حده مختلف نباتات وریادیږي. زموږ شاعرانو لاله د مخ، شونډو او خولې د انځورولو لپاره یاد کړي دي. د لاله داغ شاعر ته د معشوقې خال وریاد کړی دی او د معشوقې ونه یې له چنار او صنوبر او شمشاد او سروې سره تشبیه کړې ده. زموږ په ادب کې د معشوقې خوله له انار، غوټۍ او پستې سره تشبیه شوې ده. دغه راز سنبل ، بنفشه او چندڼ زلفې؛ سوسن ژبه؛نرګس او بادام سترګې؛ سبزه خط؛ زنه منه؛ انګور وینې یا مثلا نارنج او انار تي بلل شوي دي. ګلبدنه، ګل اندامه، د ګلو لښته، د ګلو څانګه، د ګلو ونه او دغسې په لسګونو او سلګونو نور ترکیبونه او عبارتونه له ونو، ګلونو او بوټو سره د بنیادم د بې پایه مینې څرګندوی دي.

ښځې چې له خدایه اولاد غواړي، په ونو پورې زانګو ګانې ځوړندوي. مانا دا چې په لاشعوري ډول د حیات سرچینه په نباتي ژوند کې ویني. په اریایي کلچر کې د سوما بوټي ته په ډیره درنه سترګه کتل شوي دي او پیپل ونه چې د جلال اباد د ښار په ښکلا کې یې برخه ده، په قدیمو هندي روایتونو کې د خلقت ونه بلل کیږي. څه باندې نیمه پیړۍ پخوا یو شاعر له کندزه جلال اباد ته لاړ او د دغه ښار په ستاینه کې یې دا هم وویل:

چې راشې د زاړه پیپل تر سیوري لاندې کښېنې  
هوسا دې د بودا غوندې ستومانه اندېښنې شي

هسې وايي چې بودا ته د پيپل د ونې په سيوري کې الهام شوی و. زموږ له اسلامي باورونو سره سم جنت د ونو او باغونو ځای دی. د انګورو، خرما، زيتون او انار ونې په جنت کې زرغونې دي او د ځينو روايتونو مطابق آدم او حوا ته د ستر او حجاب لپاره د زيتون پاڼې پکار راغلې. د شلمې پيړۍ د لوی اروپوه او مفکر اريک فروم په قول بشر د طبيعت بچی دی او چې له طبيعته لرې شي، د وصال ارزو يې په زړه اور بل کړي. زموږ يو بل شاعر، سليمان لايق، کابو نيمه پيړۍ پخوا ويلي وو چې:

بيا بهار راغی، ليونی به شمه
د مستو نجونو خندنی به شمه
د لاله داغ به مې صحرا ته بيايي
خوب مې ليدلی غرڅنی به شمه

۱۳۹۲

# نوښت او عدالت

په ځينو هيوادونو کې سړي سر عايد د کال څوسوه ډالره دی خو د ځينو نورو لسګونو زره ډالرو ته رسېږي. په ملتونو کې دومره ډېر توپير له کومه شو؟

ټولنه د وګړيو مجموعه ده او چېرته چې د کار کسان ډېر وي، هغه ټولنه تر نورو ممکن سوکاله او نېکمرغه وي. وړ او مستعد کسان په کومو ټولنو کې زيات پيدا کېدای شي؟

په دې پوښتنې باندې زيات غور شوی دی او پنډ پنډ کتابونه ورباندې ليکل شوي دي. د کار کسان په هغو ټولنو کې زيات پيدا کېږي چې علم پکې عام وي؛ يعنې تر وسه وسه زياتې نجونې او زيات هلکان يې د زده کړو امکان ولري.

په اوسنۍ زمانه کې چې علم او وسايل پېچلي شوي دي، ژوند د مهارت له حاصلولو پرته ورځ په ورځ مشکل کېږي. څو اونۍ مخکې جلال اباد ته نژدې د چرګانو يو لوی فارم ته ورغلم او هلته خبر شوم چې د فارم د کاميابولو او چلولو لپاره خارجي ماهرانو ته اړتيا ده. موږ په زرګونو کلونو په خپلو کورونو کې چرګان ساتلي دي خو که په اوسنۍ زمانه کې ګټوره مرغداري جوړوو، نو تخصص به يې زده کوو او دغه تخصص زده کړې غواړي چې په افغانستان کې يا نشته يا نيمګړې دي.

البته، له زده کړې څخه مقصد يوازې د مهارت حاصلول نه دي، بلکې د داسې کسانو روزل هم دي چې نوښتګر ذهن ولري او په عدالت باندې باوري وي.

که يو څوک په حساب کې تکړه وي، دا يو مهارت دی خو دا کمال د حساب ماشين هم لري. د حساب ماشين ابتکار نه شي کولای. ابتکار د انسان ځانګړنه ده. د زده کړو له کامياب نظامه غوښتنه کېږي چې د ذهنونو په پرانيستلو او د نوښتګرو کسانو په روزلو کې برخه واخلي. د وروسته پاتې او

پرمختلليو ټولنو د وګړيو تر منځ يو بنيادي فرق دا دی چې په پرمختلليو ټولنو کې مبتکر کسان زيات وي. د بې ابتکاره ټولنو وګړي خو اول نوښت نه مني او بيا چې يو کس پکې پيدا شي او نوښت وکړي، ټول هماغه نوښت تکراروي. ما يادېږي زموږ په کلي کې يوازې د اوبو ژرنده وه چې له لرې لرې ځايونو به خلکو غنم ورته راوړل او د نوبت لپاره به يې په ساعتونو صبر ورته کاوه. يو وخت چا ابتکار وکړ ماشيني ژرنده يې راوړه. په کال دوه کې څو نورې ماشيني ژرندې هم جوړې شوې چې طبعا په تاوان چلېدلې.

بې ابتکاره خلک به هر نوي شي ته د شک په سترګه ګوري. زموږ په ځينو کليو کې شايد تر اوسه پورې لا واکسين ته د شک په سترګه وکتل شي. دنيا بدلېږي او ستونزې نوې کېږي. موږ که ابتکار ته تيار ونه اوسو، همداسې به نورو ته محتاج يو. د جلال اباد په هغه فارم کې يوه هندي متخصص د مياشتې په زرګونو ډالره تنخواه اخلي خو زموږ د اکثرو زلمو معاش د مياشتې څو زره افغانۍ دی. د فارم مالک يو وطنپال افغان دی او دا ورباندې ښه نه لګېږي چې د وطن ځوانان دې وچې شوندې ګرځي او نور دې نخرې کوي، مګر چې معارف او مهارت او ابتکار ته لازمه توجه نه کوو، دغسې نخرې به روانې وي.

د ماهرو کسانو او مبتکرو ذهنونو په روزنې سربېره د ټولنې د نيکمرغي او سوکالي يو بل شرط دا دی چې وګړي د عدالت په روحيه وروزل شي. که په ټولنه کې نارينه تر ښځو ځان بر ګڼي، يا شتمنو ته تر کسبګرو ځان زيات ښکاري يا مشران په کشرانو باندې د کلانکاري هوس کوي، معنا يې دا ده چې په ټولنه کې د وګړيو تر منځ د مساوي اوسېدلو روحيه کمزورې ده. په هغه ځای کې چې ځينې کسان د ځينو نورو له وېرې د زړه خبره نه شي کولای، هلته په عدالت باندې باور کمزوری او فرعوني خوی پياوړی وي. که د ټولنې وګړي د يوبل پښو ته ځولنې وراچوي، د ترقي او سوکالي تمه دې نه لري. مهذبه ټولنه هغه ده چې د هر چا حيثيت پکې خوندي وي او له وګړيو سره د مور مېرې

سلوک نه کېږي. د دې لپاره چې یو بل په واقعي معنا ومنو او بې انصافي ونه کړو، پکار ده چې د نظرونو، قومونو او کلتورونو توپیرونه ومنو او وزغمو. د ترقي او سوکالي په لور سفر به هاله راته اسانه شي چې د میکروریانو د سیمې درېشي والا او د بکوا د صحرا پټکی والا دواړه دې نتیجې ته ورسېږي چې موږ که د یو بل غوندې لباس نه اغوندو نو معنا یې دا نه ده چې د یوبل په لباس پورې به خاندو. په روغو ټولنو کې ګوندونه وي او ګوندی نه وي.

د ټولنې د ترقي او سوکالي لپاره پکار ده چې نه یوازې رسمي تعلیمي نظام بلکې کورنۍ، رسنۍ، دیني علما او ټول هغه لوري چې د وګړیو د ذهنیت په جوړولو کې برخه لري، خپل مسولیت ادا کړي او وګړي داسې وروزي چې پرېنه یې لوی او ذهنونه یې پرانیستې وي.

۱۳۹۳، جدي

# تبعیض

د تبعیض ( discrimination) د تعریف لپاره درې ټکو ته پام پکار دی:
تبعیض له بل چا سره نابرابر او ناوړه چلند دی. له بل چا سره دغه ناوړه چلند د هغه د طبیعي ځانګړنو په وجه او یا د هغه د هویت د ځانګړنو په وجه کېږي. د دغه ناوړه او نابرابر چلند د تر سره کولو لپاره چې کوم دلیل وړاندې کېږي ، هغه نامعقول وي.

که یو څوک له خپل یوه ګاونډي سره په احترام چلېږي خو د بل ګاونډي سلام ته هم علیک نه وایي، دی ناوړه او نابرابره چلند کوي. اوس که د دې دوه ګوني چلند علت دا وي چې دا یو ګاونډی یې کله ناکله مېلمستیاوې ورته کوي او دا بل یې نه ورته کوي، نو د ده نابرابر او ناوړه چلند که څه هم نامعقول دلیل لري مګر هغه تبعیض نه دی چې دلته ورباندې بحث کوو.د بشري حقونو په بحثونو کې له تبعیض (discrimination) څخه منظور داسې نابرابر او ناوړه چلند دی چې له یو چا سره د هغه د طبیعي ځانګړنو یا هویت په خاطر کېږي.
که دغه کس د خپل یوه ګاونډي سره په دې وجه توپیري چلند کوي چې هغه په بله ژبه غږېږي، یا یې مذهب بېل دی، یا معلول دی، یا مهاجر دی، یا یې توکم بېل دی، دلته بیا د تبعیض خبره مطرح کېږي، ځکه ده له بل چا سره یا د هغه د طبیعي ځانګړنو( مثلا معلولیت یا جنسیت) یا کلتوري ځانګړنو( مثلا ژبې یا مذهب) په خاطر تبعیض کړی دی. طبیعي ځانګړنې هغه وي چې یو څوک یې نه پخپله رامنځ ته کوي او نه یې بدلولای شي. مثلا یو څوک

تورپوستکی دی. دغه رنګ نه ده انتخاب کړی دی او نه یې بدلول د ده په اختیار کې دي. د هویت په برخه کې باید ووایو چې که یو څوک غل وي، دغه عادت د ده د هویت برخه ده، مګر زموږ مطلب ذلته دغه ډول هویت نه دی بلکې د یو چا د شخصیت هغه ځانګړنې دي چې دومره مهمې دي چې دغه کس باید دې ته مجبور نه شي چې لاس ورڅخه واخلي. مثلا د یو چا مذهبي عقیده د هغه د هویت داسې مهمه ځانګړنه ده چې دی باید دې ته مجبور نه شي چې د بل چا د خوشحالولو لپاره لاس ورنه واخلي.

تبعیض څه ته وایي؟ علتونه یې څه دي؟ او تاوانونه یې کوم دي؟ دغه بحثونه به د ټولنې د اخلاقي شعور له پیاوړتیا سره مرسته وکړي او سولې او سرېتوب ته به یې ګټه ورسېږي.

۱۳۹۳

# تیریګره رڼا

د اوړي په شپو کې د کور په چوتره باندې کیناستل او تر نیمو شپو پورې ځلاندو ستورو ته کتل، په اوسني کابل کې ممکن نه دي ځکه یو خو هوا دومره ککړه ده چې په ازاده فضا کې ناسته نه کیږي او بل د بریښنا رڼاګانو د ستوریو ځلا پیکه کړې ده.

موږ چې لا په پایتخت کې هم کافي برق نه لرو، د رڼا د ککړتیا اصطلاح راته عجیبه ښکاري.

د تیاره اسمان نړیوال انجمن چې د نړۍ د لسګونو هیوادونو په زرګونو ستورپېژندونکي او ځینې نور کسان یې غړیتوب لري، د رڼا له ککړتیا سره په مبارزه بوخت دی.

ستورپیژندونکي شکایت کوي چې د رڼا زیاتوالي د ستوریو څار مشکل کړی دی. د پوهانو په قول، د شپې په مخه ډېرې رڼاوې د ژوند په چاپېریال باندې هم منفي اغیز پرېباسي او د شپې ګرځو ژویو او مارغانو د لېږد او جوړه کېدلو په چاره کې ګډوډي راولي.

د رڼا د ککړتیا ستونزه ډېره نوې ښکاري خو د تیارې مشکل همیشه موجود و. په تیاره کې کار، تفریح او راشه درشه مشکل شي، بنیادم ځان ناامنه احساسوي او ډېر امکان شته چې واهمه ور ولوېږي. د دویم نړیوال جنګ په کلونو کې په افغانستان کې د لمپو او نورو عصري څراغونو لپاره تیل نه پیدا کېدل او کورنۍ یو ځل بیا مجبورې شوې چې د تیرو زمانو له شیطان چراغه استفاده وکړي. پلار مرحوم مې په خپلو خاطراتو کې لیکلي دي چې د شیطان چراغ د لوګیو له لاسه به مو له سترګو اوښکې بهېدلې او ژوند یې را تریخ کړی و.

رڼا په ادبیاتو کې د پوهې، عدالت او ازادي په څیر د مثبتو مفهومونو د سیمبول په توګه راوړل شوې ده او برعکس، تیارې ته په منفي نظر کتل شوي دي. ډاکتر اسرار وايي:

په شب پرستو باندې زیرې وکړئ
چیرته کې لرې هم رڼا نه ښکاري

بهاوالدین مجروح چې په ځانځاني ښامار کې د ماشین د زمانې د پولادي استبداد انځور باسي نو فرمايي:

رڼاګانې زنداني په فانوسو کې
مشعلونه په زنځیر تړلي څوړند

د مساوي حقونو د لارې لوی مبارز مارتین لوتر کینګ ویلي دي چې تیاره نه بلکې رڼا د تیارې لمن ټولوي او کرکه نه بلکې مینه د کرکې ټغرغونډولای شي. تیاره د نفرت په شمول له ګڼو منفي مفهومونو سره تشبیه شوې ده. هسې وايي چې آبِ حیات په تیاره کې دي یعنې راحت په زحمت کې نغښتی دی.

دا خبره ډېره کیږي چې په پسرلي کې بنیادم خوشحالي احساسوي او په مني کې یو پټ غم زړه ته لاره کوي. د یخنۍ د موسم ختمېدل او د طبیعت زرغونېدل په پسرلي کې د خوشحالي عوامل بلل شوي دي . اوسنو څېړنو دا هم ښودلې ده چې د رڼا کمېدا په مني کې د روحي مړاویتوب یو لوی علت دی. د رحمت شاه سایل په دې بیت کې د « رڼا» په ثانوي او مجازي معنا سربیره د هغې اصلي او حقیقي معنا ته هم اشاره شته:

**راځي له ځان سره رڼا راولي**
**سپرلي قسم کړی چې تا راولي**

که څه هم تمدن مخ په غوړېدو دی او رڼاوې به خورا زیاتې شي خو هغومره روحي سکون چې طبیعي رڼا یې راکولای شي، په مصنوعي رڼاګانو کې نشته. طبیعي رڼا د ستوریو، د سپوږمۍ او د شپې د ښکلا مخه نه ډب کوي

خو مصنوعي رڼا، چې اصراف پکې وشي، د صنعت د نورو ګڼو پېرزوينو غوندې تيريګره ده او د ژوند چاپېريال ته صدمه رسوي.

اوبه پاکوونکې دي، مګر که ځځلې وراچوو او د پاکۍ پروا يې نه ساتو، پخپله د ککړتيا په لامل بدلېږي. کليوالې مېرمنې د روانو اوبو په غاړه جامې وينځي او ناولې اوبه په وياله کې تويوي، حال دا چې څو متره لرې به يو بل څوک په هغو اوبو اودس کوي او خوله به کنګالوي.

د افغانستان د شلمې پېړۍ مشهور ديپلمات ډاکتر عبدالحکيم طبيبي مرحوم، چې په جلاوطنۍ کې يې په تير عمر خپل خاطرات وليکل، د ماشومتوب د زمانې د خواجه صفا په لمنو کې د بلبلو د سندرو ياد په ارمان، ارمان کوي. هغه سندرې چې په زاړه کابل کې به د غره د لمنو له پاکو وړمو سره يو ځاى راکوزې شوې او د کور په بامونو باندې پراته کابليان به يې د رنګينو خوبونو په ټال کې وزنګول.

اوس ډېره زمانه وشوه چې بلبلو له دغه ښاره کډه کړې ده او د دې لپاره چې بنيادم ورځخه ونه لېږدي، بهتره ده د خاورې، اوبو او هوا پاکي ته يې پام وکړو. هغه پلاستيک چې بې پروا يې په کوڅه کې اچوو، ممکن خاوره يا اوبه رازهرجنې کړي او هغه ربړ چې په اور يې کوټه تودوو او لوګی يې هوا ته استوو، هوا زموږ له ښې ايستلی شي. د رڼا ککړتيا به شايد يوازې شاعرانو، د ښکلا ملنګانو يا لکه ساينسپوهان چې وايي، ځينو شپې ګرځو ژويو او مرغانو ته نا په زړه پورې وي، مګر که د خاورو، اوبو او هوا د ناولتيا پروا ونه ساتو، د ژوند ليلا به راته په مينه ونه ګوري.

۱۳۹۵

# د کار یو طلایي اصل

کابو یوه میاشت له مخه مي د یوه ترجمه شوي متن د تصحیح کار په غاړه اخیستی و. ترجمه ډېره کړکېچنه وه. چې څو کرښې به مې ولوسته، زړه به مې ورته په تنګ شو او په یوه بل کار به بوخت شوم. د تصحیح لپاره څلور اونۍ وخت راکړ شوی و خو تر وروستۍ اونۍ پورې مې یو مخ هم تصحیح نه کړ. د ژمنې وخت رانژدې شو او مجبور شوم چې تر وسه وسه ډېر وخت ورکړم.

کار مې تمام کړ، مګر ډېر یې ستړی کړم او له کیفیته یې هم راضي نه یم. ستړی خو ځکه شوم چې وخت محدود شو او کار سخت و او دا تشویش راسره و چې هسې نه په ژمنه کې پاتې راشم. زه یو حساسیت لرم چې هغه راپیدا شي نو که دوا خورم خوب راځي او که یې نه خورم تبه مې وي. په وروستۍ اونۍ کې حساسیت هم ځان راورساوه او ستونزې یې یو په دوه کړې. په دغسې حالت کې د کار کیفیت طبعا ښه نه وي.

تر دې ځایه ما خپل مشکل بیان کړ خو هغه تجربه چې له تاسې سره یې شریکول غواړم دا ده چې لومړۍ درې اونۍ هم چندان ښې راباندې تیرې نه شوې، ځکه د تصحیح کار به رایادیده او زړه به یې راتنګاوه .

که مې د تصحیح مشکل کار په اوله ورځ پیل وای، درې ګټې به مې کړې وې: له تصحیح وروسته ورځې به مې بې تشویشه او اسوده وې؛ د تصحیح په وخت به دا اندیښنه راسره نه وه چې وخت کم دی او بالاخره د کار کیفیت به بهتره و. چې تشویش لږ او وخت زیات وي، کیفیت خامخا بهتره کیږي.

د خپل وخت او کار سمه اداره له کامیابي او نیکمرغي سره ډیره مرسته کوي. موږ هره ورځ ځینې مشکل او ځینې اسانه کارونه په مخ کې لرو. ښه خو دا ده چې اول سخت، ضروري او کړکیچن کارونه وکړو او بیا اسانو چارو ته مخه کړو. که تر ټولو مشکل او ضروري کار تر نورو چارو له مخه سهار تر سره کړو، د پاتې کارونو په وخت به مو روحیه ښه او لاسبري زیاته وي خو برعکس، که مشکل کار اخر ته وساتو، هغه اسانې چارې به هم راته گرانه شي، ځکه د مشکل کار بوج به مو په ذهن پروت وي او اندیښمن به یو.

د وخت او کار د اداره کولو دغه اصل به ډیرو کسانو اوریدلی وي. ما هم اوریدلی و خو ډیر ځله مې عمل ورباندې نه دی کړی. بنیادم تاکید او ټینگار ته ضرورت لري. اراده ورو ورو پخیږي او له پاسنی لیکنې مې د خپلو اکثرو نورو لیکنو غوندې یو مقصد دا و چې گوندې له دې وروسته د وخت د اداره کولو د دغه طلایي اصل په عملي کولو کې بې پروایي ونه کړم. رحمان بابا فرمایلي وو: هر چه وایم همه واړه ځان ته وایم.

د ۱۳۹۳ ژمی

# مستقیم او غیرمستقیم تبعیض

د یوې ښکارندې( پدیدې) د پیژندلو ښه طریقه دا ده چې مختلفې بڼې او ډولونه یې وپیژنو. له لویه سره تبعیض په مستقیم او غیرمستقیم باندې ویشلای شو.

که یو څوک مثلا د خپل رنګ، عمر، یا جسمي او عصبي ځانګړنې په خاطر په یوه سپک نوم ونومول شي، مونږ دغه ډول نومېدا ناوړه او د تبعیض په اساس ګڼو. مستقیم تبعیض په اسانۍ سره پیژندل کېږي خو د غیرمستقیم تبعیض پیژندل یو څه ډېر غور غواړي. مثلا یوه موسسه غواړي څو کسه استخدام کړي. دغو کسانو ته چې به کوم کار ورکول کېږي، په هغه کې د انګلیسي زده کړه ضرور نه ده، خو د کار په اعلان کې دا شرط هم ذکر کېږي چې انګلیسي یې باید زده وي. دلته له هغو کسانو سره تبعیض وینو چې انګلیسي یې زده نه ده. دغه تبعیض ته ممکن زیات کسان متوجه نه شي او په همدې وجه یې غیر مستقیم بولو. غیرمستقیم تبعیضونه کله نا کله دومره عادي او د منلو وړ ښکاري چې په قوانینو کې راشي او رسمي بڼه خپله کړي او په دې ډول ډېرې ستونزې را ولاړې کړي.

په افغانستان کې کله کله د کار یو اعلان داسې اخبار ته ورکول کېږي چې هغه ورځپانه یوازې په یوه ښار کې مثلا په کابل کې وېشل کېږي. هغه ځوان چې په ولایت کې اوسي او له دې اعلانه نه خبرېږي، له هغه سره په غیرمستقیم ډول تبعیض شوی دی .

که له یو شخص یا یو اجتماعي ګروپ سره د خپل دین، عقیدې، توکم ، قوم،جنس، عمر یا معلولیت په وجه ناوړه چلند وشي، دا تبعیض دی. ناوړه چلند

مستقیم تبعیض دی خو غیر مستقیم تبعیض په ظاهره ناوړه چلند نه دی مګر نتایج یې د یو چا یا یوه اجتماعي ګروپ لپاره منفي دي.

کله کله د تبعیض د پیژندلو یوازینی لاره دا وي چې وګورو د خلکو په یوې ډلې یې څنګه اثر کړی دی. مثلا که یوه سرکاري ودانۍ داسې جوړېږي چې معلول ته پکې له خپل بایسکل سره ورتګ ممکن نه وي، نو معلول ته ستونزه پیدا شوه او له ده سره تبعیض وشو.

داسې به وګڼو چې یوه خیریه موسسه بېوزلو خلکو ته په وړیا ډول روغتیایي کلینکونه یا ښوونځي جوړوي. اوس که دغه موسسه د یو ځای خلکو ته د بل ځای د خلکو په نسبت دوه برابره زیاته توجه وکړي، په ظاهره یې هغو خلکو ته هم صدمه نه ده رسولې چې کمه توجه ورته شوې ده، مګر تبعیض یې بولو. د دې موسسې د اقدام نهایي نتیجه دا ده چې د یو ځای خلک لاسبري خو د بل ځای خلک لاس لاندې او وروسته پاتې وساتل شي.

تبعیض فکر نه بلکې د یوه قالبي فکر، تعصب او وارمخکې قضاوت عملي کولو ته وایي. مانا دا چې تبعیض د عمل جامه اغوندي. دغه عمل کله کله د فزیکي اقدام په بڼه وي او کله روحي ګوزار وي. د یو بل قام، بلې ژبې، بل مذهب، بل جنس یا بل توکم په کسانو پورې ریشخند وهل او ټوکې کول، فزیکي نه بلکې روحي ګوزارونه دي. په اوسني افغانستان کې کله کله هغه کسان چې ځانونو ته مهذب او با کلتوره وایي، په خاصو قومونو پورې ټوکې جوړوي. دغه ټوکې کله نا کله په اجتماعي رسنیو کې هم وینو چې د بشري حقونو او د انسانانو تر منځ د برابري د اصل خلاف خبره ده او پکار ده چې وغندل شي او مخنیوی یې وشي.

د ۱۳۹۳ ژمی

# ترافیکي پېښې

د ملګرو ملتونو د سرمنشي بانکي مون په قول په نړۍ کې هره ورځ په متوسط ډول درې نیم زره کسان په ترافیکي پېښو کې وژل کیږي او په لسګونو زره نور ټپیان کیږي. ترافیکي پېښې د بې وخته او ناڅاپي مرګونو او معلولیتونو یو لوی علت دی او لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو احصاییې ښیي ، د پنځلس کلنو او نهه ویشت کلنو تر منځ کسانو د مړینې تر ګردو لوی علت ترافیکي پېښې دي. له بلې خوا اټکلونه او محاسبې ښیي چې د نړۍ د موټرو شمېر په سرعت سره زیاتېږي. د دې خبرې معنا دا ده چې ترافیکي پېښې مخ په ډیریدو دي.

ترافیکي پېښې د دنیا په هر هیواد کې شته خو په ځینو هیوادونو کې نسبتا زیاتې دي. افغانستان د نړۍ یو هغه هیواد دی چې د خپل نفوس او خپلو موټرو په تناسب ترافیکي پېښې پکې زیاتې دي. زمونږ په هیواد کې ډیر ځله وړې ترافیکي پېښې په خبرونو کې نه راځي او کله نا کله خو ان لویې پېښې هم تر خبرونو نه رسیږي.

د موټرچلوونکو نېشه، زیات سرعت، په موټر کې د سفر په وخت د کمربند نه تړل، د موټرسایکل د چلولو په وخت له فلزي خولۍ څخه استفاده نه کول او بالاخره د موټر چلولو په وخت په موبایل باندې خبرې او پام په بله کیدل د ترافیکي پېښو ځینې مهم عوامل دي.

په افغانستان کې يو ګومان دا دی چې د لويو لارو شاوخوا اتيا فيصده موټر چلوونکي د چرسو او نورو نېشو عمليان دي. که چيرې د ترافيکو رياست د موټروانانو سمه صحي معاينه کولای او معتادو ډريورانو ته يې لايسنس نه ورکولای، ترافيکي پيښې به تر اوس کمې وې.

موږ نن سبا دومره ډېر سياسي شوي يو چې د ټولنې غيرسياسي ستونزو ته له پام کولو سره دلچسپي نه لرو. کنه نو پکار خو دا وه چې مدني ټولنې د ترافيکو په ادارو باندې کافي فشار اچولای وی چې معتاد ډريوران موټر چلولو ته پرې نه ږدي. متل دی وايي د سهار ورک که ماښام کور ته راشي، نه دی ورک. دا کار که تر اوسه نه وي شوی، له دې وروسته که هم وشي، هر کلی يې پکار دی خو د دې لپاره چې د افغانستان د ترافيکو ادارې په دې برخه کې د مسوليت احساس وکړي، لازمه ده چې مدني ټولنه، صاحب نظران او پارلمان غلي پاتې نه شي.

په اوسنۍ نړۍ کې موبايل ته د ترافيکي پېښو د يو لوی علت په سترګه کتل کيږي. په افغانستان کې که څه هم موبايل اوس عام دی او کابو هر ډريور موبايل لري، خو زموږ د ترافيکو ادارې د موټر چلولو په وخت له موبايله د استفادې په اړه روښانه تګلاره نه لري. د ترافيکو اداره بايد دې موضوع ته متوجه شي او خلک خبر کړي چې دغه کار د ترافيکي پيښو سبب ګرځي او تخلف ګڼل کيږي.

د موټرسايکل د چلولو په وخت له فلزي خولۍ څخه په کابل او ځينو لويو ښارونو کې څه نا څه استفاده کيږي خو په ولسواليو او لرې پرتو ولايتونو کې اکثره موټرسايکل چلوونکي نه د دې خوليو له ضرورته خبر دي او نه کله د لارې له داسې پوليسو سره مخ شوي دي چې دغسې خولۍ يې ورنه غوښتې وي.

دغه راز په موټر کې د سفر په وخت د کمربند ضرورت په افغانستان کې نه يوازې جدي نه ګڼل کيږي بلکې لازم تبليغات هم ورته نه کيږي چې د کمربند تړل ورو ورو په يوه کلتور بدل شي.

يو وخت په افغانستان کې د لويو لارو ترافيکو د موټرو سرعت کنټرولاوه، خو اوس د سرعت کنټرول نشته او د کم عمر ګڼ موټرچلوونکي د بې ځايه سرعت په وجه د خطرناکو ترافيکي پيښو سبب کيږي. د افغانستان د ترافيکو اداري ته پکار ده چې په لويو لارو کې د سرعت د کنټرول لپاره هم يو بندوبست وکړي چې پيښې راکمې شي.

د موټرونو فني نيمګړتياوې، د رشوت په بدل کې د موټر چلولو د اجازې ورکول او غيرمعياري سړکونه په افغانستان کې د ترافيکي پيښو نور لوی عوامل بللای شو.

په افغانستان کې چې احصاييې نشته، د ترافيکي پيښو د مرګونو د اندازې په باره کې په دقت سره څه نه شو ويلی خو په دې کې شك نشته چې ترافيکي پيښې خورا زياتې شوې دي.

موږ که د دغو حادثو په علتونو غور وکړو او د مقابلې لپاره يې پروګرام ولرو، ډېر امېد شته چې د ترافيکي حادثو په نتيجه کې مرګ ژوبله کمه شي.

په ١٩٨٥ ميلادي کال کې چې په انګلستان او امريکا کې د ترافيکي حوادثو په اړه کومه مطالعه شوې وه، د هغې مطابق، په سلو کې د اووه پنځوس حادثو يوازنی عامل پخپله ډريور دی. د اووه ويشت فيصده پيښو اصلي عامل د سړك شرايط وو. په سلو کې شپږ حادثې د ډريور او سړك د مشترکې نيمګړتيا په وجه وې. په هرو سلو حادثو کې درې داسې وې چې ډريور، سړك او موټر، درې واړه عوامل پکې شريك وو. د دوو فيصدو پيښو يوازينی علت د موټر نيمګړتيا وه او موټر و سړك په شريکه د يو فيصد پيښو علتونه وو.

دغه احصاييه له ډېرش کاله پخوا سره تعلق لري او له داسې ملکونو سره يې تعلق دی چې شرايط يې بلکل بېل دي. مثلا هلته ډېرش کاله پخوا هم د سړکونو کيفيت خورا عالي و، د ترافيکو د کنټرول نظام عالي و، د موټر چلولو پرمختللی کلتور موجود و او ... خو سره له دې ، د ترافيکي پېښو د عواملو په اړه يو تصور راکولی شي. دلته وينو چې د پېښو تر ګردو لوی علت ناسمه ډريوري ده. دغه مشکل په افغانستان کې هم د اکثرو پېښو عامل بللی شو.

د افغانستان سړکونه که څه هم په تېرو لس، دولس کلونو کې په مراتبو بهتره شوي دي خو ډېر مشکلات لا شته. د دغو مشکلاتو يوه برخه د هوا د حالاتو په اړه د لازمو معلوماتو له نشتوالي سره تعلق لري. دغه راز د ترافيکي علايمو نشتوالی، په خطرناکو ځايونو کې د سړک د لويوالي په امکان يا نورو حفاظتي امکاناتو باندې غور نه کول، زموږ ځينې نورې ستونزې دي. په کابل، جلال اباد لويه لاره کې چې ترافيکي حوادث خورا زيات دي، په ځينو ځايونو کې له غرونو څخه د شګو راتوېدا د دې سبب کېږي چې په زيات سرعت کې روان موټران بې کنټروله شي او وښويېږي. دغه ځايونه چې له غرونو څخه شګې راښويېږي، معلوم دي او پکار ده چې اړوندې ادارې يې مخه ونيسي. دغه راز د سالنګ په لويه لاره ډېر ځله ليدل شوي دي چې په ژمي کې د موټرو د چاين نشتوالي حادثې رامنځ ته کړي دي.

ترافيکي پيښې په افغانستان کې د ځوانيمرګي او معلوليت يو اصلي علت دی چې پکار ده لا زيات غورورباندې وکړو او د ژوند په ژغورلو کې برخه واخلو.

۱۳۹۳

# نن، پرون او سبا

د لرغوني چين يوه حکيم چې ټول عمر په شکونو کې تېر کړی و، د ځنکدن په وخت خپل شاګرد ته وويل: اوس له شکونو راوتلی او حقيقت ته رسېدلی يم خو افسوس چې ډېر ناوخته دی.

شاګرد ورته وويل: استاده، ما هم ورباندې خبر کړه!

حکيم وويل: حقيقت په همدې ژوند کې و. ما بايد له ژونده خوند اخيستی وای.

د چيني حکيم تجربه زموږ اکثرو د ژوند تجربه ده. په ځوانۍ کې د ماشومتوب او په زړبودن کې د ځوانۍ ارمان کوو.

يو بل ګومان بيا راته وايي چې په آينده کې به له ژونده خوند واخلو او اسوده به شو. په دغو دواړو حالتونو کې له حاله انکار وينو او په دې انکار کې تاوان کوو، ځکه پرون هيڅ وخت په لاس نه راځي او سبا ته به يا يو، يا به نه يو. که وو، له سبانې حالت سره سمه پرېکړه به وکړو او که نه نو زړه ترل ورپورې بې ځايه دي. زه له دې سره دلچسپي لرم چې څو کاله پس باغداري وکړم. که ټول امکانات راته برابر هم شي، ايا دا تضمين شته چې همدا اوسنۍ روحيه به ولرم او د باغدارۍ شوق به راسره وي؟

سمه خبره دا ده چې حال ته اهميت ورکړو او په همدې شېبې پورې زړه وتړو چې پکې اوسو خو دا کار ولې نه کوو؟

يو دا چې که مشکل هم پکې نه وي، حال ډېر عادي رابښکاري او هغه خوند پکې نه وينو چې له ژونده يې غواړو. بله دا چې حال ډېر محدود دی. د سترګو په رپ کې د ماضي برخه ګرځي.

د دې لپاره چې له حاله خوند واخلو، بهتره ده، همدا شېبه یې ونه ګڼو او دا ټول شواروز یا ټوله اوني حال وګڼو. کله چې د حال ساحه لږ وسیع کړو نو حال معنا پیدا کوي، پروګرام ورته جوړېدای شي او معقوله استفاده ورنه ممکنه کېږي. په یوه شواروز کې کولای شو چې کار ته، خوراک ته، مجلس ته، تفریح ته، مطالعې ته، مختلفو چارو ته وخت ولرو.

د اوبو په خوند تږی او د ډوډۍ په خوند وږی پوهېږي. که د ورځې په کار باندې ځان ستړی کړو، ماښام د کور له ژونده خوند اخیستی شو او د اوړي د ماښام د یخې وږمې په قدر هغه څوک ښه پوهېدای شي چې د ورځې تودوخې په تکلیف کړی وي.رحمان بابا فرمایي:

ښادي هر چېرته د غم په اندازه وي

د هغو به څه ښادي وي چې بې غم وي

د ژوند په باره کې له دغسې واقعبینانه فلسفې سره کړاوونه د زغملو او وختونه د منلو شي. که زه په دې ونه توانېږم چې همدا نن ورځ فعاله او خوشحاله تېره کړم، شاید هغه وخت هیڅکله رانه شي چې ژوند د یوه نعمت او لوربینې غوندې احساس کړم. زه که د نن د اداره کولو وس ونه لرم، د کلونو د ادارې کولو توقع ولې وکړم؟ زه که همدا نن د یوه ماشوم له لیدلو، له یوې ټوکې،یوه څبلي انسان ته له روحیې ورکولو،له یوه تاوده روغبړه، د لوړې په شېبو کې د نانوایي له تودې ډوډۍ یا د سپوږمۍ له ننداره خوند وانه خلم، هغه خوشحالي به هیڅ وخت رانه شي چې په خیال کې پسې ګرځم او که همدا نن ورځ په کار او په سرېتوب تېره نه کړم، هغه آینده هم نشته چې په خیال کې یې جوړوم او په تصور کې یې پسې غواړم.

د ۱۳۹۳ جدي

# رشتیا او دروغ

مور چې هلک له خوبه راپاڅاوه، ورته ویې ویل: پاڅه، غرمه شوه، ته لا خوبونه کوې !

هلک چې درې ساعته وروسته له ښوونځي راغی، وږی و، له موره یې ډوډۍ وغوښته. مور ورته وویل: غرمه چېرته ده؟ اوس خو لا شین سهار دی!

هلک چې کم عمره او بې تجربې وي، د داسې خبرې په اورېدو گومان کوي چې دی د لویانو په مطلب نه پوهېږي خو لږ وروسته دغسې خبرې دروغ ورښکاره شي او یو بل وخت د دروغو او رشتیا توپیر هېر کړي.

دا سمه ده چې شاعري به مبالغه غواړي مگر موږ ډېر ځله په عادي خبرو کې مبالغه کوو او څرنگه چې فکر او خبرې له یو بله رنگ اخلي، ورو ورو مو فکر هم د مجاز او حقیقت په توپیر کولو کې بې پروا شي .

که په یوه غونډه کې زر کسه وي، ممکن ووایو چې: یو مخلوق و، مخلوق و چې عقل کار نه ورکاوه! ما د غزني د قره باغ یو اوسېدونکی یادېږي چې کله به د دوی د سیمې په خوړ کې اوبه یو څه ډېرې شوې، ویل به یې: سم آمو دی!

ده نه غوښتل دروغ ووایي خو موږ له ماشومتوبه همداسې عادت شوي یو چې مبالغه وکړو او د نورو د توجه د جلبولو لپاره یو شی څو چنده زیات یا کم وښیو. که په کورنیو کې ماشومانو ته دروغ ونه ویل شي او د خبرو په سبک کې مو د احساساتو او مبالغو ځای استدلال او رشتیا ونیسي، ماشومان به مو داسې لوی شي چې په لوینې به منطقي فکر کول ورته اسان وي.

د ۱۳۹۳ ژمی

# ښوېدلی

حکایت دی چې اکبر پاچا له بیربل څخه پوښتنه وکړه: ایا داسې څه شته چې زه یې کولای شم او خدای پاک یې نه شي کولای؟ بېربل ورته وویل: هو، ته کولای شې ما له خپلې پاچهي وشړې خو خدای پاک مې له خپلې پاچهي نه شي ایستلای، ځکه هر چېرته یې حکم چلېږي.

دغه حکایت د شلمې پېړۍ د نامتو اروپوه او مفکر اریک فرو

۱۹۸۰) تر خبرې پورې را یاد شو چې وایي انسان که هر څه وکړي ... انیت له قلمروه ځان نه شي ایستلای. دی ضمیر لري او چې ظلم او ... ته مخه کړي ، ضمیر یی په ناکرار نه پرېږدي. دی د ضمیر له شره د ځان د خلاصولو لپاره او یا په بله ژبه د انسانیت له قلمروه د راوتلو لپاره لا زیاتو جنایتونو ته مخه کړي خو لا زیات ناکرار شي. دغه لړۍ تر هغو پورې ... مومي چې ظالم وم... او یا بېخي لېونی شي.

د اریک فروم خبره بیا تر دې پورې را په یاد شوه چې د دېور... ...ړو غاړو ته بوړنوونکو پېښو ګڼ خلک حیران کړي دي. د پیښور ... ...ي کې او د پکتیکا په یحیا خېلو کې د ماشومانو او زلمکو قتل عامونو یا په هلمند کې د ماین پاکوونکو ځوانانو یومخیزې وژنې نه یوازې په اخلاقي لحاظ هیڅ جواز نه درلود، بلکې په سیاسي لحاظ هم هیڅا ته هیڅ ګټه پکې نه وه. د دغسې پېښو توضیح لپاره چې د سیاست په دنیا کې د معقولو دلایلو موندل سخته شي نو د مرموزو لاسونو د شتون بحثونه تاوده شي .

موږ په پښتو کې هغه چا ته چې په شیطاني لاره روان وي، ښویېدلی وایو. هغوی چې ښویېږي، درې ځانګړنې لري: یو دا چې د تم کېدو او راستنېدو اختیار یې له ګوتو وتلی وي، بله دا چې مخ په ځوړ وي او دریم دا چې وار په وار یې د ښویېدو سرعت زیاتېږي. دغه حالت په هغو کسانو کې هم وي چې په خطا لارو مزل کوي. هغه څوک چې نن یو انسان په څاپېره وهي او خوند ورنه اخلي، سبا ممکن د چاکو ګوزار وکړي او بله ورځ د وژلو لپاره په دلایلو پسې وګرځي.

ما پخپله د څو لسیزو روان خشونت له لیدو دغه درس اخیستی دی چې وینه په وینه نه پاکېږي او د تشدد هر اقدام یو بل تشدد زېږوي. د تشدد په لاره روان کسان خامخا بې تولې کېږي او داسې مرحلې ته هم رسېدای شي چې د ماشومانو یا ماین پاکانو په وژلو کې به خیر او خوند ویني.

پخوانو متل کړی دی چې د سهار ورک که ماښام کور ته راشي، نه دی ورک. هغوی چې د تشدد په ذریعه د غوښو د پرانیستلو هوس ورسره دی، که هره شېبه په هوش راشي او په دې پوه شي چې د تشدد دوزخي لمبې وچ او لانده هر څه سره نغاړي او آن د قرآن کریم سپېڅلې پاڼې هم پکې سوځي، نو د ځانونو او ټولنې د ښویېدلو روان بهیر به تم کړي. د ارواپوهانو په نظر بنیادم د پیاوړې هوډ په مرسته کولای شي چې د عمر په هر پړاو کې بد عادتونه پرېږدي او د نورو انسانانو غوندې عادي ژوند پیل کړي. لکه څنګه چې پیاوړې اراده بنیادم ته د اعتیاد له منګولو د راوتلو امکان وربخښي، دغسې د تشدد له لارې د مخ اړولو سبکه ورکوي. د اکاډېمسین سلیمان لایق دا بیت مې څو دېرش کاله پخوا لوستی و چې خدای دې وکړي حافظې مې پکې تصرف نه وي کړی:

مه څه هغې خوا ته چې د لارې لوری نه وي
درمه هغه لور ته چې دا ګرده دنیا درومي

د ۱۳۹۳ منی

# په وطن باندې باور

ډېر کلونه پخوا د کابل په تايمني مېنه کې د يوه سلماني په دوکان ناست وم چې وېښتې راکم کړي. سلماني د وطن په باره کې خبرې کولې او خبرو يې خوند راکاوه،ځکه ډاډ او امېد او باور پکې و. دی احساساتي شو، آسمايي غره ته يې لاس ونيو، ويې ويل: هر څوک د جاپان صفتونه کوي، هرڅوک وايي چې جاپان آتشفشان لري، زموږ آسمايي له آتشفشانه ډک دی!

په يوه سندره کې د افغانستان په باب اورو چې: خاوره د وليانو ده. د دې سندرې تر جوړېدو ډېره وختونه پخوا مې د کابل په منډوي کې د وريجو له يوه سپين ږيري دوکانداره اورېدلي وو چې: دا د وليانو خاوره ده، دې ته څوک چپ نه شي کتلای .

او د افغانستان په جغرافيايي قاموس کې مې د وطن د يوې سيمې د خلکو په ستاينه کې لوستي وو چې ډېر غيرتي خلک دي، وسلې ساتي او قتل پکې زيات دي.

د سلماني په مثال کې د وطن په مادي شتمنيو باندې باور وينو خو دا بيا بېله خبره ده چې آتشفشان ته د شتمني په سترګه کتل شوي دي. په دويم مثال کې وطن د يوه مرموز معنوي قوت څښتن بلل کېږي چې اورېدل يې خوند کوي مګر منل يې سخته دي، ځکه تاريخ راته وايي چې وباوو، کاختيو، سيلابونو او نورو مصيبتونو د وليانو د سيمې خاطر نه دی کړی. په دريم مثال کې چې زموږ نالوستو نه بلکې لوستو کسانو ورکړی، د وطن د يوې سيمې په اوسېدونکو

باندې ځکه داړ څرګند شوی دی او غیرتي بلل شوي دي چې وسلې ساتي او قتل کوي.

موږ د دغو کسانو په نظرونو کې د وطن او وطنوالو په باب خوشبیني وینو. که څه هم د دې خوشبیني دلایل کمزوري یا ناسم دي خو تر هغو پیاوړیو دلایلو راباندې ښه لګېږي چې په وطن باندې باور پکې نشته او پردی برياوې راته نېغې نېغې کوي .

د وطن د ژغورلو لپاره نه بې دلیله باورونه او نه د بې باورۍ دلیلونه پکارېږي. په وطن، د وطن په مادي او معنوي شتمنیو او د وطن په خلکو باندې باور پکار دی. دغه باور که په خیال او وهم نه بلکې په معقولو بنیادونو باندې ودروو، ګټور ثابتېږي او که د وهم او خیال او احساساتو په نیلي سپاره یو،تاوان پکې کوو. روایت دی چې یو چا اوښ نه و تړلی او دلیل یې دا راوړی و چې په خدای یې توکل کړی دی. رسول الله مبارک ( ص) ورته وویل چې : عقل او توکل. یعني اول د اوښ زنګون وتړه بیا توکل کوه! د بلخ د مولانا په قول:

گفت پیغمبر به آواز بلند
با توکل زانوی اشتر ببند

د ۱۳۹۳ منی

# د بې عدالتۍ کلتور

په کالج کې سبق تازه تازه تمام شوی و او پروفیسران له خپلو ځوانو شاګردانو سره په پاکو، اُطو کړیو جامو کې سترې ستومانه خو ډاډه او مغرور له لویې دروازې راوتل. د کالج د لویې دروازې په خوا کې د یوې ونې لاندې ګڼ کسان په خیرنو چوکیو ناست وو او په خیرنو لاسونو یې په چټلو میزونو باندې په بشقابونو کې نه بلکې د اخبار په کاغذونو کې راوړل شوې حلوا خوړله. میزونه له ډېرې ناپاکۍ د ګریسو غوندې تور برېښېدل او مچانو ورباندې بد حال جوړ کړی وو.

ما یوه خیالي منظره نه ده رسم کړې بلکې څو ویشت کاله پخوا مې په دېره اسماعیل خان کې همدا حالت ولید. زموږ موټر له ساعتونو مزله وروسته د سورلیو د دمې لپاره د یوه کالج په څنګ کې د رستوران مخې ته ودرېد. زه په خوشحالۍ کښته شوم چې چای وڅښم خو د حلوا له لیدو وروسته مې د چایو نه څښل بهتر وبلل او له ځان سره دې موضوع بوخت وساتلم چې د کالج پوهې ولې د حلوایي په دوکان باندې اثر نه دی کړی؟

په تېرو زمانو کې علم طبقاتي و. مطلب دا چې ځینو خاصو کسانو به پوهه حاصلوله او دغه پوهه به د خواصو په خدمت کې وه. د لرغوني یونان په باره کې ویل شوي دي چې د حکمت روښانه مشالونه پکې بل شول مګر ټکنالوژي ورکې وده ونه کړه او د دې شي یو علت دا و چې فزیکي کارونه غلامانو کول. افلاطون

یا ارسطو دا ضرورت چندان نه احساساوه چې د ښې ګاډۍ په جوړولو یا د ښې یَوې په اختراع کولو فکر وکړي. له دوی سره زیاتره هغه فکرونه وو چې د شتمنو او په تن پټو او په ګېډه مړو کسانو توجه یې جلبوله.

په جنوبي آسیا کې چې عصري ښوونځي د انګریزانو په زمانه کې پرانیستل شول، علم بیا هم طبقاتي پاتې شو. انګرېزانو د ځایي اشرافو په مرسته هند اداره کاوه او د همدغو اشرافو زامن کالجونو ته لاړل. ډېره موده پس چې علم یو څه عام شو، د پوهې او ډګري څښتنانو د پخوا په څېر ځان له عام ولسه بر او بېل احساساوه او دغه حالت تر اوسه پورې ختم شوی نه دی. د دیره اسماعیل خان د کالج زړو پروفیسرانو او ځوانو روښنفکرانو ته دا موضوع چندان د غور وړ نه ښکارېده چې د حلوایي په دوکان کې نالوستي او غریب خلک داسې خواړه خوري چې صحت ته یې خطر لري.

په افغانستان کې هم فرهنګ تر ډېره حده د خاصو طبقو او اقشارو په خدمت کې وي. دلته رسنۍ معمولا هغه څه خپروي چې د لویو ښارونو د متوسطې طبقې لپاره ممکن څه نا څه جالب وي. زما په ګومان مونږ تر اوسه پورې لا په داسې کلتوري وده چندان کار نه دی چې عام ولس، کلیوال، محروم قشرونه او نالوستي پکې شامل شي. افغانستان په شلګونو راډیوګانې او تلویزیونونه لري مګر تر ننه لا د اکثرو خلکو غوږونو ته دا خبره ونه رسېده چې د صحت لپاره مایع غوړي تر جامدو هغو بهتره دي یا که نجلۍ په پنځلس کلنۍ کې حامله شي نو له حامله توب او ولادت سره د اړوندو ستونزو په وجه یې د مرګ خطر تر هغې مور پنځه برابره زیات دی چې په شوویشت کلنۍ کې امیدواره کېږي. دا استدلال د منلو نه دی چې میندو او پلرونو ته د لوښو مرګ اهمیت نه لري نو ځکه یې په کم عمر ودوي او یا خلک د زړه او فشار د ناروغیو پروا نه ساتي نو ځکه د بې کلستروله او کلسترول لرونکو غوړو فرق ورباندې نشته. حقیقت دا دی چې موږ تر اوسه پورې د کلتور داسې ودې ته لازم پام نه

دی اړولی چې تر وسه وسه دېر خلک پکې شامل وي.موږ د اول ټولګي په کتاب باندې د غور کولو لپاره چې همدا سږ کال یې یو میلیون ماشومان باید ولولي، سیمنار جوړلو ته تیار نه یو خو په داسې موضوع باندې سیمنار ته شاید سمدستي تیار شو چې زموږ د خپل قشر څو یاران ورباندې خوشحالېږي.

متاسفانه په دې شیطاني تصور کې خوند پروت دی چې ځانونه تر نورو هوښیار او رسېدلي وګڼو. زما په ګومان د دیره اسماعیل خان د هغه کالج پوهانو به هر ځل د حلوایي د دوکان په لیدو دا فخر احساس کړی وي چې عام ولس نه پوهېږي او دوی پوهېږي.

که د ټولنې په کلتوري وده کې عدالت نه وي، د بې عدالتۍ کلتور به ټولنه ناکراره او د شرارت په لمبو کې ایساره وساتي.

۱۳۹۳

# طلايي عمر

په لوی اختر کې د استاد بختاني ليدو ته لاړم. استاد چې د عمر دوه نوي يم کال پيل کړی دی، تازه رامعلوم شو. ويل يې، لکه د مکتب شاګردان چې کله کله له درسونو ځان پټوي، زه هم په ځينو ورځو کې له ليک لوسته مخ اړوم، خو په اکثرو ورځو کې ځان ورباندې بوخت ساتم. ويل يې، يو وخت چې مې تقاعد وکړ، خوابدی وم، او اوس خوشحاله يم چې تقاعد شوم، ځکه په کور کې لا ښه کار کولای شم.

تېر کال چې د لوړو زده کړو نوي قانون د استادانو د تقاعد عمر پنځه شپېته کاله وټاکه، د پاخه عمر ګڼواستادانو ورسره مخالفت وکړ. له تقاعد سره د دوی معاش نه کمېده نو دوی ولې نه غوښتل چې په کور کښېني؟

ځينې مامورين په رشوت تورن دي، ځينې چارواکي له دې خوند اخلي چې د عسکرو موټر ورپسې وي ، په مجلسونو کې تر نورو بر کښېني او خلک يې د قدرت احترام وکړي. د پوهنتون يو استاد معمولا نه د رشوت تمه لري او نه يې د استادي په قدرت کې فزيکي اړخ شته. معنوي قدرت خو هسې هم تقاعد نه پيژني. دی که له څو ديرش کاله تدريسه وروسته په کور کښېني، ظاهرا بايد خوشحاله وي.

په تقاعد باندې د استادانو د نه خوشحالېدو يو علت دا دی چې دوی زړبودن نه مني. خوشحال خټک وايي:

ما وې ګوره لا به کله زه زړېږم
پيري مخې ته راتله په استقبال

موږ معمولا د خوشحال خټک غونډې د زړبودن د راتلو په باره کې فکر نه کوو او په روحي لحاظ ورته تیار نه یو. پخوانو متل کړی دی چې بلا په مخ وهلې ښه ده. زړبودن چې زموږ استقبال ته خامخا راځي، موږ ولې استقبال ته ورنه شو؟ که یې موږ تر راتلو له مخه ومنو او بندوبست ورته وکړو، بیا به په بلا نه بلکې د عمر په یوه خوږه مرحله بدله شي. ما استاد بختاني ته وویل چې زړبودن د عمر طلايي پړاو دی. استاد وویل، روسان د زاړه عمر واده ته طلايي واده وايي.

خوشحال فرمايي:

په بوسه د شکر لبو زوړ ځوانیږي
دا خبره تجربه ده په خوشحال

البته، د روسانو منظور باید دا وي چې د پاخه عمر جوړه د تجربې په برکت په دې باندې پوهیږي چې څنګه ارام ژوند ولري او یو بل وزغمي.

خوشحال خټک د پښتو تر بل هر کلاسیک شاعر د زړبون په باره کې ډیرې خبرې کړې دي. ده نه یوازې له زړښته بلکې له زړې ښځې هم شکایتونه کړي دي او یو ځای یې زړه ښځه د مني باد بللې ده چې زنځونه پیدا کوي.

خوشحال د زړبودن په غندنه کې وايي:

زه وایم چې تل به د ښایسته وو ننداره کړم
شرم د پیریه په دا منځ راته خلل شي

او یو بل ځای وايي:

چې غاښ مې پریوتل فساد راوشو
که هر څو غوښې خورم په غوښې موړ نه یم

د غاښونو نشتوالی د دې سبب کیږي چې له خوږو پوره خوند وانه خیستل شي.

رحمان بابا چې د خوشحال خټک غونډې یې نسبتا اوږد عمر کړی دی، د زړبودن په اړه په یوه غزل کې وايي چې په پیري کې سپین مخونه تور کودي

او سم قدمونه کاږه لرګي شي. بابا شکایت کوي چې ځنباک خوراک سخته شي او بالاخره:

دا ځواني ده چې څه اورې یا څه وینې
نه لیدی نه اوریدی شې په پیري کې

خو په اوسنۍ زمانه کې د طب او طبي وسایلو د پرمختګ په برکت زړبودن اسانه شوی دی. په غوږونو درانه کسان کولای شي په غوږ کې د اوریدو وسایل ولګوي او د غاښ او سترګو طبابت هم زیاته وده کړې ده.

له بلې خوا پخوا به یوه نیم کس د خوشحال یا رحمان بابا غوندې څو اویا او څو اتیا کاله عمر کاوه خو اوس ورځ په ورځ د هغو کسانو شمیر زیاتیږي چې تر نوي کلونو یې عمر اوړي. په تیر یو، یونیم کال کې په کابل کې د هیواد د لویو ادیبانو پوهاند میرحسین شاه، استاد زین الله منلي او استاد بختاني لمانځغوندې جوړې شوې. دوی دریو واړو د عمر نوي کاله پوره کړي دي او امید دی چې د سل کلني جشن یې هم ولمانځو. دا د نوي علم او وسایلو برکت دی چې عمرونه اوږده شوي دي خو د دې لپاره چې د زړبودن عمر په طلایي وخت بدل شي، دوو ټکو ته پام پکار دی. یو دا چې په ځوانۍ کې لا زړبودن ومنو او په دې غور وکړو چې د زړښت د ښه تیرولو لپاره څه، څه کولای شو. بله دا چې کورنۍ او ټولنه باید له مشرانو سره خپل چلند لا بهتره کړي.

موږ که څه هم ادعا کوو چې مشرانو ته په درنه سترګه ګورو او دا ادعا مو اوسنۍ هم نه ده، خوشحال خټک څو پیړۍ پخوا ویلي وو چې :

په هر چا د سپینې ږیرې حرمت ډیر وي
خو په نجونو قدر نشته د سپین ږیري

مګر د دغه درناوي کلتور مو نیمګړتیاوې لري. سپین ږیري یوازې دا نه غواړي چې لاس یې ورښکل کړو. دوی د خپلو غاښونو مطابق پاسته خواړه غواړي، دوی معمولا په غوږونو درانه وي او له نورو په لوړ اواز خبرې غواړي.

بوډاګان شاید د شور ماشور حوصله ونه لري خو د نورو د مجلس سخت لیوال دي. ایا زموږ په کورنیو کې ځوانان دې ته تیار شوي دي چې خپلو مشرانو ته وخت ورکړي او له هغوی سره خبرې د هغوی د احترام برخه وګڼي؟

له استاد بختاني چې راپاڅیدو، راته ویې ویل: داسې مه کوئ، کله کله راځئ، یوازې مې مه پریږدئ!

اوس چې د ډیر عمر د کسانو شمیر ورځ په ورځ زیاتیږي، له دوی سره د خپل چلند کلتور باید لا غني کړو.

له بلې خوا ځوانانو ته او هم هغوی ته چې ځواني یې تیره کړې ده، پکار ده، د زړبودن په عمر باندې غور وکړي او د ژوند دا مرحله خوږه کړي.

په ماشومتوب او زلمیتوب کې د درسونو او امتحانونو فشار وي، په ځوانۍ کې د کورنۍ او ټولنې مسولیتونه وي، خو په زړبودن کې نه د درس او امتحان غم وي او نه د ځوانۍ د عمر غوندې اجتماعي مسولیتونه لرو چې د رحمان بابا غوندې ووایو:

په هر کور کې رنځوران راته زبیرګي کا
لاس مې نه رسي د هیچا په دوا

د مسولیتونو د کموالي او د وخت د زیاتوالي له اړخه که ورته وګورو ، بوډا توب واقعا یو طلایي دوران دی. د خوشحالي په باب د څیړنو په مختلفو رپورټونو کې مې لوستي دي چې تر ځواني په زړبودن کې خوشحالي زیاتیدلای شي. البته، که صحي مشکلاتو، یوازې کیدلو او ځینو نورو خبرو ته وګورو، زړبودن جدي جنجالونه لري. په زړبودن باندې له غور کولو منظور دا دی چې دغو جنجالونو ته حل لارې ومومو.

اوسنی پرمختللی طب به تر یوه حده صحي ستونزې راکمې کړي، مګر که موږ د صحي کلتور خپلولو ته تیار نه یو، د روغ صورت تمه لرل به بې ځایه وي.

ورمه ورځ د کابل په یوه روغتون کې د کندز د یوه سپین ږیري پوښتنې ته ورغلم. حاجي د فشار او پښتورګو تکلیف لري او ډاکتر ورته د مالګې د لږ خوړو ویلي وو خو میرمن یې شکایت کاوه چې حاجي احتیاط نه کوي. د حاجي دلیل دا و: چې ورځ دې پوره وي، راګرځېدل دې نشته.

زموږ اکثره سپین ږیري توقع لري چې د اوداسه اوبه دې هم بل ورته تیارې کړي او بستره خو باید بل ورته وغوړوي، حال دا چې ورزش او د جسمي فعالیت زیاتوالی د دوی له روغتیا سره لویه مرسته کولای شي.

مشران باید د کورنۍ د غړیو او دوستانو په مجلس ډیره تکیه ونه کړي. دوی ته پکار ده چې خپل وخت په خپله خوږ کړي.

زما انا څو اویا کلنه وه چې زموږ کورنۍ مهاجره شوه. مهاجرت موږ ټولو او په تېره مور او انا ته سخته و. انا که څه هم تر مور کابو دیرش کاله مشره وه، خو په لږ وخت کې یې د مهاجرت ژوند په ځان باندې اسانه کړ. مور مې ګومان کوم تر پایه پورې حاضره نه شوه چې د ګاونډي ملک تلویزیون ته کېښني او وخت ورباندې واړوي ، ولې انا له نوي چاپیریال سره د بلدتیا لپاره د کرکټ په اصولو ځان پوه کړ او د تلویزیون له لارې یې د دې لوبې ډیرې ننداري وکړې. انا د زړبودن عمر نسبتا اسانه تیراوه.

استاد بختانی د لیک او لوست بختور عادت لري خو اکثره کسان په لیک لوست عادت نه دي. هغوی ته پکار ده چې د ځان لپاره مصروفیتونه پیدا کړي. انا په قطعو باندې د فال لیدلو عادت هم کاوه. د فرهاد دریا په یوه تلویزیوني سندره کې چې د قطعو د فال ننداره وینم، ګومان کوم دا فال یې زما له انا زده کړی و، ځکه دی زما د انا وراره و او د دې فالونه یې ډیر لیدلي وو. په وطن کې چې مو کور لوی و، انا د ګلونو پاللو ته زیات وخت ورکاوه خو په هجرت کې چې کور تنګ شو، انا د کرکټ سیل ته مخه کړه.

که په ځوانی کې لا د زړبودن د معاشي تنګسې لپاره لارې ولټوو، که صحي کلتور رعایت کړو او که د وخت اړولو طریقې وپیژنو، زړبودن په طلایي عمر بدلیدلای شي. البته، هغوی چې په نورو باندې د کلانکاري او لاسبري شوق لري، د عمر په هیڅ مرحله کې خصوصا زړبودن کې خوشحالیدلای نه شي. د خوشحاله اوسېدو لپاره د ځانولي او خودپرستي له شره خلاصون پکار دی.

عبدالقار خټک سمه خبره کړې ده چې : یم ویل په حقیقت کې مشرکي ده. یو ځای مې لوستي و چې ځینې کسان په شل کلنې کې مري خو په اتیا کلنې کې خاورو ته سپارل کیږي. د دې خبرې مطلب دا و چې که نورو ته د احترام او له نورو سره د مینې استعداد ونه لرو نو که شل کلن هم یو، روح به مو مړ او روحیه به مو مړاوې وي.

د میزان پنځمه، ۱۳۹۵

# د ریا خرقه

رحمان بابا فرمايي:

د ریا خرقه يې خدای مکړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی

قلندران ملامتیه صوفیان وو، یعنې د اجتماعي آدابو پروا يې نه ساتله او په دې کې يې خیر لید چې خلکو ته ځان ملامت وښيي خو د کبر او غرور له ناروغي خوندي پاتې شي. خرقه چې د صوفيانو او متقيانو رسمي لباس و، طبعا قلندرانو نه خوښوله.

معمولا هغه څوک چې په دینداري کې تظاهر کوي، رياکار بولو. رحمان بابا د ریا عبادت «ناقبول» بولي او وايي:

د ریا تر ناقبوله عبادته
د ساقي په میو مست و خراب خوښ یم

د ریا کار مقصد دا وي چې ټولنه د ځان منت باره کړي. خوشحال وايي:

خدای د ځان لپاره بولي
په عالم کاندي منت

اورنګزیب پاچا ظاهري دينداري ته زياته توجه کوله. ده په ظاهره د تقوا په خاطر په قمار، شراب او موسیقي باندې بندیزونه ولګول او نڅاګرې يې له دربازه وشړلې خو د خپلو ورونو په شمول يې په زرګونو کسان ووژل چې حکومت د ده وي او لا ډيرې سيمې يې تر واک لاندې وي. د دغسې واکمنو په وخت کې د ریا د زیاتیدو امکان ډیریږي. خوشحال فرمايي: دور د اورنګ دی د ریا زاهدان ډیر دي.

د دغه دور د رياکارو شیخانو تر ټولو روښانه انځور شايد د خوشحال بابا په دغو بیتونو کې ولیدلای شو:

که شیخي زاهدي غواړې

په خپل لاس کې ده لالا
ليکور دستار په سر کړه
سر وهه په مصلا
يا مسواک کيږده په سر کې
يا يې وټومبه تر ملا
په تسبيح خوځوه شونډې
نور ټګي کوې که غلا
مرد هغه ګڼه خوشحاله
چې يې کيږي مشغولا

د خپل روزګار د روانولو او يا د خوشحال په ژبه د مشغولا کولو لپاره ريا او تظاهر يوازې له ديانت سره نه بلکې له نورو اقدارو سره هم تعلق لري. ريا، دروغ، تزوير، تظاهر او ځان يو ډول ښودل خو په باطن کې بل ډول اوسېدل، سره ورته او مشابه بداخلاقۍ دي چې زموږ په ټولنه کې يې کمی نشته او په مخنيوي کې يې ځکه کامياب نه يو چې موږ له بداخلاقيو سره د مقابلې لپاره يوازې د نصيحت ژبه او د جزا توره پيژنو او په هغو علتونو چندان غور نه کوو چې د وګړيو اخلاقي تباهي ته لاره اواروي.

که د ريا او تظاهر د کورنۍ بداخلاقيو ته راشو، يو لوی علت يې په ټولنه کې استبداد دی. زما منظور يوازې سياسي نه بلکې اجتماعي استبداد هم دی. زموږ د ټولنې ګڼ اوسيدونکي دې ته تيار نه دي چې يو څوک دې بيل فکر او بېل ذوق ولري او په خپله خوښه دې ژوند وکړي. زلمی به غواړي د زراعت متخصص شي ولې لالا به يې طب ورباندې وايي. زلمی به واده کولو ته تيار نه وي مګر مور به يې ټينګه وي چې ستا واده زما لوی ارمان دی. د زلمي به اوږده وينښته خوښ وي خو د پلار له ويرې به سرخرېبلی ګرځي.

په هره هغه ټولنه کې چې فردي ازدي ته احترام کم وي، د دوه مخو کسانو شمېر زیاتیږي.

دغه راز فقر او احتیاج بنیادم ریا او تظاهر ته اړباسي. حمید مومند وایي:

څه بلا یې احتیاجه
چې سړی کړې سگ مزاجه
مسلمان هندو روش کړې
او هندو مسلم رواجه

د سړک پخول، د اوبو د بند تړل، د فابریکې جوړول، د باغ ایښودل او د اقتصادي ودې لپاره هر فعالیت د بیوزلي اندازه کموي او چې هر څومره خلک له احتیاجه راوځي، د تزویر او تظاهر په دام کې د لوېدو خطر یې کمیږي.

د کابو دیرش کاله پخوا کیسه ده. په پېښور کې وم. یو دوست مې چې له کاناډا راغلی و، د هغه ځای کیسې کولې. ویل یې یوه ورځ سخت وږی وم او څرنگه چې پیسې راسره نه وې، کور ته پلی روان شوم. په لاره کې مې یو کاناډایي ملگری ولید، کور ته د تلو ست یې راته وکړ، ورسره لاړم. ده وویل: ډوډۍ خورې؟ ما هغه د وطن په حساب ورته وویل: نه، کور دې ودان! او بیا ده زما مخې ته چرگ خوړ او ما ورته کتل.

او د پرون ورځې د کابل کیسه به درته وکړم. یو ملگری مې میلمستیا ته تللی و. ویل یې، زه او کوربه ژر ماړه شو خو د کوربه د زامنو او څو نورو زلمو اشتها تر موړ نبه وه. کوربه ته مې وویل: زه او ته به بلې کوټې ته لاړ شو چې دوی زموږ مخې ته ډوډۍ نه خوري، شرمیږي. کوربه راسره ومنله او وروسته بیا یوه زلمي راته وویل: کور دې ودان ، کنه وږي به پاتې وو!

هغه ټولنه چې د وگړیو له اشتها رانیولې د هغوی تر ویښتو او جامو پورې په هر شي کې مداخله خپل حق گڼي، له وگړیو دې د ډېر صداقت توقع نه لري.

د لړم اتمه، ۱۳۹۵

# شهادت

هغه څوک چې د حق په لار کې، بې ګناه او په ظلم سره ووژل شي، شهید بولو. د شهادت مفهوم په ټولو کلچرونو او دینونو کې شته. څرنګه چې د مختلفو سیاسي ډلو، دولتونو، دینونو، ملتونو او کلتورونو اړوندان د خپلو عقیدو او ګټو تر اثر لاندې د حق د لارې بېل تعریف کوي نو شهیدان یې هم ممکن سره بېل وي. د جهاد په کلونو کې مې یوه لنډۍ اورېدلې وه چې:

شهید د هر وطن شهید دی

د جنت شمعې به زموږ شهیدان وینه

په دې لنډۍ کې د دنیایي او سیاسي مقصدونو تر اغیز لاندې د خپل وطن شهیدان تر نورو بهتره بلل شوي دي.

د اسلام په تاریخ کې حضرت امام حسین ( رض) ، په عرفان کې حسین بن منصور حلاج او په عیسویت کې عیسی علیه السلام د شهادت اعلی مثالونه دي. زموږ له اسلامي عقیدې سره سم عیسی علیه السلام په دار شوی او وژل شوی نه دی مګر مسیحیان هغه ته د لوی شهید په سترګه ګوري. د عیسویانو په نظر په فلسطین کې رومي والي د صلیب په ذریعه د عیسی علیه السلام د

وژلو حکم وکړ. دغه حکم اجرا شو خو څو ورځې پس عیسې علیه السلام ولیدل شو. د دوی په عقیده حضرت عیسی(ع) له اعدامه وروسته راپاڅېد او اسمان ته وخوت. د عیسی علیه السلام بیا ژوندي کېدل او هغه د خدای زوی بلل د عیسویت دوه مهم اصلونه دي.

حسین بن منصور حلاج په شمسي حساب د ۳۰۱ کال د حمل په یولسمه نېټه د الحاد او کفر ویلو په تور د عباسي خلیفه مقتدر په زمانه کې د بغداد د شرعې د قاضي په حکم اعدام شو. ویل شوي دي چې دی زر دُرې ووهل شو، پښې او لاسونه یې غوڅ شول، سر یې وځړول شو او جسد یې وسوځول شو. منصور د وخت په تېرېدو سره د خلکو په ذهنونو کې ورو ورو په ډېر مهم کس او ولي الله بدل شو او ډېرې کیسې ورپورې غوټه شوې. هسې وایي چې تر اعدام له مخه یو چا پوښتنه ورنه وکړه: عشق څه دی؟ منصور ورته وویل: نن به یې وینې، سبا به یې وینې او بل سبا به یې وینې. په هغه ورځ دی اعدام شو، په سبا یې وسوځول شو او په بل سبا یې ایرې باد یوړې.

دی په اکثرو ادبي آثارو کې د خپل پلار په نوم( منصور یا منصور حلاج) یاد شوی دی. د حسین بن منصور پلار حلاج و. حلاج هغه چا ته وایي چې پنبه له پنبه دانې بېلوي او مونږ یې نداف بولو. رحمان بابا فرمایي:

اورنگزیب او شاهجهان غوندې اشراف
صدقه شه تر منصور غوندې نداف

حافظ وایي چې هغه یار( حسین بن منصور) ځکه په دار وخوت چې اسرار یې افشا کړل.

په دیني عقیدو او ادبي آثارو کې د شهادت مفهوم د ابدي ژوند، بیا ژوندي کېدو، مېړانې، مظلومیت، سپېڅلتیا او د نورو د بقا لپاره د سربښندنې له مفهومونو سره غوټه دی.

په پښتو ادب کې د شهادت په باره کې یوه ډېره نادره خبره عبدالقادر خټک کړې ده. عبدالقادر خټک فرمايي:

چې سبب يې د دوزخ زما کشتن وي
بيا دې نه مومم دا هسې شهادت

دی وايي چې که زما د وژلو په وجه یو څوک دوزخي کېږي نو د شهادت له دغسې مقامه تېر یم.

د انسانیت معراج دا دی چې د هر چا خیر وغواړو او هغه ګټه، ګټه ونه بولو چې د بل پکې تاوان وي. د عبدالقادر خټک هم عصره او هم نومي شاعر، لوی عارف عبدالقادر بېدل فرمايلي دي چې د ځاځکي او څپې یوازې نومونه بېل دي، نور فرق پکې نشته. اې غافلانو، دوه والی لا څه ته وايي؟ موږ خو همدا تاسې یو!

د ۱۳۹۳ منی

# خشونت او زموږ اخلاقي دنده

د شلمې پېړۍ مشهور ساینس پوه اینشټاین له دویمې نړیوالې جګړې وروسته ویلي وو چې د دریم جنګ د وسلو اټکل نه شم کولای خو په څلورم نړیوال جنګ کې به انسانان په یو بل باندې د تیږو او کوتکو ګوزارونه کوي.

د اینشټاین مطلب دا و چې په دریم نړیوال جنګ کې به دومره پرمختللې وسلې استعمال شي چې د انسان د زرګونو کلونو خواري او تمدن به پوپنا کړي.

په اوسنۍ زمانه کې د جګړې په خلاف د اوازونو د اوچتېدو یو علت دا دی چې اوسنۍ وسلې ډېرې تباه کوونکې دي.

جګړه چې د خشونت یو ډول دی، په وسله باندې کیږي. خشونت نورې مختلفې بڼې هم لري چې وسله پکې نه استعمالیږي خو د انسانانو په تباهي کې یې ونډه کمه نه ده.

پخوانو متل کړی دی چې د تورې پرهر ورغیږي خو د خولې پرهر نه رغیږي. دلته د خشونت د هغه ډول شدت ته اشاره کیږي چې جسم نه بلکې روح ژوبلوي او لاس و پښې نه بلکې زړونه ماتوي.

داسې هم کیږي چې یو څوک نه په خوله چا ته څه وایي او نه لاس ورواچوي خو عکس العمل یې تریخ وي. مثلا د مجلس بحث چې خوند ورنه کړي، له کوټې به بې خدای پاماني ووځي او ور به ډېر کلک پورې کړي.

ما یو چرسي ډریور پیژانده چې کوترې او مرزان یې ساتل. دی چې به خپلې میرمنې ته په قهر شو، چاړه به یې راواخیسته، کوترې یا مرزان به یې حلال کړل او میرمن به یې له وېرې وریږدېدله.

د خشونت ځینې بڼې ډېرې پټې وي. یو څوک به په داسې انداز خبره شروع کړي لکه یو مهم راز چې بیانوي او بیا به د خبرې تر بشپړولو مخکې غلی

شي. دغه سړی که د ځان پرسولو په نیت له ځان څخه د رازونو څښتن جوړوي، دروغجن دی او که یې منظور دا وي چې نورو ته اندیښنه ورواچوي، هم دروغجن دی او هم یې خشونت کړی دی.

خشونت یا تشدد معمولا داسې چلند ته وایي چې بل ته د جسمي یا روحي صدمې د رسولو په نیت تر سره کیږي.

په اوسنۍ زمانه کې چې د انساني حقونو په اړه پوهه ورځ په ورځ زیاتیږي، طبعا له خشونت سره حساسیت مخ په ډیرېدو دی. رحمان بابا فرمایي:« وران شي شهر د یوه سړي په تور» داسې ځکه وایي چې په تیرو وختونو کې ډیرو کسانو دا بې عدالتي نه ګڼله چې واکمن یوه کس ته په قهر شي او ټول هغه ښار له خاورو سره خاورې کړي چې دغه کس پکې اوسي. مقدوني سکندر د خپلو جنګي سفرونو په وخت ناروغ شو او عسکرو یې د یوه کلي څو سوه کسان د دې لپاره تر تېغ تېر کړل چې د سکندر بلا په هغوی باندې پریوزي.

د ارسطو د زمانې خلک هم دومره بې رحمه او جاهلان وو!

د تشدد په اړه د بحثونو د تودېدو بله وجه دا ده چې زموږ په زمانه کې د خشونت د بدو عواقبو په باره کې پوهه تر بل هر وخت ډیره شوې ده او د ټولنې مصلحان ښه پوهیږي چې د نورو ځورول، ویرول او ناکراره ساتل د غوټو د پرانیستلو لار نه ده ، بلکې برعکس غوټې ورسره ټینګیږي. خوشحال فرمایي:« له تا چې ویره کا، څنې به ویره کړې»

یوه زوی چې د پلار مخ ته یې د خبرو جرأت نه کاوه، له کوره پټ وتښتېد او سپین ږیری پلار په میاشتو میاشتو پسې ګرځېده چې د مړ ژوندي درک یې ولګوي. پلار غوښتل خپل زوی د ویرولو له لارې په کنټرول کې وساتي او زوی چې په ظاهره مودب و او په اصطلاح خوله یې ورسره نه وهله، هغسې چلند ورکړ چې ډیر بې ادبه زامن یې هم شاید مناسب ونه بولي.

هغوی چې د نورو په وېرولو کې ځان امن احساسوي، که روحي ناروغان نه دي نو ساده ګان خو دي.

له کورونو رانیولې تر سنګرونو پورې او د کلي د چوک له باندارونو رانیولې د مجازي فضا تر غیبتونو پورې زموږ د ټولنې په هره خوا کې د خشونت نخښې لیدل کېږي. زموږ اخلاقي وظیفه یوازې دا نه ده چې خشونت وغندو، تاوانونه یې وښیو او پټ او ښکاره ډولونه یې بیان کړو، بلکې لا لوی مسولیت مو دا دی چې په خوله، په قلم او په عمل کې داسې څه ونه کړو چې دغه ناروغي نوره هم زیاته شي.

۱۳۹۵

# خوشحاله سنبله

استاد نجیب منلي ته مې وويل چې که جونګړه دې ناڅاپه په ماڼۍ بدله شي نو شايد يوه مياشت به خوشحاله يې خو بيا به ورو ورو د ماڼۍ ژوند عادي احساس کړې او د خوشحالي کچه به دې د هغه وخت په اندازه شي چې په جونګړه کې اوسېدې.

ده راته وويل: زما خوشحالي به په اوله ورځ هم د جونګړې په اندازه وي ځکه زه په تصور کې په ماڼۍ کې اوسېدلی او ورباندې عادت شوی يم.

د ده په خبره به وروسته وغږېږم. اوس به همدا خپله خبره لږ وسپړم. عادت د خوشحالي د دوام د لارې لوی خنډ دی. يو نعمت چې په لاس راشي، په اوله کې خوشحاله شو او خوند ورڅخه اخلو خو څه موده پس چې ورسره عادت شو، د خوشحالي کچه مو تقريبا هغه حد ته راټيټه شي چې له دغه نعمته محروم و. په دې پړاو کې يو ځل بيا هڅه پيل کړو چې په ژوند کې نوی رنګ او خوند ومومو. مقصد ته د رسيدو مزل معمولا اسانه نه وي. ستړيا، ذهني ناکراري او د نورو مخالفتونه پکې وي او که همت ولرو نو دا هر څه د يوې ورکې خوشحالي د لرلو په تمه وزغمو او چې کامياب شو خلک راته بختور وايي. په سر کې موږ هم ګومان وکړو چې بختور يو خو له نوي بخت سره چې څه موده تير کړو، ژوند يو ځل بيا بې خونده او بې معنا رابنکاره شي.

د عادت له بلا سره څه وکړو چې خوشحالي مو ونه وژني؟

دا مشکله ده چې هره ورځ نوی کور ولرو خو دا اسانه ده چې وخت په وخت د کور د وسايلو په نظم او ترتيب کې تغيير راولو. هغه کټ چې د کوټې په شمالي اړخ کې دی، که جنوبي اړخ ته راوليږدول شي، په کوټه کې به مو بدلون راشي او په روحي لحاظ به تازه شو.

زموږ کلیوال په پسرلي کې د غره لمن ته ځي او هورې مېله کوي. د دوی کلی چې په شلګونو لوی او کوچیني باغونه پکې شته، د غره تر لمن شین دی او طبعا د کلیو هوا ناولې نه وي، نو دوی په څه پسې درې ، څلور کیلومتره مزل کوي؟ دوی چې په نوي ځای کې سره کښېني او ډوډۍ وخوري، عادي حالت بدل شوی ووینې او خوشحالي احساس کړي.

زما د پلار یو ماما به د کور په منځ کې د ډوډۍ ځای بدلاوه. پلار مرحوم مې کیسه کوله چې یوه ورځ یې د سهارنۍ لپاره دویم منزل ته ختونکې زینې خوښې کړې وې.

ځینې کسان شاید ووایي چې دا خو خوشحالي نه شوه، دا خو هسې د ځان تیر ایستل دي. ځواب دا دی چې که څوک په یوه شي راضي کیږي، که هغه خیالي هم وي، د ده لپاره ښه خبره ده. زموږ د خوښې ټیم چې د فوټبال مسابقه وګټي، خوشحالي احساسوو، حال دا چې د یوه ټیم پلویتوب خیالي ملګرتیا ده او بله دا چې د لوبو اصلي ګټه خو په ورزش کې ده چې له ګټې او بایلات سره یې تعلق نشته او دواړو ټیمونو کړی دی. موږ چې د یوه ټیم ګول ته خوشحالېږو په حقیقت کې خیالي خوشحالي احساسوو.

د استاد نجیب منلي په خبره کې هم په واقعي ژوند کې د خیال او تصور نقش ته اشاره وه. زه یو وخت څو میاشتې سر په سر ناکراره وم. په دې منځ کې د اسد میاشتې یودیرشمه نېټه راغله. د خاطراتو کتابچه مې راواخیسته او دغه عنوان مې ولیکه: خوشحاله سنبله. په سنبله کې مې کوښښ وکړ چې د دې میاشتې لپاره غوره کړی عنوان بیا بیا رایاد کړم او د ژوند مثبتو اړخونو ته زیات پام واړوم. د دې تجربې په برکت مې نه یوازې په سنبله بلکې ورپسې میاشتو کې هم روحیه بهتره وه.

د چین خلکو متل کړی دی چې که غواړې د یوه ساعت په مخه خوشحاله شې، یو څو شیبې ویده شه؛ که غواړې ټوله ورځ خوشحاله واوسې ، د کبانو په

ښکار پسې ووځه؛ که غواړې ټول کال دې په خوشحالي تېر شي، د جایداد څښتن شه او که د ټول عمر خوشحالي غواړې نو نیکي وکړه.

په چیني متل کې لوی حقیقت ته اشاره شوې ده. د عادت بلا د نیک اوسېدلو له لارې تر لاسه شوې خوشحالي نه شي وژلای. نیکي له قدرت او ثروت سره نه بلکې له نیت سره تعلق لري. که زه په ورین تندي یو چا ته سلام واچوم او هغه احساس کړي چې احترام مې ورته کړی دی، دا نیکي شوه. هغوی چې نیک دي او د خدای د مخلوق خیر غواړي، روحي سکون ته رسیږي او جنتي خوشحالي احساسولای شي.

نېک اوسېدل، په ژوند کې کوچینیو تغییراتو ته اهمیت ورکول او په دې باندې باور لرل چې د خوشحالي د احساس لویه برخه زموږ د خپلو فکرونو او خیالونو پیداوار ده، له موږ سره مرسته کوي چې روحیه مو تازه پاتې شي.

د لیندۍ پنځلسمه،۱۳۹۵

# اوازه

یو کلیوال ملا کابل ته راغی، په پل خشتي جومات کې یې جمه ورکړه، په لمانځه کې سهوه شو، د سهوې سجده یې وکړه. تر لمانځه وروسته د محراب ملا ورته وویل چې ولې سهوه شوې؟ ده ورته وویل: انسان یم. هغه ورته وویل: زه دا پنځه دېرش کاله کېږي چې لمونځونه ورکوم او سهوه شوی نه یم؛ چې سهوه کېږي، مه مخ ته کېږه؛ زه حاضر او ته ځان مخ ته کوې! کلیوال ملا ورته وویل: که ته رشتیا وایې او دا دومره وخت نه یې سهوه شوی نو شیطان نه لرې او چې شیطان دې نه خطا باسي نو کافر یې. هغه ورته وویل: پلار به دې کافر وي، ته به کافر یې، دا څه وایې؟

لنډه دا چې لاس یې سره واچاوه، یو بل یې ژوبل کړل، خبره حکومت ته ورسېده او پوښتنې ورنه وشوې. په پوښتنو کې معلومه شوه چې د محراب ملا د دې وطن سړی نه دی، پرنګی دی. او په دې وخت کې له لندنه احوال راغی چې زموږ سړی راخوشې کړئ!

پاسنی حکایت مې د غزني د واغز له یوه ملا څخه د ۱۳۶۵ کال په ژمي کې په پیښبور کې واورېد. د ملا صاحب زوی ناروغ و، د هغه د علاج لپاره پیښبور ته راغلی و.

په پل خشتي کې د پرنګي د امامت خبره زموږ د ټولنې د شلمې پېړۍ یوه اوازه ده. اوازه معمولا شفاهي وي، له یوې خولې بلې ته رسېدلې وي، سپیناوی یې مشکل وي او دا نه معلومېږي چې دا خبره اول چا کړې ده. په ټولنه کې د استدلال کمزوري، بدګوماني، د ځینو کسانو دا ارزو چې ځان له پټو رازونو خبر وښیي او د ګڼو نورو کسانو دا شوق چې له حیرانوونکو رازونو خبر شي، ځینې هغه عوامل دي چې د اوازو له خپرولو سره مرسته کوي.

د اوولسمې پېړۍ یوه ایټالیایي ګرځندوی چې هندوستان ته یې سفر کړی و، په خپل کتاب ( ستوریا دو مګور) کې د هغه وخت د هندي ټولنې ځینې اوازې خوندي کړې دي. په دغو اوازو کې شاهجهان پاچا ډېر بدلمنی او عیاش معرفي شوی دی. کمزوري او بې وسه کسان چې د شتمنو او پیاوړیو په مقابل کې د حقارت احساس

کوي، معمولا له هغو خبرو خوند اخلي چې شتمن او پياوړي ورسره بې شخصيته ښودل کېږي.

ټولنپوهان وايي چې که د ټولنې لپاره يو خبر مهم وي خو د هغه خبر په باره کې لازم او دقيق معلومات خپاره نه شي نو د اوازې زېږېدو ته لاره اوارېږي. څو کاله پخوا په کابل کې اوازه شوه چې مارشال قسيم فهيم مړشوی دی. دا ناسمه اوازه په بينوا ويپاڼه کې نشر شوه چې د افغانستان حکومت يې وقهراوه او نوموړې ويبپاڼه يې د څو ورځو په مخه بنده کړه. اوازه ځکه خپره شوه چې د مارشال فهيم د صحت په باره کې خبر د ټولنې لپاره مهم و خو د هغه د روغتيا د وضعيت په باره کې هيڅ معلومات نه خپرېدل. ابهام او اهميت چې سره يو ځای شول، د اوازې خپرولو ته يې لار پرانيسته. نن سبا ګڼې اوازې د رسنيو او په تېره نړيوال جال په ذريعه خپرېږي.

اوازه چې د تبليغاتو يوه مهمه ذريعه ده، ممکن د سياسي مقصدونو لپاره خپره شي. د دويم نړيوال جنګ په زمانه کې به سره صليب په جاپان کې د بندي امريکايي عسکرو ليکونه د هغوی کورنيو ته رسول. په همدې کلونو کې په امريکا کې اوازه خپره شوه چې د يوه بندي عسکر کورنۍ د پوستې هغه ټکټ چې په پاکټ باندې لګول کېږي، رااړولی او د ټکټ په شا يې د خپل بندي پيغام لوستی دی چې جاپانيان د اسيرو عسکرو شونډې ورګنډي.دې اوازې په خپل وخت کې د امريکايي عسکرو د تسلمېدو له کمېدو سره مرسته کوله او دې ټکي ته څوک نه متوجه کېدل چې د سره صليب د ليک په پاکټونو باندې خو پوستي ټکټونه نه لګول کېږي.

د اوازو راټولول او شنل د يوې ټولنې په باره کې ډېر څه رازده کولای شي. د ببرک کارمل د حکومت په کلونو کې په افغانستان کې اوازه وه چې د شوروي جوړ بوټونو په تلو باندې کلمه شريفه ليکلې ده. دا اوازه مې هم اورېدلې وه چې په کمونيستي دولت کې له بوډيو او بوډاګانو، چې کار نه شي کولای، صابون جوړېږي. يوه اوازه که هرڅو بې منطقه او غيرواقعي وي خو چې په ټولنه کې عامه شي يا ډېر عمر وکړي، په شننه ارزي.

د ۱۳۹۳ منی

# تفریح

هغه څوک چې کار نه کوي د تفریح په خوند نه پوهېږي او هغه څوک چې تفریح نه کوي د کار خونده يې نه وي. زموږ د کار مزه نشته او یو لوی علت يې دا دی چې د تفریح په هنر نه پوهېږو.

تفریح ته یا په سپکه سترګه ګورو، یا ګومان کوو چې تفریح وحـ پیسې، وسایل ،کلتوري ازادي او خوشحاله زړه غواړي چې موږ يې نه لرو نو تفریح نه شو کولای.

ځینې کسان ګومان کوي چې که هر څومره ډېر کار وکړي، هغومره به يې زیاته ګټه کړې وي خو که د وسپنې ماشین اخر تودېږي او استراحت ته ضرورت لري نو د غوښو له ماشینه ولې زیاته توقع ولرو؟ مختلفو تحقیقاتو ثابته کړې ده چې د هغو ټولنو او وګړیو د کار کیفیت اوچت دی چې تفریح ته اهمیت ورکوي. د پښتو شعر په کلاسیکو استادانو کې هیڅا د خوشحال خټک غوندې د تفریح شوق نه دی کړی او د هیڅ یوه د کار کمیت او کیفیت ده ته نه رسېږي.

موږ کله کله وایو چې تفریح ته وخت نه لرو، حال دا چې سهار به پوره یو ساعت په چایو تېروو او نیمه ورځ به مو په فیسبوک کې په ګپ شپ تېرېږي. وخت کم نه دی خو کنټرول او تنظیم غواړي.چا راته د کابینې د یوه وزیر کیسه کوله چې ډېر ستړی وي مګر بیا هم ډېر کارونه ورځخه نیمګړي پاتې وي ځکه دی د وزارت د پخلنځي د چارو په باره کې هم یو ساعت بحث ته وخت ورکولای شي. مطلب دا چې که څوک کارونه په مهم او غیرمهم ونه وېشلای شي او هغه چارې چې نورو ته سپارل يې ممکن دي، په نورو ونه سپاري، نه به تفریح ته وخت وموسي او نه به د خپل کار نتیجې ته خوشحاله شي.

د پیسو او وسایلو نشتوالی د تفریح د نه کولو نورې پلمې دي. زه دا منم چې په افغانستان کې به دا مشکله وي چې په یخ موسم کې په حوضونو کې

ولامبو خو په کور کې ګلونه ساتل اوپه کوټه کې ګلدان لرل مشکلې چارې نه دي. زما ګاونډی چې د پوهنتون استاد دی، په کور کې کوترې ساتي. مونږ چې د تفریح له اهمیته خبر نه یو، د استاد د کور کوترې راته ښې نه ښکاري او دې ته پام نه کوو چې که ژوند خوږ نه کړو، له زغملو وځي. هغوی چې ځان وژني او بل وژني یو علت یې دا دی چې په ژوند کې ښکلاوې نه ویني. اشرف مفتون څه ښه ویلي دي:

دا خو ما په مینه دا دنیا رنګینه کړې ده

دا توره بلا خو ما په زور حسینه کړې ده

په افغانستان کې پرله پسې قتلونو او ظلمونو ګڼ کسان په روحي مړاویتوب مبتلا کړي دي. مړاوي کسان وایي چې زړونه یې مړه دي او د تفریح شوق ورسره نشته. دوی که یو شوق ته مخه کړي او یو څه وخت ورسره تېر کړي، ورو ورو به یې مینه ورسره پیدا شي. دلچسپي تر ډېره حده له بلدتیا او عادت سره تعلق لري. زه د فوټبال له لوبې خوند نه اخلم خو هغوی چې ورسره بلد دي، په خورا خوند خوند یې ننداره کوي.

د دوه زره درې سوه کاله پخوا زمانې یوناني فیلسوف اپیکور د انسان د خوشحالۍ او نیمکرغۍ په باره کې ډېر غور کړی و. دی وایي د ژوند مقصد همدا دی چې خوند او لذت ورنه واخلو. اپیکور د یارانو شتون په ژوند کې د خوند او خوشحالي خورا لویه ذریعه بولي. هسې وایي چې د مرګ په وخت په اپیکور باندې یاران او شاګردان راټول وو او ده ورته ویل چې د خوشحالۍ د وختونو کیسې راته وکړئ چې له خوږو خاطرو سره له ژونده بېل شم.

یاري او دوستي نه خاص وسایل او امکانات غواړي او نه کلتوري بندیزونه ورباندې شته. هغه بنیادم چې یاران لري او ورسره پالي یې، د تفریح او خوشحالي لویه سرمایه ورسره ده.

د واقعي تفريح لپاره تدبير او تربيت کړی ذهن پکار دی. مونږ په مېلو او مېلمستياوو کې ډېر ځله وخت په دې تېروو چې په نورو لاسبري شو او دا ثابته کړو چې تر نورو زيات يو. موږ چې د زړه د صفا له کمالونو خبر نه يو، د واده او خوشحالۍ محفل راته ممکن د زړه د بوج د کمولو نه بلکې د زياتولو سبب شي.

تفريح لوی هنر دی او مونږ د تفريح په چل په دې وجه هم ښه نه پوهېږو چې په کلتوري لحاظ په ښه سترګه ورته نه ګورو. اولادونه له پلرونو او پلرونه له اولادونو په پټه لوبې کوي . داسې ځکه کېږي چې تفريح مو لا د ژوند د يوې لازمې برخې په توګه د زړه له تله نه ده منلې.

مونږ چې د کار خلک نه يو، د تفريح خلک هم نه يو. ګڼو تحقيقاتو ثابته کړې ده چې هغه کسان اغيزمن فعاليت کولای شي چې تفريح ته وخت ورکوي.

د کور له غړيو سره په خندا او محبت چلېدل، د تفريح بهترينه ذريعه ده خو زموږ کورونه معمولا د پټکو، د ګېلو، د تروو تندو، د خپګانونو او ان د وهلو ټکولو زندانونه دي. مونږ اکثرو دا نه دي زده کړي چې په خپلو کورونو کې څنګه د تفاهم او محبت مشالونه بل کړو او په جنتي رڼا کې يې سکون ومومو.

د دې لپاره چې فعال او مفيد واوسو، تفريح کولو او د ژوند له ښکلاوو خوند اخيستلو ته بايد وخت ورکړو او د دې لپاره چې تفريح مو کاذبه او مضره نه بلکې ګټوره او رښتيانۍ وي، په تفريح باندې غور کولو ته فرصت پکار دی. يو څوک به له دې خوند اخلي چې د رخصتۍ په ورځ په خپله اشپزي وکړي او بل به د ښه کتاب له لوستلو خوند اخلي. د خپلو ذوقونو ، خپلو امکاناتو او خپلو کارونو پېژندل راسره مرسته کوي چې د تفريح مناسب ډول په اسانۍ سره انتخاب کړو. زما يوه دوست به د رخصتۍ په ورځو کې د ادارې له ملګرو سره تېروله او هلته به هم د دفتر بحثونه وو. ګومان کوم دا بيا تفريح نه شوه بلکې د ستړيا د مودې اوږدول شول.

د ۱۳۹۳ منی

# مړینه او تړلنه

« کاکا، سبا زمونږ د بلخ د پادشاه سره جنګ دی. په دواړه توکه زموږ بری دی. که دی مات شي، د بلخ پادشاه به مو مات کړی وي او که مونږ ومړو، دا ځای ځلي به مو ساز شي، په مدت به عالم وايي چې پښتنو د بلخ پادشاه سره جنګ وکړ، شهیدان شول.»

په تاریخ مرصع کې راغلې دا خبره د شاه جهان پاچا د هغه لښکر یوه منصبدار خپل تره ته وکړه چې د بلخ د نیولو لپاره استول شوی و. دغه سړي د بلخ د پاچا د ماتیدلو په بیه خپله خوشحالي غوښته او دې ته هم په ظاهره تیار و چې د ژوند په بیه نوم وګټي او خلک یې پس له مرګه غیرتي وبولي. له ده سره دا باور هم و چې د ده او د ده د ملګرو وژل کیدل به په بله دنیا کې د دوی په ګټه وي او شهادت به یې په نصیب شي.

ایا د ده رشتیا باور و چې شهادت یې په نصیب کیږي او که یې هسې خپل ملګري جنګ ته هڅول؟

دواړه امکانه شته. بنیادم ته دا ډیره سخته وي چې د خپلو ګټو او حقیقت تر منځ پوره فرق وکړي. شاوخوا څلور سوه کاله پخوا چې د شاهجهان پاچا منصبدرانو د خپلو کسانو قتل شهادت باله، په مقابل پوځ کې به هم طبعا همدا خبره کېده چې هغه څوک شهید دی چې د بلخ د پاچا لپاره په جګړه کې ووژل شي.

که دا ومنو چې د شاه جهان پاچا منصبدار د خپلو کسانو د شهادت خبره هسې کوله او مطلب یې  د دوی هڅول وو، نو سوال پیدا کیږي چې په جنګ

کې خو د ده د وژل کیدو امکان هم و. دی له خپل داسې مرګه ولې نه ویریده چې انجام یې ناڅرګند و؟

ځواب دا دی چې د اکثرو کسانوخپل مرګ چندان زړه ته نه لویږي. هغوی چې په جګړو کې برخه اخلي، معمولا ګومان کوي چې حادثه به دوی ته نه بلکې بل ته پیښیږي. دغه ګومان هم د بنیادم د خودپرستي او انانیت پیداوار دی. موږ چې له خپل مرګه ویریږو نو ځان تیرباسو او په لوی لاس یې هېروو.

شهادت له هغې دنیا سره تعلق لري خو په دې ویاړ کول چې په مودو مودو به خلک وایي چې پښتانه د بلخ له پاچا سره په جګړه کې شهیدان شول، د دې دنیا ارزښت دی. دا نو څنګه کیږي چې وګړي د دې دنیا داسې ویاړ ته زړه ښه کړي چې د ویاړ په وخت به دوی په دنیا کې نه وي؟ د دې پوښتنې یو ځواب دا دی چې انسان اجتماعي حیوان دی او له ټولنې ځان بیل نه احساسوي. ټولنه چې د وګړي تر مړینې وروسته هم ژوندۍ وي، وګړی ورباندې تکیه کوي او ځان وربانديې سپاري.

کابو دوه نیم زر کاله پخوا هخامنشي پاچا خشاریار پر یونان حمله وکړه. د یونان د خاورې منځ ته د رسېدو لپاره پکار و چې هخامنشي لښکر د سمندر او غرونو تر منځ په نرۍ لاره تېر شي. دغه لار د سپارټ د یوناني حکومت د زړه ورو جنګیالیو یوې وړې ډلې ساتله. دغو کسانو د هخامنشیانو بې حده لوی لښکر چې د مورخ ویل دورانت په قول افغانان هم پکې شامل وو، درې ورځې ایسار کړ. یوناني جنګیالي تر وروستۍ سلګۍ وجنګېدل. د دوی پر قبرونو لیکل شوي وو چې: اې پردی لارویه، ورشه سپارټیانو ته ووایه چې موږ ستاسې د قوانینو د اطاعت په خاطر دلته پراته یو.

انسان د شهادت لپاره، د نوم لپاره، د قانون په حکم او ځینو نورو دلایلو له ژونده تیریږي. په اوسنۍ دنیا کې هر کال په سلګونو زره کسان د روحي ناروغیو په وجه، له ډیرې غمجنې حادثې سره د مخامخ کېدو په وجه یا نورو

علتونو ځانونه وژني. دوی د ویاړ یا بل ژوند په تمه نه بلکې له دې ژونده د بېزاره کېدلو په وجه انتحار کوي.

د ۲۰۰۸ کال د مالي بحران په وجه یوه اروپایي بډای چې نهه میلیارده ډالره شتمني یې لرله، په دې سبب ځان وواژه چې نیم میلیارد ډالر تاوان یې کړی و، حال دا چې که د ده عمر د نوح وای او د ده سخاوت د حاتم طایي وای، بیا یې هم پاتې اته نیم میلیارده ډالره نه شوی تمامولای، نو ده ولې داسې وکړل؟ په غالب گومان ده د شدید روحي فشار په نتیجه کې سم فکر نه شو کولای. یو ځای مې لوستي وو چې د سه شنبې انتحاریان که په چهارشنبه راژوندي کېدای، ټول به په خپل عمل پښیمان وو.

کله کله داسې هم کیږي چې له ژونده بېزاري او روحي ناروغي له یوه معنوي ارزښت سره ملگرې شي او بنیادم گومان وکړي چې په داسې لاره کې ځان وژني چې هم د دې دنیا له سختیو په کراریږي او هم یې په راتلونکې دنیا کې سرخ رویي په نصیب ده.

پاسني مثالونه په دوو ډولونو وېښلای شو: ځینې کسان له ژونده بېزاره وي او مرگ غواړي خو ځینو نورو ته خپل مقصد د ژوند تر قیمت لوړ ښکاره شي او سودا ته تیار شي. ټولنه ممکن د لومړي ډلې کسانو ته ځان وژونکي ووایي او په دویمه ډله کې شامل کسان سرښندونکي وبولي.

سرښندونکي د انساني ارزښتونو یا لږ تر لږه د یوې خاصې ټولنې د ارزښتونو لپاره له سره تیریږي او د مرگ د خطر د منلو پریکړه یې ممکن په ارامو اعصابو کړې وي خو د ځان وژونکو عمل معمولا د اجتماعي ارزښتونو په خلاف راښکاري او د روحي بحران نتیجه یې بولو. البته، څرنگه چې انسان اجتماعي ژوی دی نو ان په هغه وخت کې هم چې له ټولنې بیخي نهیلی وي، اجتماعي ارزښتونه یو مخ له پامه نه غورځوي.

دا مې هم د ویل دورانت په یوه کتاب کې لوستي وو چې یو وخت د ملطیې په ښار کې د نجونو خودکشي زیاته شوه او مشران اندیښمن شول. د ښار مشرانو له اوږده غوره وروسته فیصله وکړه چې جارچیان دې جار ووهي چې نور که هر چا خودکشي وکړه، مړی به یې د ښار په کوڅو کې لوڅ گرځول کیږي. دې فیصلې د نجونو د خودکشي مخه ونیوله. داسې ځکه وشول چې دوی له ژونده بېلېدو ته تیارې وې خو له ټولو اجتماعي ارزښتونو څخه بېلیدل یې په وس کې نه وو.

د هر چا مړینه یوازې هغه ته وړپېښېږي خو ټولنه دا قدرت لري چې وگړي د مرگ د خطر منلو ته چمتو کړي او یا یې برعکس له ځان وژلو راوگرځوي. کامیابه ټولنه هغه ده چې وگړیو ته یې د خواږه ژوند فرصت برابر کړی وي او بختور بنیادم هغه دی چې د ټولنې د کامیابي په هڅو کې برخه اخلي.

**صدقه**

حسن دهلوي چې د حضرت خواجه نظام الدین اولیا مرید دی، په صوفیانه ادب کې د یوه مهم ژانر موسس بلل کیږي. ده له خپل پیر سره د خپلو ملاقاتونو او مجلسونو رپورټونه په یوه کتاب کې راغونډ کړل او بیا وروسته نورو هم د صوفي بزرگانو د شفاهي تعلیماتو رپورټونه ولیکل او دغسې آثار (ملفوظات) وبلل شول. د حسن دهلوي ملفوظات ، فواید الفواد نومیږي. امیرخسرو چې د حسن دهلوي په شان د چشتیه طریقې پیرو او د فارسي ژبې لوی شاعر دی، ویلي دي چې کاشکې زما ټول آثار د حسن وای خو فواید الفواد زما وای. فواید الفواد مو په پنځلس کلنه موده کې د خواجه نظام الدین اولیا د ۱۸۸ مختلفو ورځو په مجلسونو کې شریکوي، د هغه خبرې راباندې اوروي او د هغې زمانې صوفیانه آداب مو سترگو ته دروي.

د ۱۳۰۹ عیسوي کال د جون د نهمې نېټې په مجلس کې خواجه نظام الدین اولیا وویل چې هغه څوک به خامخا د خپلې صدقې اجر مومي چې پنځه

شرطونه رعایت کړي. په دغو کې دوه شرطونه د صدقې تر ورکړې له مخه لازمیږي، دوه نور باید د ورکړې په شېبه کې رعایت شي او پنځم شرط له ورکړې وروسته وخت سره تعلق لري. لازمه ده چې صدقه د حلالې شتمنۍ وي او صدقه ورکوونکي نیت کړی وي چې صالح بنیادم ته به یې ورکوي. دا دواړه مخکیني شرطونه دي. د صدقې د ورکولو په وخت پکار ده چې ورکړه په پټه وي او په ورین تندي او تواضع سره وي. د صدقې له ورکولو وروسته شرط دا دی چې خیرمن بنیادم به د خپل خیر یادونه نه کوي.

نظام الدین اولیا هغو کسانو ته د صدقې شرطونه وربښیي چې د هغې دنیا اجر غواړي خو له نورو سره مرسته کول او صدقه ورکول په دې دنیا کې هم د روحي سکون او خوشحالي سبب گرځي. ما د خوشحالي په باره کې په مختلفو وختونو کې گڼ رپوټونه لوستي او د ځینو تحقیقاتو لنډیزونه مې پښتو کړي دي. کابو ټول تحقیقات وایي چې له نورو سره ښه کول او خیررسول د خوشحالي لوی عامل دی. ډیر کسان گومان کوي چې ثروت به د خوشحالي لوی سبب وي، حال دا چې شتمني په خوشحالي کې وړه برخه لري او د ځینو معتبرو څیړنو په اساس، ثروت مو په خوشحالي کې یوازې لس فیصده ونډه لرلای شي. له نورو سره ښه رابطه لرل او ښه کول، د خپلو کامیابیو بیا بیا رایادول او د خپلې آیندې لپاره پلان او پروگرام لرل، د خوښۍ د ایجاد ځینې لوی سببونه دي.

یوناني فیلسوف اپیکور چې تر میلاد درې، څلور سوه کاله پخوا اوسیده، د خوند او خوشحالي په باره کې ډیر فکر کړی و او دې ته یې پام شوي وو چې د اوږدې مودې خوندونه تر هغو بهتره دي چې یوازې شیبه نیمه را سره مله وي.

زه د خپلې تجربې له مخې وایم چې د ښېگړې خاطرې له کلونو وروسته هم خوشحاله کړی یم، خو د یوې ښې تفریح خاطره مې د وخت په تېریدو سره معمولا په حسرت او ارمان بدله شوې ده.

لوی فیلسوف ایمانویل کانت چې د نظام الدین اولیا غوندې یې ټول عمر واده ونه کړ او فکر کولو ته ډیر وخت ورسره و، د اخلاقي اوسېدلو په باره کې بیخي بېل نظر لري. د کانت په نظر هغه عمل چې د خوند یا ګټې لپاره یې تر سره کوو، اخلاقي عمل نه دی. اخلاقي عمل هغه دی چې د مسولیت په اساس یې کوو او باید تر سره یې کړو. کانت وایي، اخلاقي احکام له تجربو څخه نه بلکې د انسان له فطرت او ضمیره زده کیږي او موږ له تجربې پرته هم پوهېږو چې قتل غیراخلاقي عمل دی. د ده په اند، اخلاقي قانون له تجربې څخه سرچینه نه اخلي. اخلاقي قانون تر تجربي مقدم دی او له عقله سرچینه نیسي. دی وایي چې که انسان یوازې عاقل موجود وای، بد اخلاقي به یې نه کوله خو ځرنګه چې انسان احساس هم لري او ډیر ځله د غیرعقلاني تمایلاتو تر اغیز لاندې راځي نو بد ورڅخه پېښېږي او په همدې وجه اخلاقي قوانین د احکامو او امرونو په ډول ورښکاري. کانت وایي له هغه څه چې ( شته) او په طبیعت کې پېښېږي ، د ( باید) نتیجه نه شو اخیستلای. دا نه شو ویلای چې پسرلی دی او باید باران واوري خو دا ویلای شو چې درې ځله درې باید نهه شي. اخلاقي احکام هم د ریاضي د احکامو غوندې د ( باید ) احکام دي. مثلا، مونږ باید دروغ ونه وایو.

د نوې ځوانی په کلونو کې مې د استاد الفت په ( لوړ خیالونه او ژور فکرونه ) کې د موریس مترلینګ یوه لیکنه ولوسته چې سخت خوند یې راکړ او سمدستي د هغې د حفظ کولو شوق راپیدا شو. لیکنه دا ده:

**انساني سلوک**

انسان باید هغه مینه چې له نورو سره یې کوي، له ډیر لوړ ځایه راواخلي او په ډیر لوړ همت له نورو سره وچلېږي.

تر څو چې ممکنه ده چې خلکو ته د عشق په نظر وګوري، نه ښایي چې د خپل ترحم او شفقت سیوری په چا باندې وغوړځوي.

تر څو چې د عدالت له مخې چا ته څه ورکولی شي، نه ښايي چې د احسان له مخې چا ته څه وبخښي.

تر څو چې د چا احترام کولی شي، نه ښايي چې د هغه دلجويي او دلداري وکړي.»

په را وروسته کلونو کې چې د کانت له نظريو سره څه نا څه بلد شوم دې نتيجې ته ورسېدم چې د مترلينګ ليکنه د کانت د اخلاقي فلسفې تر اغېز لاندې ليکل شوې ده. د کانت په فلسفه کې د انسان ډېر درناوی شوی دی، ځکه له يوې خوا اخلاقي اصول د بنيادم د خپل فطرت پيداوار ګڼي او له بلې خوا له بل چا سره ښه کول، زموږ مسوليت بولي او دا اجازه نه راکوي چې په خپلې ښېګړې لويي وکړو او په نورو باندې د خپل احسان سيوری واچوو.

د کانت په اخلاقي نظريې باندې، د هغې له ټول عظمت سره سره، نيوکه کېږي چې د خير په چاره کې يې د خيرمن بنيادم احساساتو او عواطفو ته ځای نه دی ورکړی. بنيادم ډېر ځله د رحم د عاطفې تر اثر لاندې له نورو سره ښه کوي او يا ممکن د نوم شوقي وي او وغواړي د خپل وخت سخي ارسلا خان شي.

له نورو سره ښه کول که د ثواب لپاره وي يا د خوشحالي په مقصد وي يا د کومې بلې عاطفې تر اثر لاندې، خو لا مهمه دا ده چې محتاجو کسانو ته په لا ښه طريقه خير ورسوو.

جنګونه، وچکالي، توفانونه او نور آفتونه په ټولنو کې بيوزلي زياتوي او پر ګڼو کسانو د روزي د ګټلو لارې بندوي. زموږ ټولنه چې پرله پسې جګړو سخته تباه کړې ده، د بيوزلو کسانو شمير پکې خورا زيات دی او په همدې وجه پکار ده چې د صدقې ورکولو او خير رسولو په باره کې لا زيات غور وکړو او لا ګټورې لارې چارې ورته ولټوو.

نورو ته ډوډۍ ورکول او وږي مړول د خيرخيرات عام ډول دی خو محتاج کسان يوازې ډوډۍ ته اړتيا نه لري. په کابل کې د نانوايي ګانو په خوا کې ناستو

ګدایانو ته خلک معمولا ډوډۍ اخلي، حال دا چې ګدا تر ډوډۍ په پیسو خوشحالیږي.

په کلیو کې به لوی خیرات ته له لرې ځایونو خلک را روان وي. دغه خلک معمولا نارینه وي او دې ته پام نه کیږي چې لوږه او ناوړه تغذیه امیدوارو میندو او ماشومانو ته لا خطرناکه ده.

کور، کالي، ډوډۍ د چپي نهضتونو ډیر مهم شعار و. د شلمې پیړۍ په اویایمو کلونو کې چې چپیانو په افغانستان کې قدرت تر لاسه کړ، د نساجي صنعت د ودې په برکت د بیوزلو د لباس مشکل په فرعي مشکل بدل شوی و، خو چپیانو په پخواني شعار کې د تغییر ضرورت احساس نکړ او په اړتیاوو کې تغییر ته یې پام نه شول. یو وخت چې د علاج پرمختللي وسایل او مختلف درمل نه وو، علاج نسبتا ارزانه و خو د طب ودې علاج قیمته کړ. د شلمې پیړۍ تر دویمې نیمې وروسته له بیوزلو کسانو سره دومره د لباس غم نه و لکه د علاج. نن سبا زموږ په وطن کې هره ورځ ګڼ ماشومان، امیدوارې میندې او نور کسان په هغو ناروغیو مري چې که یې کورنۍ پیسې ولري نو علاج یې ممکن دی. خیرمن کسان که د لویو خیراتونو په ځای علاج ته مخ واړوي، په اوسنۍ زمانه کې به یې لا لویه نیکي کړې وي.

د کانت په نظر زموږ د عمل نتیجه لږه یا زیاته زموږ له کنټروله وتلې ده نو موږ د خپل نیت مسوول یو، نه د نتیجې. ته به یو چا ته پیسې ورکوې چې کورس ووایي خو خبر به نه یې او هغه به نشې وربانديې کوي. کانت وایي، څرنګه چې ستا نیت د هغه د پوهې زیاتول وو، نو ستا عمل اخلاقي و. د نظام الدین اولیا په شرطونو کې هم لولو چې نیت باید دا وي چې له صالح بنیادم سره مرسته وشي. زموږ په وطن کې ګڼ پوډریان ګدایي کوي او ځینې کسان هغوی ته پیسې ورکوي او وایي چې که پوډري هم دی، د خدای بنده دی، مرسته ورسره پکار ده، حال دا چې پوډري

د ګدايي په ځ[illegible]سو په غالب ګومان پوډر رانيسي. په داسې ځايونو کې شايد دا بهتره وي چې پوډري ګدا ته پيسې نه بلکې ډوډۍ ورکړو.

جاپانيانو متل کړی دی چې ماته د کبانو ميلمستيا مه کوه، ماته د کب نيولو چل را زده کړه چې هره ورځ خپل ځانته پخپله ميلمستيا وکړم. له پوډري سره هم تر ټولو لويه نيکي دا ده چې د ترک اعتياد روغتون ته يې معرفي کړو.

هغوی چې ښوونځي جوړوي، چې ځوانانو ته کسبونه ورزده کوي او چې د کار فرصتونه برابروي، هغوی نورو ته د کبانو ميلمستيا نه کوي بلکې د کب نيولو چل ورښيي او لا لوی خير رسوي. موږ هر يوه ته پکار ده چې د خپل وس په اندازه د خدای له مخلوق سره بنيادي مرسته وکړو او د ټولنې حرکت د هغه مقصد په لور جاري وساتو چې هلته هيڅوک دومره مجبور نه شي چې بل چا ته د خيرات کاسه ونيسي.

دا مقصد يقينا لنډ نه دی خو ناممکن هم نه دی. په ځينو پرمختلليو ټولنو کې له بيوزلو سره اجتماعي نظام مرسته کوي او محتاجان خامخا نه مجبوريږي چې شتمنو ته کړه غاړه ودريږي. له بلې خوا شتمن هم ورو ورو بهتره ګڼي چې د محتاج سترګې کوزې نه کړي او خپله مرسته د خيريه موسسې له لارې ور ورسوي.

# د ګدایانو دنیا

په کندز کې استوګنو ګڼو قبیلو کې د جوګیانو قبیله هم شامله ده. کور په کور ګرځېدل او ګدایي کول، د جوګنو ښځو میراثي کسب دی. جوګیان په اوړي معمولا د سیندونو د غاړې په چمنونو کې خیمې وهي او ژمی په کلیو کې د سر سیوری لټوي. د دوی سړي په کور ناست وي، ماشومان پالي، پخلی کوي.څاروي او آسونه یې ډېر خوښېږي. ښځې یې لکړه په لاس ، خورجین په غاړه کور په کور ګرځي، خیر غواړي. د دوی کمیسونه اوږده او مخونه لوڅ وي. ځینې جوګنې فال ګوري. د فال په وخت ممکن نامحرمه سړی له مړونده ونیسي. نابلده سړی چې د جوګنو دغسې ژوند او دا رنګه فال وګوري، شاید د بدګرځو ښځو ګومان پرې وکړي خو دوی هیڅکله د بدلمنۍ شهرت نه دی لرلی.

جوګنه چې ودېږي د پلار له کوره د لاس لرګی او خورجین په جهیز کې ورکول کېږي، د دوی نجونې ولور لري خو ولور یې په پیسو نه بلکې په وخت اندازه کېږي.د هلک او جینکۍ کورنۍ پریکړه کوي چې له واده وروسته به نجلۍ دومره کلونه( مثلا دوه، درې حتی اته کاله) د خیر ټولولو عایدات د پلار کره ورکوي.

له خپل پلار مرحومه مې اوریدلي وو چې د ظاهر شاه بابا د سلطنت په وروستیو کلونو کې شاه مردان قل د چاردرې ولسوالي د جوګیانو مشر و. دی په جوګیانو کې شتمن سړی و. د میلمه خانې خیمه به یې په غالیو فرش وه. د اوزلوبې یو یا دوه اسونه به یې همیشه ساتل ، خپله هم تکړه چاپ انداز و، خو ښځه یې چې د طلایي غاښونو میرمن وه، د نورو جوګنو غوندې کور په کور ګرځیده. پلار مې ویل، یوه ورځ چې ګدایي ته راغلې وه، پوښتنه مې ورنه وکړه:

ښتا خاوند خو شکر ښه ژوند لري، ته ولې ګدايي کوې؟ ځواب يې راکړ:« موږ که ګدايي ونه کړو، مانا يې دا ده چې بې همته يو!»

د جوګيانو ګدايي اقتصادي نه بلکې کلتوري ريښه لري. د پوهانو په قول، د جوګي کلمه له ( يوګي ) رااخيستل شوې ده او ( يوګي)هغه چا ته وايي چې د ( يوګا) پرکټس کوي. يوګا د هندوانو يو لرغونی ذهني او جسمي ورزش دی چې په هندي مذهب او کلچر کې ريښې لري. د افغانستان جوګيان مسلمانان دي خو د خير ټولولو عادت يې په هند کې د ځينو جوګيانو د ملنګي او مرتاضي د کلچر ادامه ښکاري.

هغه چا ته چې موږ ملنګ وايو، دنيا ته يې لته ورکړې وي او خير د دې لپاره ټولوي چې دنيايي چارو ته اهميت نه ورکوي. دی غواړي معنوي ژوند ته کافي وخت ولري. ملنګ چې له خلکو بيل، مرموز ژوند لري، ممکن رسيدلی کس وي او دعا يې ارزښت ولري.

زموږ په ادب او فولکلور کې ملنګان اهل ذوق وي، مجذوبان وي، اوږدې څنې لري، دم کوي، دعا کوي، ښيرا يې لګېږي، خيرټولوي او کله کله پيشګويي کوي.

ملنګان اولاد، کور او کورنۍ نه لري، په ګوښه کې اوسي، زيارتونه يې خوښېږي، په اجتماعي ژوند کې برخه نه اخلي، په لمانځه، اوداسه او نظافت کې يې مزه نه وي او کيدای شي چې په ملايانو ښه ونه لګيږي.

دوی تور يا د ښځو غونډې رنګين اوږده کميسونه اغوندي، امېلونه او رنګه مرۍ په غاړه کوي، د کورونو په دروازو کې هل کوي، کچکول لري، لکړه لري، چرس څکوي، د اوسيدو ځای يې دوهۍ ده او په دوهۍ کې معمولا اور او ايرې او چرس پيدا کيږي.

ځينې ملنګان د سختې ګرمۍ يا سختې يخنۍ يا اوږدې لوږې په مقابل کې بې پروا وي او دا بې پروايي يې د کشف و کرامت نخښې ګڼل کيږي.

سندهي پير به ،چې د شلمې پيړۍ په اتيايمو کلونو کې وفات شو، د پېښور په سخته گرمي کې هم د اور لمبو ته ناست و او د کندز د امام صاحب سالار ملنگ به ان په سخته يخني کې جامې نه اغوستلې. دغو څانگړنو خلکو ته دوی د کرامت څښتنان معرفي کول.

د خلکو په نظر يوازې څينې ملنگان حقيقي گڼل کيږي، نور نو مازې گدايان دي چې د ملنگۍ جامې يې اغوستې دي.

د ملي هينداريې له روايت سره سم د پتي خان په نکل کې لولو چې ملنگ د پاچا د حرمسرای په دروازه کې هل کوي او خير غواړي. د پاچا ماينه وايي:«... اور دې در وسبي ، په تاسې ډيرو ملنگيانو، په يوه کې دونه تاثير نسته چې خدای پاچا ته زوی ورکي...» او بيا ملنگ منه دموي، پاچا ته خدای زوی ورکوي.

د ملنگانو دم زموږ په گڼو نورو نکلونو کې هم بې زامنو ميندو ته زامن ورکړي دي.

خوشحال خټک په سوات نامه کې له اخوند درويزه څخه د شکايت په سلسله کې وايي:

منلگانو به يزيد ته کړې ښکنځلې
درويزه به د يزيد ډوزې بللې
خو د نفس و د هوا په کار يې مخ شه
ملنگان چې ورکېدل په ده به سخ شه
ملنگان يې واړه وايستل له سواته
دم يې وواهه له کشف و کراماته

په (پښتو نثر اته سوه کاله) کې استاد هيوادمل د اخوند درويزه د زوی کريمداد د نثر په بېلگو کې دا جمله ،چې د پلار فارسي جمله يې پښتو کړې، هم را اخيستې ده:« پس هغه چې ملنگان په دا زمانه کې شعرونه جوړوي چې

په هغو کې د عالمانو ښکنځل وي او سپکاوی وي، د دغه شعر ویل حرام دي او اورېده يې هم حرام دي.»

استاد هیوادمل د اخوند درویزه د پښتو او دري ګډوله نثر د معرفي په وخت دا بېلګه راوړې ده:« له کافران سره.مینه او محبت حرام دی. پس چون بعضی افغانان زمانه ما با ملنګان رافضی که تارک نمازند و روزه ، و مردار خورند، محبت میکنند حرام است، و اگر حلال میدانند کافر میشود. مساله: د مسلمان پرهرژل کول یا وهل په ناحق یا وژل په ناحق حرام دي.»

د خوشحال خټک او اخوند درویزه له خبرو دې نتیجې ته رسېږو چې شاوخوا څلور سوه کاله پخوا ملنګان په سوات کې یو داسې اجتماعي ګروپ و چې له ملایانو سره یې ورانه وه، شعرونه یې ویل، د یزید مخالفت یې کاوه او په دې تورن وو چې لمونځ نه کوي او روژه خوري.

په یوسفزیو کې ملنګان په عیسویت هم تورن شوي دي. په تاریخ مرصع کې د یوسفزیو په لاس د غورخېلو د ماتې له بیانه وروسته لولو:« پس له هغه غرور او نخوت د یوسفزیو ډېر شه؛ دینونه،مذهبونه مخالف پکې پیدا شوله. څوک ملنګانو سره عیسایي شول،څوک په مذهب د پیر روښان شوله چې پیرتاریک یې بولي.»

جوګیان د یوه کلچر په حکم ګدایي کوي او ملنګان چې له دنیایي ارزښتونو سره د مخالفت ادعا لري، په ګدایي کې ذلت نه بلکې عزت ویني. د سوالګرو لویه برخه وایي چې بې وسي او بیچاره ګي ګدایي ته اړباسلي دي.

سوال کول او خیر غوښتل د ځینو کسانو د خوی برخه ده. یونیم کس به ډېرې پیسې لري خو بیا به هم ګدایي کوي. په اوسني کابل کې په ځینو ګدایانو تور پورې کیږي چې د سوال په پلمه پوډر خرخوي. که له دغسې مثالونو راتیر شو نور نو اکثره سوالګر یوازې په دې خاطر ګدایي کوي چې د ماښام ډوډۍ نه لري او لوږې ورځخه د عادي ژوند کولو لاره ورکه کړې ده.

په دغو مجبورو سوالگرو کې ځینې د ډېرې گټې لپاره یونیم چل کوي، د یو شمیر نورو ظاهري حالت دومره ابتر وي چې د خواخوږۍ د جلبولو لپاره چل ته اړتیا نهویني او ځینې نور بیا یا په چل نه پوهیږي او یا د ژوند بدمرغۍ د فکر کولو فرصت نه ورکوي.

د گدایي لپاره نوی چل یو څه وخت وچلیږي او بیا افشا شي. تر دوه، درې کاله پخوا پورې په کابل کې ځینو سوالگرو ماشومانو هگۍ اخیستلې، هغه یې ماتولې او د لارې په سر ورته ژړغونې کیناستل. لارویو به گومان وکړ چې له غریب ماشومه هگۍ لوېدلې دي، نو خوا به یې ورته بده شوه، پیسې به یې ورکړې. نن سبا دغه چل ختم شوی او یا ډېر کم شوی دی.

څرنگه چې گدایي ته په ښه سترگه نه کتل کیږي نو ځینې کسان ممکن په یوه بل کار تظاهر وکړي خو اصلي مقصد به یې گدایي وي، مثلا یو ماشوم به ژاولي درته ونیسي چې ویې پېرې. دغسې ماشوم ته ډېر څله خلک پیسې ورکوي او ژاولي یې نه رانیسي.

ځینې کسان ، د دې لپاره چې سوالگر یې ونه گڼو، یوه کیسه جوړوي او مثلا وایي: دلته په کابل کې مسافر یم، مریض راسره دی، پیسې مې کیسه بر ووهلې، یو څه مرسته راسره وکړه! دغه کیسه په لړ توپیر ډېره تکرار شوې ده او داسې ښکاري چې د سوالگرو دا ډله په خپله کیسه کې نوښت ته اړتیا لري.

معیوب بنیادم، د تیخوري ماشوم مور، څو اتیا کلن بوډا او دا رنگه نور کسان چې ظاهري حالت یې د بې وسي ثبوت دی، نورو چلونو ته چندان ضرورت نه لري.

د گدایي لپاره د ځای انتخاب یو بل بحث دی. په اوسني کابل کې ځینې بیوزلې چادرې پوشې میرمنې د نانوایي د دوکانونو څنگ ته ناستې وي او یو شمیر نور سوالگر د لوکسو هوټلونو مخې ته ولاړ وي. کله چې یو څوک له خپلو

میلمنو سره له هوټله راکوز شي، سوالگر ورته ودریږي. دغه وخت دوی ممکن له یو بله وشرمیږي او سوالگر تش لاس پرې نه ږدي.

شرم، د ښېرا وېره، رحم، د ثواب تمه، د دعا اسره، نورو ته ځان ښودل او د وجدان عذاب ځینې هغه عوامل دي چې خلک له سوالگرو او ملنگانو سره مرستې ته وربولي. البته، له جوگیانو سره خلک په دې تمه هم مرسته کوي چې فال یې وگوري او د آینده په اړه معلومات ورکړي.

د سوال په وخت د سوالگرو او ملنگانو د خبرو انداز یو بل جالب بحث دی. زه چې ماشوم وم ، په چاردره کې به یو ملنگ په کال کې یو یا دوه ځله راپیدا شو، او د کور په دروازه کې به یې چیغه کړه: ادم خانه، د جنت دروازه وانه!

له انا مرحومې مې اورېدلي وو چې په کوم وخت کې دا ماشومه وه( کابو سل کاله پخوا) ، په غزني کې به یوه سوالگر د مرستې له تر لاسه کولو وروسته ویل: خدای دې سل اوښې او سل کټې درکړي، خو زړه ته مې نه لویږي!

زموږ د ټولنې کابو هره ساحه د ډېرو معلوماتو ناسپړلې خزانه ده. د اجتماعي علومو له څېړونکو او ځوانو محصلانو توقع کیږي چې د دې خزانو په خوندي کولو کې فعاله برخه واخلي او د خپلې ټولنې علم تدوین کړي.

۱۳۹۵

# د خدای مخلوقات

اکثره کسان د کوځه ډبو، ناروغو یا لیونیو سپیو وژونکو ته په ښه سترګه ګوري خو ښنګه وژل؟ د ماشومتوب په وخت کې مې یو کس یادیږي چې ستن یې په ډوډۍ کې کېښوده او کوڅه ډب سپي ته یې ورکړه چې وربانديې ومري. د ده په طریقه هیچا اعتراض ونکړ او هیچا ونه ویل چې عذاب کښه کول اخلاقي عمل نه دی. د سپي نیول او په دار کول مې هم یادیږي. کلیوال د توت تر لویې ونې لاندې ولاړ وو او په خوند خوند یې د سپي د زندۍ کولو ننداره کوله.

د ګاندي دا خبره مشهوره ده چې د یوه قوم د اخلاقو سویه له حیواناتو سره د دوی له چلنده معلومولای شو. که څېل اسلامي کلچر ته وګورو ، له ژویو سره د نرم چلند په اړه د مثالونو کمی نه وینو.

افضل خان ختک په تاریخ مرصع کې د یوه سرېن ولي الله، شیخ شهاب بختیار ذکر کوي ،لیکي: «نقل دی چې یو سړي اس ګرزاوه. دوه کروړې یې په سبب د شوخۍ وواهه. هر ګاه چې اواز د چابک و غوږو ته د شیخ ورسېده، آه یې وکړ. حاضرانو د مجلس عرض وکړ چې یا شیخ باعث د دې آه څه دی؟ شیخ قمیص له تنه مبارکه ورته کړ ، نخښې د دواړو کروړو په صورت د ده ښکاره وې.» له دغه حکایته او په سلګونو او زرګونو نورو حکایتونو او روایتونو ثابتیږي چې په اسلامي کلچر کې له ژویو سره نرمه رویه د اخلاقي برترۍ او کرامت ښوونډویه ده. قرآن عظیم الشان د دنیا د مخ ژوي د انسان په څیر د خدای امتونه بللي دي چې روزي ورته تاکل شوې ده. د بخاري شریف حدیث دی چې یو ښځه په دې وجه دوزخي شو چې پیشو یې بندي کړې او له لوږې، تندې وژلې وه. په

دیني لحاظ دې نتیجې ته رسېدل اسانه دي چې حیوانات حقونه لري او دغو حقونو ته نه پام کول د ګناه سبب کیږي.

د عراق او ایران د جګړې په زمانه کې د حیواناتو د حقونو یوې ادارې خواشیني څرګنده کړه چې د بمونو په وجه په فارس خلیج کې د دلفینونو ژوند ته خطره پیښه ده. په هغه وخت کې، چې جګړه ماران د انسانانو په قتل عام بوخت وو، ماته د دلفینونو په مړینې خپګان مازې یو اخلاقي نمایش او تظاهر ښکاره شو او یوه لنډه کیسه مې ولیکله چې لیکوال ماخوستن ناوخته په خبرونو کې همدا رپورټ اوري او قلم را اخلي چې د دلفینونو د ژوند د ژغورلو په باب مقاله ولیکي. دغه وخت د لیکوال د کور دروازه ودبول شي. دی خپله میرمن چې ویده ده، راویښه کړي او ورته وایي، ورشه که هر چا بللم،ورته ووایه چې هغه نشته. میرمن یې اندېښنه څرګندوي: ګاونډی نه وي، ښځه یې امیداره وه، موټر به یې پکار وي چې روغتون ته یې ورسوي. لیکوال په قهر ورته وایي: که هر څوک وي ما به نه ورښیې چې وخت نه لرم، ډېره مهمه مقاله لیکم.

د ښځې اټکل سم وي. د ګاونډي د ښځې صحي حالت خراب و او موټر ته یې اړتیا لرله چې روغتون ته یې ورسوي.

د موټر په پیدا کولو کې ځنډ د ناروغې د مېړنې سبب شو. د ګاونډي په کور کې چیغې سورې شوې او لیکوال له دلفینونو سره د خواخوږي مقاله بشپړوله. مقاله بشپړه شوه خو ورځپاڼې ته یې رسول سخته وو ځکه په کوڅه کې خلک راټول وو. لیکوال د کور په شاتني دیوال بلې کوڅې ته واوښت چې مقاله ورسوي.

دغه کیسه رانه ورکه شوه او په ورکېدو یې اوس چندان خپه نه یم ځکه د ژوند تجربو راوښوده چې له انسان سره د مینې زړی په هغه زړه کې ښه زرغونیږي چې له نورو ژویو سره نرم سلوک نرم کړی وي.

هره وړه بې رحمي لويې بې رحمي ته لار اواروي. که موږ په کورنيو او ښوونځيو کې خپلو کوچنيانو ته ور زده کړو چې له حيواناتو سره نرم چلند ولري، هاله ورڅخه دا توقع اسانه ده چې د انسان په مقابل کې بې رحمه ونه اوسي. د متکررو قاتلانو په باره کې څېړنو ښودلې ده چې دوی د حيواناتو د ځورولو مخينه لرله. په پرمختلليو ټولنو کې د حيواناتو د ځورولو په خلاف قوانينو يو اصلي مقصد دا دی چې خشونت کم او په زړونو کې رحم زيات شي. د شيخ شهاب بختيار په اړه په تاريخ مرصع کې لولو:«... او هميشه به دوه خلطې ورڅخه وې. په يوه کې سپاري او لاچي او په بله کې تورې پيسې. هر ګاه چې سوالي به سوال وکړ، يوه پيسه به يې ورکړه او نور هر څوک چې به ورته راغی، سپاري او لاچي به يې ورکړه.» شيخ محتاجانو ته پيسې او نورو خلکو ته لاچي او سپاري ورکول چې تش لاس پاتې نه شي او د محبت په پيغام ونازول شي. دی چې د حيوان په درد راضي نه و، د انسان مينې يې زړه ته په اسانه لاره کوله.

د نولسمې پيړۍ په دويمه نيمه کې ساينسپوه چارلز داروين يوه مهم ټکي ته پام شول. ده ته معلومه شوه چې د ژويو انواع يو بل کنټرولوي او د دغه توازن ساتل د حيات په ګټه دي. دغه توازن به په ګټه وي خو د کابل ژوبڼ يوه صحنه مې هيڅ وخت نه هيرېږي. د ديارلس سوه اته پنځوسم کال د اوړي يو مازديګر و چې په ژوبڼ کې د باز ننداري ته ودريدم. د باز په پنجره کې د هغه د خوراک لپاره اچول شوې کوترې وزرونه رپول. ترخه صحنه وه او څو کاله پس چې مې د پلار په يوه غزل کې ولوستل:

تيری جرم نه و ويار و د دنيا په بحر و بر کې
باز د زرک په سينه ناست و، موج د موج په اوږو سپور و

نو سمدستي د ژوبڼ د باز فاتح انداز را په ياد شو.

د ژویو ژوند د زنځیر د کړیو غونډې له یو بل سره غوټه دي. دلته که هره کړۍ ماتیږي، ټول زنځیر صدمه ویني. انسان چې د ساینس او ټکنالوژي په برکت په وروستیو پیړیو کې ډېر زورور شو ، په اوله کې یې دې ته چندان پام نه شول چې که کبان په بم وژني او ځنګلونه په چارتراشو پسې له یوې مخې اره کوي، انجام به یې څه وي؟ خو اوس چې خپلې خطا ته متوجه شوی دی، د چاپیریال ساتنې ته یې توجه مخ په زیاتیدو ده. زموږ په وطن کې تر څه مودې پخوا پورې سیند ته بم اچول او د څو لویو کبانو لپاره په سلګونو واړه کبان وژل، ډېره بده چاره نه ښکارېده مګر اوس له دا رنګه ښکاره نفرت عام شوی دی. زه چې ماشوم وم خړه کوتره (= بغدادۍ کوتره، ګوګوشتکه) بنیادمانو ته نه رانژدې کېده او اوس ګومان کوم ډېره نه ویرېږي.

له ځناورو سره مسولانه چلند نه یوازې اخلاقي مسولیت دی بلکې د چاپیریال د ښایسته پاتېدو لپاره هم ورته ضرورت لرو.

د کندز په چاردره کې به زموږ د کلي مشرانو د دښتي چرګ کیسې کولې. ویل به یې غاړه یې سپینه او وزرونه یې سره، زیړ او نور ښکلي رنګونه لري. لکۍ یې لکه په تیز لاجورد چې د طلا ګرد پاشل شوی وي، په عین شین والي کې زیړه لمبه کوي. دغه مرغه تر سل، ده سوه متره ډېر نه الوزي خو د جنګي الوتکې په شان ناڅاپه ګړندی تېر شي. دښتي چرګ له پښو هم ډېر چټک دی. څنګه چې زمکې ته ورسېږي، په سترګو رپ کې د پټو په منځ کې پنا شي ځکه خو یې ښکاریان په هوا کې ولي.

زموږ سیمه اوس دغه ښکلا نه لري او که رحم ونه کړو خدایزده څومره نورې ښکلاوې به ووژنو!

# د کورنیو ځلانده ماضي

تېره اونۍ کابل ته د یوې تازه راکوچېدلې کورنۍ پوښتنې ته ورغلم. د دې کورنۍ غړیو یو وخت په افغانستان کې نوم او ثروت درلود خو په تېره نیمه پېړۍ کې قدرت، ثروت او شهرت ورسره وار په وار خدای پاماني وکړه. ځینې کسان یې اروپا او امریکا ته لاړل او په نوي ماحول کې یې د کورنۍ له زړې تاریخچې سره دلچسپي کمه شوه خو په وطن کې پاتې غړي یې د خپلو نیکونو خاطرو ته اهمیت ورکوي.

زه چې د چا پوښتنې ته لاړم په یوه خامه کرایي کور کې اوسي. د کور وسایل قیمتي نه وو ، البته نظم او پاکي ته توجه نه وه هیره شوې. د مېلمنو په خونه کې د کورنۍ د مشرانو عکسونه ځوړند وو. دغه مشران نیمه پېړۍ پخوا او تر هغه له مخه په وطن کې ډېرو خلکو پېژندل. کوربه چې د ببرک کارمل په وخت کې له کابله وتلی و، راته وویل: اوس څوک نه دي پاتې ، په هغه وخت کې لا ځینې کسان ژوندي وو...

هغه کورنۍ چې د سلطنت په زمانه کې په قدرت کې شریکې وې د ثور له کودتا وروسته وځبل شوې. د دوی ځینې غړي چې په کابل کې پاتې شول، له یو بل سره یې خواخوږي لرله. زما کوربه هم دغسې څوک و. دی په کابل کې د نولس سوه اتیایمو کلونو په لومړۍ نیمه کې، هره اونۍ د ډاکتر عمر وردګ پوښتنې ته ورته.

کوربه اوس څوک نه وو موندلي چې ملاقات ته یې ورشي خو شهدای صالحین او عاشقانو، عارفانو ته تللی و او د ظاهر شاه د سلطنت د زمانې د ځینو مشهورو کسانو قبرونو ته یې د دعا لاسونه اوچت کړي وو.

هدیرو ته د تلو خبرې یې په پېښور کې یوه پخوانۍ کورنۍ رایاده کړه. د دې کورنۍ په مشرانو کې د پاکستان د جنرال یحیی خان په شمول چې په

۱۹۶۹ کې جمهور رییس شو، د انګریزانو د راج د زمانې څو کسه عالي رتبه منصبداران شامل وو.

د دې کورنۍ یو سپین ږیری چې د پېښور په رساله دار کوځه کې اوسېده، ما په نولس سوه اتیایمو کلونو کې وپېژاند. دی به په اونۍ کې یوځل د پېښور ګنج بازار ته نژدې یوې کوچینۍ هدیرې ته ته چې د جنرال یحیی خان قبر او د خپلې کورنۍ د نورو کسانو قبرونو ته د دعا لاسونه اوچت کړي.

زما کوربه او هغه د پېښور اشنا دواړو ته ماضي نه یوازې شیرینه بلکې سمه او برحقه ښکارېده. د پېښور د رساله دار د کوځې اشنا به ویل چې یحیی خان لومړی کس و چې په پاکستان کې یې ازاد او عادلانه انتخابات وکړل. البته ده د اکثرو کسانو غوندې د حقیقت نیمه خوا لیدله او مثلا دې حقیقت ته یې هیڅ وخت اشاره نه کوله چې پاکستاني پوځ د یحیی خان د قدرت په زمانه کې د شرقي پاکستان په لکونو اوسېدونکي قتل عام کړل.

ده یوه ورځ د خپل کور د سالون دیوال ته لاس ونیو، د خپل یوه نیکه عکس یې راوښود، ویې ویل: دوی په ډېر زحمت سره یوه مقام ته رسېدل.

نیکه یې په دنګ آس باندې سپور و، نظامي جامې یې اغوستې وې، ارام او مغرور ښکارېده. عکس د شلمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې په ډیلي کې اخیستل شوی و.

د رساله دار د کوځې اشنا مې شتمن نه و خو د کور وسایل یې پاک او منظم وو. کور یې د پېښور د پخوانۍ معماري یو یادګار و. په دغسې ودانیو کې له کانکریټو استفاده نه کیږي او برعکس لرګي پکې ډېر استعمالیږي.

زما د اشنا د کور ودانۍ د شلمې پېړۍ په څلوېښتمو کلونو کې جوړه شوې وه. د هنرمنو ترکاڼانو په لاس تراشل شوې کړکۍ او دروازې، د دنګو کوټو د منځ تت سیوري او په تاوده پېښور کې د دغو کوټو نسبتا یخې هوا به یو بل ته لاسونه سره ورکړل

او ګومان به دې وشو چې په چوکاټونو کې د ایسارو پخوانو عکسونو څښتنان په رښتیا له یوې جنتي زمانې سره تعلق لري.

د کورنۍ دوه، درې نسله چې شتمن واوسي، ممکن د کلتور نوې مرحلې ته داخل شي. اطو کړې لباس، د میلمه عزت، د وسایلو پاکوالی او د مودبانه خبرو یو طرز په دې کلتور کې شامل وي.

په اروپا کې د کلتوري پرمختګ د راز په باره کې مختلف دلایل وړاندې شوې دي. یو دلیل دا وړاندې کیږي چې اروپایانو یوازې مشر اولاد ته جایداد پریښوده. د دې نتیجه دا وه چې ځینې کورنۍ تر ډیرو پورې ان تر یوې پیړۍ یا ډیرې مودې پورې شتمنې پاتېدلې او دې شي د عالي کلتور په ایجاد کې مرسته کوله.

زموږ په ټولنو کې چې ډیر ثروت ډیر ځله د دوامدار زیار نه بلکې لنډې مودې غیرقانوني هڅو په نتیجه کې راټولیږي، شتمن ممکن د پیسو د بربادولو پروا ونه ساتي او بلکې لازمه وګڼي چې د ناروا ګټو له کبله برباد شوی عزت د پیسو د بې دریغه مصرف په مټ بیا وګټي. دا امکان ډیر دی چې د دغو کورنیو غړي مخکې تر دې چې اشرافي کلتور خپل کړي، بې وسه شي.

ځینې کسان د عالي کلتور او اشرافیت په رابطې باور نه کوي او وایي چې دا هسې طبقاتي امتیاز طلبی دي، مګر حقیقت دا دی چې مادي امکانات د معنوي کلتور په پیدا کېدو کې برخه لري. د ظرافت او ادب یوې مرحلې ته رسېدل وخت غواړي او یو څه آسوده ګي ورته پکار ده.

صایب اصفهاني وایي هغوی چې په نیکونو باندې فخر کوي، د سپیو غوندې دي چې هډوکو ته خوشحالیږي. دا ډیره تونده تبصره ده مګر داسې مثالونه کم نه دي چې په مشرانو باندې فخر د بې ځایه غرور، لټې او کلانکارې مرضونه پیدا کړي دي.

هغه کورنۍ چې د نیکونو نوم یې اصلي سرمایه ده، ممکن د غړیو زړونه یې مات او روحیه یې مړاوې وي. دوی په ماضي کې اوسي او احساس کوي چې اوسنۍ زمانه سپکه او بې مزې ده.

د فرهنګ او ادب په برخه کې ځینې مطالعات ښيي چې ملتونه ممکن د اقتصادي اوج په زمانه کې کلتوري ودې ته چندان پام ونه کړي خو چې په مادي لحاظ یو څه کمزوري شي، کلتوري وده ورته مهمه وګرځي. داسې څکه کیږي چې په معنوي کمال باندې د مادي زوال هېرول غواړي.

د شتمنو کورنیو دویم یا دریم نسل شاید هنر او ادب ته مخه کړي. چېرته مې لوستي وو چې اول نسل ثروت راټول کړي، دویم عیاشي ورباندې وکړي، دریم هنر ته مخ واړوي او څلورم د بېوزلۍ په بلا ګرفتار شي.

د نیکونو د ویاړ له خاطرو سره اوسېدل که له یوې خوا د کورنۍ غړي په کاذب غرور مبتلا کوي، له بلې خوا مرسته ورسره کوي چې د بیا مهم کیدلو هڅه وکړي. زه په افغانستان کې ځینې کسان پیژنم چې سل کاله پخوا یا تر هغې هم مخکې یې په کورنۍ کې لوی کس تیر شوی و او دوی د هغه له شخصیته دا الهام اخیستی دی چې یو ځل بیا وځلیږي.

د کورنۍ په اهمیت باندې ډېره تکیه کول، متضادې نتیجې لرلای شي. د دغسې کورنیو غړي ځانونه حقداره وبولي، د نوم ګټلو ضرورت چندان نه احساسوي او داسې ګڼي چې تر نورو بر دي. دغه حالات د روحي مړاویتوب، بدبیني، حسادت او لټي باعث ګرځي. البته داسې هم کیږي چې د کورنۍ د تاریخچې په اهمیت باندې ټینګار د کورنۍ د غړیو پر سلوک مثبت اثر واچوي. ادب او نزاکت ته یې توجه زیاته کړي، د مشرانو د نوم د ساتلو په خاطر یې له بدو چارو راوګرځوي او دا الهام ورکړي چې د خپلو نیکونو غوندې لوی کسان ورڅخه جوړېدای شي.

د کورنۍ تاریخچه د ملتونو له تاریخ سره پرتله کولای شو. هغه ملتونه چې اوږد او پرتمین تاریخ لري، تاریخ ورته د ډاډ او الهام په ذریعې بدلیږي، په ځان باور یې زیاتیږي او له تېرو تجربو زده کړه ورته اسانیږي.

البته، د دې برعکس استدلال هم شوی دی. ویل کیږي چې د امریکا د چټکې ودې یو علت دا و چې د ماضي ځولنې یې په پښو کې نه وې او د خپلو ستونزو د غوڅولو لپاره فیصلې یې د پرونیو روایاتو په سیوري کې نه بلکې د ننیو واقعیتونو په رڼا کې وکړې.

که بیرته د کورنیو پرتمینې تاریخچې ته راشو نو زما په گومان دوو ټکو ته پام پکار دی:

هغه کورنۍ چې په خپل ماضي باندې ډېر حساب کوي، د دې تکیې د مثبتو نتیجو تر څنگ ورته لازمه ده چې د منفي نتیجو خطر له پامه ونه غورځوي.

بله دا چې خپل نوي غړي او ماشومان باید پرېږدي چې د خپلو اړتیاوو او غوښتنو مطابق ژوند وکړي. د سارتر په شمول گڼو مفکرانو ویلي دي چې ژوند هغه وخت معنا مومي چې وگړی په خپله خوښه د خپل ژوند مقصدونه انتخاب کړي. هغوی چې په نورو پسې روان وي او په پټو سترگو ژوند کوي، ژوند به وکړي خو معنا به پکې ونه مومي.

د هرې کورنۍ د پرمختگ د دوام لپاره ضروري ده چې خپلو کشرانو ته د انتخاب حق ومني او دلته چې دا خبره د تاریخچه لرونکو کورنیو په اړه کوم وجه یې دا ده چې دوی شاید کشرانو ته د انتخاب د حق نه ورکولو اشتباه زیاته وکړي. دوی ته چې د خپلو نیکونو ژوند ایډیال ښکاري، له کشرانو ممکن په ټینگه وغواړي چې د هغوی په پل، پل کیږدي.

زما هغه د پېښور اشنا خپل زوی پوځي کالج ته واستاوه او زوی یې هلته ناکام شو. پلارغوښتل چې د نیکونو تاریخ ژوندی کړي او دې ته یې پام نه و چې هر ازاد انسان یو بیل تاریخ جوړولای شي.

د لیندۍ اوله، ۱۳۹۵

# بوډا او بودا

په تیرو څو میاشتو کې دا دریم ځل و چې د موبایل چارچر مې خرابېده. سهار وختي و او د موبایل دوکانونه لا نه وو پرانیستل شوي. درې،څلور ځایه مې پوښتنه وکړه، چارچر په گوتو رانغی. یو بوډا دوکاندار را په یاد شو چې معمولا هغه څه هم ورسره وي چې په نورو دوکانونو کې نه پیدا کیږي. د ده دوکان وړوکی دی خو څو ځله داسې شوي دي چې یو شی له نورو سره نه وي او له ده سره یې ومومم. که د ده دوکان زما له لارې چپ نه وای، شاید سودا به مې همیشه له ده رانیوله. دی او دوکان یې دواړه جذاب دي .د دوکان په کمه فضا او کمه رڼا کې یې ډېر مال په داسې ترتیب ایښی دی چې گومان به کوې دلته ډېر څه نالیدلي پاتېږي.

بوډا ته چې ورغلم، زما اټکل سم و، چارچر یې درلود. ما ورته وویل: چارچر مې ژر ژر خرابیږي، خدای دې وکړي چې ته غلط مال رانکړې! ویل یې: زما د خپل چارچر دا پنځم کال دی. که احتیاط ورسره وشي، نه خرابیږي.

ما ته رایاد شول چې یو نیم وخت مې په ساکټ کې بند چارچر په بې احتیاطي راکش کړی او یو نیم ځل مې چارچر تر سهاره پورې په ساکټ کې پرې ایښی دی. په زړه کې راتېره شوه چې بوډا غلطه خبره نه کوي او پکار ده چې نظم زده کړم.

بوډا د نظم په برکت په کوچیني دوکان کې تر لویو دوکانونو ډېر شیان ایښي دي. دی تر نورو ارزان فروش نه دی خو کله چې ورځې نو دا وېره به دې کمه وي چې دوکان به یې بند وي او بله دا چې توقع به لرې چې دی به هغه څه هم لري چې په نورو دوکانونو کې ممکن پیدا نه شي.

منظم اوسیدل او په احتیاط چلیدل په اقتصادي لحاظ گټور تمامیږي او په کار کې د پرمختگ سبب گرځي. له بلې خوا، خلک هغو کسانو ته په درنه سترگه گوري چې په ژوند کې نظم لري او چارې په ارام ذهن تر سره کوي.

پنځوس، شپیته کاله پخوا په کندز کې یو ښوونکی اوسېده چې په معلم رسام مشهور و. ما خپل اکثره ښوونکي هیر کړي دي مګر معلم رسام مې، چې هیڅوخت نه دی لیدلی، لا تر ننه پورې په حافظه کې اوسي. د ده په اړه به مشرانو ویل: عجب سړی و، منظم و. په احتیاط به یې ګامونه اخیستل، هیڅوخت یې د لباس اطو نه خرابېده او څو قسمه دستمالونه به همیشه ورسره وو، یو د خولو د وچولو، بل د لاس لپاره، بل د بوټونو د پاکولو....

ما د ښتو مشهور ادیب سمندر خان بدرشو هم نه و لیدلی. په پیښور کې چې وم او مشرانو به د ده ذکر کاوه، له وسایلو سره د ده احتیاط یې زیات یاداوه.

له وسایلو سره بې پروا کسان ممکن استدلال وکړي چې وسایل زموږ لپاره دي ، نه موږ د هغو لپاره. د دوی خبره به سمه وي مګر د دوی د بې پروایي لپاره یې دلیل نه شو بللی ، ځکه وسایل که زموږ لپاره دي نو بهتره ده چې احتیاط ورسره وشي او روغ پاتې شي.

د مختلفو څېړنو نتیجې وايي چې د خپلې کوټې پاک او منظم ساتل د ذهن له کراري سره مرسته کوي او ان حافظه ورسره پیاوړې کیږي. دغه راز منظم ویښته او منظم لباس د ذهن پریشاني کمولای شي.

له بودا څخه چا پوښتنه وکړه: ته او مریدان دې څه کوئ!

بودا ورته وویل: ګرځو، ناست یو، ډوډۍ خورو!

پوښتونکي وویل: دا خو هرڅوک کوي.

بودا ورته وویل: توپیر دا دی چې موږ کله ناست یو، پام مو وي چې ناست یو، چې روان یو، پام مو وي چې روان یو او چې ډوډۍ خورو، پام مو وي چې ډوډۍ خورو.

۱۳۹۵

# د قضاوت بدوي تعبير

زما دوست اخلاقي سړی دی، غواړي تولنه سمه وي او خلک سم وچلېږي خو هغه بله ورځ يې عجبه خبره وکړه. د دفتر څو کسه نجونو ته يې وويل چې که چا څورولئ، بوټ پسې راباسئ، يو څو گوزاره په سر ورکړئ بيا به احتياط کوي. ده وويل ما خپلو لوڼو ته هم ويلي دي چې که چا څه درته وويل، زنگ راووهئ چې هر چېرته ياست زه به در پسې درشم او داسې سبق به ورکړم چې بيا يې ټول عمر له ياده ونه وځي.

دی که نورو ته سبق ورکوي، دا سم کار دی؟

په هندي فلمونو کې وينو چې اتلان د ننگ ، ناموس او عدالت لپاره په خپله توري ته لاس کوي او د اروپا د شواليه وو په نکلونو کې لولو چې خانزاده گان په برجونو کې د ايسارو پېغلو د خلاصون لپاره قربانيو ته حاضرېږي. د کندهار پايلوچان، د کابل کاکه گان او د خراسان عياران د ننگ ، غيرت او عدالت لپاره مبارزه کوي او د قاضي او قانون او حکومت پروا نه ساتي. خو ايا په اوسنۍ زمانه کې چې د دولت موسسې او د عدالت سستم د مدني ژوند د نورو څانگو غوندې انکشاف کړی دی اود قانون او عدالت د مفهوم نوی او جامع تعبير وړاندې شوی دی، بيا هم ځانونو ته اجازه ورکړو چې عدالت تطبيق کړو؟ بيا هم ځانونه د حقوقو ماهران وبولو؟ بيا هم د پوليسو دنده په خپله غاړه واخلو؟ بيا هم په ځان دا باور ولرو چې حق او باطل به سره بېل کړای شو؟

او لا مهمه دا چې که حق او باطل سره بېل هم کړو، ايا دغه لاره چې وگړی يا د ده تنظيم په خپل سرکولای شي له ځانه قاضي جوړ کړي، تباهي نه راولي؟ هر

ځوک که دا شوق وکړي چې عدالت او قانون او حق په خپله خوښه تعبیر، تفسیر او اجرا کړي ، د ټولنې به څه حال وي؟

موږ د قانون، حقوقو او عدالت د مفاهمیو په باره کې باید له زړو قبایلي فکرونو راووځو او له ځانونو قاضیان جوړ نه کړو. که هر ځوک د ډاکټري اجازه ولري ، د طبابت انجام به څه وي؟ قانون، محکمه، قاضي او نظام که عیبونه هم ولري، تر دې بهتره دي چې ځانونو ته دا صلاحیت ورکړو چې قانون راوباسو او قانون تطبیق کړو. هر هغه ځوک چې بې حکومته، بې نظامه، بې درې ګونو محکمو او بې نافذو قونینو نورو ته د جزا ټاکلو ارزو ورسره ده، که یې په نیت کې هر څه وي خو د عمل نتیجه یې د خدای د مخلوق تباهي ده.

۱۳۹۳

# موږ او نوی تمدن

هسې وايي چې کله ناصرالدين شاه قاجار د اروپا له اوږده سفره ايران ته ستون شو، خپل صدراعظم ته يې وويل: مونږ به هيڅوخت پرنګيانو ته ونه رسېږو، نو کوښښ کوه چې څو پورې زه ژوندی يم، ملک دې همداسې کرار پاتې وي.

ناصرالدين شاه چې کابو نيمه پېړۍ سلطنت وکړ، په دې پوهېده چې د اروپايانو په څېر اصلاحات لازم دي خو دا وېره هم ورسره وه چې اصلاحات به په ټولنه کې ناکرارۍ پيدا کړي او د ده حکومت به په خطر کې ولوېږي.

د ناصرالدين شاه د وخت افغان پاچهان هم له اروپايي تمدن سره په کشمکش کې وو. امير شيرعلي خان او اميرعبدالرحمن خان ته د ژوند نوي کولو خوند ورکاوه خو وېرې او بدګومانۍ هم ورسره وې.

زموږ د واکمنو يوه وېره دا وه چې هسې نه اروپايي تمدن د اروپايانو د غلبې او سلطې سبب شي. بله وېره دا وه چې رعيت به مخالفت ورسره وکړي او بل تشويش دا و چې په اروپايي طرز اصلاحات به د واکمنو قدرت محدود او د قانون په چوکاټ کې ايسار کړي. په دې سربېره ځينې غيرسياسي علتونه هم وو چې واکمن يې تغييراتو ته نه پرېښودل. مثلا د واکمن لټي او يا د تېر ژوند له خاطرو سره دلچسپي د دې سبب ګرځېدل چې د تحول مخه ډب شي. څو کاله پخوا چې مې په کندز کې هغه کوڅه پخه وليده چې په ماشومتوب کې مې لوبې پکې کړې وې، خوشحاله نه شوم. زما لپاره هغه کوڅه هماغسې ښه وه چې په ماشومتوب کې مې ليدلې وه.

نوی ژوند او نوی تمدن به زموږ خوښ وي يا نه، خو که موږ پسې ورنه وشو، هغه راپسې راځي. په نولسمه پېړۍ کې په هندوستان کې فتواوې صادرې شوې چې مسلمان دې په اورګاډي کې نه سپرېږي، يا دې عصري دواګانې نه

استعمالوي او يا مثلا د راډيو اوريدل حرام دي، خو اورګاډي راغلل، دواګانې عامې شوې او راډيو هر کور ته ورسېده. کله چې راډيو، موټر يا عصري دوا د ژوند برخه وګرځي نو د دغو وسايلو مهارت ته ضرورت پيدا شي او په يوه بله مرحله کې لازمه شي چې د همدغو وسايلو فابريکې جوړې شي. د مهارت او فابريکې د لرلو لپاره نويو زده کړو ته اړتيا ده او له زده کړو سره وګړي په خپلو حقونو خبرېږي. وګړي بيا دې نتيجې ته رسېږي چې ملک به مو شريک وي، حکومت به مو د خپلو رايو په اساس وي او هر څوک به يوه رايه لري. په دې ډول نوی تمدن د استبداد بېخ باسي او فردي او سياسي ازاديو ته لار پرانيزي.

د ژوند وسايل، فکرونه او ارزښتونه بدلېږي. که له بدلانه سره مخالفت کوو، بدلون به ځيېږي په مخ راکړي او په هغه شکل به ځان راباندې وتپي چې ورسره په تکليف به يو خو که د عقل او تدبير په حکم د نوي تمدن واقعيتونه ومنو او په ژوند کې تحول ته تيار شو نو د خپلې ماضي هغه برخې به هم خوندي کړای شو چې پکارېږي مو او ډېرې راباندې ګرانې دي.

۱۳۹۳

# بې دينه توره

هغه چا چې د لينډی په دويم مازديگر د پکتيکا په يحيا خېلو کې کربلا جوړه کړه، مقصد يې څه و؟

که د ده په نيت کې هر څه و خو عمل يې د تشدد و. ده وغوښتل چې د خلکو د وژلو، ځورولو او وېرولو له لارې يو څه تر لاسه کړي. اکثرو کسانو ته به دغه کس د خورا بد نيت ښکاري او په عقيدې به يې شک کوي، مگرهغه چا چې په حضرت علي کرم الله وجه يې د خدای په کور کې د توري گوزارونه کول، په خپل فکر يې غلط کار نه کاوه او هغه کسان چې حضرت عثمان ذوالنورين يې د کلام الله مجيد د تلاوت په حال کې شهيد کړ، مشرکان نه وو، ولې څرنگه چې د غوټو د پرانيستلو لپاره يې په تشدد تکيه کړې وه، نو هغه څه يې وکړل چې د اسلام ډېرو بدو دښمنانو هم نه وو کړي.

په تېرو څو کلونو کې مو ډېر ځله واورېدل چې په جوماتونو کې، زيارتونو کې، بازارونو کې، ودونو کې او ورزشي ميدانونو کې انتحاري حملې وشوې. زما عقل دا نه مني چې روغ بنيادم دې داسې حملې جايزې وگڼي خو کله چې د تشدد لمبې بلې شي، په ټولنه کې ورو ورو د ځينو کسانو زړونه په تيږو بدل شي. ډېرزړی بنيادم که عقل او منطق هم ولري خو په روحي لحاظ ناروغ وي. دی په هر حالت کې په تخريب پسې گرځي او هر هغه دليل د موسيقي د نغمو غوندې وربانديې خوږ لگېږي چې د مرگ او وينو بوی ورنه لتېږي. تر څو پورې چې په ټولنه کې داسې کسان وي چې ترور او تشدد ته د حل لارې په سترگه گوري، نه به د خدای کور په امن کې شي او نه د واليبال ميدان. لوی شاعر درويش دراني تشدد ډېر ښه پېژندلی او د ( بې دينې تورې) نوم يې ورکړی دی. دی وايي :

نه د ماشوم مخ ګوري او نه د شاليلا سينه

پورته شه درويشه دا بې دينه توره ماته کړه

د شلمې پيړۍ يو لوی عالم اريک فروم چې د دوو نړيوالو جګړو شاهد و، د انسان د خشن خوی په باره کې خورا زيات غور کړی دی. فروم وايي چې اخلاق او سړيتوب د مخ د پوست غونډې د انسان د حقيقت يوه نری او وړه برخه جوړوي. جنګ او تشدد دغه نری پوستکی په اسانه خرابولای او وحشي جذبو ته لار پرانيستلای شي .

کله چې وحشي جذبې د راوتلو لار ومومي بيا نو هغه څه کېږي لکه د لينډۍ په دويم مازديګر چې په يحيا خېلو کې وشول.

د ۱۳۹۳ لينډی

# هغه راځي

زموږ اصلي سرمایه زمونږ ژوند دی او ژوند د یو څه وخت مجموعه ده. په دې وخت کې یو مقصد پکار دی او مقصد ته رسېدل پلان او پروګرام غواړي.

په ژوند کې چې هر هدف ټاکو، هغه دې څلور ځانګړنې ولري: یو دې معقول وي یعنې رسېدل دې ورته ناممکن یا ډېر زیات لرې نه وي. بل دې داسې مقصد وي چې په ورتلو وارزي. که یو څوک په لسو مختلفو پوهنو کې ماسټري کوي، په زیار کې یې شک نشته خو د څه لپاره؟ بله دا چې هدف دې د هوس نه بلکې د مینې او استعداد په اساس وي. ډېر کسان نورو ته ګوري او په ژوند کې هدف ټاکي. یو وخت یو تکړه انجنیر ویني اوانجنیر کېدل مقصد وګڼي، بیا د ژورنالیست تر اثر لاندې راشي، د ژورنالیست اوسېدلو هوس ورپیدا شي. موږ چې د نوح پیغمبر په اندازه عمر نه شو کولای، راته پکار ده چې د هوسونو په اساس نه بلکې د خپل استعداد او واقعي مینې په اساس هدف وټاکو او چې ډېر مجبور نه شو، بدل رابدل یې نه کړو.

د ژوند د هدف په ټاکلو کې څلورم معیار دا دی چې یوازې د ځان ګټه نه بلکې د ټولنې خیر هم په نظر کې ونیسو. که زه د لیکوال په حیث غواړم په ټول وطن کې مشهور شم، دا شخصي مقصد دی خو که وغواړم چې د افغانستان ادبیات وده وکړي، دا بیا د هدف ټولنیز اړخ دی. هر څوک چې په خپلو مقصدونو کې اجتماعي اړخ په نظر کې نه نیسي، په شخصي هدفونو کې به یې هم د کامیابۍ چانس کم وي او بلکې ماته خو ناممکن ښکاري.

د هدف له ټاکلو وروسته پلان او پروګرام پکار دی. کله کله ممکن د ټول کال لپاره ډېر دقیق پروګرام جوړ کړو او د ژر پرمختګ لپاره تفریح او استراحت ته تر وسه وسه لږ وخت ورکړو. زما شخصي تجربه دا ده چې دغسې پروګرام یا

د سترړیا په وجه او یا د اجتماعي مجبوریو په وجه څو ورځې وروسته ناکام غوندې شي او په ځان باندې د بې باورۍ سبب وګرځي.

بهتره ده په پروګرام کې یو څه وخت سپین پرېږدو. یعنې خپل صحت، روحیې او اجتماعي شرایطو ته وګورو او د کار لپاره د ازاد انتخاب یو فرصت هم په نظر کې ونیسو.

کېدای شي د هرې جمعې په ماښام د راتلونکې اونۍ لپاره د کال د عمومي هدفونو په چوکاټ کې او د همدې ورځو ځانګړنو ته په پام سره یو نسبتا دقیق پروګرام ولرو. زما تجربه دا ده چې د میاشتې تر دقیق پروګرام د اونۍ دقیق پروګرام د کامیابۍ ډېر چانس لري، ځکه یو خو یې وخت کم او د اټکل وړ دی او بل که کار ته پروګرام لرو نو تفریح او استراحت ته یې هم باید ولرو. هغه څوک چې د تفریح په چل نه پوهېږي د کار په کیفیت باندې یې شک پکار دی. اونۍ داسې موده ده چې ټولنې ورته له پیړیو راهیسې د استراحت او رخصتۍ وخت ټاکلی دی.

تر اونۍ هم د شواروز اټکل اسان دی. شواروز مو لا زیات په اختیار کې دی او له کامل ژوند سره یې تشبیه کولای شو. بهتره ده هر سهار د اونۍ د پروګرام او د ټول کال د پلان په چوکاټ کې هر سهار د شواروز لپاره پروګرام جوړ کړو. ما ځینو زلمو ته یوه مشوره ورکړې ده چې دلته یې تکراروم: هر سهار دې له راویښېدو وروسته له ځان سره ووایو چې : د روغتیا له اصولو سره سمه، له اخلاقي اصولو سره سمه، خوشحاله او تر وسه وسه فعاله ورځ به تېروم.

ځینې کسان په ظاهره بوخت وي خو کار ته یې توجه نه وي او کار یې بې کیفیته وي..ځینې نور ډېر وخت په چایو او غیر ضروري مجلسونو تېروي او بیا شکایت هم کوي چې وخت ورسره کم دی. له اخلاقي اصولو څخه حد اقل هدف دا دی چې بل ته په لاس، په ژبه او په زړه کې تاوان ونه رسوو. هغوی چې په خیال او تصور کې بل خوروي، یوه ورځ به بل په رښتیا وخوروي.

که خوشحاله روحیه ونه لرو، نیک او فعال اوسېدل به راته سخته شي. خوشحالي تر ډېره حده زموږ په اراده کې ده. وګورئ ګڼ بېوزلي کسان خوشحاله ژوند لري او ډېر شتمن او نازولي کسان په غمونو او روحي مشکلاتو کې ډوب دي. له دغه واقعیته دا نتیجه اخیستلای شو چې خوشحالي زموږ له امکاناتو سره نه بلکې زموږ له لیدلوري سره زیات تعلق لري. هغه څوک چې خپلې برياوې ورپادوي، هغه څوک چې له نورو سره په سړيتوب او محبت چلېږي او هغه څوک چې د خوند او خوشحالۍ او خندا خبرې ذهن ته سپاري او ورزش کوي، تر هغو کسانو چې دغه ځانګړنې نه لري، ممکن ډېر خوشحاله ژوند وکړي.

د روغتیا اصولو ته پام کول د کامیاب ژوند لپاره ضروري دي. زه یو نیک، لایق او فعال ځوان پیژنم چې په ډوډۍ کې یې مالګه زیاته وي. زه د دغه دوست په نهایي کامیابۍ باندې شکي یم، ځکه صحي اصولو ته پام نه کوي.

ماخوستن چې ویده کېږو، له ځانه دې وپوښتو چې ایا تر وسه وسه فعاله، اخلاقي، د روغتیا له اصولو سره سمه او خوشحاله ورځ مو تېره کړې ده؟ که ځواب مثبت و نو د کامیابۍ د ناوې د نه راتلو وېره مه لرئ. هغه راځي، هغه خامخا راځي.

د لړم ۲۴، ۱۳۹۳

# له حکومت سره درې ډوله رابطه

ځینې ولسونه له حکومته هیڅ نه غواړي. دوی ته مهمه نه ده چې څوک حکومت کوي او څنګه یې کوي. مهمه ورته دا ده چې حکومت ورته شر ونه رسوي او خپل ژوند ته یې پرېږدي.

ځینې نور بیا د دوی برعکس، له حکومته ډېره لویه توقع لري او تصور کوي چې د ژوند ډېرې چارې باید حکومت ورسمې کړي. په کابل ښار کې د کابو ټولو اوسېدونکو توقع ده چې د دوی کوڅه دې ښاروالي ورپاکه کړي، د دوی ویاله دې حکومت ورپخه کړي او د دوی په سیمه کې دې حکومت روغتون او ښوونځی پرانیزي. د کابل ښار د اوسېدونکو برعکس د پکتیکا د ورممی د اوسېدونکي لپاره حکومت د یوه پردي او نابلده کس حیثیت لري چې که په لاره تېرېږي او سلام ورباندې واچوي، کور یې ودان او که یې وانه چوي هم څه د خپګان خبره نه ده.

په کابل کې چې زلمی وزګاره وي، ممکنووایي حکومت باید ځوانانو ته کار ورکړي او که ګراني زیاته وي نو غوښتنه یې دا ده چې حکومت دې د ګرانۍ مخه ونیسي خو د ورممۍ اوسېدونکی که کار ونه لري یا د ګرانۍ په وجه ګوزاره ورته سخته وي نو شاید په زړه کې ورتېره شي چې : ډېره بې برکته زمانه ده.

د طالبانو په وخت کې مې د غزني د قره باغ یو ځوان یادېږي چې د طالبانو د حکومت بد به یې ویل او دلیل یې دا و چې له طالبانو سره وچکالي راغلې ده.

په سیاسي لحاظ پرمختللي ولسونه نه یوازې له حکومته توقعات لري، بلکې د حکومت په انتخابولو او څارلو کې یې برخه وي او دا خپل مسولیت ګڼي چې چارواکو ته د ټولنې په ګټه لارښوونې وکړي. زما په ګومان زموږ د پایتخت

اکثره اوسېدونکي هم د سیاسي پرمختګ په پرمختللي پړاو کې نه بلکې په منځني پړاو کې دي ، ځکه له حکومتونو توقعات لري خو د چارواکو په انتخابولو، ټاکلو او د ولس په ګټه را اړولو کې مسولیت منلو ته چندان تیار نه ښکاري. دوی له حکومته ډېر څه غواړي خو د مدني مبارزې حوصله ورسره چندان نشته.

ډېره موده پخوا مې له ارواښاد پروفیسر تقویم الحق کاکاخېل څخه یوه خبره اورېدلې وه چې په ځلونو مې تکرار کړې ده. د کاکاخېل مرحوم په قول، حکومتونه خلکو ته کارونه نه کوي، بلکې دا خلک دي چې په حکومتونو باندې ځانونو ته کارونه کوي. منظور دا چې که ټولنه په سیاسي لحاظ پرمختللې او هوښیاره وي نو بیا د حکومت امکانات داسې لور ته هدایتوي چې د ټولنې په خیر وي. د حکومت اصلي مقصد حکومت کول او د حکومت د عمر اوږدول وي. که د یوې سیمې خلک د ځان لپاره له حکومته سړک، ښوونځی او برېښنا غواړي، حکومت به هڅه وکړي چې دوی په همدغو شیانو خوشحاله وساتي خو که د یوې بلې سیمې اوسېدونکي خیراتي غنم غواړي، حکومت یې ممکن په څو بوجیو غنمو ونازوي.

څو کاله پخوا یوه والي د دوو ولسوالیو کیسه راته وکړه چې د خلکو په سیاسي شعور کې یې توپیر و. والي وویل،د یوې ولسوالي خلک چې په سیاسي لحاظ هوښیار وو، خپل استازي راواستول او په خپله سیمه کې یې کلینیکونه او ښوونځي وغوښتل. د  والي په قول له یوې بلې ولسوالۍ څخه چې خلکو یې له حکومتي امکاناتو د استفادې مفکوره نه لرله، ځینې کسان راغلل، ځانونه یې د ولسوالۍ استازي معرفي کړل او اصلاح شوي تخمونه یې وغوښتل. حکومت په لومړۍ ولسوالي کې نوي کلینیکونه او ښوونځي جوړ کړل او بلې ته یې اصلاح شوي تخمونه واستول چې وروسته بیا معلومه شوه چې هغو څو کسانو په بازار کې خرڅ کړل او پیسې یې په خپلو منځو کې سره ووېشلې.

په لومړۍ ولسوالي کې چې د خلکو سیاسي شعور اوچت و، مشرانو دا جرات نه درلود چې لوټ وکړي خو په دویمه ولسوالي کې چې خلک له حکومتي امکاناتو د استفادې او د ټولنې د ګټې په فکر کې نه وو، ځینو کسانو د ځان لپاره غلاوې وکړې.

کله چې خلک د دولت موسسه په واقعي معنا ونه پیژني او د یو داسې نعمت په سترګه ورته وګوري لکه په پردي کور کې شتمني، کله چې خلک د حکومتونو د ظلمونو ترخې خاطرې ولري او کله چې په ولس کې اجتماعي روحیه کمزورې او ځانځاني خورا زیاته وي نو له حکومت سره د خلکو رابطه ناسمه وي. ناسمه په دې معنا چې دغسې خلک د دولت له خورا مهمې موسسې د ځان په ګټه سمه او لازمه استفاده نه شي کولای. خلکو ته د دولت د ماهیت ورپېژندل د سیاسي منورینو کار دی او خلک اجتماعي خیر ته رابلل، د ټولنې د اخلاقي لارښوونکو دنده ده. کله چې ولس په اخلاقي لحاظ د ټولنې خیر ته وفادار او په سیاسي لحاظ د دولت د موسسې په ماهیت او اهمیت پوه شي، بیا ورته مشکله نه ده چې د خپلې ترخې خاطرې او تجربې ځای یوې نوې،کامیابې رابطې ته ورکړي.

۱۳۹۳

# د زغم مخالفان څه وايي؟

متمدنه دنيا د زغم د خپرولو ملاتړ کوي او مهذب انسانان تقريبا په يوه خوله وايي چې که انسانان د يو بل نظريات، کلتور، توکم ، جنس او د ژوند طريقې ونه زغمي، سوله به رانه شي او د هيڅ دين، عقيدې، کلتور يا توکم خدمت به ونه شي ځکه د زغم ځای جنګ او خصومت نيسي او چې د جنګ او ميرځي اور بل شي، انسان خپله هغه انرژي چې تعمير، تکميل او ودانولو ته يې ورکوي، په تخريب، وژنو، تباهي او ورانې باندې لګوي، خو له دې سره سره هم اوس او هم په تېرو زمانو کې ځينو کسانو د زغم د لارې مخالفت کړی دی او خپل دلايل يې راوړي دي.

د زغم مخالفان وايي چې دوی له ځينو فکرونو سره ځکه مخالفت کوي چې مضر دي او بايد سرکوب شي. د دې دليل په خواب کې ويل شوي دي چې که يو فکر چا ته مضر ښکاري دی حق لري چې مخالفت ورسره وکړي، مګر فکر او د فکر څښتن سره بېل دي. د کره کتونکي حق دی چې د يو چا له شاعري سره مخالفت وکړي مګر له شاعر سره که مخالفت کوي دا بيا بداخلاقي ده او جواز نه لري. په سياسي، کلتوري او نورو مسايلو کې هم دغه خبره کولای شو. مونږ که مثلا درېشي نه خوښېږي ، دا مو حق دی چې د درېشي په خلاف دلايل راوړو او پخپله يې وانه غوندو، مګر که بل نه پرېږدو چې درېشي واغوندي او ځورو يې، دا بيا سمه نه ده. له بلې خوا هغه کسان چې د بل چا فکر ته غلط وايي، په دې هم بايد فکر وکړي چې ممکن د کبر او لويی پيريان ورباندې ناست وي چې په اسانی سره د سم او غلط حکمونه کوي او ځانونه ورته تر نورو هوښيار ښکاري.

د زغم مخالفان وايي چې مختلف نظريات ټولنه سره وېشي، نو د دې لپاره چې په ټولنه کې وحدت وي، پکار ده د مخالفو نظريو خپروونکي ونه زغمل شي. د دې استدلال په ځواب کې ويل شوي دي چې د زور او فشار له لارې وحدت ماتېدونی وي. وحدت هغه وخت واقعي او پاتېدونی دی چې خلک په خپله خوښه او د ازاد بحث په فضا کې مشترکو نتيجو ته سره ورسېږي. شوروي اتحاد په زور جوړ شو خو کله چې د مختلفو جمهوريتونو خلکو لږ څه فرصت پيدا کړ، ټول سره بېل شول. د شوروي اتحاد څه کم درې سوه ميليونه اوسېدونکي متحد پاتې نه شول مگر په هندوستان کې دولس سوه ميليونه کسان د يو بل په خوا کې شريک ژوند ته ادامه ورکوي، ځکه په زور نه بلکې په رضا سره يو ځای شوي دي. متل دی وايي چې زړه تنگ نه وي ځای نه تنگېږي. د زغم په چاپېريال کې د مختلفو نظرونو او کلتورونو کسان له يوبله نه تنگېږي.

د زغم منتقدين دا هم وايي چې که په ټولنه کې د نن ورځې له کمزورو مخالفانو سره گوزاره وکړو نو سبا که زورور شي، په کراره به مو پرې نه ږدي. د دې دليل په ځواب کې ويل شوي دي چې په يو چا باندې تر وخت له مخه بدگومانه کېدل، اخلاقي جواز نه لري. انسانانو ته بايد خوشبين واوسو. هغه انسانان چې بدي ورسره نه کوو، بدي به راسره ونه کړي خو که ظلم او ستم ورسره کوو، نو چې فرصت په گوتو ورشي، ممکن کسات راڅخه واخلي. د عقل غوښتنه دا ده چې تر وسه وسه په هيچا فشار وانه چوو او ځانونو او خپلو خلکو ته په لوی لاس دښمني ونه کړو. هغه څوک چې د بل وژل او ختمول غواړي، دې ته يې پام نه دی کړی چې په معنوي لحاظ يې د ځان ختمولو او وژلو ته متې رانغښتې دي.

۱۳۹۳

# څلور بلاګانې

موږ ممکن په رڼا کې ونه وېرېږو خو په تیاره کې وهم راپیدا شي. داسې څکه کېږي چې په تیاره کې څه نه وینو.

کله چې د ټولنې د یوه ګروپ په اړه معلومات ونه لرو، له هغو څخه د وېرېدلو، هغوی ته په سپکه سترګه کتلو یا په هغوی باندې د بد ګوماني امکان ډېرېږي.

بدګومانه انسان که په خوله باندې غیبت ونه کړي، په زړه کې په پټه په غیبت بوخت وي. مطلب دا چې په زړه کې سل تومتونه په بل باندې پورې کوي او بل ته یا نورو ته په سپکه سترګه ګوري.

ګڼو کسانو ته خپله درنه او د بل سپکه خوند ورکوي. د بل چا سپکاوی دا خوشحالوونکی احساس رابخښي چې موږ خو ښه یو او دا نور دي چې عیبونه لري. لکه څنګه چې د فرد په حیث د ځان په ستاینه او د نورو په غندنه خوشحالیږو، دغسې د ټولنې د یوه ګروپ په توګه هم خوند راکوي چې ځان تر نورو ښه او بر وګڼو. په خپل ګروپ کې چې د نورو په اړه منفي خبرې بیا بیا واورو، یقین مو شي چې موږ تر نورو بهتره یو.

د ماشومتوب خاطره ده. د ماماګانو کره غزني ته تللی وم. یو مازدیګر مېرمنې په ګودر ناستې وې، منګي یې ډکول او مجلس یې سره کاوه. په دې منځ کې یو لاروی رابښکاره شو. مېرمنو سمدستي د ټکریو په پیڅکو مخونه پټ کړل. دغه وخت یوې مېرمنې وویل چې دا خو د پلانۍ قبیلې سړی دی او مخونه بېرته لوڅ شول. دوی ولې د بلې قبیلې له نارینه ستر نه کاوه؟ ځکه چې په قبایلي ټولنه کې د بلې قبیلې غړي ته ممکن د سیال په سترګه ونه کتل شي، لکه هغه چې ښځي بل څوک وي، لکه هغه چې له کوم بل ستوري راغلی موجود وي.

دا یوازې قبایلي ټولنه نه ده چې له خپل ګروپه بهر کسانو ته په منفي نظر ګوري. دا مشکل عام دی. کلیوال او ښاریان، نارینه او ښځې، عرب و عجم، تورپوستي او سپین پوستي، شیعه او سني... د ټولنې هر ګروپ ممکن د بل ګروپ په اړه داسې تصور ولري چې په وهم او تعصب به ولاړ وي. که موږ بل چا ته صرف په دې وجه په ښه سترګه نه ګورو چې زموږ له اجتماعي ګروپ سره تعلق نلري، دا تعصب دی. ټولنپوهان وایي چې بنیادم آن په دوه کلنۍ او درې کلنۍ کې ، بې له دې چې په ځان پوه شي، ځینې تعصبونه خپلوي. وروسته بیا په کلي او کوڅه او خپله محدوده ټولنه کې نور تعصبونه خپل کړي او په لوینې بیا د همدغو تعصبونو په اساس قضاوت کوي. موږ که په ماشومتوب کې دا منلې وي چې هغه وګړي ښه نه دي چې له پلانۍ قبیلې سره تعلق لري، نو په لوینې اکثره وخت هغه خبرې حافظې ته سپارو چې همدا نظر مو تاییدوي او هغه تجربې هېروو او یا سترګې ورباندې پټوو چې زموږ له پخوانو نظرونو سره اړخ نه لګوي. موږ که په کوچینواله کې په کور کې اورېدلې او منلې وي چې ښځې مکارې دي، په لوینې که یوه ښځه ووینو چې په رښتیا مکاره وي، دغه مثال حافظې ته سپارو خو په لسګونو نور مثالونه چې دغه نظر غلط ثابتوي، له ذهنه باسو او اهمیت نه ورکوو.

اکثره کسان خپلو لومړنیو نظریاتو ته نه یوازې بیا کتنه نه کوي بلکې د وخت په تیرېدو سره د خپلو ابتدایي نظریاتو د تایید لپاره نور مثالونه هم پیدا کوي.

متل دی وایي چې الوزي، گرده چوغکې دي. دغه متل معمولا هغه وخت استعمالوو چې د ټولنې د یوه گروپ په ټولو غړیو یو ډول حکم کوو. یو ډول حکم کول، فکر کول راته اسانه کوي او د فکر د لټې نتیجه یې بللای شو.

مخکې مو وویل چې د تعصب تخم د عمر په لومړیو کلونو کې د ماشوم په ذهن کې کرل کیږي. مونږ په قالبي او چوکاټي ډول فکر کولو باندې له ماشومتوبه عادت کیږو. مثلا که جینکۍ چیندرو ( د جز بازي لوبه) کوي او یو هلک وغواړي چې په لوبو کې ورشریک شي، نو زموږ د ټولنې جینکۍ ممکن ورته ووایی: چیندرو خو د هلکانو لوبه نه ده! دغه ماشومانې دغه حکم په شعوري او ارادي ډول نه کوي بلکې دا قالبي نظر یې په چاپیریال کې اورېدلی او په پټو سترگو منلی دی. هغه کسان چې په قالبي ډول فکر کولو عادت شي، د تبعیض په ناروغۍ باندې په اسانۍ سره مبتلا کیږي.

تعصب چې د عمل جامه واغوندي په تبعیض بدله شي او بدگوماني چې په ژبه بیان شي، غیبت ورنه جوړ شي. دا څلور سره اخلاقي عیبونه دي چې د نورو په باره کې معلومات نه لرل،د ځان او خپلې اجتماعي ډلې له بهتر گڼلو خوند اخیستل، د فکر لټي او د ماشومتوب په کلونو کې جوړ شوی ذهنیت یې ځینې مهم عوامل بللای شو.

۱۳۹۵

# امن،امېد او په ځان باور

ځو لسيزې پخوا به يوه زلمي تعليمي بورس واخيست، د فرانسې، انگلستان يا امريکا په يوه مشهور پوهنتون کې به يې لوړې زده کړې وکړې او له ځو کلنې مساپرۍ وروسته به وطن ته راغی. دی به دلته د پوهنتون استاد شو يا به يې بل کار وموند خو د يوه بېوزلي دولت کم معاش به يې اخيست او ځنگه چې رشوت لړ و او رشوت خوړل ډېره د شرم خبره وه نو يوازې په هغه کم معاش به يې گوزاره کوله. بهاوالدين مجروح تر وزارت او ولايت د پوهنتون استادي غوره وبلله. ځرنگه چې د غلا شوق عام نه و نو د مجروح صاحب غوندې گڼو کسانو په چوکۍ کې خاصه جاذبه نه ليدله.

په دغو ځوانانو کې داسې کسان هم وو چې د زده کړو په وخت يې له بهرنيو نجونو سره ودونه کړي وو. دا نجونې به له دوی سره افغانستان ته په خوشحالۍ راتلې او دلته يې له ژونده خوند اخيست.

افغانستان په هغه وخت کې د اوس په څېربېوزلی او له گڼو اسانتياوو محروم هيواد و. نن سبا خو د ټکنالوژي د پرمختگ او د بهرنيو هېوادونو د زياتو مرستو په مټ دا امکان شته چې په خپلو کورونو کې پرمختللي وسايل ولرو ، مگر په هغه وخت کې دا امکانات خورا کم وو. اوس د انټرنيټ له لارې د ټولې دنيا ورځپاڼې لوستلای شو. په هغه وخت کې د دنيا د ډېرې مشهورې ورځپاڼې موندل هم د مرغۍ د پيو حيثيت درلود. د ژوند په گڼو برخو کې همدا حال و.

بېوزلي وه، وسايل کم وو، ولې ځوانانو وطن ته شا نه اړوله او ان اروپايي ميرمنې يې دې ته تيارولې چې په افغانستان کې واوسي. د سولې په کلونو کې ما د کندز په کوچيني ښار کې يوه جرمنۍ او يوه هندۍ پېژندله چې دلته يې خوشحاله ژوند تېراوه. دوی مې ځکه پيژندلې چې زموږ په خپلوانو ودې وې.

شاید داسې نورې مېرمنې به هم وې. پلار به مې یو پولنډی انجنیر یاداوه چې د اروپایانو خپل منځي جګړو او بدیو، دښمنیو دومره په تنګ کړ چې د دویم نړیوال جنګ په کلونو کې کندز ته راغی، افغان شو،مسلمان شو، د محمد کریم نوم یې ځان ته خوښ کړ او د عمر تر پایه پورې یې اروپا ته د تلو ارزو ونه کړه.

داسې ولې وو؟ او داسې ولې نه یو؟

د دې پوښتنې تر ټولو ښکاره ځواب دا دی چې په هغه وخت کې په افغانستان کې امنیت و او اوس یا نشته یا کم دی. د داوود خان د جمهوریت په کلونو کې به اریانا افغان هوایي شرکت د قیمتي کاغذ لویې دیوالي جنترۍ چاپولې. د دغه شرکت د ۱۳۵٦ کال په کالهینداره باندې یعنې د سولې د وروستي کال په جنتري باندې په غټو توریو لیکل شوي وو چې : افغانستان بهشت صلح و آرامش. په هغو کلونو کې به اروپایي ګرځندویو د اوړي په شپو کې د هیواد په درو او صحرګانو کې تر شنه اسمان لاندې شپې سبا کولې او د هرات، کابل او جلال اباد په اوږدو لارو کې به یې د عادي افغانانو غوندې مزلونه کول. په دې وطن کې د سر وېره نه وه. دا یو لوی امتیاز و خو په وطن کې یوه بله جاذبه هم وه چې په لویدیځ کې تعلیم یافته وطنوال یې را ستنېدو ته هڅول. په هغه وخت کې له بېوزلۍ سره سره د سبا د بهترۍ لپاره یو امېد و. پخوانو متل کړی دی چې دنیا په امېد خوړل کېږي. تعلیم یافته وو فکر کاوه چې وطن یې بهتره کېدای شي او مخ په ترقي روان دی. دوی احساس کاوه چې که خپله تجربه او خپله تر لاسه کړې پوهه وطن ته یوسي نو په مثبتو تحولاتو کې به یې پکار راشي.

اوس چې له لویدیځ څخه تعلیم یافته نه راستنېږي او بلکې د لوستو او نالوستو هڅه دا وي چې یو چل وکړي او ځان لویدیځ ته وباسي، په ناامنۍ او فساد سربېره یې وجه دا هم ده چې په ځانونو باندې مو باور او ښې سبا ته مو امېد کم شوی دی.

په تېرو دیارلس کلونو کې حکومت دې ټکي ته خاص پام ونه کړ چې خلک هیله من وساتي او په دې یې باوري کړي چې نن یې تر پرون او سبا یې تر نن بهتره ده. پنځه کلن اقتصادي پلانونه د شوروي د دوران میراث وبلل شول او په فرهنګي ډګر کې هڅه ونه شوه چې وطن او وطني ارزښتونه تبلیغ شي او خلک د شاعرغوندې ووایي چې:

هر څه که و مونږ ته وطن ښکلی و

کب ته وي خوږې د سمندر اوبه

دا سمه ده چې د پنځه کلونو اقتصادي پلانونو دوران په اکثرو ملکونو کې ختم شوی دی او دا هم سمه ده چې د ازاد بحث فضا هر چا ته موقع ورکړه چې د زړه بړاس وباسي او څرنګه چې د وګړیو زړونه او ذهنونه د ترخو خاطرو زېرمه تونونه وو نو په رسنیو کې ډېر وخت په تاوېلې ما وېلې تېر شو. د دغو ازادو او ډېر څله ترخو بحثونو له ځینو ګټو انکار نه شو کولای خو په څنګ کې ورسره د یو داسې فکر تبلیغ ته هم ضرورت دی چې خلکو ته د بهتره سبا امېد ورکړي او په ځانونو باندې باور وروبخښي.

مونږ به ولسواکي لرو او باید ویې لرو خو دا باید ومنو چې امنیت نه لرو، خورا بېوزلي یو، د تیت و پرک کېدو او شدیدو اختلافونو امکان مو زیات دی، پیاوړي بنسټونه نه لرو او خلک مو چې مار چیچلي دي رسۍ ته هم د شک په نظر ګوري.

اوس چې د تېر دیارلس کلن دوران بریاوو او نیمګړتیاوو ته په کتو سره نوی دوران پیلوو، پکار ده د فساد او ناامنۍ ناروغیو ته علاج ومومو او ورسره یوه داسې فکري او فرهنګي فضا رامنځ ته کړو چې پر وطن او ځانونو مو باور پیاوړی شي او سبا ته مو هیله من وساتي.

۱۳۹۳

# ځوانان

علامه اقبال په خپل یوه نظم کې چې ( انقلاب ای انقلاب ) نومېږي، وايي چې په دې ټولنه کې بوډاګان د ماشومانو غاړې کوي او زلمي بوډاګان دي، نو ځکه انقلاب پکار دی. د شاعر مطلب دا دی چې د ټولنې مشران او د پاخه عمر کسان لازمه تجربه نه لري او په همدې وجه يې ماشومان بللای شو خو له بلې خوا زلمي او زلمکي دومره له مستۍ او انرژي بې برخې دي چې بوډاګانو ته ورته شوي دي.

زموږ د ټولنې ځوانان که څه هم کله نا کله د ځوانۍ مستانه خنداوې کوي خو کلتوري بنديزونو، اقتصادي ستونزو، اجتماعي بې عدالتيو او سياسي بې ثباتيو يې ملا د بوډاګانو غوندې ورکوپه کړې ده.

د ځوان کلمه مونږ ته ممکن هر هغه څوک راياد کړي چې وېښته يې لا تور دي او څلوېښت کلنۍ ته نه دی رسېدلی خو کله چې د ځوانانو په مشکلاتو خبرې کېږي او ځوان د يو خاص قشر په حيث يادېږي نو منظور ورنه معمولا هغه کسان وي چې د پنځلس او څلرويشت کلنو تر منځ عمر لري.

پنځلس کلن زموږ په ژبه کې زلمکی او پېغلوکه بلل کېږي. که څه هم په دې عمر کې بنيادم جنسي بلوغ ته رسېږي خو عقلاني بلوغ ته لا نه وي رسېدلی ، حال دا چې زموږ په کلتور کې له پنځلس کلنه ممکن هغه توقع وکړو چې له پنځه ويشت کلنه يې کوو او داسې ځکه کوو چې د جنسي بلوغ او عقلاني بلوغ توپير ته مو پام نه وي. له جنسي بلوغه وروسته ذهن ناکرار او عواطف پارېدلي وي. پوهان ټينګار کوي چې کورنۍ بايد د دې عمر له کسانو سره نرم چلند وکړي، په محبت ورسره وچلېږي، احترام يې وکاندي او ستونزو ته يې غوږ

ونیسي، خو مونږ شاید برعکس د دغه عمر کسانو تېروتنې او عصبانیتونه ونه زغمو او د دوی د سالمې ودې مخه ونیسو. له کوره د تېښتې، له درسونو د تېښتې او د ځان وژلو هڅې د نوې ځوانۍ او زلمیتوب په کلونو کې څکه زیاتې لیدل کېږي چې د دغه عمر کسان په ذهني لحاظ نازک او په عاطفي لحاظ پارېدلي وي خو کورنۍ او ټولنه ورڅخه د لویانو چلند غواړي.

د وخت په تېرېدو سره د نوي زلمیتوب د وخت روحي بحرانونه کمېږي، ولې نور مشکلات زیاتېږي. تر ځلرویشت کلنۍ پورې اکثره کسان معاش نه لري او ټولنې جذب کړې نه وي. ځېنې ښیي چې ځوان قشر ته په اسانه څوک کار نه ورکوي او که ځوان چېرته استخدام شي او په کار کې اشتباه وکړي نو د ده اشتباه ممکن ونه بخښل شي. دی له یوې خوا د ځوانۍ په نشه کې وي او د ځوانۍ غرور ورسره وي خو له بلې خوا چې وزګاره وي ، تش لاس یې ځوروي او د کورنۍ فشار هم ورباندې وي چې ولې وزګاره ګرځې؟

د افغانستان په دودیزه ټولنه کې د ځوان خبرې ته چندان غوږ نه ایښودل کېږي. د جنګ د اور تر ټولو لوی قربانیان د همدې قشر کسان دي. دوی د واده په کولو کې ډول ډول مشکلات لري او تش لاس یې شاید تر ټولو لوی دښمن وي. ځوانان نه یوازې د ژوند د ملګري په انتخاب کې لازمه ازادي نه لري بلکې په کلیو کې ولور او په ځینو ښارونو کې د هوټل مصارفو او نورو لګښتونو واده ورته په لوی خنډ بدل کړی دی.

اعتیاد د افغان ځوانانو یو بل لوی مشکل دی. د ملګرو ملتونو له احصاییو سره سم په افغانستان کې د معتادانو شمېر د نړۍ د نورو ټولنو د اوسط دوه برابره دی. معتاد ځوانان نه یوازې د علاج کافي مرکزونه نه لري، بلکې د کور کلي چلند هم ورسره داسې نه وي چې له اعتیاده په راوتلو کې یې مرستندوی شي. دا سمه ده چې د اعتیاد اصلي ګناه د کوکنارو د کرونده ګرو او د هیروینو د سوداګرو په غاړه ده خو که چېرې کورنۍ او د چم ګاونډ خلک له ځوانانو او

زلمکو سره په لازم چلند پوهېدلای نو ګڼ هغه ځوانان به چې اوس معتاد دي، معتاد نه وو او عادي ژوند به یې کاوه.

د افغانستان ځوانان د تفریح ، ورزش او خوشحاله ژوند په برخه کې له ګڼو کلتوري خنډونو سره مخ دي. ځواني د خندا او مستۍ عمر دی. دا یوازې فقر او تش جېب نه دی چې د خوند او خوشحالۍ مخه نیسي بلکې کلتوري خنډونه هم ژوند تریخولای شي. ځوانان ورزش ته اړتیا لري خو زموږ په هېواد کې د نجونو د ورزش مخه د قاف هومره لویو غرونو ډب کړې ده او زلمکي مو د لوبغالو په ځای په کوڅو کې کریکټ یا فوټبال کوي. کورنۍ معمولا د زلمو او زلمکو ورزش نه تشویقوي. دغه راز اکثره کورنۍ دې ته تیارې نه دي چې زلمکي یې هنري بوختیاوې ولري او له ژونده خوند واخلي. په کورنۍ کې، په ښوونځي کې او په کلي او کوڅه کې له زلمکو او زلمو سره د مشرانو چلند ډېر رسمي او آمرانه وي .

موږ د ځوانانو د ټولنو، اتحادیو او سازمانونو په برخه کې هم ډېر مشکلات لرو. اکثره ځوانان مو په ټولنو کې راټول نه دي او د ځوانانو ځینې ټولنې صرف په تشریفاتي چارو بوختې دي. د ځوان اواز اورېدل، ځوانانو ته د اجتماعي فعالیت فرصت برابرول او یوه داسې کلتوري، اجتماعي فضا رامنځ ته کول چې ځوانان په ځان باور پیدا کړي، زموږ د ټولنې ځینې نورې اړتیاوې دي.

۱۳۹۲

# مونږ ولې شاته پاتې یو؟

اکثره افغانان چې د هېواد د وروسته پاتې والي بحث کوي جغرافیایي عامل یادوي. دوی وايي افغانستان په وچه کې ایسار دی او څرنګه چې هند ته د رسېدو لاره له افغانستانه تېرېده،نو له مقدوني سکندره رانیولې تر وروستیو پېړیو پورې لویو فاتحانو او قدرتونو د هند د لاندې کولو لپاره پر افغانستان حملې کړې او دې شي د افغانانو ډېره انرژي او امکانات ضایع کړي دي.د اروپا د ودې په برخه کې یو نظر دا دی چې هغه وخت یې وده چټکه شوه چې د هونانو، مغولو او عربو په څېر پردو قومونو له حملو څخه خوندي پاتې شوه او له صلیبي جګړو وروسته یې د امنیت احساس وکړ چې په نتیجه کې د اروپایانو د سیاسي او اجتماعي موسسو پرله پسې ودې ته لاره اواره شوه.څرنګه چې افغانانو په خپل ټېر تاریخ کې د امنیت او مصونیت احساس نه دی کړی نو د مدني موسسو انکشاف یې ټکنی او ځنډنی شو.

کله چې په پنځلسمه میلادي پېړۍ کې نوې بحري لاندې کشف شوې او هند، چین او لرې ختیځ ته د تجارت لپاره له سمندري لارو استفاده پیل شوه نو د ورېښمو لرغونې لاره چې له افغانستان څخه تېرېده، متروکه پاتې شوه او دې نوي حالت نه یوازې زموږ د سیمې اقتصاد ته صدمه ورسوله بلکې فکري او کلتوري وده یې هم ټکنۍ کړه، ځکه نور نو په دې لاره د مختلفو وطنونو، کلتورونو او تمدنونو کاروانیان نه تېرېدل چې له فکري تنوع او تبادلې سره مرسته وکړي.

د افغانستان په وروسته پاتې والي کې د اقتصادي عامل پلویان دا هم وايي چې بحر ته لار نه لرل په شلمه پېړۍ کې د دې سبب شول چې زموږ ګاونډیان موږ په اصطلاح تر خوږ ګوته ونیسي او تر خپل فشار لاندې مو وساتي.

البته د افغانستان په وروسته پاتې والي کې د جغرافيايي عامل د پلويانو په مقابل کې استدلال کېږي چې په نړۍ کې نور هېوادونه هم شته چې په وچه کې ايسار دي، مگر ډېره ښه وده يې کړې ده. سويس او اطريش سمندر ته لاره نه لري خو د اروپا ډېر پرمختللي هېوادونه دي.

ځينې نور کسان بيا په دې نظر دي چې پخوا که هر عامل و خو په شلمه پيړۍ کې مونږ ځکه له چټکې او لازمې ودې بې برخې پاتې شو چې د تېلو غوندې شتمني مو نه لرله چې د دنيا په بازار کې سمدستي په پيسه بدلېږي. دا سمه ده چې افغانستان ډېر کانونه لري او اوس خو ان اټکل کېږي چې د کاني زېرمو ارزښت يې تر درې زره ميليارده ډالرو اوړي، مگر له دغو کانونو استفاده ډېره سرمايه او لازم تاسيسات غواړي.

د دې نظر مخالفان وايي چې ځينو ملکونو د تېلو غوندې باد راوړی ثروت درلود ولې خاصه وده يې ونه کړه.

د شوروي اتحاد له پاشل کېدو وروسته دغه هيواد په داسې پنځلس شپاړلس هيوادونو ووېشل شو چې تر ډېره حده په مشترك ميراث کې شريك وو، مگر هغه جمهوريتونه چې د بشري منابعو په لحاظ پرمختللي وو ، په اقتصادي لحاظ او د انکشاف د نورو معيارونو په لحاظ هم په بهتره حالت کې راغلل. ترکمنستان لويه خاوره، ډېر تېل او ډېر گاز لري ولې د ترقي په لحاظ د ترکمنستان او د بالتيك جمهوريتونو تر منځ ډېر توپير وينو، حال دا چې دوی ټول په لسگونو کلونو د يوه شوروي اتحاد په چوکاټ کې وو.

ايران او سعودي عربستان د تېلو عظيمې زېرمې لري او شاوخوا نيمه پيړۍ کېږي چې هغه د چا خبره ډالر بادوي، مگر د ودې مزه يې نشته. دغه مثالونه راښيي چې ډېره شتمني خامخا د ودې ضامنه نه ده.

يو بل نظر دا دی چې افغانستان د مختلفو توکمونو او ژبو هېواد دی . دې شي سياسي ثبات کمزوری کړی دی او چېرته چې سياسي ثبات کمزوری وي،

اقتصادي وده یې مشکله ده. د دې نظر مخالفان استدلال کوي چې په نړۍ کې داسې ډېر لږ هېواد شته چې قومي او کلتوري تنوع دې پکې نه وي.

د شلمې پېړۍ لوی مورخ ټاین بي چې د تمدنونو په اړه نظریه یې مشهوره ده، وایي چې یو تمدن تر هغو پورې له زواله خوندي دی چې د چلینجونو په مقابل کې د مقابلې وړتیا پکې وي. د ټاین بي په نظر دا د هر تمدن د روشنفکرو دنده ده چې د خنډونو او چلینجونو ماهیت وپیژني او حل لارې ورته ومومي. ایا مونږ داسې منورین لرلي دي چې ستونزې وپیژني او حل لارې ورته ومومي؟ ځواب منفي یا تقریبا منفي دی. د رنسانس په زمانه او راوروسته پیړیو کې چې اروپا د منځنیو پیړیو له تورو شپو راووته، په دې بدلانه کې لوی نقش د اروپایي منورینو وو. دغو منورینو اروپایان مبتکر او خلاق کړل. دوی فکر تولید کړ او خپل ولسونه یې بیدار کړل. راوېښ شوي خلک د ښه ژوند کولو هنر زده کوي او د دغسې خلکو وطن که تېل ولري یا یې ونه لري، که په وچه کې ایسار وي یا نه وي او که قومي تنوع پکې زیاته وي یا کمه وي، په هر حالت کې له مشکلاتو سره په مقابله کې پاتې نه راځي.

۱۳۹۲

# د میندو مرګونه

خپله حافظه په تکلیف کړئ او له ځان سره حساب وکړئ چې ستاسې په ژوند کې تاسې پېژندلې څومره میندې د اولاد د زوکړې په وخت باندې وفات شوې دي؟ تېره اونۍ چې په وروستي ځل په اولاد باندې د یوې مور له مړینې خبر شوم، له ځان سره مې هغه میندې رایادې کړې چې په اولاد باندې مړې شوې وې او ما دوی یا د دوی کورنۍ پېژندلې. تر څوویشتو مې حساب کړې، نور نو حافظې راسره مرسته ونه کړه.

څرنګه چې اکثره میندې د کور ښځې وي او په چم مالت کې یې څوک نه پیژني او له بلې خوا د اولاد په مرګ باندې د دوی مړینه طبیعي مړینه ګڼل کېږي او په خبرونو کې نه راځي، نو دغو خاموشو مرګونو ته معمولا نه متوجه کېږو، حال دا چې په تېرو دیارلسو کلونو کې د روغتیا په برخه کې له ډېرو پرمختګونو سره سره ، افغانستان اوس هم په نړۍ کې له نیم صحرایي افریقا را وروسته د نړۍ هغه هېواد دی چې د ولادت او زوکړې په وخت د میندو مړینه پکې د نړۍ تر بل هر ځای زیاته ده.

څه موده مخکې د روغتیا وزارت وویل چې په هرو دوو ساعتونو کې په افغانستان کې یوه مور له امېدوارۍ او ولادت سره اړوندو صحي مشکلاتو په علت سا ورکوي. د طالبانو په وخت کې په افغانستان کې په هرو پنځلس دقیقو کې یوه مور د ولادت او حامله توب د مشکلاتو په وجه ځوانیمرګېدله. په تېرو لس، دولس کلونو کې دغه راز مړینې څلور برابره کمې شوې دي مګر لکه څنګه چې مو وویل افغانستان اوس هم د ولادت او حامله توب د مرګونو له درکه په دنیا کې دویم مقام لري.

په اولاد باندې د میندو مړینه مختلف علتونه لري. د دغو مرګونو د اندازې د کمولو لپاره نه یوازې د طبي اسانتیاوو زیاتوالی پکار دی بلکې د خلکو د پوهې او معلوماتو د سویې زیاتوالي ته هم توجه لازمه ده.

تحقیقاتو ثابته کړې ده چې که یوه نجلۍ تر پنځلس کلنۍ په کم عمر حامله شي نو له ولادت او امیدوارۍ سره د اړوندو صحي مشکلاتو په وخت یې د مړینې خطر تر هغو میندو پنځه برابره زیات دی چې څو ویشت کلنې دي او د امیدوارۍ یا ولادت له مشکلاتو سره مخامخ دي. یا مثلا تحقیقاتو ثابته کړې ده چې یوه اوولس کلنه مور د څوویشت کلنې په نسبت د زوکړې او حامله توب له درکه د مرګ له خطر سره دوه برابره زیاته مخامخ ده.

څېړنو دا هم ثابته کړې ده چې تر اتلس کاله په کم عمر واده شوې نجونې له رواني او عاطفي مشکلاتو سره مخ کېږي او معمولا د مېړه په کور کې خوشحاله ژوند نه لري او دا امکان ډېر دی چې له خشونت سره مخامخې شي. په دې کې شک نشته چې مور او پلار په اولاد باندې مهربانه وي او بدمرغي یې نه ورباندې لورېږي. نو که د میندو او پلرونو معلومات زیات شي ، د کم عمر ودونه به خامخا کم شي.

ځینې کسان د افغانستان دولت او قوانین ملامتوي چې د کم عمر د ودونو په مخنیوي کې پاتې راغلي دي. د افغانستان له قوانینو سره سم، یوه نجلۍ په پنځلس کلنۍ کې هم د محکمې یا پلار په خوښه واده کېدلای شي. له بلې خوا داسې راپورونه هم شته چې ان په دولس کلنۍ کې لا نجونې واده شوې دي خو څرنګه چې عرف په قانون باندې زورور دی نو معمولا له دغسې قضیو سره قانوني چلند نه کېږي. د دغو کسانو اعتراض په ځای دی خو که چېرې د خلکو د معلوماتو سویه لوړه شي بیا که قانون کمزوری هم وي میندې او پلرونه به دې ته تیار نه شي چې خپلې لوڼې په کم عمر واده کړي. د ایران په اسلامي جمهوریت کې د قانون په اساس د نجونو د واده عمر تر افغانستان هم ټیټ دی

خو څرنگه چې ډېر خلک په دې خبر دي چې د نجونو د کم عمر ودول تاوان لري، نو دغه مشکل د قانون له اجازې سره سره تر افغانستان خورا کم دی.

ډاکتران وايي چې امېدوارې مېنڈې بايد دروند کار ونه کړي، خوراک يې بايد گټور او بهتره وي او تر وسه وسه نرم چلند ورسره وشي. دغه راز پکار ده چې د ولادت په وخت کې د نظافت اصولو ته لازياته توجه کول او د اميدوارۍ په وخت کې د ډاکتر له اجازې پرته د دوا نه خوړل او ځينې نورې داسې توصيې د خلکو د روغتيايي کلتور برخه وگرځي.

د دې لپاره چې د افغانې مور له له سره د مرگ سيورى لرې شي، مختلفو اقداماتو ته اړتيا ده. د افغانستان نوي حکومت ته پکار ده چې دې موضوع ته جدي توجه وکړي او د انسان تر ټولو بنيادي حق يعنې د حيات حق تر هر څه ضروري وبولي.

۱۳۹۲

# د قدرت تنده

د طالبانو په یوه ویپانه کې مې ولوستل چې د کندهار د پوهنتون درې دېرش کسه استادان او محصلان په غزني کې له تحقیقاتو وروسته په درناوي سره خوشي شول. له بلې خوا د نرخ ولسوالي یوه اوسېدونکي راته وویل چې د دوی کلی طالبانو نیولی دی او له نیولو وروسته یې لومړی کار دا و چې د نجونو لېسه یې بنده کړه او د هلکانو لیسې ته ورغلل چې د استادانو درس وګوري. دوی استادانو او شاګردانو ته وویل چې په درسونو کې به ډېر کوښښ کوئ.

په دغو دوو خبرونو کې وینو چې نه د کندهار پوهنتون د استادانو او محصلانو نیولو کوم واضح مقصد درلود او نه د جینکو د لېسې بندول او د هلکانو لېسې ته ورتلل او د درسونو څارل له طالبانو سره تعلق لري. په دغسې پېښو کې چې هره ورځ یې اورو، اصلي مقصد د قدرت تنده ده. طالبان احساس کوي چې که خلکو ته زور ورونښيي نو خلک به د زړه له تله د دوی وجود ومني او په درنه سترګه به ورته وګوري.

دا یوازې طالبان نه دي چې خلکو ته زور ورښودل او ځان پیاوړی ګڼل، د خپل مشروعیت لپاره دلیل ګڼي. په هغو ټولنو کې چې په پیړیو پیړیو تورې حکومت کړی دی او مشروعیت د تورې او توپک په مټ حاصل شوی دی، د حق او زور چندان توپیر نه کېږي.

د طالبانو د قدرت په وخت کې زموږ د ولسوالۍ یو ولسوال و، ده ته چې به چا څه مشوره ورکړه او د ده به خوښه نه وه، نو دا خبره به یې ببخي تکیه کلام ګرځېدلې وه چې: ته که پوهېدای ته به ولسوال وې! ولسوال صاحب ته د چوکۍ او پوهې، چوکۍ او استدلال او دغه راز چوکۍ او حق تر منځ چندان فرق نه ښکارېده. زموږ ولسوال نالوستی غوندې و. د ده خبره به په یوه بله جامه

کې له هغوی هم واورو چې لوستي او د دموکراسي دعویدار دي.د خبرې په بڼه او په کلمو او په ظاهر کې به یې فرق وي مګر محتوا یې یو شان ده.

زموږ په ټولنو کې ګڼ هغه کسان چې له سیاست سره سروکار لري، که په خوله هر څه وایي خو په زړونو کې ورګرځي چې که قدرت ورسره وي نو حق هم ورسره دی.

یوه ورځ مې له یوه تعلیم یافته او روشنفکر دوست سره په همدې موضوع خبرې کولې او دا مې ورته ویل چې حق او قدرت باید یو شان ونه ګڼو. ده په ځواب کې وویل: هیڅوک هم د پربوتونکي لمر عبادت نه کوي.

زه دا نه وایم چې زما د دوست خبره یا د هغه ولسوال تکیه کلام په واقعیت او ورځني اجتماعي ژوند کې ریښې نه لري. زه دا وایم چې نه یوازې دوی بلکې ګڼ نور کسان دغسې احساس کوي خو دغه احساس د استبداد د زمانې میراث دی او موږ چې په یوویشتمه پیړۍ کې اوسو، پکار ده په خپلو فکرونو او انګېرنو کې یو څه بدلون راولو او دا ومنو چې په سیاسي ژوند کې د کامیابۍ لپاره باید په تورې او قدرت او لاسبرۍ باندې تکیه ونه کړو بلکې د خلکو زړونو ته د لار کولو چل زده کړو. که زه په یوه ازاده او ولسواکه ټولنه کې سم وچلېږم، له خلکو سره ګوزاره وکړم او د زړه له تله د ولس خیر وغواړم نو په حکومت کې که یم یا نه یم، په سیاسي او اجتماعي ژوند کې به یو کامیاب کس یم. د رحمان بابا په قول:

د پالنګ او دېپړۍ حاجت یې نشته
د یارانو نشستن د زړه پر تخت دی

یو سیاستوال، یو ګوند او یو تحریک که په ټولنه کې کوم اعتبار پیدا کوي دغه اعتبار د خلکو زړونو ته د لارې کولو په ذریعه مومي او د خلکو زړونو ته لار موندل توره او ټوپک نه بلکې نېک او منطقي چلند غواړي.

د توري په مټ نه د خلکو زړونو ته لاره پیدا کېږي او نه د خلکو په ذهنونو کې یو فکر وژل کېږي.

لکه څنګه چې په شخصي ژوند کې د کلانکارۍ او پټکو او ځان تر نورو بر ګڼلو په ذریعه محبوبیت نه شو پیدا کولای ، دغسې د ګوندونو او سیاسي ډلو په حیث هم ځان تر نورو بر بلل او د قدرت په مټ نور وېرول، د محبوبیت او واقعي کامیابۍ مخه نیسي. یو وخت که خلکو خپل اساسي حقونه نه پیژندل او ګومان یې کاوه چې د قدرت خاوندان برحقه دي، هغه زمانه اوس تېره ده. زموږ یوه ستونزه دا ده چې اوسو په یوویشتمه پېړۍ کې خو ګڼ سیاسي فعالان مو په ذهني او احساسي لحاظ په تېرو پیړیو کې ژوند کوي او داسې انګېري چې قدرت یعنې شخصیت، قدرت یعنې ژوند او قدرت یعنې حقانیت.

۱۳۹۲

# د عمر کلونه

زما نیکه په دې نظر و چې وګړي تر پنځوس، شپیته کلنۍ پورې کوښښ کوي، ځان کشر وښیي خو چې د سر او ږیرې ویښتان یې پوره سپین شي، بیا ممکن شپیته کلن سړی د اویا کلنۍ دعوه وکړي او اویا کلن ځان اتیا کلن وښیي، ځکه ډیر عمر په ټولنه کې د ډیرې تجربې نښه ده او د احترام سبب ګرځي. نیکه مې شپیته، اویا کاله پخوا افغاني ټولنې ته په کتو سره دا خبره کوله.

څلور، پنځه لسیزې پخوا به اکثرو پلرونو کوښښ کاوه چې زامنو ته د تذکرې اخیستلو په وخت د هغوی عمر یو څه کم کړي. دوی به بهتره بلله چې اولادونه یې ژر عسکرۍ ته وانه ستول شي. د عمر له کمولو د تقاعد د ځنډولو لپاره هم استفاده شوې ده. د عمر کم ښودلو په باره کې زما د نیکه نظر له « حیثیت» سره تعلق لري خو کله چې د عسکرۍ یا تقاعد په خاطر په اسنادو کم عمر کمېږي، دلته بیا د « ګټو» خبره ده.

هسې وایي، درې ښځې څنګ په څنګ ناستې وې. یوه انا، بله لور او دریمه لمسۍ وه. چا د عمر پوښتنه ځنې وکړه. انا وویل چې د څلوېښتو شاوخوا به یم. لور یې وویل: شلو ته نژدې شوې یم او لسمۍ چې ولیدل، دوی هرې یوې لس، پنځلس کاله خپل عمر کم ښودلی دی نو ویې ویل: زه لا دنیا ته نه یم راغلې!

نارینه تور لګوي چې ښځې خپل عمر کم ښیي او په دې اړه یې د پاسنۍ ټوکې غوندې نورې ټوکې هم جوړې کړې دي، مګر حقیقت دا دی چې زموږ په ټولنه کې ګڼ شمېر نارینه هم په مختلفو دلایلو د عمر له کم ښودلو سره

دلچسپي لري. زموږ په ټولنه کې چې د تولد ورځ په رسمي ډول نه ثبت کېږي او په کلتوري لحاظ د عمر د ورځو او کلونو شمېرلو ته چندان اهمیت نه ورکوو، د عمر کم یا زیات ښودل مشکله چاره نه ده. د یوه دوست په قول یوه اروپايي تعجب کړی و چې په لویدیځ کې اکثره مهاجر افغانان د جنوري په لومړۍ نېټه دنیا ته راغلي دي. ګڼ شمېر مهاجرو د نویو اسنادو د برابرولو په وخت بهتره ګڼلې چې ځانونه د کال د لومړۍ ورځې متولدین وښیي چې هم یې خوشبختي ثابته شي او هم د خپل نوي تولد نېټه په اسانه حافظې ته وسپاري.

د عمر په برخه کې د دقیقو معلوماتو نشتوالي موږ ته دا تصور راکړی دی چې پخوانو خلکو اوږده عمرونه کول. زموږ یوه محقق د دې احتمال په باره کې چې حمید مومند به نوي کلنی ته رسېدلی وي،دا دلیل هم راوړی و چې پخوانو خو ډېر عمرونه کول. د کلاسیک شاعر، سعید، د دیوان مدون په خپله مقدمه کې اټکل کړی دی چې سعید به تر یونیم سل کاله اوږده موده ژوند کړی وي.
د عمر د زیاتوالي په اړه زموږ یو بل تصور دا دی چې هغه کسان ممکن لا زیات ژوند وکړي چې په بدو شرایطو کې اوسي او د صحت اصول نه رعایتوي. د یولس سوه کاله پخوا زمانې د دري شاعر ابوطیب مصعبي دا بیت چې د پیغمبر( ص) د عمر د کموالي او د ناپوهو خلکو د عمر د زیاتوالي شکایت پکې شوی، مشهور دی:

**صد و اند ساله یکی مرد غرچه**
**چرا شصت و سه زیست آن مرد تازی**

خو لکه څنګه چې اسناد ښیي په پخوانو تمدنونو کې عمرونه ډېر کم وو. په لرغوني مصر کې د عمر اوسط شل کاله و حال دا چې په اوسني جاپان کې د عمر اوسط څو اتیا کاله دی. د شلمې پیړۍ د وروستۍ لسیزې په جګړه ځپلي افغانستان کې اټکل کېده چې د عمر اوسط څو څلویښت کاله دی او اوس ویل کیږي چې دغه اندازه څو شپېته کلونو ته لوړه شوې ده.

شپږ، اووه کاله پخوا مې د هغو هیوادونو په باره کې یو تحقیقي رپورټ لوستی و چې عمرونه پکې اوږده دي. د رپورټ مطابق په ایسلنډ، جاپان، نیوزیلنډ، سویډن،ساردینیا(چې د ایټالیا یو ټاپو دی.) او فنلنډ کې تر نورو ځایونو عمرونه اوږده دي. دغه یو ځای هم په وروسته پاتې سیمو کې شامل نه دی. په یوه ټولنه کې پرمختللې طبي ټکنالوژي، د خلکو ښه اقتصادي حالت او پیاوړی صحي کلتور د عمر د اوږدوالي اصلي عوامل دي.

له رپورټ سره سم، جاپانیان د کب غوښه ډېره خوري او پر ډوډۍ ځان پوره نه مړوي. د سویډن خلک له دې سره دلچسپي لري چې خواړه په غوړو کې سره نه کړي بلکې په اوبو کې یې واېشوي. د شلمې پېړۍ تر اتیایمو کلونو پورې د فنلنډ د خلکو عمرونه چندان اوږده نه وو، د زړه ناورغي پکې زیاته وه خو په تېرو دېرشو کلونو کې فنلنډیانو د سګریټو ځکول خورا کم او د مېوو او سبزیجاتو خوړل دوه برابره زیات کړل چې په نتیجه کې یې عمرونه اوږده شول. د دغو مثالونو له راوړلو مې منظور دا دی چې مناسب صحي کلتور د عمر له اوږدېدا سره لویه مرسته کوي، حال دا چې زموږ په ټولنه کې صحي کلتور خورا کمزوری دی. په هندوستان کې د څو سوه کاله پخوا مغول پاچهان په دې نه پوهېدل چې ډېر وزن یې صحت ته تاوان پېښوي نو دوی چې به ځانونه تلل او تر تېر کال به درانه وختل، خوشحاله به شول. زموږ په کلیو کې اوس هم چاغښت د ښه صحت علامه ده او د غزني خلک په خوند خوند وایي: پلانی ښه مزی ده! موږ ممکن په خپلو خوړو کې د ضرورت تر اندازې څو برابره زیاته مالګه استعمال کړو، د پسه لم او وازده بې تشویشه نوش جان کړو او یا مثلا د غاښونو او لاسونو پاکي ته خاصه توجه ونه لرو. په لویو خیراتونو کې به ځینې کسان په ناولو پښو په دسترخوان باندې پل ږدي او په ټول مجلس کې به دومره څوک نه پیدا کېږي چې ورته ووایي چې دا خو د ډوډۍ کېښودلو ځای دی، ولې باید چټل شي؟

د ښه صحت او اوږده عمر موضوع یوه خبره ده او عمر کم یا زیات ښودل بله خبره، خو زما په خیال بې ارتباطه موضوعات نه دي. موږ ژوند کوو خو په دې چندان غور نه کوو چې ژوند څنګه بهتره کېږي؟ ما په مکتب کې ځینې ملګان یادېږي چې پلرونو به مثلاً په لس کلنی یا دولس کلنی کې په اول صنف کې شامل کړل او بیا به په دې ځورېدل چې له کشرانو سره په یوه ټولګي کې ناست دي. دغسې حالت د دې سبب کېږي چې یو څوک د خپل عمر په حصه کې فروغ وواييږ. له بلې خوا، ګڼ کسان بې له دې چې په اجتماع کې خپل ځان ثابت کړي، بوډاګان شي او په واقعي ژوند کې د پرمختګ لاره بنده ویني، نو چې بله لاره وریاتې نه شي، په اتیا کلنی کې به د سل کلني دعوه وکړي. موږ ګومان کوو چې سل کلن سړی ممکن د مرموزې پوهې او تجربې څښتن وي، حال دا چې په ډېر پاخه عمر کې ذهني قوت هم د جسمي قوت غوندې کمېږي. د فرانسې د شلمې پېړۍ خورا مشهور لیکوال اندره ژید، په زړبودن کې لیکلي وو: موډې وشوې چې زه، زه نه یم. ما یوازې د هغه چا ځای نیولی دی چې خلکو اندره ژید باله.

د ۱۳۹۵ دلوه

# د تظاهر لومه

د کندز د بزکشی میدان د انگلیسي (U) توري ته ورته دی. درې خواوو ته يې غونډۍ دي او يوه خوا يې پرانيستې ده. زه چې ماشوم وم د پرانيستې خوا د مقابل لوري په غونډۍ باندې پخې برنډې ودانې وې چې خلک او په تېره مېلمانه پکې د بزکشي سيل ته کښېني. د دغو برنډو له سمنتې چوکيو به په پرانيستې خوا کې له ميدانه بهر د يوه کلي خړ دېوالونه ښکارېدل. يو کال مې يادېږي چې ناڅاپه د کلي د ديوالونو سپينول پيل شول.

کيسه داسې وه چې يو خارجي مقام د اوزلوبې د سيل لپاره کندز ته راروان و او حکومت غوښتل چې د وطن کلي ډېر وروسته پاتې ورمعلوم نه شي نو د دېوالونو د سپينولو تابيا يې کړې وه.

زه په دې نه غږېږم چې دغه کار لازم و که لازم نه و، خو کله هم چې په ملي او اجتماعي کچه د ځان بل ډول ښودلو خبره ياده شي، همدا خاطره مې سترگو ته ودرېږي.

مونږ په هغو هېوادونو کې هم سفارتونه لرو چې راکړه ورکړه او تگ راتگ مو ورسره نشته. زموږ ځينې وزارتونه د ځينو نورو په لسگونو ځله لوی دي، خو ځرنگه چې په هغو وړو ادارو مو هم د وزارت نوم ايښی دی نو مختلف رياستونه مو پکې جوړ دي چې ظاهري حساب يې برابر وي.

بیا به هم د ماشومتوب یوه کیسه وکړم. زموږ په کوڅه کې یوه سپین ږیري حاجي یو خر اخیستی و. د خره هینګارې یې په ګاونډي باندې ښې نه لګېدې. کوڅه والو د خره څښتن ته وویل: حاجي صاحب خر دې څه ته اخیستی دی؟ حاجي وویل: واښه ورباندې راوړم. کوڅه والو بله پوښتنه ورنه وکړه: واښه څه کوې؟ حاجي ځواب ورکړ : خره ته یې اچوم.

موږ ډېر ځله یوه اداره جوړه وي چې وروسته بیا ورته بودیجه د دې لپاره مومو چې اداره خو باید یو کار وکړي. بودیجه ځکه پکار ده چې اداره بې بودیجې نه چلېږي او اداره ځکه پکار ده چې بودیجه باید د ادارې په ذریعه مصرف شي.

زموږ ګڼې دولتي او اجتماعي هڅې د تظاهر ښکار دي. تظاهر ته ځکه ځان محتاج وینو چې حقارت او نیمګړتیا احساسوو او د نیمګړتیاوو د دوام یو اصلي علت دا دی چې واقعبین نه یو، په خپل حقیقت باندې اعتراف نه کوو او دا نه منو چې په ګوره ګوره ویلو خو خوله نه خوږېږي.

تر دې له مخه چې دیوالونه سپین کړو، د ځان سپینولو ته ضرورت لرو. زموږ د نظام او دولت ګټه په دې کې نه ده چې یوازې په دولتداري باندې تظاهر وکړي او ارقام کال په کال زیات وښیي. دولت باید له ځان سره او ولس سره سپین او واقعبین واوسي او دا وګوري چې ادارې او پروژې یې ګټورې دي که بس هسې روانې دي.

پوهان وایي چې ژبه او فکر د یوې سیکې دوه مخه دي. که فکر نه وای ژبه به نه وه او که ژبه نه وای فکر به نه و. موږ له اوږدې زمانې راهیسې یوه اداري او دولتي ژبه لرو چې رسمیاتورباندې برابرېږي خو له دقت او واقعیت سره ډېر ځله سمون نه خوري. زموږ فکرونه د همدې رسمي ژبني او لیکني سبک په لومه کې ایسار دي. ایراني شاعر سهراب سپهري ویلي دي چې د بل ډول لیدلو لپاره پکار ده سترګې ووینځو. یوې داسې رسمي او اداري ژبې ته ضرورت لرو چې له سپینوالي او شفافیت سره مرسته وکړي. موږ په خپله رسمي

ژبه کې وايو چې په پلانۍ موضوع هر اخيز بحث وشو او لازم تصميمونه ونيول شول. هر اړخيز بحث څنګه ممکن دی؟ او لازم تصميمونه کوم دي؟ مونږ په خپلو رسمي خبرو او ليکنو کې د لازمو تصميمونو، لازمو اجرااتو او لازمو اقداماتو خبرې تکرارو خو ځان ته زحمت نه ورکوو چې د هر مورد لازم او غير لازم سره بېل کړو. ګونګه ژبه او مبهمه ژبه يوازې د تېر ايستلو لپاره پکارېږي او هغه څوک چې بيا بيا استفاده ورنه کوي، معمولا خپله هم تېر ايستل کېږي. د عربو د يوه مشهور طماع په باره کې يوه کيسه ده چې وايي پوښتنه ورنه وشوه چې د خپلې تمې او لالچ ډېره جالبه خاطره بيان کړي. ده وويل ، يو وخت مې په ماشومتوب کې له هلکانو سره لوبې کولې. د لوبو په منځ کې مې د دوی د تېر ايستلو په نيت وويل چې په بر کلي کې خيرات دی. هلکانو لوبې پرېښودې، بر کلي ته يې منډې کړې. ما چې د دوی منډو ته وکتل په زړه کې راتېر شول چې هسې نه په بر کلي کې په رښتيا خيرات وي او زه ورنه بې برخې پاتې شم، نو دومره تېزه منډه مې وکړه چې تر ټولو اول زه رسېدلی وم. د عرب طماع دغه ټوکه له کابو هر تېر ايستونکي سره کېږي.

وهم ته ځان تسليمول په ظاهره دا ګټه لري چې د ترخو حقايقو د ليدو له مشکل سره مو نه مخامخ کوي، مګر په وهم کې چې هر څومره ډېره موده تېروو ، د حقايقو تريخوالی هغومره زياتېږي او لکه څنګه چې د سين اوبه د اوږدې مودې په مخه نه ډب کېږي، دغسې له ترخو حقايقو هم ځان د اوږدې مودې لپاره نه شو پټولای. دا اوبه بايد خوشې کړو چې بند مو اوبه يو نسي او د خپلو وهمونو په سيلاب کې لاهو نه شو.

۱۳۹۳

# د ماشوم د شوخۍ حق

مونږ د ماشومانو شوخي شیطانت بولو او کله چې ماشوم شوخي کوي ورته وایو: شیطاني مه کوه. له بلې خوا، شیطان ابلیس ته وایو او تر ټولو بد مخلوق یې ګڼو. مطلب دا چې د خپلو کوچنیانو شوخي راته ځوروونکې ده او شاید همدا وجه وي چې د کوچیني د ژوند ځینو مهمو غوښتنو ته مو د شیطاني نوم ورکړی دی.

ماشوم یوازې څښاک ، خوراک او پوښاک ته اړتیا نه لري، لوبو ته یې هم لري او د ده هغه لوبې چې لویان ممکن ورسره په تکلیف شي، شوخي بولو او نه یې زغمو.

ځوانان ودونه کوي او ټولنه د دوی دا حق مني خو کورنۍ د ماشومانو د شوخي حق نه مني. د کورنۍ مشران دې ته تیار نه دي چې له ماشوم سره ځان په تکلیف کړي او د هغه شوخي ومني.

میندې او پلرونه ماشومان د دې لپاره نه زېږوي چې یو بل انسان هم د ژوند له حقه برخمن کړي بلکې خپلې روحي او مادي اړتیاوې ورباندې پوره کوي. میندې او پلرونه اولاد د دې لپاره غواړي چې له ماشومتوبه یې خوند واخلي او د زړبودن د عمر امسا یې شي.

البته، د ماشوم په لرلو کې چې څومره خوند او رنګیني ده، هغومره زحمت هم شته. ماشوم ډوډۍ غواړي ، علاج غواړي او د صحت او ډوډۍ په اندازه بل مهم کار دا دی چې ماشوم باید اجتماعي شي او د ټولنیز کېدلو چل ورووښودل شي. د ټولنیز ژوند ځینې کمالونه په طبیعي ډول زده کېږي. مثلا مور و پلار بې له دې چې په زحمت شي، ماشوم ته ژبه ورزده کوي چې د ټولنیر ژوند لپاره یوه

ډېره ضروري وسیله ده. خو پاک اوسېدل، مودب اوسېدل، مهربان اوسېدل، دروغ نه ویل او په سلګونو نورې لویې او وړې چارې ممکن له مور و پلاره یو څه زیات زحمت وغواړي.

د کورني ژوند یوه ډېره لویه دنده دا ده چې ماشومان پکې اجتماعي شي او داسې وروزل شي چې په ټولنه کې د اوسېدو وړتیا ومومي. البته، ماشوم یوازې د دې لپاره ژوند نه شي کولای چې په سباني ژوند کې کامیاب واوسي. دی د ماشوم په حیث یو بېل ژوند او بېلې اړتیاوې لري. په دغو اړتیاوو کې شوخي او مستي شامله ده.

ماشوم د سین د څپو غوندې سترپا نه پیژني او زړه یې غواړي چې کرې ورځ منډې وکړي او په حرکت کې وي. مشران چې ژر ستړې کېږي د ماشوم نه ستومانه کېدونکی حالت چندان خوند نه ورکوي. مشران له ماشوم سره په تکلیف وي. مور د اوړي په اوږدو ورځو کې غواړي چې د غرمې له ډوډۍ وروسته ویده شي خو ماشوم ته خوب نه ورځي ، دی غواړي په سره لمر کې وګرځي. له مور سره اندېښنه وي چې ماشوم یې خدای مکړه ځان ژوبل نه کړي نو له کوټې د وتلو اجازه نه ورکوي. ستومانه مور خوب ته اړتیا لري او مست ماشوم لوبو ته. که مور ویده شي او ماشوم په میدان پرېږدي، دا بې انصافي ده او مور حق نه لري چې ماشوم په خپل سر پرېږدي ، ځکه کوچیني د ځان په ساتلو سم نه پوهېږي. ډېر امکان شته چې مور ویده وي او ماشوم کوڅې ته ووځي او خدای مکړه وتښتول شي. امکان شته چې لمر یې ووهي، امکان شته چې ویالې ته ځان واچوي او اوبه یې یوسي. د سلګونو خطرونو امکان شته او دا د مور دنده ده چې ماشوم په خپل سر پرې نه ږدي. نو څه باید وشي؟

طبعا له ماشوم سره بې پروایي ناسمه ده مګر له ماشوم څخه د شوخي حق اخیستل هم یو ډول بې پروایي ده. هغه لوبو ته او منډو ته شدیده اړتیا لري او مور و پلار ته لازمه ده چې د هغه د منډو او لوبو د تندې د ماتولو لپاره فکر

وکړي. ځرنګه چې د کورنۍ مشران د ماشوم شوخي ته د هغه د سپین سترګې او تېري په سترګه ګوري نو دې ته حاضر نه دي چې د ماشوم لپاره د شوخۍ د زمينې په برابرولو باندې فکر وکړي. له ماشوم سره چې د شوخي د شوق په پوره کولو کې مرسته ونه شي، سرکشي يې زياته شي او چې مور هر څه هڅه وکړي چې غرمه يې ويده کړي، دی نه ویده کېږي، دی په دې لټه کې وي چې د مور سترګې يې سره ورشي او دی غلی له کوټې ووځي.

کورنۍ بايد د ماشوم د شوخي حق ومني او د دې لپاره چې شوخي يې سالمه او بې خطره شي، پکار ده مور وپلار په دې فکر وکړي چې د خپل ماشوم لپاره د ساتېري کوم امکانات برابرولی شي.

تحقيقاتو ثابته کړې ده چې له ماشوم سره شدت کول خورا منفي نتيجه لري. هغه ماشومان چې د وېرې او شدت له لارې له ځينو چارو راګرځول کېږي، په لوينې ممکن د اجتماع په مخالفو کسانو بدل شي، ممکن تشدد ته مايل کسان شي او ممکن په اجتماعي ژوند کې ښه پرمختګ ونه کړي. که چېرې د کورنيو مشران د ماشوم د ماشومتوب د عمر غوښتنې ومني او په څنګ کې يې په نرمۍ سره له واقعا ناوړو چارو راوګرځوي نو هم به خپل مقصد ته رسېدلې وي او هم به يې په لرې آينده کې د خپل اولاد د ژوند له ښه کېدو سره مرسته کړې وي.

۱۳۹۳

# پر ځان مېين

هسې وايي چې يوه ځانغواړي ليکوال خپل ګاونډي ته د ځان په باره کې خبرې کولې. خبرې يې اوږدې شوې او متوجه شو چې ګاونډی يې له يو اړخيز مجلسه په تکليف دی نو ويې ويل: وبخښه، ټولې خبرې ما وکړې، اوس به تا واورم، دا راته ووايه چې زما د وروستي کتاب په باره کې دې څه نظر دی؟

په دې حکايت کې د يوه نسبتا ساده سړي شديدې ايګو او ځانغوښتنې ته متوجه کېږو خو ګڼ کسان د خپلې منفي خودخواهي د پټولو په چل پوهېږي او ځينې بيا دا قدرت هم لري چې خپلې شديدې خودخواهي ته د ايثار او فداکارۍ جامه وراغوندي او ټولنه په ځان پسې روانه کړي.

د بشر په اخلاقي فلسفه، ادبياتو او فرهنګ کې خودخواهي غندل شوې او فداکاري ډېره ستايل شوې ده. دا غندنه او ستاينه طبيعي ده. ټولنه د هغه چا قدردانه ده چې د بل خير غواړي او برعکس هغه څوک غندي چې نورو انسانانو ته د وسايلو په سترګه ګوري او د خپلو ارزوګانو د پوره کولو په لاره کې د نورو خپګان او خوشحالي، عزت او بې عزتي يا شتون او نه شتون ورته يو شان ښکاري.

څرنګه چې ټولنه ځانغواړو او ځانمارو ته په سپکه سترګه ګوري، نو خودپرسته کسان ممکن د خپلې خودخواهي دايره پراخه کړي او مثلا د ځان د ستايلو په ځای خپل قام وستايي.

د خودخواهي د دايرې له پراخېدو سره هم د ځانغواړي کس خپله اصلي روحي تنده ماته شي او هم ټولنې ته د زغملو شي او بلکې ډېرو ته نور يو خودخواه نه بلکې فداکار کس واېسي.

هغه خودخواهي چې وګړي پکې يوازې تر ځان راچورلي، په اخلاقي لحاظ منفي ده او دا دويم ډول خودخواهي چې دايره پکې وسيع کيږي، په اخلاقي لحاظ ممکن مثبته وي يا منفي.

که څوک د خپلو خلکو خير غواړي او دغه خير پردو خلکو ته په تاوان رسولو کې نه ويني، په اخلاقي لحاظ مثبت عمل کوي، خو هغه څوک چې د نورو ټولنو په ځبلو بوخت وي او ادعا يې دا وي چې دا کار د خپلې ټولنې د خير لپاره کوي، خودخواهي يې منفي ده.

د اخلاقو طلايي قانون راته وايي چې نورو ته هم هغه څه غواړه چې ځان ته يې غواړې. هغوی چې د نورو ټولنو په ذلت او تباهي کې د خپلې ټولنې او خپلې اجتماعي ډلې کاميابي لټوي، د اخلاقو د دغه بنيادي اصل په اساس، بد اخلاقه او ظالمان دي.

هيتلر به ويل چې د جرمن قوم د نيمکرغي لپاره د يهودو، روسانو او ځينو نورو قومونو ځبل پکار دي. د ده د خودخواهي دايره لويه وه او په ظاهره ټول جرمن قام پکې شامل و خو فکرونه او عملونه يې په اخلاقي لحاظ منفي وو. دغسې کسان چې د نورو ټولنو په بې خيري کې د خپلې ټولنې خير ويني، د دوی د خودخواهي دايره يرازې په ظاهره لويه ښکاري. دوی د خپل ضمير او د ټولنې د تيرايستلو لپاره ګومان او تبليغ کوي چې د خپلې ټولنې غم ورسره دی، حال دا چې د فکرونو او عملونو اصلي انګيزه يې منفي خودخواهي ده چې بهتره ده خودپرستي يې وبولو.

اروا پوه فرويډ وايي چې نو ړيری ماشوم يوازې خپلې غوښتنې پيژني او د نورو پرغوښتنو ړوند او کوڼ وي. ماشوم د وخت په تېرېدو سره پوه شي چې که څه هم د پيالې په ماتولو کې خوند دی خو مور يې ورته په قهرېږي نو احتياط پکار دی. فرويډ د بنيادم د شخصيت دغه دويم اړخ ته، چې خپلې غريزې او غوښتنې د چاپيريال د تقاضاوو په چوکاټ کې راولي، ايګو وايي. ايګو هغه څه

نه ورته بللای شو چې عقل یې بولو. د فروید په نظر په څلور، پنځه کلنی کې د ماشوم د شخصیت د دریم اړخ وده پیلېږي، دې دغه اړخ سوپر ایګو بولي. کله چې ماشوم د مور وپلار او نورو لارښوونې، له ویرې نه بلکې د زړه له تله ومنې، معنا یې دا ده چې په شخصیت کې یې د سوپر ایګو اړخ پیدا شوی دی. سوپر ایګو تر ډیره حده د ټولنې له اقدارو، باورونو او ارزښتونو سره سمون خوري او تقریبا هماغه شی دی چې وجدان یې بولو.

ایګو چې تعادل ونه ساتي او وجدان تر پښو لاندې کړي، بنیادم د خودپرستي په مرض مبتلا شي. که خودپرست یو څه معلومات ولري او د استدلال قوه یې یو څه پیاوړې وي نو بیا شاید خپلو شخصي تمایلاتو ته د معنویت او د یوه اجتماعي ګروپ د ګټو او خیر نوم ورکړي او په دې ډول خپل ضمیر او ټولنه دواړه تېرباسي. د وجدان تیرایستلو ته هم څکه اړتیا وي چې ناکراره وجدان بنیادم ناکراره کولای شي.

د شوروي اتحاد مشهور دیکتاتور ستالین خپله خودپرستي له کارګرې طبقې سره د مینې په جامه کې پټه کړې وه. ده که له کارګرې طبقې سره د مینې ظاهري احساس نه لرلای، بیا به ورته د نورو په څېلو او وژلو کې د خپل وجدان قانع کول ډیر سخته وو او ذهني ناکراري به خوب و ارام ته نه و پرې ایښی.

البته د شدیدې خودخواهي په ناروغي مبتلا بنیادم که هر څو هم ځان او ټولنه تېر باسي، د وخت په تېرېدو سره یې روحي ناکراري زیاتېږي. دی چې د هغه حکایت د لیکوال غوندې له ځانه د راوتلو وس نلري، له ټولنې سره یې حقیقي رابطه وار په وار کمېږي او دغه احساس ورباندې ورو ورو غلبه کوي چې نور خلک له ده سره مینه نه کوي، نور خلک ده ته غوږ نه نیسي او نور خلک بد دي.

۱۳۹۵

# د وطن په هدیرو کې

دا خبره په مشهور دیکتاتور جوزوف ستالین پورې منسوبه ده چې: د یو کس مړینه تراژیدي ده خو د یو میلیون کسانو مړینه یوازې یوه احصاییه ده. معلومه نه ده چې ستالین به دغسې څه ویلي وي که نه وي خو د ده له خولې ځکه طبیعي ښکاري چې د قدرت په وخت کې یې په میلیونونو کسان ووژل او ده ته که د ډېرو کسانو وژنه غمیزه ښکارېدای نو د نورو په وژلو کې به دومره زړه ور نه و.

کله چې یو کس ومري، د هغه د رنګ، عمر، نوم، اولاد، مور، پلار، کار او ارزوګانو په باره کې مختلفې خبرې زموږ په ذهن کې تېرې شي او تاثیر راباندې وکړي خو د یوملیون کسانو مرګ مو په ذهن کې خاص تصویر نه جوړوي. یومیلیون یوازې یو عدد دی ولې هغه څوک چې پېژنو ، عدد نه دی بلکې یوه څېره ده، لېمې دي، لاسونه دي، ارزوګانې دي او خاطرې دي. همدا وجه ده چې د لیدلي او پیژندلي کس په مړینه ډېره خوا بدوو او کله کله خو وایو: کاشکې مې نه وای لیدلی.

په افغانستان کې ځینې کسان وایي چې د قتلونو بیا بیا راپورونه د دې سبب شوي دي چې نور نو خلکو ته قتل غیرعادي چاره ښکاره نه شي او په مقابل کې یې ډېر حساسیت ونه ښیي. د دغو کسانو په نظر د خلکو د حساسیت کمزوري د قاتلانو بې پروایي زیاته کړې ده.

دا سمه ده چې د قربانیانو په وړاندې د خلکو بې پروایي قاتلانو ته جرات ورکوي چې د خپلو مقصدونو لپاره لا زیاتې وینې وبهوي او دا هم سمه ده چې د قتلونو پرله پسې پېښې خلک د قتل عادي ګڼلو ته تیاروي.

د سولې په زمانه کې به کليوالو د شهيدانو په قبرونو باندې په نيمو شپو کې غيبي ډيوې ليدې او ويل به يې چې له قتله وروسته باران وورېد او باد او دوړې راپيدا شوې. پخوا به خلکو د شهيد له قبره خوردې اخيستې چې د ناروغانو علاج ورباندې وکړي. د شهيد د گور په خوا کې د ايښي بوتل مالگې ته د درملو په سترگه کتل کېدل او د هغه په جنډه باندې مېخ ټکوهلو د غاښونو درد کراراوه. پخوا به خلکو ويل چې د شهيد مړی روغ پاتېږي. اوس دا خبرې کمې اورو چې په غاړه کې مې د پلانی شهيد بندونه دي او يا که مې پلانی کار وشو د پلاني شهيد قبر ته به پوښ اخلم . اوس دغسې سپارښتنې نه اورو:

**غازي په لوړه غونډۍ کېږدئ**

**چې يې زيارت کا د گيلان ملالې نجونه**

اوس چې قتلونه زيات شوي، د مړه او مقتول تر منځ توپير لږ شوی او له شهيد سره په اړوندو ولسي باورونو کې قوت کم شوی دی.

زما په حافظه کې په پاتې لومړنيو شعرونو کې ځينې هغه دي چې زموږ د قبيلې د يوه مقتول په باره کې ويل شوي وو. مقتول د يوه واده د ننداري لپاره ونې ته ختلی او د خوشحالۍ په ډزو کې په سهوه لگېدلی او وژل شوی و. زه نه پوهېږم چې دغه پېښه به زما تر زوکړې څو کاله له مخه وه خو دا سندرې، چې په ماشومتوب کې مې له ښځمنو ډېرې اورېدلې وې، تر اوسه لا په حافظه کې خوندي دي: حبيب نه و د مرگي ، د حبيب زېړه ځواني... حبيب ويل ادې، غړی پوخ که د جمعې ، جومات پلو يې راوړه، جومات اور رالگوي ، د حبيب زېړه ځواني...

زما په نظر مونږ بايد په دې پلمه چې قتل زيات شوی او اثر يې کم شوی دی، د خپلو وطنوالو وژنې يوازې احصاييې ونه بولو. مونږ بايد په دې اکتفا ونه کړو چې مثلا په ارگون کې نهه اتيا کسان ووژل شول. دغه نهه اتياکسان نومونه لري، عمرونه لري، عکسونه لري او نيمه خوا ارزوگانې لري. مونږ بايد هغه درې

کلن ماشوم وپیژنو چې د پلار د راتلو په تمه اوس هم د کور په دروازه کې ولاړ وي. پکار ده خپلې کامرې د درویش درانی د دې خبرې د ثابتولو لپاره سترې کړو چې وایي:

د وطن په هدیرو کې وي درویشه
هره شپه نرې ژړا او څراغونه

نوې تکنالوژي او نویو رسنیو د مظلومانو د تاریخ د ثبتولو، د انساني ضمیر د بیدارولو، د میندو او خویندو د فریاد د اورېدلو او په تراژیدي باندې د احصاییو د بدلولو لپاره ډېر امکانات راکړي دي.

گومان کوم ۱۳۸۹ کال و چې د کونړ په غازي اباد کې ناټو د ښځو او ماشومانو په شمول څو شپېته کسه ملکی خلک ووژل او مطبوعاتو د مقتولانو نومونه او دهغو عمرونه خپاره کړل. ما چې په ورځپانه کې نومونه لوستل، سترگو ته مې اوښکې راغلې. عدد نه وم ژړولی خو عمر او نوم وژړولم، څکه عمر او نوم دې یو څوک سترگو ته درولای شي او په عدد کې دا خاصیت نشته.

زما حافظې د ۱۳۸۳ کال په سنبله کې د روسیې د شمالي اوسیتا د یوه ښوونځي د ماشومانو قتل عام څکه نه دی هېر کړی چې هغه وخت مې د دې قتل عام په راډیویي رپورټ کې د میندو چیغې واورېدې ، مگر خپلو ژورنالیستانو مو په خپلو سلگونو او زرگونو اوسیتاوو کې د وطن د میندو چیغې د ثبتېدو وړ ونه بللې.

۱۳۹۳

# د هوټلونو ودونه

یو دوست چې کابو هره ورځ یې وینم، په وروستیو ورځو کې مړاوی او پرېشان رامعلوم شو. پوښتنه مې ترې وکړه ، چې چل څه دی ؟ ویل یې ، د ورور واده مې په مخ کې دی او اوس چې د هوټل خرڅ او نور مصارف حسابوو، پنځلس زره ډالره کېږي. دوه ، درې میاشتې پخوا هم یو چا راته ویلي وو چې د زوی په واده یې شل زره ډالره لګېدلې دي.

ملګری مې او د هغه ورور په موسسو کې کار کوي. راته ویل یې ، دا څلورم کال دی چې ډالري معاش لرو او ډېر خلک به ګومان کوي چې مزې خو دوی وکړې ، مګر د څلورو کلونو ټولې کړې پیسې مو د واده نیم مصارف هم نه پوره کوي.

دغه حال په کابل او نورو ښارونو کې د اکثرو کورنیو دی . ځینې کورنۍ د کلونو ، کلونو ټوله کړې زېرمه په یوه واده کې ورکوي او ځینې نورې پور ورته اخلي چې په ادا کولو یې کلونه تېرېږي. یو ګڼ شمېر ځوانان د واده د ډېرو مصارفو په خاطر څړه ګرځي.

ایا د واده د ډېرو مصارفو د کمولو لپاره حکومت اقدام نه شي کولی ؟

دې پوښتنې ته یو ځواب دا دی چې واده کول د خلکو له دودونو سره تعلق لري او حکومتونو په تېره بیا هغو حکومتونو ته چې کمزوري وي، دا ډېره سخته ده چې په دودونو کې تغییر راولي.

که تاریخ ته وګورو ، تاریخ هم په ظاهره د دغو کسانو د نظر تایید کوي.
د هند براعظمګي په تاریخ کې تر جلال الدین اکبر زورور.واکمن نه دی تېر شوی . هغه د هندوانو د ستي له رسم سره مخالفت وکړ او منع یې کړ .ستي دود داسې دی چې ښځه د مېړه له مړینې وروسته اور ته دانګي او ځان وژني. د اکبر پاچا له سخت مخالفت سره سره، ستي دود په راتلونکو پېړیو کې په ځای پاتې و.

په افغانستان کې نورمحمد تره کي د ولور د کمېدو او درې سوه افغانیو ته د هغه د راټیټېدو امر وکړ، خو په عمل کې ولیدل شول چې د حکومت تر فرمان د خلکو دود ډېر پیاوړی و.

البته، دودونه دوه ډوله دي : یو هغه دود دی چې خلکو ته مقدس ښکاري او نه ترسره کول یې د ګناه او بې عزتۍ ترحده ناسمه چاره بولي. ستي دود په هندوستان کې له مذهب او د هندوانو له دیني روایاتو سره غوټه و، ځکه خو د جلال الدین اکبر په څېر زورور واکمن هم زور ونه رسېد چې ختم یې کړي. نورمحمد تره کي که څه هم استدلال وکړ چې درې سره افغانۍ د شرعي مهر په اندازه دي ، خو اکثرو ملایانو یې خبره ونه منله او د هغه حکم یې د دیني احکامو سم تعبیر ونه باله.

ځینې نور دودونه بیا دومره مهم نه ګڼل کېږي. مثلا په ښار کې د ناوې شهر ګشت یو داسې دود دی چې نه ترسره کول یې خلکو ته ګناه یا بې عزتي نه ښکاري او زغملی یې شي.

دودونه له یو بل اړخه هم په دوه ډوله وېشلی شو: ځینې یې داسې دي چې که منع هم شي ، په پټه تر سره کېدای شي او بل هغه دودونه دي چې په پټه تر سره کېدل یې ممکن نه دي. کله چې په افغانستان کې د ولور اندازه درې سوه افغانۍ اعلان شوه ، نو زما یادېږي چې په کلیو کې به اکثرو کورنیو په پټه د ولور فیصله سره وکړه او نور خلک به یې خبر نه کړل . حکومت ته دا مشکله

ده چې د دوو خواوو د خپل منځ له پټې موافقې دې خبر شي. همدا وجه وه چې ان د خلقیانو د حکومت له پوره هڅې سره سره اووم نمبر فرمان تر ډېره حده یوازې د کاغذ په مخ پاتې شو .

په اوسني کابل کې د واده مصارف له مختلفو دودونو سره تعلق لري چې په مختلفو کته ګوریو کې راځي.

ځینې یې داسې دي چې که یې حکومت منع هم کړي ، خلك په پټه ادامه ورکولی شي ، لکه د زیور او ګڼې د اخیستلو دود. که حکومت ووایي چې مثلا تر لس زره افغانیو ډېره ګڼه منع ده، بیا به هم خلك په پټه ډېره ګڼه اخلي.

خو په کابل کې د ودونو یو هغه مصرف چې خورا زیات دی او منع کول یې اسانه دي ، هغه د هوټلونو د واده مصرف دی . ګڼه که قیمته هم ده خو یوه سرمایه ده چې په کورنۍ کې پاتېږي ، مګر د هوټل مصارف یوازې مصارف دي او بس.

د نواز شریف د لومړي حکومت په وخت کې د پاکستان حکومت په هوټلونو کې د واده په مېلمستیاوو باندې محدودیتونه ولګول چې دغه حکم فورا عملي شو او خلکو ته یې ډېره ګټه ورسېده، خو افغانستان چې خورا بېوزلی هیواد دی ، د دغو مصارفو د محدودیت په اړه غور نه کوي. د هوټل ودونه له ښارونو سره تعلق لري او په ښارونو کې حکومت د خپلو اوامرو په نافذولو کې هیڅ مشکل نه ویني.

نو زموږ واکمنان ولې په دې اړه فکر نه کوي ؟ ایا داسې خو به نه وي چې د هوټلونو د واده سالونونه تر ډېره حده د همدغو کسانو دي چې حکومت راباندې کوي او په همدې وجه د خلکو دې مشکل ته توجه نه کېږي؟

۱۳۹۳

# له ماشومانو سره تشدد

زه یو پلار پیژنم چې د اولاد تعلیم ته یې ډېر اهمیت ورکاوه، خو هیڅ لور یا زوی یې دولسم ونه لوست، فاکولته خو په ځای پرېږده. دغه سړي پخپله کابو څلوېښت کاله پخوا پوهنځی لوستی دی، د مطالعې شوقي دی او یوه متوسطه گوزاره یې همېشه روانه وه. د ده اولاد ولې بې تعلیمه غوندې پاتې شو؟

دا سوال به مې همېشه په ذهن کې گرځېده. تېره اونۍ تصادفا د ده له دوو زامنو سره په یوه مېلمستیا کې مخامخ شوم. دوی دواړه هوښیار کسان دي او په کابل کې کامیاب کاروبار لري. خبره تر ماشومتوبه او سبقونو پورې راغله. دوی وویل چې په ښوونځي کې یې هیڅ مزه نه وه او درسونه یې نه زده کېدل، ځکه چې پلار به یې هره ورځ د درسونو پوښتنه ورنه کوله او چې په درس کې به غلط شول، وهل یې.

د دې کورنۍ نجونې او هلکان د وهلو وېرې له درسونو خواتوري کړي وو. د کورنۍ هغو دوو کسانو راته وویل چې اوس مو که څه هم اولاد په خصوصي ښوونځیو کې سبق وايي او کورسونه هم ورباندې وایو، مگر خپله مو له کتاب او زده کړې تر اوسه لا بد راځي.

د وهلو، ټکولو او وېرولو له لارې زده کړه د زده کړې تر ټولو ناکامه طریقه ده. د ماشومانو سپکول، وېرول او وهل نه یوازې د هغوی په تعلیم کې خنډ جوړوي بلکې د هغوی د شخصیت د سالمې ودې مخه نیسي. هغه کسان چې په لویني جنایتکاران او قاتلان ورنه جوړېږي یا روحي ناروغۍ ورته پیدا کېږي، ډېر امکان دا دی چې په ماشومتوب کې وهل شوي او ځورول شوي دي. زموږ په کورنیو کې پلرونه او مشران ولې اولاد وهي او په لوی لاس یې راتلونکی ژوند له خطر سره مخ کوي؟

د دې شي يو لوی علت خو دا دی چې اوسني پلرونه او د کورنيو مشران چې کله پخپله ماشومان وو، وهل شوي او ځورول شوي دي. دوی پخپله روحي مشکلات لري او شخصيت يې سالمه وده نه ده کړې. دا خبره اوس ثابته شوې ده چې د انسان د شخصيت بنيادونه په ماشومتوب کې جوړېږي. دوی چې پخپله سم نه دي روزل شوي، د بل د روزلو په کار کې هم ناکام پاتې دي. دوی که ان په دې حقيقت پوه هم شي چې وهل او ټکول او وېرول يې د ماشومانو آينده ورخرابولای شي خو ځرنګه چې روحي مشکلات لري نو اکثره وخت د خپلو معلوماتو تر اثر لاندې نه بلکې د خپل خوی او عادت تر اثر لاندې راځي او له تشدده کار اخلي. اکثره پلرونه له تشدده وروسته پښېمانه وي خو چې څه وخت تېر شي، بيا هماغه آش وي او هماغه کاسه.

زموږ په ټولنه کې يو عام تصور دا دی چې هر پلار او د کور مشر حق لري چې له اولاد سره تشدد وکړي. ما له ځينو افغانانو چې په لويديځو هيوادونو کې د ژوند کولو تجربه لري، څو ځله دغسې خبرې اورېدلې دي: خپل ماشوم ته به څه نه شې ويلای چې د غرب قانون اجازه نه ورکوي؛ دا هم ژوند شو؟ بلا دې د افغانستان پې وګرځي!

موږ بايد دغه اخلاقي روزنه او حقوقي پوهه وموږ چې د اولاد وهل جايز نه دي. زموږ ماشومان زموږ غوندې ځينې حقونه لري او د دغو حقونو نه منل، نه قانوني جواز لري او نه اخلاقي. زموږ په ټولنه کې دا خبره ډېره تکرارېږي چې: خپل اولاد مې دی، وهم يې، ټکوم يې، وژنم يې ، ستا يې ورباندې څه!

لا مهمه پوهه چې بايد حاصله يې کړو دا ده چې د ماشومانو وهل او وېرول، نه يوازې د هغوی اوسنی ژوند ورتريخوي بلکې آينده يې ورخرابوي. رسنۍ، د جوماتونو ملا امامان او معارف وزارت د دې پوهې په خپرولو کې لويه ونډه اخيستلای شي.

د افغانستان د معارف نظام که څه هم وهل او ټکول منع کړي دي خو په عمل کې وینو چې په ښوونځیو کې تشدد روان دی. زموږ هغه ښوونکي یا میندې او پلرونه چې تشدد ورته ډېر بد ښکاري، بیا هم ممکن په دې دلیل تشدد وکړي چې د زورزیاتي د مختلفو بڼو په برخه کې معلومات نه لري. یو ماشوم ممکن په دې شي لا ډېر وځورل شي چې پلار یې مور ته څاپېړې ورکوي. یو زده کوونکی شاید تر وهلو د استاد په سپوونکې خبره ډېر وځورېږي. د زده کوونکي درول او ورپورې خندل تر وهلو هم بدې نتیجې لرلای شي. زموږ په معارف کې یو بل ډول تشدد دا دی چې زده کوونکي په خپل منځ کې یو بل وهي. د تفریح په ساعت کې یا کور ته د تگ راتگ په لاره کې ممکن پیاوړي ماشومان کمزوري ماشومان ووهي، ټېله یې کړي او ویې ځوروي. زموږ د معارف نظام باید د تشدد دې اړخ ته هم پام واړوي او هغه لارې چارې وسنجوي چې د ماشومانو د خپل منځي تشدد له کمېدو سره مرسته کوي.

تشدد تر هر چا زیات په ماشومانو باندې بد اثر کوي او د ماشومانو مشکل دا دی چې د خپل درد د بیانولو وس ورسره نشته. د ټولگیو هغه زده کوونکي چې تر نورو کشران او کمزوري دي، ممکن هره ورځ وځورول شي. دغه ماشومان داسې گڼي چې د دوی ځورېدل او ربړېدل د ژوند عادي چاره ده. دوی په ژوند او معارف او زده کړه کې د ښکلا په ځای بدرنگي ویني او دا امکان شته چې ټولنې او انسان ته بدبیني یې د راتلونکي خوی او خصلت برخه وگرځي. موږ ټولو په هغو کسانو باندې بد وویل چې څو ورځې له مخه یې د پغمان په لاره کې بوږنوونکی جنایت تر سره کړ[۱] خو دا پوښتنه مو له ځانونو ونه کړه چې انسان ته دومره بدبین او په ټولنه کې دومره بې رحمه وگړي ولې پیدا کېږي؟

د ۱۳۹۳ سنبله

[۱]- د ۱۳۹۳ په اوړي کې څو کسه جنایتکار د قتل، قطاع الطریقي او جنسي تجاوز په تور ونیول شول چې د خلکو سخته غصه یې وپاروله.

# د شیطان کور

که د دوو کسانو جنګ وي او یو بل په سوکانو سره وهي، ډېر نور به ووینئ چې سیل ته یې ولاړ وي. دغسې صحنې کابو هره ورځ په خپل هر ښار کې لیدلای شو. ایا د نورو د بد حالت ننداره خوندوره وي او که زموږ په ښارونو کې د وزګارو کسانو شمېر زیات دی چې د وخت اړولو لپاره وهلو ټکولو ته درېدا هم ښه ورته ښکاري؟

زما په نظر دا دواړه خبرې شته. انسان له بده مرغه هغومره هم انسانیت ته وفادار نه دی لکه څومره چې یې دعوه کوي. دا یوازې د دوه زره کلونو پخوا زمانې رومیان نه وو چې د غلامانو د جنګ او سره وژلو تماشې ته به ناست وو بلکې اوسني هم د ګاونډي په ملک کې یا د ګاونډي په کور کې د جنګ، تباهي او ناکراري کیسې په خوند خوند اوري.

حضرت عمر فاروق( رض) فرمایلي دي چې د وزګاره انسان دماغ د شیطان کور وي. کله چې په کار بوخت یو، د منفي فکرونو لپاره چندان وخت نه پیدا کوو، خو چې کار ونه لرو، منفي فکرونه او عادتونه مو په ذهن کې په اسانۍ سره ځاله کوي. دا خبره چې وایي له بېکاره خدای بېزاره، د ژورې تجربې زېږنده ده. وزګار اوسېدل مو ممکن د نورو په کار کې کار لرلو او غیبت کولو ته وهڅوي او څوک چې ډېره موده غیرفعاله تیره کړي، د حقارت ځوروونکی احساس یې پیاوړی شي او د نورو له سپکاوي او ځورېدلو څخه د خوند اخیستلو خطرناکه ناروغي ورپیدا شي.

د پخوانو دا خبره هم په سرو زرو ارزي چې تر بیکاري بیګاري ښه ده. په بیګاري کې به مادي ګټه نه وي مګر څرنګه چې ناوړه عادتونو ته پکې وخت نه وي، نو د شخصیت د زوال مخه پکې نیول کیږي.

په بیوزلو ټولنو کې د وزګارو کسانو شمیر نسبتا زیات وي او زموږ ټولنه هم د وزګارتیا له مشکل سره لاسوګریوان ده. د دې لپاره چې د خپلې مادي او معنوي کامیابي چانس ډیر کړو او ذهني سکون ته ورسیږو، پکار ده چې ځان خامخا بوخت وساتو. ځان بوخت ساتل مو مهارت زیاتوي، له بدبیني مو ژغوري او د لا مناسب کار د موندلو چانس را ډیروي. په ځوانۍ کې یو وخت بېخي وزګاره وم. د غم د غلطولو لپاره مې د یوه کتاب ترجمې ته ملا وتړله. څو میاشتې وروسته چې په یوه اداره کې کار راته پیدا شو، د هماغې وړیا ترجمې د تجربې برکت راورسېد او په اسانۍ سره مې ترقي وکړه. درې، څلور لسیزې پخوا په افغانستان کې په زرګونو ځوانان د خپلو سیاسي نظریو په وجه بندیان شول. د زندان سختو شرایطو دوی داسې وځبل چې اکثره یې تر اوسه پورې لا په روحي لحاظ عادي حالت ته نه دي ستانه شوي، مګر ځینو یې د بند له کلونو د خپلو معلوماتو د زیاتولو، د ژبو د زده کولو او د مهارتونو د حاصلولو لپاره استفاده وکړه. زموږ د هیواد نامتو ناول لیکونکی او ژورنالیست عبیدالله محک له همدغو کسانو څخه دی.

که لټ نه شو او که وارخطا نه شو، چارې به خامخا سمې شي او له دې حالته به راووځو چې یا به جنګ کوو او یا به د نورو د جنګ په ننداره کې خوند لټوو.

د ۱۳۹۳ ژمی

دویمه برخه :

# ادب او فرهنگ

# ادبیات څه ته وايي؟

زموږ په ژبو کې د (ادبیات) کلمه پخوانه وه، ډېر امکان شته چې دا کلمه په وروستیو پېړیو کې له اروپايي ژبو سره د بلدتیا او له هغو ژبو د ژباړې په نتیجه کې جوړه شوې وي.

که د (ادب) کلمې ته راشو، له هغې مو پخوا د داسې ښوونې او روزنې مانا اخیسته، چې د انساني فضایلو له څلولو سره مرسته کوي.

حمید مومند وايي :

نازولی زویه نه اخلي ادب
او د سیوري نخل نه نیسي رطب

یا :

په زړه مهر په خوله قهر زوی ته بویه
څه ښه وايي چېرته دېب هلته ادب

دغه کلمه په انساني فضایلو کې په تېره بیا د شرم او حیا په معنا ډېره راغلې ده، دا هم د حمید مومند وینا ده:

ورک له ما شرم و ادب کا
د خپل یار شرم و ادب

یا :

چې څښتن ګنې حاضر بد کړې حمیده!
نشته تا غوندې بې شرم و بې ادب

د ادب له کلمې اوس هم هغه معنی اخلو چې حمید مومند یا نورو پخوانیو اخیسته، البته نن سبا یې د ادبیاتو په معنی هم استعمالوو، نن سبا وایو: ادبي اثار، ادب پوهنځی....

ادبیات یا ادب په وروستۍ معنی د انګلیسي ژبې د Literature معادل ګڼو، لټریچر (ادبیات) داسې معنی نه لري، چې ټول ورباندې سلا وي.

له لټریچر څخه منظور ممکن ټول چاپي اثار وي، په پښتو کې هم (د ډېورنډ لاین بلې غاړې ته) د مارکسیسټ لټریچر یا اسلامي لټریچر په څېر عبارتونه لرو، چې دلته لټریچر په ذکر شوې ساحه کې د ټولو چاپ شویو لیکنو په معنی راغلی دی.

که له ادبیاتو د ټولو چاپ شویو لیکنو معنی واخلو، بیا خو په ادبیاتو کې د بشر کابو ټوله پوهه راځي. د رحمان بابا دیوان او د افغانستان اساسي قانون څه توپیر سره لري؟ د دې تعریف بل عَیب دا دی چې شفاهي ادب پکې نه شاملېږي.

د ادبیاتو په یو څه محدود تعریف کې د لوړ کیفیت لرونکي ټول اثار ادبیات بللی شو. له لوړ کیفیته منظور د سبک او طرز ښه والی دی، یا د مضمون او محتوا لوړ والی او یا دواړه؛ په دې حساب د لویو مفکرانو، فیلسوفانو او مورخانو اثار هم ادبي اثار دي.

موږ په پښتو کې د ادبي اثر لیکونکي ته لیکوال یا شاعر وایو، په پوهنتون کې استادان د علمي رتبې د ترلاسه کولو له پاره لیکنې کوي، خو ځینې استادان لیکوال ګڼو، ځینې نه ګڼو، دا ولې ؟ هغه څوک چې د سبک په لحاظ بهتره لیکنه کولای شي، لیکوال یې بولو. ممکن دی د ادبیاتو استاد نه وي، د حقوقو یا اقتصا استاد وي. د ادبیاتو په باره کې دغه تصور د ادبیاتو له دویم تعریفه زیږېدلی ښکاري. د دویم تعریف یوه ستونزه دا ده چې اول به دا معلوموو چې کوم اثار (لوړ کیفیت) لري، ممکن یو وخت یو اثر د لوړ کیفیت لرونکی وبولو، بل وخت یې ونه بولو. همدا څلوېښت پنځوس کاله پخوا په افغانستان کې د ادبي ټوټو ادبي ارزښت ستایل کېده، خو بیا وروسته داسې نه وه. څو پېړۍ پخوا به لیکوالو په مصنوع نثر ویاړ کاوه، هنر یې باله، او اوس ورنه منکر غونډې یو. له بلې خوا دویم تعریف هم د مختلفو علومو او په بېلو،بېلو مقصدونو لیکل شوي اثار

په ادبیاتو کې شاملوي چې د ادب تاریخ د لیکلو په وخت کې یا د ادبي ژانرونو د معرفي کولو په کار کې ستونزې راولاړوي او ګډوډي رامنځ ته کوي.

د درېیم تعریف پر اساس یوازې تخییلي اثار ادبیات بلل کیږي. دغه تعریف د دویم برخلاف، توصیفي اړخ لري، نه ارزښتي او دا یې امتیاز دی، یعنې دلته ضرورت نه شته چې اثار په ښه او بد ووېشو او بیا د ښه کیفیت والو ته ادبي ووایو، دا نورو ته پل خه د درېیم تعریف له مخې د شعر او داستان بېلابېل ژانرونه په ادب کې شامل دي. د تخییلي اثارو په ادبي والي کې هېڅوک شک نه کوي، دا د وروستي تعریف بل امتیاز دی.

د دې له پاره چې د ادبیاتو ماهیت وپېژنو او په اصطلاح روح ته یې ورننوځو شو، بهتره ده د تخیلي اثارو او نورو لیکنو د سبک او ژبې توپیر ته پام وکړ، ځینې مهم توپیرونه یې دا دي :

۱ - په ادبي سبک (یا ژبه) کې څه ویل ؟ ?What is said دومره اهمیت نه لري لکه څنګه ویل ?How it is said?. دا یوه معمولي خبره ده چې اولادونه له میندو او پلرونو سره همېشه نه اوسي، خو درویش دراني ته ځکه په درنه سترګه ګوور، چې په (څنګه ویلو؟) کې کمال کوي:

له خپلې موره رخصت غواړي هغه ځوان او وایي
خوشبویي نه وي تل ترتله په قبضه کې د ګل

۲ - عادي او علمي ژبه د صدق او کذب په تله تلو، خو ادبي ژبه په دې تله نه تلل کیږي. کله چې عالم ووایي، چې سږ کال به په پلانۍ نېټه، په دومره بجو او دومره دقیقو لمر تندر نیسي، نو زموږ توقع دا وي، چې دوی باید رښتیا ویلي وي، خو که د کیسې لیکوال ولیکي چې احمد په حبیبیه لیسه کې ښوونکی وو، موږ د دې خبرې په رښتیاوالي پسې نه ګرځو. علمي ژبه ارجاعي وي، یعنې یو بهرني واقعیت ته باید اشاره وکړي، خو ادبي ژبه مجبوره نه ده، چې له بهرني واقعیت سره سمون ولري.

۳ - په علمي او عادي ژبه کې هڅه کېږي چې هر دال يو مدلول ولري، يعنې هره کلمه ايکي يوه معنا ولېږدوي، خو ادبي ژبه غواړي چې يوه کلمه يې څو معناوې وشيندي، په لنډيو کې اورو :

پاس په کمره ولاړه ګله

نصيب د چا يې اوبه زه درخېژومه

د دې لنډۍ له کلمو بېلې،بېلې معناوې اخيستلای شو.

۴ - په عادي او علمي ژبه کې دال نه، بلکې مدلول اهميت لري، خو په ادبي ژبه کې د دال له اهميته هم انکار نه کېږي. که په کيميا کې مو اوبو ته $H_2O$ نه، بلکې بل څه ويلای، په دغه علم يې اثر نه کاوه، خو په پاسنی لنډۍ کې که مثلاً د (درخېژومه) پر ځای (دروړمه) وای، نو معنا به خاص فرق نه وکړی خو لنډۍ به لنډۍ نه وه، ځکه وزن يې ماتېده. په علمي او عادي ژبه کې د ادبي ژبې برخلاف د کلمې شکل او موسيقي اهميت نه لري. د استاد الفت د دې جملې: چې اباسين اباسين بولې، د هغوی يو ابا دی؛ ادبي اهميت تر ډېره حده د ( ابا) د کلمې په شکل کې دی. دغه راز له ادبي نثره توقع کيږي چې تال او اهنګ يې له موضوع او مقصد سره تناسب ولري.

۵ - علمي ژبه ښووندويه وي او ادبي ژبه پارندويه. علمي ژبه غواړي يوه بهرنی واقعيت ته اشاره وکړي، له يو څه مو خبر کړي، خو ادبي ژبه غواړي ومو پاروي، اثر را باندې پرېباسي.

٦ - علمي ژبه د کلياتو بيان ته تمايل لري خو ادبي ژبه د جزياتو بيان ته مايله ده او معمولاً تصويري وي.علم وايي چې اوبه په سل درجې تودوخه کې په براس بدليږي، خو د کيسې ليکوال ممکن وليکي، چې : « چايجوش مې په اور ايښی و، اوبه اېشېدلې، براس ورنه خوت.»

دا ضرور نه ده چې د ادبياتو ذکر شوې نخښې په هر ادبي اثر کې ټولې رانښکاره شي او يا د ادبي ژبې او نورو ژبو ترمنځ ټول توپيرونه هر چېرته ووينو. بيوګرافي، اتوبيوګرافي او سفرنامه ادبي ژانرونه ګڼو او د ادبي ژبې اکثره نخښې پکې شته، مګر

تخييلي نه دي او د صدق او کذب په تله تلل کېږي. دغه راز د دعوو يو وکيل ممکن ډېره پارندويه ژبه ولري خو د ادبياتو مورخ يا کره کتوونکي ته به مشکله وي چې د هغه ليکنه ادبي اثر وګڼي، ځکه د وکيل نيت دا نه دی چې ادبي اثر وليکي، هغه غواړي له خپلې ليکنې موقته او عملي استفاده وکړي. د ادبي اثر ليکونکی معمولاً غواړي د هرې زمانې په لوستونکي باندې د بې غرضه ښکلا خوند وڅکي، خو نور ليکونکي له خپلو اثارو عملي مقاصد لرل او نيت يې دا نه وي چې ادبيات وليکي.

تردغه ځايه بحث موږ دې نتيجې ته رسوي چې د ادب جامع و مانع تعريف اسانه خبره نه ده. دلته ډېرې ستونزې شته، البته له دغو ستونزو خبرېدل له موږ سره مرسته کوي چې د ادبياتو ماهيت لا ښه وپېژنو او د ادبي او غير ادبي اثر په توپير کې مو تېروتنې کمې شي.

ادبيات علمي اړخ هم لري. هغه پوهنه چې د ادبياتو په باره کې بحث کوي، له هنري ادبياتو بېله ده. د ادبياتو علمي برخه په دريو لويو څانګو ويشل کېږي: د ادبياتو تيوري، د ادبياتو تاريخ او د ادبي اثارو کره کتنه.

که زه په دې بحث کوم چې (الف) او (ب) ادبي اثار دي که نه دي؟ دا بحث تر ډېره د ادب له تيوري سره تعلق لري؛ که په دې بحث کوم چې (الف) ښه اثر دی که (ب) دا تر ډېره حده له کره کتنې سره تعلق لري او که په دې غور کوم چې اول (الف) وليکل شو که (ب) دا تر ډېره حده د ادبياتو د تاريخ بحث دی.

د دغو دريو څانګو توپير د پاسني مثال په اندازه ساده نه دی. د ادبياتو مورخ طبعاً ټول اثار او ليکوال په خپل کتاب کې نه معرفي کوي. ايا دغه انتخاب په خپله کره کتنه نه ده؟ ايا د ادبياتو د تاريخ دا بحث چې (ب) اثر له (الف) اثره متاثر دی او اول (الف) اثر ليکل شوی دی، بيا (ب)،له کره کتنې بېلولای شو؟

۱۳۸۶

# د اثر ادبیت

د شلمې پېړۍ نامتو مفکر او عالم برترند راسل ویلي دي چې:« شکسپیر هیڅکله د دې لپاره څه ونه لیکل چې د ښوونځي ماشومان په تکلیف کړي، بلکې ده د خپلو لوستونکو د خوشحالولو لپاره لیکنې کولې. که چېرې د شکسپیر له لیکنو خوند نه اخلئ ، مه یې لولئ».

له هنر څخه استفاده همېشه بې زحمته نه وي بلکې د معلوماتو یوه سویه او تربیت شوی ذوق غواړي. موږ که غواړو د ادب له یوه شهکاره خوند واخلو ، اول به سواد زده کوو، بیا به په یو څه لغتونو او اصطلاحاتو ځان پوهوو او بیا به په ساعتونو ساعتونو لوستلو ته وخت ورکوو چې اثر تر پایه ولولو او خوند ورنه واخلو. له هنري اثره استفاده کول په دې ارزي چې یو څه زحمت په ځان تېر کړو. د شهکارونو لذت او اغیز له کلونو وروسته هم تر یوه حده پورې له موږ سره وي. د تېرو کلونو یو مادي خوند یوازې یوه مجرده خاطره وي چې اکثره وخت د حسرت سبب کېږي خو په تېرو کلونو کې لوستی شهکار اوس هم راسره وي او له موږ سره اوسي.

د ډېرو عادي لذتونو لپاره هم بنیادم یو څه زحمت ته مجبورېږي. له ادبي اثره خوند اخیستل په دې ارزي چې یوڅه کړاو وګالو. زه اکثره وخت دوستانو په زور له ښاره ایستلی او مېلې ته بېولی یم، ځکه د موټر د مزل حوصله یې راسره نه وي خو د سفر او مېلې په پای کې خوشحاله راستون شوی یم.

البته، د برترند راسل خبره له دوو جهتونو سمه ده. یو دا چې ادبي اثر په اصل کې د نورو د کړولو لپاره نه بلکې د لذت لپاره لیکل کېږي. هغه لیکوال چې خپلې خبرې ډېرې مهمې ګڼي او له لوستونکو توقع لري چې د ده په خبرو د پوهېدو لپاره دې خامخا ځانونه په تکلیف کړي، اشتباه کوي. ادبي اثر د بل هر هنري اثر غوندې

باید خوندور وي او تر وسه وسه په داسې انداز لیکل شوی وي چې لوستونکی ورڅخه په اسانۍ سره استفاده وکړي.

بله دا چې د ادبیاتو د زده کړې په وخت ډېر ځله د ادبي اثر په پېچلیو اړخونو دومره زیات تاکید کېږي چې د تدریس لپاره د آثارو په انتخاب کې خوند او ښکلا نه بلکې پېچلتیا په اصلي معیار بدلېږي. د افغانستان د معارف کتابونه زموږ د دې ادعا ښه مثالونه دي. اکثره هغه لیکنې چې د ادبیاتو په تدریسي کتابونو کې راغلي دي، یوازې نادر لغتونه، مشکل تعریفونه او پېچلي معلومات پکې وي، نه خوند او ښکلا. یو لوستونکی که د ادبي اثر ښکلا درک نه کړي، که نور یې ټکي په ټکي هم زده کړي، ده به ادبي زده کړه نه وي کړې. ادبي اثر باید تر هر څه له مخه لوستونکي ته خوند ورکړي او د لوستونکي ذوق وروزي. هر هغه اثر چې ذوق ورسره روزل کېږي او ادبي خوند پکې شته، ادبي ارزښت او ماهیت لري. خو زموږ د معارف او پوهنتونونو په تعلیمي کتابونو کې د خوند او ښکلا عنصر ته لازمه توجه نه کېږي. حقیقت دا دی چې د معارف او پوهنتون په لړو تدریسي متنونو کې خوند او ښکلا شته او داسې موارد کم دي چې زده کوونکی د تدریسي کتاب یو متن په خوند ولولي. که دغه خوند احساس نه شي، په حقیقت کې زده کوونکي ادبي تجربه نه ده کړې او د ادب په نوم یې بل څه لوستي دي.

د دې لپاره چې په پوهنتونونو او ښوونځیو کې مو ادبي کتابونه واقعا ادبي شي او ګټه یې ورسېږي، دوو ټکیو ته پام پکار دی: یو دا چې دا خبره باید سپینه شي چې یو اثر که خوند ونه لري او ښکلا پکې نه وي، هغه به هر څه وي خو د ادبي اثر نوم ورسره نه ښایي. بله دا چې د ادبي اثر د انتخاب لپاره دې خامخا له باذوقه کسانو استفاده وشي او له هغو کسانو سره دې مشوره وشي چې ادب په واقعي معنا پېژني، له ادبیاتو سره ژوند کوي او د ادبي آثارو د ایجادولو یا کره کتنې واقعي استعداد لري.

۱۳۹۳

# ذوقونه بدلېږي

زه چې مهاجر کېدلم په هغه وخت کې په افغانستان کې د ادرس کلمه یوازې د پتې په معنا وه مگر وروسته یې په وطن کې د لوستو کسانو په ژبه کې نورې معناوې هم پیدا کړې . اوس اورو چې مثلا ، پلاني د ولسي جرگې له ادرسه وویل ، یا ، پلاني د معارف وزیر په ادرس دا خبره وکړه. زه په تېرو څو کلونو کې ورو ورو له گڼو هغو کلمو سره عادت شوم چې ما تر مهاجرکېدو له مخه نه وې اورېدلې . البته ، د ادرس د نوي استعمال په شمول ځینې دغه کلمې مې تر اوسه لا ذهن و ذوق نه دي منلي.

یو شمېر کسان د منلو او نه منلو بحث له سموالي او نا سموالي سره غوټه کوي خو حقیقت دا دی چې له زړهٔ او ذوق سره هم تعلق لري. په نویو مودونو پسې معمولا زلمي ډېر گرځي. د ډېر عمر تر کسانو د کم عمر کسان په ژبه او ادب کې تغییر په اسانه مني . یوه ورځ یوه مشر استاد راته وویل چې د (روغتیایي ) کلمه یې په غوږونو بده لگېږي. ما چې فکر وکړ ، علت یې دا و چې د روغتیا کلمه یې په ځوانۍ کې اورېدلې او منلې وه مگر ( روغتیایي ) وروسته عامه شوې وه او دهٔ ته یې اوس منل سخته وو.

دغه راز، په یوه کلچر کې چې تغییرات راځي ، په تغییراتو باندې ممکن هغه څوك ډېر شکونه څرگند کړي او عیبونه پکې ومومي چې د نوموړي کلچر په باره کې زیاته مطالعه او تجربه لري . زیاته پوهه بنیادم احتیاط ته وربولي او گامونه ورټکني کوي.

په دیارلس سوه شپېتمو کلونو کې په افغانستان کې لیکنۍ پښتو ډېر نوي لغتونه خپل کړل. په دغه بهیر باندې د ادب هغو استادانو ډېره نیوکه وکړه چې

په شپېتمو کلونو کې په وطن کې نه اوسېدل. پوهاند ډاکتر تړی په پښتو نثر او ژبپوهنه کې د لوی نوم ځښتن دی . دی چې د پاخهٔ عمر کلونه یې په امریکا کې تېر کړل ، د دغو نویو لغتونو منلو ته هیڅکله تیار نه شو. د سرچینو اوبه ممکن په اوله کې هرې خوا ته وبهېږي خو وروسته بیا خپل بستر مومي او د سین غېږه په اسانه نه پرېږدي.

کله چې زمانه بدلېږي ذوقونه هم بدلېږي او موږ چې د تېرو خلکو ذوقونو ته ګورو نو ممکن فکر وکړو چې زموږ د زمانې منلی ذوق تر نورو بهتره دی خو دغسې فکر له خودخواهي او خوشبیني خالي نه دی. موږ اوس د پخوانی شاعري په ګڼو صنعتونو او تمایلاتو کې ښکلا نه وینو مګر که پخواني په بد ذوقی تورنوو ، دا به بې انصافي وي. زموږ د وخت شاعران دغسې الفبایي تشبیهاتو ته چې علي خان راوړي دي، مایل نه ښکاري:

دا محراب دی که لینده ده ، یا خو دال یا سر د جیم دی
یا د وړکي اختر میاشت ده یا ابروی د دلربا دا
دا الف دی که شمشاد دی ، یا خو نخل د مراد دی
یا دا قد یا ګلدسته ده ، یا خو سروه ده بالا دا
دا دي خوله که سرچشمه ده د حیات ، که ښکلی میم دی
یا دبلی دی د یاقوتو یا طوطي دی شکر خا دا

په پخوانو شاعرانو کې به داسې کس کم وي چې د لیك او الفبا شکل د معشوق حسن نه وي وریاد کړی . د علي خان په څېر د دوه درې سوه کاله پخوا یو بل لوی شاعر محمدي صاحب زاده وایي:

پیچ و خم د باریك خط د یار په مخ دی
که په کرښه باندې وینم زیر و زور پروت

په تېرو وختونو کې زموږ په کلچر کې رسامي ته په ښه سترګه نه کتل کېدل او د رسامی د هنر محکومیت د سترګو تنده پیدا کوله . د الفبا د توریو

په ښکلا پورې زړهٔ تړل د دې تندې د ماتېدو يوه لاره وه. اوس چې دنيا له انځورونو ډکه ده ، د سترګو خوږولو ته ډېرې لارې پرانيستې دي . اوس د الفبا د توريو په حسن کې دومره زور نه دی پاتې چې د ميم سر دې د حيات د چينې سيالي وکړي. د معاصرې زمانې تحولاتو په هغه بل خط کې هم چې د زلمکو په مخ راټوکېږي، پخوانی اغېز نه دی پرې ايښی . د اوس وخت هيڅ شاعر په کاغذ باندې ليکل شوي خط يا په مخ باندې راغلي خط ته د پخوانو په اندازه نه دی ځير شوی . په اجتماعي نظام کې بدلون د ذوقونو د بدلانهٔ تر ګردو لوی عامل دی.

هر نوی مود په اوله کې د خندا ښکاري خو ورو ورو سترګې ورسره عادت شي او د خندا منبع د ښکلا منبع شي. موږ ممکن په واقعا بد رنګو شيانو هم عادت شو او بدرنګي پکې ونه وينو . زه که څه هم د ادرس د کلمې په نوي استعمال کې بدرنګي وينم مګر د يوه شي بيا بيا ليدل او اورېدل د عادت سبب کېږي . دا ممکنه ده چې د ادرس له نوي استعمال سره عادت شم او دا هم ممکنه ده چې تر اخره ورسره مخالفت وکړم څکه معمولا دا زموږ دلايل نه وي چې زموږ خوښه جوړوي بلکې دا زموږ خوښه وي چې دلايل ورته جوړوو.

۱۳۸۷

# د ويسا د لسمې کالېزې په پلمه

زړه مې غوښتل د ويسا ورځپاڼې د لسمې کالېزې د پيل په بختوره لمانځغونډه کې خبرې وکړم او خبرې واورم خو ونه شوه. داسې ګڼم چې يو پور راباندې دی او په دې اړه که څه ونه ليکم، بې انصافي به مې کړې وي. که ويسا يو جسم وبولو، روح يې زبير شفيقي دی. زه غواړم په روح باندې څه ووايم. د بلخ د مولانا قول دی چې: جسم همچون آستين جان همچو دست.

موږ نن سبا ډېر کسان د استاد په لقب لمانځو. زه خو وايم چې دا لقب که په ژورناليستانو کې له چا سره ښايي نو هغه ښاغلی شفيقي دی. ده تر بل هر افغان ليکوال ډېرې سرمقالې ليکلې دي او تر بل هر افغان ژورناليست يې ډېره موده ورځپاڼه چلولې ده؛ هغه هم غيردولتي او غيرګوندي ورځپاڼه چې کابو ټول فشار يې معمولا په ايکې يوه کس وي.

زه شفيقي صاحب ته په دې وجه د استاد په سترګه نه ګورم چې په مطبوعاتي ژورناليزم کې يې تر بل هر چا ډېر کار کړی دی. ما ته دی ځکه استاد ښکاري چې کار يې معيار لري. شفيقي صاحب هم خبره لري او هم د خبرې د رسولو په هنر پوهېږي.

اکثره خلک د هغو کسانو تعريفونه کوي چې فکرونه يې سره ورته وي. خو زه ګومان کوم چې زما او شفيقي صاحب د فکر دايرې بېلې دي. دی په خپلو ليکنو کې معمولا پردي ملامت ګڼي او زموږ په بدمرغيو کې د اجنبيانو پټې دسيسې ويني خو زما بيا د خپل پلار دا خبره ډېره زړه ته لوېږي چې:

خپله زخم خپله تير يم د ويشتلي
ځکه سر تر پايه وير يم د ويشتلي

د فکري دايرو له احتمالي ايلوالي سره سره شفيقي صاحب تر ډيرو هغو کسانو په راياندي لګيږي چې ګومان کوم د خداى دنيا هاغسې ورښکاري لکه دانه چې راښکاري. داسې ځکه شوي دي چې شفيقي صاحب دوه لوى کمالونه لري، يو کمال يې دا دى چې نهايت مودب انسان دى، دى هغه چا ته چې دښمن يې ګڼي، هم سپکه خبره نه کوي. د شفيقي صاحب په وينا او قلم کې اخلاص يو بل کمال دى چې د هغه په خبرو او ليکنو کې يې تاثير زيات کړى دى.

په ډيرو کلونو کې دوه ځله محصلانو رانه غوښتنه کړې چې په خپلو مونوګرافونو کې د شفيقي صاحب په باره کې خپل نظر ورته وليکم. يوه محصل ته مې وليکل:

« که څوک له ما وپوښتي چې د ژبير شفيقي نوم کومه کلمه يا کلمې در تداعي کوي، نو زه به ووايم چې : يو عظيم کوښښ.

زه څو ويشت کاله کيږي چې شفيقي صاحب پيژنم او چې هميشه يې رايادوم، د کار او فعاليت په حالت کې رايادېږي. شفيقي صاحب د افغانستان ژورناليزم او پښتو نثر ته ډير څه ورکړي دي. د ده نثر واضح او روان دى. جملې يې نسبتا لنډې دي او په ليکنو کې يې بې ځايه اطناب نه وينو. د شفيقي صاحب په نثرونو کې ډير ځله د طنز مالګه هم شته خو نهايت مودب انسان دى او ډير کوښښ يې دا وي چې څوک ورته تحقير يا توهين نه شي. د موضوع په لحاظ يې نثر تر ډيره حده د خلکو او وطن د محسوسو او ورځنيو مسايلو بيان ته بيل دى.

موږ په خپل هيواد او خپله ټولنه کې د معلوماتو د ټولولو او د احصاييو د اخيستلو دقيق سستم نه لرو او بلکې غير دقيق يې هم نشته، ځکه خو ځينې خبرې په داد سره نه شو کولاى. زما په ګومان شفيقي صاحب د افغانستان تر بل هر ليکوال ډيرې سرمقالې ليکلې دي او د پښتو تر بل هر ژباړن يې ډير

ناولونه ژباړلي دي. د ده ژباړلي ناولونه څو، څو ځله چاپ شوي دي. ما په اوسني کهول کې له ادبياتو او ليکوالۍ سره اشنا ډېر ځوانان ليدلي چې د شفيقي صاحب په قلم ژباړل شوي ځينې يا ټول ناولونه يې لوستي دي. د ده د ژباړې هم ډېره ستاينه کيږي. زه باور لرم چې په تيرو شلو کلونو کې د پښتو نثر په انکشاف کې د شفيقي صاحب هغومره برخه ده، لکه نيمه پيړۍ پخوا چې د ستوريو وه. شفيقي صاحب زموږ د وخت ستوری دی. خدای دې يې ځلاند لري.

البته، که شفيقي صاحب يوه کرښه هم نه وای ليکلې، ما ته به ستوری ښکاريده او دا ځکه چې د ۱۳٦۴ کال د اوړي يو ماښام مې يادېږي. په لاهور کې وم. هغه وخت په لاهور کې د شرکت پريس په نوم يوه مطبعه وه چې ګڼو مهاجرو افغانانو به خپلې ليکنې هورې چاپولې. د مطبعې په شاتنۍ کوټه کې مې د ماښام په تياره کې يوځوک وليدل چې په موسله ولاړ و، لمونځ يې کاوه او ژړل يې. دغه يوازې ولاړ کس زبير شفيقي و. علامه اقبال فرمايلي دي : د زړه يوه ذره درد د افلاطون تر حکمت، د دارا تر شوکت او د فريدون تر دبدبې زيات دی.»

او هغه بل محصل ته مې وليکل چې:

« شفيقي صاحب د اردو ژبې د محبوب ناول ليکونکي نسيم حجازي څو ناولونه پښتو کړي چې ځينې يې ما لوستي دي.نسيم حجازي په اردو ادب کې د عربو د جرجي زيدان غوندې يو څوک دی. زيدان دوه ويشت عنوانه تاريخي ناولونه ليکلي دي چې د اکثرو موضوع يې د اسلام له زرين دوران سره تعلق لري. ما د شباب په کلونو کې د ده کابو نيم ناولونه چې په فارسي ترجمه شوي وو، لوستي وو. په ناولونو کې يې د رومانتيکې مينې اتلان، جنګي قهرمانان، زاهدان، د صلح کل پلويان، د عربو او اسلامي دنيا د صحراګانو منظرې او په صحراګانو کې زړه پالې واحې وينو. د مروې، بصرې، بغداد، فسطاط او قيروان غوندې پخوانو ښارونو مينې مې د همدې ناولونو له لارې په زړه کې ځاله کړې

ده. د مسلمانانو د تاریخ د زرین دوران دغه ښارونه اوس هم کله کله په خوب وینم او د زرکاله پخوا وخت په کوڅو کې یې ګرځم.

زیدان په ۱۹۱۴ کې وفات شو. نسیم حجازي په همدې کال دنیا ته راغی. حجازي څو دېرش کلن و چې هند براعظمګی وویشل شو او دی اوسني پاکستان ته په کډه لاړ. زیدان عیسوی و خو د اسلام او عربو په تمدن او تاریخ یې زړه بایللی و او په ناولونو کې یې یولوی کوښښ دا دی چې مسلمانان او عیسایان له یو بل سره نږدې شي. حجازي په بله ټولنه او بله زمانه کې اوسېده. ده له دې سره دلچسپي لرله چې خپل لوستونکي په دې قانع کړي چې مسلمانانو عظیم تمدن او د اخلاقو او میړانې اتلان لرل. د حجازي ناولونه د پلاټ او جوړښت په لحاظ د زیدان تر ناولونو بهتره ښکاري خو له هر قام او د هرې عقیدې له خلکو سره د مینې پیغام د زیدان په ناولونو کې پیاوړی دی.

که راشو د شفیقي صاحب کار ته. زما په خیال په ژباړه کې ډېر کامیاب دی. یو ژباړن هغه وخت لویه کامیابي تر لاسه کولای شي چې د مبدا ( دلته اردو) او مقصد ( دلته پښتو) په ژبو ښه پوه وي، د مقصد په ژبه کې د لیکلو ښه تجربه ولري، د ژباړې له موضوع سره په کافي اندازه اشنا وي او بالاخره له موضوع سره مینه ولري. دا د پښتو ژبې او نسیم حجازي نیکمرغي وه چې د هغه د ناولونو ژباړې ته داسې چا اقدام وکړ چې دا ټول شرایط یې لرل.»

د افغانستان په ادب او ژورنالیزم کې د استاد شفیقي نقش د یوې مقالې نه بلکې د یوه سیمنار موضوع ده.

د ۱۳۹۴ ثور

# د حنان بارکزي دوه بیتونه

د حنان بارکزي د شاعري اکثره ښه بیتونه هغه دي چې د مدعا مثل صنعت پکې راغلی دی. یو وخت مې ( د حنان بارکزي مدعا مثلونه) په نوم یوه مقاله ګی ولیکله چې د حنان د هنر اصلي اړخ پکې معرفي شي خو یوه خبره مې په زړه غوټه پاتې شوه او هغه دا چې د حنان بارکزي د دیوان دوه بیتونه چې د هغه تر نورو ګردو بیتونو مې زیات خوښېږي، په ذکر شوې مقاله کې ځای نه شول، ځکه د مدعا مثل صنعت پکې نه و.

د حنان یو هغه بیت چې ډېر ښه راباندې لګېږي، دا دی:

که هر څو میخانې غواړم نه یې مومم
هغه می چې په پیاله کې د ځوانۍ وو

متل دی وایي ، خواږه د لوښي له مخه خوړل کېږي. می هم د ځوانۍ په پیاله کې خوند کوي.

د حنان بل بیت چې ډېر ښه راباندې لګېږي، له مکتب سره تعلق لري. حنان وایي:

زړه مې ستا له لاسه هر ساعت خراب دی
لکه وکه په مکتب کې مرغه ځاله

د میرزا حنان په دیوان کې د مکتب ذکر څو ځایه نور هم شوی دی.په مکتب کې ممکن مرغه ځاله وکړي خو دا ځاله به د ماشومانو له لاسه ورانه ویجاړه وي.

میرزا حنان بارکزی د کندهار د سیمې د نولسمې پېړۍ شاعر دی. له لیکوال او څېړونکي عبدالنافع همت څخه مې اوریدلي دي چې قبر یې سپین ږیرو ته معلوم دی. کاشکې ورغیږي او د زمانې د مکتب له ماشومانو خوندي پاتې شي.

د ۱۳۹۳ ژمی

# ادب د ټولنې هینداره ده؟

دغه جمله ډېره مشهوره ده او ځینې خبرې چې مشهورې شي، خلکو ته د کاڼي کرښې ښکاره شي، په حقیقت کې یې شک نه ورپیدا کېږي. کله چې د یوې خبرې په سموالي کې شک ونه کړو، معنا یې دا ده چې په پټو سترګو یې منو.

یوه هغه خبره چې زموږ د لیکوالو او ادیبانو په کړیو کې مشهوره شوه او دومره تکرار شوه چې له شکه ووته، همدا د عنوان جمله ده. موږ دا ومنله چې ادب د ټولنې د هیندارې حیثیت لري او له دې خبرې مو په کره کتنو کې استفاده وکړه. هغه آثار مو وستایل چې د ټولنې واقعیتونو ته پکې اشارې شوې وې.

خو که یو شعر یا داستان په دې خاطر ستایو چې د ټولنې عکاسي یې کړې ده، نو دا کار خو راپورتاژ، تاریخ، یونلیک یا نور ژانرونه چې تخییلي نه دي، لا په دقت او امانت سره کوي. که ادب د ټولنې هینداره وي نو تاریخ او اجتماعي علوم د څه لپاره دي؟

دې پوښتنې ته دا ځواب ورکړ شوی دی چې د ټولنې د واقعیتونو په انعکاس کې د اجتماعي پوهنو او ادبیاتو طریقې بېلې دي. ادبیات همدا کار په ښکلي انداز، په غیرمستقیمه ژبه، په تصویري ډول او په حسي او جزوي طریقه کوي خو علم عقل ته مخاطب دی، نه حواسو ته. علم د قواعدو او کلیاتو بیان دی، خو ادبیات د جزییاتو.

په دغه ځواب باندې دوه اعتراضه کېدای شي: یو دا چې ساینس به د کلیاتو او قواعدو بیان وي خو تاریخ داسې نه دی. دا یوه ساینسي قاعده او کلیه ده چې اوبه په سل درجې حرارت کې په براس بدلېږي مګر تاریخ هیڅوخت

داسې فارمول نه شي راکولای. تاریخ تر ډېره حده د پرله پسې پېښو بیان دی چې ممکن له یو بل سره ژور تړاو ولري یا یې چندان ونه لري. دغه پېښې ممکن یو بل ته ورته وي او ممکن هیڅ ورته نه وي. په یوه ملک کې شاید بېوزلي د خلکو د انقلاب سبب شي او په بل ملک کې به شتمني خلک بغاوت او انقلاب ته وهڅوي. په ایران کې خلکو هغه وخت انقلاب وکړ چې د تېلو بیې تر بل هر وخت زیاتې شوې وې او ایرانیان تر بل هر وخت په ګېډه ماړه وو خو د اکتوبر په انقلاب کې د هغې لوږې لوی لاس و چې د لومړي نړیوال جنګ په وجه پیدا شوې او د روس امپراطوري یې ځبلې وه.

بل اعتراض دا کېدای شي چې که هنر او ادب د ټولنې هینداره وي، نو د هیندارې غوندې یې باید هر شی په اصلي بڼه ښودلای. شاعر دنګه نجلۍ سروه وبولي او ووایي چې سروه مې په ګودر ولیده. نظامي ګنجوي خپل زوی ته وایي چې د شعر په فن باندې کار مه لره چې دلته لوی دروغ لوی امتیاز بلل کېږي.

په دې کې شک نشته چې ادب تر یوه حده پورې د ټولنې په پیژندلو او معرفي کولو کې ګټاربېږي، مګر د ټولنې له هیندارې سره که یې تشبیه کوو، دا به مبالغه او ناسمه خبره وي. ادبي آثار که هینداره هم بولو، ماته هینداره یې باید وبولو. ماتې هیندارې تصویر کټ مټ نه منعکسوي بلکې کمی او زیاتی پکې راولي.

د ۱۳۹۳ منی

# زرغون لښتی

په غیردرسي کتابونو کې مې لومړنی کتاب چې په ژوند کې ولوست، ( ملي هینداره ) و. د ملي هیندارې دې نارې تر بلې هرې یوې ډېر اثر راباندې وکړ او عجبه دا ده چې د وخت په تېرېدو سره یې اغیز کم شوی نه دی:

که بهېږي یو زرغون لښتی بهېږي
دغه سر یې د ادم پر باغ لګېږي
پرې کرلي یې لونګ دي لویه خدایه
لاچي هم پرې زرغونېږي، زرغونېږي

یو لښتی چې د ونو او بوټو د زرغونو پاڼو سیوري یې روڼې اوبه زرغونې کړې دي، د یو باغ په لور بهېږي. دا ښایسته منظره ده او په عین حال کې مرموزه منظره ده،ځکه د بې شمېرو ونو، غنو، بوټو په منځ کې ویاله چې یو بل مرموز ځای یعنې باغ ته رسېږي، هم د پناه او خوندیتوب خوندور احساس راکوي او هم مو تخیل پاروي. په دې ونو، بوټو او اوبو کې به څه رازونه وي؟ کومې مېوې؟ کومې حشرې؟ کوم عطرونه؟...

دا هغه تصور او احساس دی چې د ذکر شوې نارې په باب په ماشومتوب کې راسره وو او اوس هم راسره شته خو د وخت په تېرېدو سره مې په نظر کې دا فرق راغلی دی چې اوس په اوبو کې لا لوی راز او سیمبولزم وینم.

د لرغوني مصر، هند او بین النهرین د خلکو په باورونو کې اوبه سپېڅلې او له رازونو مالامالې دي. د زردشتي عقیدو یوه مهمه الهه ( اناهیتا) د اوبو رب النوعه او ساتندویه بلل شوې ده. ابوریحان البیروني وایي چې په هند کې یې داسې فرقه ولیده چې د اوبو لمانځنه یې کوله.د بین النهرین خلکو عقیده لرله چې اول په دنیا کې یوازې اوبه وې او بیا په اوبو کې ځمکې، اسمانونه او

بنیادمان پیدا شول. اوبو ته د ژوند او خلقت د ابتدا او منشا په حیث په نورو عقیدو کې هم اشارې شوې دي. زموږ په کلچر کې اوبه د ژوند او رڼایي نخښه ده. یو څوک چې په لرې سفر روانېږي د کور کسان یې اوبه ورپسې شندي او په دې ډول د هغه د ژوند او نېکمرغۍ ارزو کوي. د مسلمانانو په روایاتو کې یوه چینه ده چې که هر څوک پکې ولامبي یا یې اوبه وڅښي، همېشنی ژوند به یې په نصیب شي. دغه چینه په تیاره او ظلماتو کې واقع ده. سکندر ورپسې ډېر وګرځېد خو پیدا یې نه کړه مګر خضر هغه څوک دی چې د دې چینې اوبه یې څښلې او تلپاتې ژوند یې په نصیب شوی دی. دغه چینه د حیات، آب حیات یا خضر په نومونو یاده شوې ده. د کابل د شهدای صالحین د مقبرې لویدیځ لور ته په غره کې یوه چینه ده چې خضر یې بولي. چینه په یوه سمڅه کې ده. د سمڅې په خوله کې د غره تیږې سره ورغلې دي. زه چې دوه کاله پخوا په دې چینې پسې غره ته وختم او د چینې له تنګې خولې تېرېدم ،داسې وېره راپیدا شوه لکه په خوب کې چې بنیادم له یوه تنګ ځایه وېرېږي او پکې بندېږي. خضر له زحمتونو وروسته چینې ته ورسېد. ګومان کوم که د چینې خوله تنګه او د ظلماتو غوندې وېروونکې نه وای، نوم به یې خضر نه و. خضر چې د تلپاتې حقیقت د چینې اوبه یې څښلې دي، په عرفاني تصور کې د مرشد مقام لري. په عرفاني ادب کې د حیات د اوبو له څښلو څخه مقصد د پاکې مینې او محبت لرل دي.په اساطیري او لرغونو باورونو کې اوبه د ژوند او مینې د سیمبول په توګه راغلې دي.

د دې لنډۍ تاثیر ځکه زیات دی چې له سپوږمۍ ( = د هدایت رڼا، مرشد، معشوقه) او سیند(= عشق، د مینې تجربه، د سلوک لاره) څخه یې سیېمولیکې معناوې اخیستلای شو:

سپوږمۍ په غره راپورته کېږه
چې مسافر په سیند ګدېږي، ډوب به شینه

اوبه د ژوند، مينې، شهوت، ښېرازۍ، زنا او ښکلا د سيمبول په حيث په ادبي آثارو او اساطيرو کې بيا بيا راغلي دي او اروايوهانو منلې ده چې اوبه په خوبونو او لاشعور کې هم ذکر شوې سيبموليکې معناوې لري. کله چې مونږ د اوبو رمزي معناوې په نظر کې ولرو، نه يوازې د ادم او درخانۍ د نکل د پاسنۍ نارې پټ او مرموز مفهوم ته ورنژدې کېږو بلکې په ګڼو نکلونو، بيتونو، لنډيو، اساطيرو او ادبي آثارو کې د اوبو لا ژورې او مرموزې معنا ته رسېدل راته اسانېږي. د درخانۍ د دې نارې معنا او مرموزه ښکلا هم هغه وخت ښه احساسولای شو چې د اوبو سيمبوليزم په نظر کې ولرو:

زه درخو يم درته وايم چې اوبه وينم بېرېږم
د ادم له مستې مينې په ناياب درياب ګډېږم

زه د دې لاندې لنډۍ په معنا نه پوهېږم او ګومان کوم چې د نه پوهېدا يوه وجه يې د اوبو په کلمه کې نغښتی رمز دی:

يو ځلې تېر شوې بيا راتېر شوې
لار دې ژوره کړه اوبه راستنيوينه
د ۱۳۹۳ منۍ

# د لیکوال د لارې څلور خنډونه

لیکونکی به پښتو لیکې خو د جملو جوړښت به یې له نورو ژبو متاثر وي. لکه فکر چې په بله ژبه کې کوي او د لیکلو په وخت یې په پښتو ژباړي. زموږ اکثر لیکونکي چې په مورنۍ ژبه یې زده کړه او مطالعه نه ده کړې، له دغه مشکل سره مخ کېږي. د لیکوالي په کار کې د پرمختګ لپاره له دې لومې راوتل پکار دي.

ځینې نور کسان چې د هر چا ښه لیکنه وګوري، هوس ورپیدا شي چې د دوی لیکنې دې په هماغه ډول شي. د شپون صاحب د نثر طنز به خوند ورکړي او خپلې لیکنې ته به د طنز عنصر ورشامل کړي یا مثلا د ماسټر کریم مرحوم په نثر کې د متلونو او اصطلاحاتو پریماني به وربانديې ښه ولګېږي او خپلې لیکنې ته به متلونه ورټېله کړي. دغسې کسانو ته هم پرمختګ سخته دی. زموږ د جامو ارزښت په دې نه لوړېږي چې د قیمتي ټوکر پینه وربانديې ولګوو.

مصنوعي احساسات یوه بله لومه ده چې د واقعي پرمختګ مخه نیسي. که زه په یوه پېښه په رښتیا غمجن نه یم خو ځان غمجن ښیم، لوستونکی راباندې پوهېږي. د دوه زره کاله پخوا وخت په جګړو کې چې سل کسه مړه وي او زه ولیکم چې متاسفانه په دې جګړو کې سل کسان ووژل شول، لوستونکی

مې تاسف نه مني. که زه د راډيو يا تلويزيون خپروونه وړاندې کوم او اورېدونکو ته وايم چې ستاسې د روغتيا او خوشحالۍ په هيله يې پيلوم، اورېدونکي ته مې احساسات مصنوعي ښکاري. مصنوعي جذبه د ښه شعر، ښه نثر او ښو خبرو دښمنه ده.

هسې وايي چې د جاپان د اوولسمې پېړۍ د نامتو عارف بانکيي له مړينې وروسته د هغه د معبد په خوا کې دېره نابينا وويل: زه نابينا يم او خلك نه وينم نو د خلکو اوازونه اورم او د هغو په اساس قضاوت کوم چې څنګه سړي دی. ما د وګړيو د ستاينې په اواز کې همېشه د رخې يو پټ اواز هم اورېدلی دی او د وګړيو د افسوس او خواشينۍ په خبرو کې مې همېشه د خوشحالۍ يو تت غږ هم تر غوږو شوی دی، مګر بانکيي داسې څوك و چې د خوشحالۍ او ستاينې په اواز کې يې يوازې خوشحالي او ستاينه وه او د خواشينۍ په اواز کې يې يوازې خواشيني نغښتې وه.

ليکوال ته په خپل کار کې د پرمختګ لپاره د احساساتو په بيان کې د بانکيي غوندې صداقت پکار دی.

هر واقعي ليکوال ځينې ارزښتونه لري چې د هغو وړاندې کول يې ليکوالي ته روح ورکوي. په دغو ارزښتونو باندې سودا به ليکوال ته پيسې يا منصب يا شهرت ورکړي خو د ليکوال په حيث يې د پرمختګ مخه نيسي. خوشحال فرمايي:

د هغه شاعر دانې وشه په ژبه
چې د شعر دُردانې پلوري په مال

زما په خيال دې ښېرا ته حاجت نشته. هغه شاعر او ليکوال چې په خپلو ارزښتونو سودا کوي، خامخا يې د فکر او بلاغت په ژبه دانې راخېژي. دغه سودا ممکن د شهرت د ګټلو لپاره وي او ليکوال يا شاعر په هغه څه تظاهر وکړي چې

مخاطبان يې ورباندې خوشحاله کېږي يا مخاطبانو ته دې تر واقعي اندازې ډېر عالم، اخلاقي يا وطنپال معرفي کوي.

کله نا کله د مادي امتیاز په خاطر نه بلکې د وېرې په وجه لیکوال او شاعر ځان مجبور ګڼي چې خپل حقیقت پټ وساتي او ځان بل ځوک معرفي کړي. دا ډول چلند هم د هغه هنر بې برکته کولای شي. لیکوال حق لري چې د جاهلانو یا ظالمانو له لاسه خپله خبره په نیمه کې وکړي او د مجاز په پرده کې يې ونغاړي خو دروغ ویل ورسره نه ښايي. خوشحال چې زموږ د تر ټولو لوی شاعر مقام ګټلی دی، یو لوی علت يې دا دی چې د خپلو فکرونو او ارزښتونو په بیان کې زړه ور و. د ادبیاتو تاریخ او کره کتنه د خوشحال دا خبره د لیکوالو په حق کې هم کوي چې:

دروغجن سړی د عفوې لایق نه دی
په رښتینو باندې عفوه ده روا

د ۱۳۹۳ کال منی

# خوبونه

په نوې ځوانۍ کې مې د کافکا په باره کې په يوه کتاب کې ولوستل چې هغه به د داستانونو د ليکلو لپاره له خپلو خوبونو الهام اخيست.دې خبرې د خوبونو د ليکلو شوق راپيدا کړ. په کلونو کلونو مې خپل ګڼ خوبونه وليکل.

زما تجربه راته وايي چې ځينې خوبونه د ژوند لپاره پيغامونه لري، ځينې روياګانې په آينده کې رشتيا کېږي او له يو شمېر نورو خوبونو په ليکلو کې الهام اخيستل کېدای شي. البته، اکثره خوبونه يا د رويا د ورځو د تجربو، خاطرو، انديښنو او ارزوګانو عکسونه وي او يا که ژوره معنا هم ولري، زما غوندې عادي خوب ليدونکی ورنه معنا نه شي اخيستلای. څرنګه چې د شعور او لاشعور ژبې بېلې دي نو له خوبونو څخه معنا اخيستل راته سخته او يا ناممکنه شي.

په کلاسيکو شاعرانو کې خوشحال خټک خوبونو ته اهميت ورکړی او خپل ځينې خوبونه يې ثبت کړي دي چې ممکن يو وخت د اروا‌پوهنې په مرسته د خوشحال د ژوند او شخصيت په باره کې جالبې معناوې ورڅخه راووځي. زما په ګومان د خوشحال په يوه خوب کې د پرنګيانو په لاس د هند د نيولو پيشبيني کېږي.

لوی اروا‌پوه فرويد وايي چې د انسان د ذهن په لسو کې نهه برخې له لاشعور سره تعلق لري. په لاشعور کې ان د مور په ګېډه کې د ماشوم د ژوند تجربې او خاطرې خوندي وي.

د فرويد نامتو شاګرد کارل ګوستاويونګ يو بل ګام په مخ واخيست او ويې ويل چې وګړی د فردي لاشعور په څنګ کې ټوليز او جمعي لاشعور لري چې له آدمه تر دې دمه د زرګونو کلونو تجربه پکې نغښتې ده. د يونګ په نظر موږ هر يو د خپلو نيکونو او تيرو نسلونو د زرګونو پيړيو تجربې په خپل ټوليز لاشعور کې

لرو. ټولیز لاشعور د ژور حکمت او رمزي پوهې یوه بې پایه خزانه بللای شو چې په خوبونو کې یا د الهام او اشراق په حالتونو کې یې شیبه نیمه دروازه پرانیستې وي. د یونګ له نظریې سره سم، لوی شاعران د لاشعور د سین د لامبوزنو مثال لري. دوی له ټولیز لاشعوره داسې خبرې راباسي چې موږ هر یوه ته اشنا ښکاري او داسې یې احساسوو لکه زموږ له زړه چې راوتلي وي. د یونګ په نظر د دې شي وجه دا ده چې لوی شاعران د انسانانو د زرګونو کلونو له مشترکو تجربو چې په ټولیز لاشعور کې خوندي دي، الهام اخلي. په فردي لاشعور کې هغه محتویات پراته دي چې زموږ شعور هیر کړي دي خو په ټولیز لاشعور کې داسې ډېر څه شته چې زموږ په فردي شعور کې هیڅوخت نه وو.

خوبونه چې د لاشعور له دنیا سره تعلق لري، په دې ارزي چې د خپلو خاطراتو په پاڼو کې ځای ورکړو. د شلمې پیړۍ په پیل کې د ادبیاتو د یوه مشهور مکتب، سورریالیزم، پیروانو به خوبونو ته ورته لیکنې کولې. خوبونه زموږ حقیقت ته زموږ تر شعور ورنژدې دي. که غواړو خپل حقیقت ته ورسیږو، پکار ده خپل خوبونه بابیزه ونه ګڼو او د ځان د پیژندلو او له ځانه د الهام اخیستلو لپاره په خوبونو باندې غور کولو ته یو څه وخت ورکړو. معاصر شاعر هاشم بابر وایي:

له نورو اورې ځان نه هیڅ نه پوښتې
له ځان سره څه مشوره خو وکړه

۱۳۹۳

# هنر څه را زده کوي؟

موږ علم ته په درنه سترګه ګورو خو هنر مو لا د زړه له تله نه دی منلی. همدا وجه ده چې په ادبي آثارو باندې د بحث په وخت ډېره توجه د هغو اخلاقي او اجتماعي ګټو ته کوو. دغه راز ډېره هڅه مو دا وي چې یو ناول د اجتماعي واقعیتونو هینداره وبولو او دا د شاعر او کیسه لیکوال امتیاز وګڼو چې واقعیتونو ته وفادار پاتې شوی او د خلکو په پوهولو کې یې برخه اخیستې ده. دلته سوال پیدا کېږي چې زه که یو اثر د اخلاقي درسونو لپاره لولم نو ولې د اخلاقو د فلسفې کتاب نه ګورم او یا که په یوه ناول کې د ټولنې په واقعیتونو پسې ګرځم نو ولې خبرونه او تبصرې نه اورم او له تېرو زمانو څخه د خبریدو لپاره ولې تاریخ ته مراجعه نه کوم؟

تر څو پورې چې مونږ هنر د علم په څېر د واقعیتونو د پېژندلو ذریعه ګڼو، پاسنی پوښتنې ته سم ځواب نه شو پیدا کولای. ځینو صاحب نظرانو د هنر او پوهې رابطه سرچپه کړې او جالبې نتیجې ته رسیدلي دي. دوی وایي، دا سوال مه کوئ چې هنر له واقعیت سره څومره سمون خوري بلکې دا پوښتنه راولاړه کړئ چې واقعیت له هنر سره څومره سمون لري؟

یو هغه کابل دی چې جغرافیه یې راپېژني او بل هغه کابل دی چې زما له احساساتو، خاطرو ، اندېښنو او تخییلاتو سره اخښلی دی. څو ورځې له مخه چې له یوه ملګري سره د کابل پوهنتون د لیلیې مخې ته تېریدم، ملګري مې راته وویل: د دې لیلیې په لیدو د غم احساس راپیدا کېږي ځکه هغه محصلان رایادېږي چې یو وخت له دې ځایه بندیخانو ته واستول شول او ووژل شول . د کابل پوهنتون لیلیه که له خپلو احساساتو، خاطرو او خیالونو بېله په عیني دول پېژنو، دا علمي پېژندنه ده خو که فردي حالات او نفسانیات هم پکې

شاملوو، دا معرفت بیا هنري ژبه غواړي. موږ ویلای شو چې هنر د واقعیت یو بل ډول رانښیي. دا خبره مشهوره ده چې هنر= انسان+ طبیعت. یعنې کله چې د معرفت له موضوع سره خپل ځان ملګری کړو او موضوع په یوه نوي رنګ کې وګورو، زموږ معرفت هنري اړخ پیدا کوي.

ځینو ته به دا ډول معرفت چې د هر فرد په خاصې تجربې ولاړ دی او عمومیت نه شو ورکولای، کم ارزښته ښکاري خو برعکس، د هنري معرفت کمال همدا دی چې انسان پکې شامل دی او انسان راپیژني .

خوشحال خټک فرمایي:

نه د خپل وطن خارونه
نه د بل وطن ګلونه
نه د خپل دیار ګورګورې
نه د بل دیار شکرې
نه کارګه د خپلې ځمکې
نه شهند د بلې ځمکې

په دغه تجربه کې انسان(= خوشحال) له طبیعت( یوه جغرافیایي سیمه چې خوشحال یې وطن بولي.) سره یو ځای شوی او یو هنري واقعیت بیان شوی دی.

په لنډیو کې اورو :

کمیس مې لنډ ونیسه مورې
وطن پردی دی، ترخې خولې رالګوینه

په واقعي دنیا کې، په هغه دنیا کې چې ساینس او علم یې راپیژني، ترخې هیڅ وخت خولې نه لګوي خو د انسان خیال او تصور دا رنګه تجربې کړې دي او ځکه خو ویلای شو چې هنر د واقعیت یو بل ډول رانښیي او د انسان د ژوند او حقیقت په باره کې داسې څه را زده کوي چې د علم په خزانه کې نشته.

هغه څه چې علم يې رازده کوي په يو بل ډول او يو بل انداز هم بيانولای شو خو هنري اثر که په بل ډول بيان شي، بل اثر او بل فهم دی. په هنري فهم کې فورم او محتوا له يو بله نه بېلېږي او په همدې دليل له کره کتونکو غوښتنه کېږي چې که مثلا د الفت صاحب په شعرونو کې د اجتماعي حقايقو لټون هم کوي، د الفت صاحب د کلام له موسيقي، سبک، هنري باريکيو او د هغه په کلام کې له راغليو ادبي صنايعو دې يې نه بېلوي.

د ۱۳۹۳ ژمی

# د بشیر ګواښ یو بیت

د قفقاز د سیمې نامتو شاعر رسول همزادوف وايي چې دا نړۍ د سمندر د منځ د کوچینی بېړۍ په څېر ده چې سپاره کسان پکې ملتونه وګڼه. اوس که څوک راولاړېږي، دا بېړۍ ډوبوي او یا په بله ژبه دا نړۍ ګډوډوي، نو ډېر تاوان به پکې هغو سپرو کړی وي چې د لامبو چل یې زده نه دی. رسېدلي ملتونه به بیا هم د امن ساحل ته ځان وباسي خو بې وسه او وروسته پاتې قامونه به د بېړۍ د هغو سپرو غوندې چې د لامبو چل نه ورځي،ډوب شي. د دغه قفقازي شاعر په خبره کې د دنیا وروسته پاتې قامونو او بلکې هر کمزوري انسان ته ګټور پیغام نغښتی دی.

شاوخوا نیمه پېړۍ پخوا اجمل خټک هم ویلي وو چې: اې په شیش محل کې ناسته بل په کاڼو مه وله!

بشیراحمد ګواښ کمزورو او تر خطر لاندې خلکو ته د یوه داسې تصویر په ذریعه چې د شاعر د خپل چاپېریال له توکو رغېدلی دی، دا رنګه موجز پیغام لري:

د کور په نوم چې یې جونګړه وي د خوړ په منځ کې<br>
هغه دې نه کوي دوستي له بارانونو سره

په جنګ، تشدد، ناامني او بې پروایي کې ډېر تاوان د بېوسو خلکو دی. هغه کسان چې د بې عدالتۍ احساس کوي او ځان مظلومان ورښکاري، ممکن احساساتي شي او تندي و تېزي ته مخه کړي خو هغه دري متل دی چې: قهر غریب به جان غریب. اصلي ګټه هغوی کوي چې خپل احساسات په کنټرول کې ساتي ، ګډوډي نه غواړي او د مدني مبارزې په چل پوهېږي.

۱۳۹۳

# مېږتون

مېږی په ادبیاتو کې زیار کښ بلل کېږي، حریص دی، سترګې یې د تنګوالي بېلګه او ملا یې د نریوالي مشبه به ده. مېږي ته چې خدای په قهر شي، وزر ورکړي. دی د سلیمان علیه السلام په قصو کې هم حضور لري. مېږي سلیمان پیغمبر ته چې پر جن و انس یې پاچهي کوله، د ملخ پتون سوغات وروړی و.

په دیواني شاعري کې مېږي د زلمکو په شونډو باندې له تازه راټوکیدلو ویښتو( خط) سره هم تشبیه شوي دي. حمید مومند فرمایي:

د صحرا هوسۍ آرام په مېږتون کا
ورکوي شوریده دل لره آرام خط

هوسۍ چې له ښکاري وېرېږي، په پښتو ادبي روایتونو کې د مېږي د کور( مېږتون) په خوا کې د دې لپاره څملي چې مېږي یې بیداره وساتي او د درانه خوب مخه یې ونیسي. حمید وایي، لکه څنګه چې هوسۍ د مېږتون په غاړه په ناارامي کې ارام احساسوي، دغسې ناکراره او شوریده زړه( ناکراره او عاشق زړه) له خط سره قرار مومي. په دې بیت کې له مېږیو سره د خط د تشبیه ادبي روایت د بیت د مصرعو تر منځ تړاو لا زیات کړی دی.

د مېږتون په غاړه د هوسۍ ارام کول د پښتو شاعري یو جالب مضمون او موتیف دی. هغه څوک چې د مېږتون په غاړه اوسي، له مېږیو سره به طبعا په تنګ وي. مېږي به یې پر بدن ګرځي او په کرار به یې نه پرېږدي. همدې تجربې ته په پام سره په پښتو ژبه کې په مېږتون اوسېدل د لالهانده ژوندون معنا لري.

د نولسمې پېړۍ شاعر عظیم رانیزی چې د بدیدار او دښمنداره سړي ناکرار ژوند انځوروي نو وایي:

خوب به يې همېش لکه هوسۍ په مېړتون وي

مه شه په چا باندې د اومو غوښو پورونه

د شلمې پېړۍ شاعر اروانباد استاد قلندر مومند هم د ناکاره ژوند د انځورولو لپاره د مېړتون ژوندون عبارت جوړ کړی او فرمايلي يې دي:

د مېړتون ژوندون به څه ژوندون وي

څه به پوښتنه کوې بس تېرېږي!

۱۳۹۳

# د ورځې سبا درې بیتونه

موږ په ډېرو شیانو پورې زړونه تړو، په نالیدلیو مخونو میینېږو، د داسې هوس اور مو په زړه بل وي چې نه یې پېژنو او په دا رنګه لارو ستومانه روان یو چې رامعلومې نه دي. د انسان د ژوند د دغو تجربو انځور د ورځې سبا په لاندې بیت کې لیدلای شو:

ازغي مې په لاسونو کې تناکې مې په پښو کې
ما څومره لټولې په ګلونو کې دلداره!

موږ لټون د یو څه کوو خو مومو بل څه او کاشکې یوازې له بهرني واقعیت سره لاسوګرېوان وای، موږ په خپل زړه کې هم د متضادو غوښتنو ښکار یو. غواړو سپېڅلي واوسو مګر له ګناه مخ نه اړوو، غواړو په لوکسو کورونو کې دېره شو مګر په شنو دښتو او د کېږدیو په شمالونو هم میین یو. د اوړي تکنده غرمې ، د ژمي واورین ماښامونه او د مني زېړې پاڼې، د دا هر څه لېوال یو او ذهن مو د متضادو هیلو د کشمکش میدان وي.

د بشر لویو مفکرانو د انسان په زړه او ذهن کې د همېشنی ګډوډی د کمولو لپاره فلسفي سستمونه جوړ کړي او د فکر دنګې کلاګانې درولې دي خو لکه څنګه چې وینو، زړونه او ذهنونه مو د تل غوندې د میرڅمنو ارزوګانو د جګړې ډګرونه دي. د انسان د ژوند د دغه واقعیت انځور د ورځې سبا په دې بیت کې وینو چې وایي:

زړه په صنم باندې میین دی بیا هم
څه زورور دی بتکدې نه مني

د دې لپاره چې د متضادو غوښتنو او واقعیتونو درد مو ونه کړوي، څه وکړو؟ دې

پوښتنې ته يو مشهور ځواب دا دی چې واقعي مينه انسان له دغو کشمکشونو رااېستلای شي. مينه انسان له ځانولۍ او ايګويزمه راباسي ، له نورو سره يې وصلوي. دغه خبره ګڼو شاعرانو کړې خو يوازې ځينو يې په نوي انداز راوړې ده، چې په دغو ځينو کې ورمه سبا هم شامله ده، دا وايي:

ته کافر حسن لرې زه مسلمانه
ستا له مخه هر انسان زما خوښېږي

د واقعي مينې کمال دا دی چې انسان د نورو زغملو او منلو ته وربولي او چې بنده په مينه کې کامل شي، بيا نو د رحمان غوندې وايي :

اې عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمن دی

د ۱۳۹۳ ژمی

# فطري حالت

موږ له یو چا سره په تصادفي ډول وپېژنو، خبرې سره وکړو، تگ راتگ مو شي، سره وپالو، کلونه واوړي، خاطرې مو سره شریکې شي او داسې وخت راورسېږي چې له یو بله بېلېدل راته گرانه چاره وي. د ژوند دغه ژوره تجربه سید شاه سعود داسې بیان کړې ده:

د چا مینه مې په زړه کې راپیدا شوه
لکه زړی چې په چوپه زرغونېږي

د دوستانو په زړونو کې دوستي، بې له دې چې د چا ورپام شي، د زړو غوندې په پټه خوله وده کوي او غوړېږي. دا یو فطري حالت دی. په فطري حالت کې مینه او دوستي د پلان او نقشې له مخې نه وي بلکې تر ارادې یو لوی قوت مو یو لور ته بیایي او هغه د غني خان خبره:

ما وروستي پړاو له بیایي که زه ځمه او که نه ځم.

ځینې کسان همېشه هڅه کوي چې په نورو باندې ځان ومني. دوی شاید د خلکو له خوښې سره سم وچلېږي، د ولس په غم ښادي کې پوره ونډه واخلي او د خلکو د دودونو او نظریو احترام وکاندي خو له دا هر څه سره سره، ممکن خلک د خپلو رهبرانو او لارښوونکو په سترگه ورته ونه گوري. چې داسې ولې کېږي؟ ایا داسې خو به نه وي چې ټولنه هغه څوک د خپل مشر او رهبر په توگه ښه مني چې په مشرۍ او رهبرۍ پسې نه گرځي؟ د سید شاه سعود یو بیت همدا تجربه تاییدوي:

چې خبریدمه نو د خلکو رهبر شوی ومه
بس خو روان ومه او لاره جوړېده راپسې

زما په خيال دې ته ورته خبره د ليکوالي او شاعري په برخه کې هم کولای شو. هغه څوک چې په لوی لاس غواړي سرلاری شي، مبتکر شي او موسس شي، ممکن د واقعي نوښتگر مقام ونه مومي. واقعي نوښت هغه وخت راته اسان دی چې زما خصلت او شخصيت د نوښتگر شي. که زه په لاره روان يم او په بې پامی کې شعر جوړوم، که ما ږرستن په مخ کش کړې وي او د خوب او ويښې تر منځ له شعر سره بوخت يم او يا کله نا کله په خوبونو کې هم شاعر واوسم، نو دا ممکنه ده چې د واقعي شاعر غوندې نوې خبرې ولرم. هره هغه څه چې د خپل شخصيت برخه يې وگرځوو او د هوا غوندې يې په پام او بې پامی کې، په هر حالت کې، وغواړو،ممکن په رښتيا وروړسيږو.

د ۱۳۹۳ ژمی

# جادويي څراغ

علاءالدين په چين کې يو لټ او بې کاره زلمی دی چې له کونډې مور سره په بېوزلۍ کې ژوند کوي. يو وخت د افريقا د سيمې يو کوډګر علاءالدين ته په دروغو وايي چې زه دې تره يم، دغه بده ورځ مې نه دربانديې لورېږي، راشه چې سوداګر دې کړم. د کوډګر مطلب دا دی چې په ده باندې له يوې سمڅې څخه د ځان لپاره جادويي څراغ راوباسي. په دغه څراغ کې يو پيری دی چې هره ارزو پوره کولای شي.

علاءالدين سمڅې ته ورکوزېږي، څراغ پيدا کوي او د راوتلو په وخت کې کوډګر ورته په قهرېږي، له څراغ سره يې په سمڅه کې بندي کوي. علاءالدين په څه چل راوځي. دی په دې نه پوهېږي چې څراغ څه کمالونه لري. مور يې غواړي چې څراغ پاک کړي. دغه وخت پيری راوځي او د امر وخدمت ورته وايي. دوی چې وږي دي، ډوډۍ يې پکار ده. پيری سمدستي ډوډۍ حاضروي. دغه پيری چې په څراغ باندې د لاس تېرولو په وخت راوځي، علاء الدين د سرو او سپينو څښتن کوي او د چين د پاچا لور بدرالبدور( د سپوږميو سپوږمۍ) ورته کښېنوي.

جادويي څراغ د انسان د ارزوګانو استعاره بللای شو. په زړه کې د ارزوګانو بله ډيوه زموږ اصلي سرمايه ده. که ارزو راسره وي نو د هڅې همت به راسره مل شي او ژوند به مو معنا او رڼا پيدا کړي خو که نهيلي شو با برعکس ارزوګانې پوره وويښو، د ژوند د معنا رڼا به ومري او په ژوند پورې به په تنګ شو. ډېر کلونه پخوا مې د امريکا د نولسمې پېړۍ د يوه شاعر جيمز رسل لوول يو شعر چې الادين ( علاءالدين ) نومېده، ژباړلی و. دلته همدا خبره کېږي چې په زړه کې د ارزو بله ډيوه په حقيقت کې د علاءالدين څراغ دی.

الادين

غریب هلک وم

په نمجنه زیرزمیني کې اوسېدم

نه مې ملګري لرل، نه د لوبو شیان

خو الادین ځراغ راسره و

چې یخني به خوب ته نه پرېښودم

نو په زړه کې به مې لمبې وکړې

او د طلایي بامونو کلا به مې په اسپانیا کې ودانه کړه

-------

له هغه وروسته ما شپه ورځ کار کړی دی

زه اوس ډېر وس او پیسې لرم

خو زه تیار یم چې د نقره اي رڼاګانو ټول ځراغونه مې

په هاغه ځراغ بدل کړم چې اوس یې نه لرم

اې بخته، وادې خله چې څه دې خوښه وي

تا راکړي دي او بېرته یې اخیستلای شې

زه داسې څه نه لرم چې په نشتوالي یې خوابدی شم

ځکه نور مې په اسپانیا کې کلا نشته!

جیمز رسل لوول (۱۸۱۹-۱۸۹۱) د امریکا په ماساچوست کې دنیا ته راغی. په هاروارد پوهنتون کې یې زده کړې وکړې. شاعر، نقاد او دیپلومات و. د ده په نظر شاعر ټولنه بدلولای شي. لوول د غلامۍ مخالف و او په دې برخه کې یې خپل نظرات د شعر په ژبه ځرګند کړي دي.

۱۳۹۳

# قلم او بغاوت

ډاکتر نورالحبیب نثار د لینډی په دریم ماښام د استاد شپون په ویاړ د یوې غونډې او مېلمستیا بندوبست وکړ چې شاوخوا شل کسه لیکوالو، شاعرانو او د ادب دوستانو پکې برخه واخیسته. دې غونډې تر ډېره حده د استاد شپون په باره کې او د ادبیاتو په باره کې د پوښتنو او ځوابونو بڼه لرله. حبیب توتاخېل پوښتنه وکړه چې خوشحال خټک او غني خان د بغاوت شاعري وکړه خو نورو دا کار نه دی کړی، دا ولې؟

زما ځواب ورته دا و چې که له بغاوته دې منظور د ټولنې له واقعیتونو سره ټکر وي نو هر واقعي شاعر او لیکوال د ټولنې له حالاتو او اقدارو سره په کشمکش کې وي خو څرنګه چې د دغه بغاوت د بیان طرز فرق کوي نو موږ ممکن ګومان وکړو چې پلانی شاعر یا لیکوال له ټولنې سره په څرګند کشمکش کې دی او پلانی نه دی.

ماخوستن ناوخته چې کور ته راغلم، د توتاخېل صاحب پوښتنه یو ځل بیا رایاده شوه او یو څه ډېر فکر مې ورباندې وکړ. زما په ګومان که لیکوال یا شاعر له ټولنې او حالاتو سره جنجال ونه لري، څه ویلو ته به ځان مجبور ونه ګڼي.
رحمان بابا فرمایي:

دا دستور دی چې له درده زګېروی خېژي
ګڼې څه وو د رحمان له شاعریه

کېدای شي څوک ووایي چې شاید شخصي دردونه شاعر یا لیکوال لیکلو ته اړباسي خو څو پورې چې شخصي دردونه اجتماعي اړخ ونه مومي، په هنر نه بدلېږي.

له ټولنې او حالاتو سره کشمکش په دریو بڼو راځرګندېږي: یو یې ځرګنده بڼه ده چې د خوشحال هنر یې مشهور مثال دی. خوشحال فرمايي:

توکلت علی الله وینا یوه ده

د خوشحال له زمانې سره ساز نشته

یو بل ډول نارضایتي دا ده چې بنیادم غواړي له ټولنې ځان ځنډې نه کړي او په خلوت کې واوسي. رحمان بابا فرمايي:

په ساحل کشتی د هیچا نه ډوبېږي

که څوک نه کا په دریا باندې غرض

رحمان هسې ګوښی خوند له خلقه بیا موند

چې هر ګز نه دی دا خوند موندلی خلق

د اشرف مفتون او رحمان بابا په نظریاتو کې به د ځمکې او اسمان فرق وي، مګر دواړو ته ټولنه د امن ځای نه ښکارېده او د یوه مردار ډنډ په سترګه یې ورته کتلي دي چې پکار ده ییخې ورنه راټولې شي. اشرف مفتون وايي:

د ښکلي ذوق، ښکلي فطرت، ښکلي احساس انسان ته

جاهل ماحول کې له دردونو سیوا هیڅ نشته دی

په ټولنه کې وګړي په څه پسې ګرځي؟ په ثروت پسې، شهرت پسې، قدرت پسې او هوس پسې. د اشرف مفتون دا خبره که بغاوت ونه بولو، څه به یې بولو؟

ماته ډېر ناپوهه نادیده ذهني مریض ښکاري

څوک چې په هوس، طاقت، دولت ، شهرت مغرور وي

له ټولنې سره یو بل ډول کشمکش دا دی چې شاعر او لیکوال د ټولنې د ارزښتونو مخالف نه وي خو په ټولنې باندې تور لګوي چې خپل اقدار یې سم نه دي پېژندلي. زموږ د شلمې پېړۍ لیکوال استاد قیام الدین خادم د پښتونولۍ په ارزښتونو کې شک نه کوي مګر له ټولنې سره یې لوی جنجال دا دی چې په دغو ارزښتونو باندې سمه نه ده پوه شوې.

یو لیکوال ممکن د تولنې د ځینو ارزښتونو په مقابل کې د ښکاره مخالفت بیرغ پورته کړي، د ځینو نورو په برخه کې غلی پاتې شي او د یو شمېر ارزښتونو په باره کې ووایی چې تولنه یې باید په اصلي بڼه وپیژني. هغه څوک چې په تولنه کې روان ژوند سم او عادي وربښکاري، د لیکوال یا شاعر په حیث د ویلو خبره نه لري. واقعي لیکوال او شاعر ته د خپلې نارضایتۍ پیغامونه ډېر مهم ښکاري او له بلې خوا په تولنه کې د خپلو پیغامونو د عملي کولو لپاره ځا ن بېوسه او لاسوپښې تړلی احساسوي، نو ځکه قلم رااخلي اود رحمان بابا غوندې یې په دې امېد رااخلي چې : کشور د افغانانو معطر شي.

د ۱۳۹۳ کال قوس

# وصال

جانان ته د رسېدو او وصال ارزو د شاعري يو اصلي موتيف دی. خوشحال خټک چې د رنځبور په جېل کې بندي و او له جانان سره د وصل لارې ورباندې بندې وې نو باد او هوا ته په تمه و چې د پښتنو جينکو د زلفو عطر ورته راوړي. دی فرمايي:

پښتنې جونې دې زلفې باد ته نيسي
چې شمال يې بوی راوړي تر رنځبوره

رحمان بابا چې روحاني طبيعت ورباندې غالب و، د خيال په دنيا کې جانان ته رسېده او داسې ښکلې وينا يې کوله:

په هجران کې د يار خيال راسره مل دی
په زندان کې له يوسف سره اسير يم

په لنډيو کې چې روحاني فکرونه نشته يا ډېر لږ دي، جانان ته د رسېدو لپاره د طبيعت د قانون د بدلانه ارزو شوې ده، داسې چې:

نن د جانان ديدن ته ځمه
خدايه ته لنډ کړې دا د زمکې تناوونه

سيد شاه سعود د وصال په لاره کې د مکان له واټنه نه بلکې د زمان له واټنه شکايت کوي، وايي:

څنگه درشم زمانه رانه چاپېره
له ماښامه تر سهاره لېونيه

او نور محمد لاهو يار ته د رسيدو لپاره بلکل بله خبره کوي:

کومو چيغو کې ځان تاو کړم
چې در ورسيږم ياره ؟

هسې وايي چې دېو یو وخت د بنیادم مېلمه شو. یخني وه. بنیادم به گوتې پوکلې چې تودې شي. وروسته ښوروا راغله. کوربه ښوروا ته وروپوکل چې یو څه سړه شي. دیو کوربه ته وویل: مخکې دې هم پوکل او اوس هم، دا ولې؟ بنیادم ورته وویل: مخکې مې پوکل چې گوتې مې تودې شي او اوس مې پوکل چې ښوروا سړه شي.

دېو ښورا په خوند وخوړه، له بنیادمه یې مننه وکړه او د تلو اجازه یې وغوښته. بنیادم ورته وویل: ښه شو چې سره بلد شو، اشنایي به پالو!

دېو وویل: له مېلمستیا دې یو ځل بیا مننه خو له بنیادم سره اشنایي نه کوم، ځکه له داسې مخلوق سره ملگرتوب سخته دی چې سا یې هم سړول کوي، هم تودول.

د لقمان حکیم په دغه حکایت کې د انسان د فطرت ډېر لوی حقیقت ته اشاره شوې ده. د انسان زړه د متضادو ارزوگانو کور دی. انسان که څه هم د وصال په لار کې کله کله له سره تېرېدو ته تیار وي خو کله کله بیا د شاه سعود غوندې داسې خبرې هم په زړه کې ورتېرېږي:

زه او ته همداسې ښه یو زمانه په منځ کې ښه ده
دومره مه رانژدې کېږه فاصله په منځ کې ښه ده

د ۱۳۹۳ ژمی

# چلم او تمباکو

څلور سوه څو کاله پخوا د اکبرپاچا په دربار کې يو جالب بحث وشو چې مورخانو خوندي کړی او تر موږ پورې يې را رسولی دی. بحث د تمباکو په باره کې و. دا اول ځل و چې د هندوستان درباريانو تمباکو ليدل. دربار ته تمباکو اسد بېګ نومي سردار د هندوستان له جنوبه راوړي وو او د هند جنوب ته پرتګاليانو له اروپا رارسولي وو او اروپا ته تمباکو تر دې سل کاله پخوا له امريکا څخه د کولمبس ملګرو را لېږدولي وو.

اسد بېګ له تمباکو سره يو چلم هم راوړی و. د دربار يوه طبيب اکبرپاچا ته وويل : دا يو ناتجربه شوې دوا ده چې زموږطبيبانو د هغې په باره کې هيڅ نه دي ليکلي نو موږ وايو چې دا به ښه نه وي چې تاسې معظم يې تجربه کړئ.

اکبرپاچا اسد بېګ ته مخ واړاوه . اسد بېګ وويل : اروپايان احمق نه دي چې تنباکو به نه پېژني او څکوي به يې . په دوی کې عاقل کسان شته چې نه تېروځي.

طبيب يې په ځواب کې وويل: موږ د داسې عادت په منلو کې چې زموږ عاقلانو تجربه کړی او منلی نه وي ، د اروپايانو پيروي نه کوو.

اسد بېګ وويل : دا نو عجبه خبره ده. له ادمه تر دې دمه هر دود يو وخت نه يو وخت نوی و. عادتونه او دودونه ورو ورو پيدا شوي دي.

اکبر پاچا له دې مباحثې خوند واخیست او تبصره یې وکړه چې : واقعا موږ باید یوشی چې د نورو ملتونو هوښیارانو منلی دی، یوازې په دې دلیل چې زموږ په کتابونو کې نشته، رد نه کړو، کنه نو څنګه به پرمختګ کوو؟ ( د تاریخ ننداره، د ډاکټر مبارک علي له یوې مقالې څخه)

د چلم څکول ورو ورو په هندي او افغاني ټولنه کې عام شول او ادبیاتو ته یې لاره وکړه. په پښتو ژبه کې( د چلم یاران) یو داسې ترکیب دی چې د یارۍ و دوستۍ و مستۍ و خوشحالۍ ژوند مو سترګو ته درولی شي. چلم نه یوازې په هند براعظمګي او افغانستان کې بلکې د منځنې ختیځ په اکثرو ملکونو کې د ژوند او کلتور په یوه برخه بدل شوی دی . خو چلم تر سګریټو هم مضر او د روغتیا لپاره خطرناك دی. چلم چې چرس هم پکې څکول کېږي، د اعتیاد ذریعه ده. ظاهرا دغه متل چرسیانو ویلی دی چې: یا د مور تی دی، یا د چلم نی دی. په لنډیو کې اورو:

په چلم دوې سکروټې خوند کا
لکه دوې بنې په سیالۍ خوله درکوینه

دغه لنډۍ او د ولسي ادب نور ګڼ مثالونه د چلم او تمباکو مثبت انځور وړاندې کوي. چلم د ځینو کسانو دومره خوښ شوی چې د هغو د معشوقو رخه یې پارولې ده. مشهوره لنډۍ ده:

چلمه مات ټوټې ټوټې شې
مېین په ما دی غم په تا غلطوینه

په دې بله لنډۍ کې هم شاید له چلم سره د روغتیایي تاوان په خاطر نه بلکې په مینه کې د حسادت په وجه مخالفت شوی وي:

په سا لنډې دې چلم پرېښود
زما د سپینې خولې دې نه منل سوالونه

دا دهغه ژوند يو انځور دی چې د تمباکو تباه کوونکي اثرات پوره نه وو پيژندل شوي. اوسنی ادب د چلم او تمباکو ستاينې ته مايل نه دی، ځکه يو خو يې د صحي تاوان په باره کې ډېر څه ويل شوي او بله دا چې په ژوند کې د خوند نورې ګڼې جلوې پيدا شوې دي. ژوند له خوند سره غوړېږي. هغه ټولنه چې په غيرمضرو خوندونو هم بنديز لګوي، غړي يې شايد له ژوند سره دښمني ته مخه کړي. هڅه نه کول، مايوس اوسېدل، ژوند او ټولنې ته بدبيني او بالاخره تخريب او تباهي ته لاس اچول په هغو ټولنو کې زيات وي چې خوند ته په ښه سترګه نه ګوري.

۱۳۹۳

# وخته تم شه!

په پاچا باندې ایکې یو زوی ډېر گران و خو زوی به یې کرې ورځ غلی، غمجن، یوازې ناست و، له کړکۍ به یې په فضا کې نامعلوم شي ته کتل. پاچا پوهان راوغوښتل چې له مړاویتوبه د زوی د راایستلو لاره وروښیي. هغوی له اوږدو مشورو وروسته پاچا ته وویل چې شهزاده که د دنیا د تر ټولو خوشحاله سړي کمیس واغوندي له مړاویتوبه به راووځي. له مشورې وروسته د خوشحاله سړي لټون پیل شو او فیصله په دې راغله چې په ښنگلوري ملک کې یو پاچا دی چې ښه صحت، ښه زامن، ښه ښځه او ښه رعیت لري، که په رښتیا خوشحاله کس په دنیا کې وي، نو دی به وي. پاچا کسان ورواستول. دغو کسانو د گاونډي ملک پاچا ته د خپل ملک د شهزاده مشکل بیان کړ. د گاونډي ملک پاچا ورته وویل: دا سمه ده چې زه په ژوند کې د هیڅ شي کمی نه لرم او ټوله ورځ مې په مزو کې تېرېږي خو دا سمه نه ده چې خوشحاله انسان یم ځکه هره شپه له دې غمجن فکر سره سبا کوم چې د ښکلي ژوند یوه بله ورځ هم زما له گوتو ووته.

پاچا ځکه غمجن و چې وخت یې ایسارولای نه شوی. د وخت ایسارول د انسان په ناکامو ارزوگانو کې تر ټولو لویه ارزو ده.

د لرغوني یونان د ارباب النواعو د مشر زیوس په نکلونو کې راغلي دي چې له یوې ښکلې ښځې سره د ښې شپې د تېرولو په خاطر یې امر کړی و چې شپه دې اوږده شي. زموږ په شرقي روایتونو کې راغلي دي چې د موسی علیه السلام خوریي، یوشیع نبي په یوه جگړه کې د بري لپاره د لمر د تم کولو امر وکاوه. د

وخت د تم کولو ارزو یوازې په اساطیرو او مذهبي روایاتو کې نه مومو، بلکې د ادبي آثارو یوه اصلي موضوع ده.

زموږ له ځوان شاعر بارکول میاخیل سره چې د زیوس غوندې زور نشته، نو دعا او التجا یې کړې ده:

باداره زه او یار چې سره ووینو په کوم وخت

پر هغه وخت د ژوند تېزه ګړۍ ودروه

خو وخت نه درېږي او د اوولسمې پېړۍ انګریز شاعر اندرې مارول( Marvell په خپل مشهور شعر ( د هغه شرمیدونکې شهۍ ته، To His Coy Mistress ) کې شرمېدونکې معشوقې ته وایي چې که د وخت واګې مو په لاسونو کې وای، ستا انکارونو پروا نه لرله ، اما داسې نه ده او اوس چې لا د ځوانۍ تازه ګي د سهارنۍ پرخې غوندې ستا پر پوستکي ناسته ده، نو راځه: که لمر نه شو تم کولای ، تېزولای خو یې شو!

لکه مارول چې ویلي دي د لمر ګاډی نه تم کېږي او وخت نه درېږي، مګر د خوشحالۍ په مټ چټکېدلای شي.

که څه هم د اشرف مفتون غوندې په فلسفي شکونوکې ایسار کسان ممکن ووایي چې:

د زندګۍ کتاب مې لټ په لټ کړ

د ژوند مقصد، مدعا نشته پکې

خو که څه مقصد او معنا پکې مومو نو شاید همدا وي چې په ځان او نورو باندې ذهني سکون او خوشحالي ولوروو.

۱۳۹۳

# پښتو ادبي مجلس

په کوټه کې د پښتو ادبي مجلس په نوم يوې نوې ټولنې غونډې پيل کړې دي. د دې ټولنې د دويمې غونډې د بحث موضوع نوې ادبي تيوري وه. زه د دې ناستې په څو شېبو کې د ازادي راډيو د خبريال بارکوال مياخېل د رپورټ په برکت شريك شوم. ما په دې څو شېبو کې ډېرې د کار خبرې واورېدې خو دا ليکنه يوازې د دانيال طرير له خبرو سره تعلق لري. ښاغلي طرير ويلي دي چې :« ادب تعصبات پيدا کوي نه، تعصبات ختموي، تضادات پيدا کوي نه ، تضادات ختموي. کوم شي ته چې موږ متخيله وايو، هغه يو وصف لري ، يوه کارکرده گي لري او هغه دا ده چې تضادات ختموي.... نو دغه د پاره موږ ادب ته يو انساني منشور هم ويلی شو.»

د ښاغلي طرير خبرې د شلمې پېړۍ د نامتو اديب آی ، اې ، ريچرډز ( ۱۸۹۳-۱۹۷۹ ) خبرو ته ورته دي چې پکار ده په خپلو ا دبي بحثونو کې په تفصيل سره ورباندې وغږېږو.

د ريچرډز په نظر، وگړی د خپلو ټولو تمايلاتو پوره کول غواړي خو ځينې تمايلات د يو بل خلاف وي. له بلې خوا ټولنيز دودونه او باورونه هم د وگړي له گټو غوښتنو سره اړخ نه لگوي . ( مثلا دا مشکله ده چې هم کتاب ولولې او هم تلويزيون وگورې او يا، داسې نو نه کېږي چې هم دې په لمانځه اوداسه کې مزه نه وي او هم دې خلك د بزرگ په سترگه درته وگوري.)

نتيجه دا ده چې وگړی په دايمي کشمکش کې دی ، ځکه دی خپلو اميالو ته بشپړ انتظام نه شي ورکولای، داسې انتظام چې ټولې غوښتنې يې پوره شي.

ټولنه له وګړي غواړي چې خپلې غوښتنې د ټولنې له تقاضاوو سره برابرې کړي . د ټولنې دودونه، فکرونه او ارزښتونه که څه هم تغيير کوي خو کله چې دغه تغيير د حالاتو تر تحول ورو او سوکه وي، بلا زېږي او واقعي خطر پيدا کېږي. موږ که له خپلو اړتياوو سره سم اخلاقي او ارزښتي نظام ونه لرو، تباه به شو.

دا زموږ دنده ده چې د وګړيو په توګه خپلې شخصي غوښتنې لا ښه تنظيم کړو او د ټولنې په توګه داسې دودونه ، فکرونه او ارزښتونه ولرو چې د وګړيو د غوښتنو تر منځ د لاښهٔ هارموني له راوستلو سره مرسته وکړي . د ريچرډز په نظر، دې مقصد ته د رسېدو په لاره کې هنر او ادب تر ګردو ښه وسيله ده.

د ښاغلي طريرپه هغو خبرو کې چې ما د ښاغلي مياخېل په رپورټ کې واورېدلې ، د ادبياتو اجتماعي نقش( کارکرده ګي ) ته اشاره شوې ده .د انګرېز اديب آی ، اې ، ريچرډز په نظريه کې هنر د وګړي د ذاتي بهتری لپاره هم ګټور بلل کېږي.

اوس که موږ په پښتني ټولنه کې تعصبونو او تضادونو ته وګورو او خپلو هغو اقدارو ته وګورو چې له اکثرو کسانو يې نفسياتي ناروغان جوړ کړي دي، نو ويلی شو چې زموږ د ادب او هنر څښتنانو د خپل کار يو اصلي نقش او يا د ريچرډ په نظر تر ګردو اصلي نقش ته په لازمه اندازه توجه نه ده کړې . زموږ په ادب کې داسې اثار خورا کم دي چې د ټولنې د متضادو خواوو نظرونه سره نژدې کړي او په ټولنه باندې دا ومني چې د خپلو تاريخ تېرو اقدارو په متروکو باندې يې د خپلو بچو په وهلو کې ګټه نشته.

هنرمن له کلکو کاڼو نرم خويه بودا جوړوي او له کرښو او رنګونو مونالیزا سازوي. د شاعر د غزل په کوټنۍ کې رند او زاهد خوا په خوا ناست وي او د قصو په دنيا ګی کې يزدان او اهريمن ،معمولا ، يو بل نه وژني ، بلکې له يو بل سره بحثونه کوي. د شاعر د خيال قوت ( متخيله ) د سروې او د معشوقې ، د

ګل او د رخسار، د ستوري او د انسان ، د کاينانو د بېلو بېلو اجزاوو تر منځ پريکون نه بلکې پيوستون راولي. دانيال طرير هم څکه وايي چې ادب تضادونه او تعصبونه ختموي. دانيال طرير په اردو ژبه شاعري کوي. د دهٔ د اردو شعرونو کتاب ( آدهى آتما : نيمګړې اروا ) ستايل شوى دى ، خو د شعر هغه مقصد ته چې دهٔ ورته ټاکلى دى ، د دهٔ خپله ټولنه ډېره محتاجه ده. پرپښتو ژبې ټولنه ، د افراط او تشدد اور بل دى . که د ( آدهى آتما ) ويناوال ( نيمګړې اروا) وليکي، دغه اور به يو څه کم شي. ګومان کوم پښتو ادبي مجلس همدې مقصد ته د رسېدو لپاره جوړ شوى دى . رب دې پکې برکت واچوي.

د وري اوومه، ۱۳۸۹

# د شعر جوهر

که زه ووایم چې: ( ساعت مې ولاړ دی، نه پوهېږم څو بجې دي.) دا معلوماتي جمله ښکاري. د معلوماتي جملې معنا مشخصه وي او په همدې وجه يې رشتيا او دروغ معلوميدای شي. دلته ساعت مشخص دی او دا کار ممکن دی چې دريدا يا نه دريدا يې معلومه کړو.

خو که زه ووايم چې : ( ساعتونه ولاړ دي ، وختونه رانه ورک دي.) دلته خبره مشخصه نه ده. کوم ساعتونه؟ ولې همزمانه ولاړ دي؟ وخت خو راځي يا تيريږي يا تير شوی وي، ورکيږي څنگه؟ څرنگه چې خبره مشخصه نه ده نو دا امکان شته چې څو معناوې ورنه واخلو: د متکلم منظور ممکن د ټولنې په ټپه ولاړ حالت وي، ممکن د ژوند مکرره بڼه به يادوي او شايد په يوه خاص مقصد کې نه پرمختگ ته به اشاره کوي.

کله چې په وينا کې د يوې مشخصې معنا په ځای د څو نامشخصو معناوو ورتيا پيدا شي، د معلوماتو د ليږدولو وړتيا يې کميږي، وينا د صدق او کذب په تله له تللو وځي او دغه وخت شايد ووايو چې شاعرانه خبره ده.

شاعرانه خبره د يوې مشخصې معنا په ځای د څو مختلفو معناوو د رسولو وس لري.

له بلې خوا، شاعرانه خبره نا اشنا وي. زما يا پلاني ساعت ممکن ودريږي، دا نا اشنا خبره نه ده خو څو ساعتونه چې نه يې شمير معلوم دی او نه يې مالکان، نا اشنا خبره ده. دغه راز که ووايو چې : وخت مې ضايع شو، وخت نه لرم، وخت داسې دی لکه ولاړ چې وي... دا ټولې اشنا خبرې دي خو د وخت ورکيدل، په معمولي ژبه کې نشته.

نا اشنا والی د شاعرانه ژبې بله نخښه ده او دریمه نخښه یې دا ده چې د ژوند له تجربو سره یې خامخا رابطه وي خو اکثره وخت غیر مستقیمه. مانا دا چې د ژوند تجربې په غیرمستقیمه ژبه بیانوي. شاعر گل یادوي او منظور یې معشوق وي. غیرمستقیمه ژبه د کلام په نااشنا کولو او ځو مانیز کولو کې برخه لري. د شاعر خبره که د ژوند له تجربو سره رابطه ونه لري، خیال پلو ته ورته کېږي او که دغه رابطه مستقیمه وي، ممکن عادي خبرو ته ورته شي. تر هغو چې د شعر د ناوې د سینگار د وسایلو او د هغې د خپل جوهر او ښایست توپیر ونه کړو، شعر پیژندنه به مو نیمگړې وي.

۱۳۹۰

# دی معمار د ملامت د عمارت و

د دري ژبې نامتو شاعر او سفرنامه لیکونکی ناصر خسرو چې کابو نهه سوه کاله پخوا حجاز ته تللی و، هلته یې طایف ته نژدې د یوې زړې کلا کنډوالې ولیدې. د هغه ځای خلکو ورته وویل چې لیلا همدلته اوسېده. دا نو هاغه زمانه وه چې د لیلا او مجنون نکل په خلکو کې مشهور شوی و او شاعرانو چې به د ډېرو ښو عاشقانو نومونه اخیستل، لیلا او مجنون به یې یادول.

څېړونکي په دې سم نه پوهېږي چې لیلا او مجنون به په رښتیا هم څوک وو او که به دا هسې یوه افسانه وي خو له ښو، ښنانو داسې ښکاري چې لیلا او مجنون به ممکن د اوومې میلادي پېړۍ په دویمه نیمه کې یعنې د اسلام د پیغمبر( ص) له وفاته شل، دېرش کاله وروسته، د نجد په سیمه کې اوسېدل. دوی په اوله کې مشهور نه وو خو چې دوه، درې سوه کاله ورباندې تېر شول، نکل یې وار په وار بشپړ شو.

ابولفرج اصفهاني چې کابو یولس سوه کاله پخوا یې ژوند کړی او د ( اغاني) په نوم مشهور کتاب مولف دی، په خپل دغه اثر کې د لیلا او مجنون نکل ښه په تفصیل سره راوړی دی او دا ورڅخه ښکاري چې یولس سوه کاله پخوا دغه کیسه ښه مشهوره وه.

د مجنون په اړه ویل کېږي چې اصلي نوم یې قیس و. وروسته له میین توب او لېونتوبه په مجنون یعنې لېوني یاد شو. دی او لیلا دواړه د بني عامر د قبیلې و. دا د عربستان د شمال یوه کوچنۍ قبیله وه چې د نجد او حجاز تر منځ سیمه کې اوسېدله.

نامتو روسی ختیځپوه کراچوفسکي چې د لیلا او مجنون په اړه یې ډېره څېړنه کړې ده، د دې پوښتنې په ځواب کې چې د لیلا او مجنون کیسه ولې

دومره مشهوره شوه، وايي چې مجنون ډېر ښه شاعر و. د ده شعرونو د ده د مينې د کيسې په شهرت کې لويه برخه لرلې ده. کراچوفسکي دا هم وايي چې د عربو په جنوبي قبايلو کې د پاکې، رومانتيکې مينې مشهور مينان تېر شوي وو او د جنوب قبايلو به د خپلو دغو مينانو کيسې په خوند، خوند او په وياړ کولې نو د دوی په مقابل کې د شمال قبايلو مجنون وغښاوه او په وار وار يې دومره کيسې ورپسې وتړلې چې د هغه د مينې کيسه تر عربو په نورو ملتونو کې زياته مشهوره شوه.

په پښتو ادب او کلچر کې ليلا او مجنون د پاکې مينې سيمبولونه دي او ان د بزرګۍ مقام ورکړ شوی دی. په لنډيو کې اورو:

اسمان ته لار د ختو نشته

ليلا مجنون په عاشقۍ ختلي دينه

دغه نکل په پښتو کې تر اوسه پورې شپږ ځله نظم شوی دی. د ليلا او مجنون کيسه د پښتو شاعرانو د الهام يوه مهمه سرچينه ده. نامتو محقق اروانباد دوست شينواری وايي چې يوازې د خوشحال خټک په غزلونو کې مجنون نهه ديرش ځله او ليلا اتلس ځله ياده شوې ده.

په پښتو شاعرانو کې تر ټولو ړومبی سکندر خټک چې درې نيم سوه کاله پخوا يې ژوند کاوه، د ليلا او مجنون منظوم داستان ليکلی دی. د کره کتونکو په اند، سکندر خټک دغه داستان تر بل هر پښتون شاعر ښه نظم کړی دی.ده د خپل دې منظوم داستان په پيل کې ويلي دي:

صد هزار ژني زلمي زاړه واړه شول

چا يې نوم په خوله وانه خيست هسې مړه شول

صد هزار ګلرنګه نجونې لکه واورې

د جهان په مخ شوې واړه تورې خاورې

په عرب کې، په مغول کې، په افغان کې

عشق، لیلا مجنون ښکاره کړل په جهان کې
نمر سپوږمیه شول د عشق له برکته
په جهان کې به یادېږي ترقیامته

د لیلا او مجنون د مینې د ابتدا په باره کې مختلف روایتونه شته. یو روایت دا دی چې لیلا او مجنون د ماشومتوب په عمر په مکتب کې په یو بل مینان شول او سکندر خټک وایي چې مجنون چې کله د غېږې ماشوم و نو د دایي او مور په غېږ کې به یې ژړل خو چې ښکلو نجونو به وراخیست، ارام به شو.

د لیلا او مجنون د مینې د ابتدا په باره کې د یو بل روایت په اساس دوی دواړو په ماشومتوب کې پسونه څرول او هماغلته یې په یو بل زړه بایلود. (الاغاني) چې د زر، یولس سوه کاله پخوا کتاب دی، د مجنون یو شعر خوندي کړی دی. مجنون وایي:« پر لیلا مې هاغه وخت زړه بایلود چې اوبدلې زلفې یې لرلې او همځولي لا نه ورباندې پوهېدل چې تي یې کړي دي. مونږ لا ماشومان وو. وري مو پوول. ای کاشکې تر ننه پورې نه وري لوی شوي وای او نه مونږ.»

د مجنون د مینې ګڼ حکایات شته چې ځینې یې خورا خواږه دي. د (الاغاني) یو بل روایت وایي چې یو ځل د مجنون پلار خپل زوی د لیلا دوی کورته په انګار پسې واستاوه. د مجنون یوه ټوټه ټوکر په لاس کې و، لیلا ورباندې سکروټې کېښودې. دوی دغه وخت خبرې سره کولې. دوی د خبرو په خوند کې ډوب وو، پام یې نه وو چې تر سکروټو لاندې ټوکر سوځي. مجنون چې ټوکر ایرې شوی ولید، د خپلو جامو یوه برخه یې ځیرې کړه، تر انګار لاندې یې ونیوله. مجلس پسې غځېده او مجنون هر ځل کمیس څېرې کاوه او ټوکر یې تر انګار لاندې نیوه، تر دې حده چې کابو لغړ شوی و.

د ( الاغاني ) د مولف په قول، د لیلا او مجنون د زمانې عربو دا بده نه ګڼله چې زلمکي او پېغلوکې له یو بل سره خواله وکړي، ځکه خو دوی ډېر سره

لیدل، مګر سکندر خټک د پښتنو له رواج سره سم هغه روایت خوښ کړی دی چې د زلمکو او پېغلوکو مجلسونه ورکې پېغور بلل کېږي.

چې د دوی مینه رسوا شوه، د لیلا کورنی لیلا په کور کښېنوله. دغه وخت مجنون له ځانه ړوند جوړوي، امسا په لاس کور په کور ، کلي په کلي ګرځي او چې د لیلا کورته رسېږي، ځان په ځمکه ولي. د لیلا ورپام کېږي، پېژني یې، نو مور ته وایي چې له دغه ړانده سره به مرسته وکړم ، لار به ورونښیم. او په دې ډول لیلا او مجنون د یوبل دیدن کوي. سکندر خټک وایي چې بل ځل مجنون کچکول راواخیست، د ملنګانو جامې یې واغوستلې چې لیلا ووینې. لیلا د دې لپاره چې نورې نجونې ورباندې شکي نه شي، نجونو ته داسې بهانه وکړه:

وې یې ښه چې څوک خیرات په لاسو خپل کا

د ثواب چارې څوک څه لره په بل کا؟

شاید د لیلا او مجنون د مینې د کیسې همدا واقعیات به د رحمان بابا په ذهن کې و چې فرمایلي یې دي:

که مجنون غوندې په مینه کې صادق شې

د لیلا په دروازه کې دربان نشته

د قیس حال ډېر خراب شو. پلار یې یو هوښیار ته ورغی، ورته ویې ویل چې زوی یې تل اوښکې تویوي او ګرېوان څیروي، څه وکړم؟ هغه ورته وویل: د لیلا د کور یو څه خاوره پیدا کړه، د رنجو غوندې یې جوړه کړه، د مجنون سترګې ورباندې توروه، نور به که خدای کول ونه ژاړي او بل د لیلا د کمیس یو تار ومومه، په غاړه کې یې ورواچوه، د ګرېوان له شلولو به لاس واخلي.

د مجنون پلار همداسې وکړل. مجنون نور اوښکې نه تویولې او ګرېوان یې نه څیره، مګر په نوکونو یې سینه وینې کوله او د ګرېوان په ځای یې سینه څیروله.

قیس د لیلا په مینه کې پاک لیونی کېږي او صحرا ته مخه کوي. سکندر خټک یې د عمر د دغو وختونو په باره کې وایي:

دی سرخېل و د همه وو غمناکانو
سرحلقه و د همه سینه چاکانو
دی معمار د ملامت د عمارت و
وراناوه یې هغه کور چې سلامت و
پادشاهي یې کړه په ملک کې د غمونو
چې په زړه یې وو غمونه لوی تر غرونو
۱۳۸۲

# د اساطيرو سيوري

په ماشومتوب کې چې تخييل پياوړى وي، په لښته باندې له سپرېدلو ممکن هغومره خوند واخلو لکه په لوينې چې په آس گرځو. د پوهانو په قول، د ابتدايي بشر تخييل هم پياوړى و د خيال او واقعيت تر منځ پوله ورځخه په اسانۍ سره گډوډېدله. له ده سره چې د علم او تجربې کمى و د ژوند، مرگ او چاپيريال په اړه يې خپلو مهمو پوښتنو ته د تخييل په مرسته ځوابونه موندل . راختونکې لمر به موسکى ورښکاره شو او يقين به يې راغى چې لمر سا لري او خاندي. دغه تخييل که به د روايت او حکايت جامه واغوسته، عمر به يې اوږد شو، له يوې حافظې بلې ته او له يوې زمانې بلې ته به يې انتقال اسان شو او ورو ورو به د ټولنې پوره باور وربانديې راغى.

هغه څه چې اساطير بولو، پخوانو ته سوچه حقايق ښکارېدل او يقين يې وربانديې کاوه. په اساطيرو چې باور ختم شي، د خرافاتو په سترگه ورته کتل کيږي خو په شلمه پيړۍ کې چې د اجتماعي علومو نوي پرمختگونه په نصيب شول، ځينو پوهانو اساطير د تيرو زمانو خرافات نه بلکې د فکر کولو يو بېل طرز وباله چې اوس موږ په هغه طرز فکر نه کوو. ځينې نور کسان لا زيات وړاندې لاړل او اساطيرو ته يې د ټوليز تفکر مقام ورکړ او وويل شول چې په اوسنۍ زمانه کې فردي فکر عام شوى دى، خو پخوانو جمعي فکر کاوه چې ډېر اهميت لري.

اسطوره معمولا د روايت ( نکل، حکايت...) په جامه کې وي، د اسطورې نکل ممکن واقعي يا خيالي او يا د خيال او واقعيت گډوله وي. د اسطورې نکل که هر څو هم غيرواقعي راښکاره شي خو د ژوند له ژورو تجربو سره تړاو لري. د اصيلو اسطورو د پيښو کرکټرونه خدايگوټي او خارق العاده بنيادمان وي. اسطوره خپلو منوونکو ته مقدسه وي. اسطوره يو اجتماعي او مذهبي رسالت

لري. اسطوره معمولا د متضادو توکو لکه ځمکه او اسمان، ظاهر او باطن یا خیر او شر ټولګه او مجموعه وي. اسطوره چې مقدسه ده ،تقلید یې کیږي او ټولنې ته اعلی مثال وړاندې کوي چې هماغسې وچلیږي. اسطوره بنیادي او جدي پوښتنو ته د ځواب ورکولو لپاره زیږېدلې وي. اسطوره د یوه شعر یا داستان غوندې نه ده چې د خاص لیکوال د ذهن پیداوار یې وبولو، بلکې له ټولنې سره تعلق لري. یوه اسطوره چې په اوله کې شفاهي وي، ممکن مختلف او ان متضاد روایتونه یې وړاندې شي.

د اسطورې بله مهمه ځانګړنه دا ده چې زموږ لپاره په سیمبولیکه ژبه غریزې او د ابتدایي انسان وېرې، اندېښنې، تجربې، وهمونه او فکرونه پکې په استعاري انداز بیانیږي. څرنګه چې بشر په خپل تېر ژوند کې ډېر زیات وخت له اسطورو سره اوسېدلی دی او له بلې خوا اسطورې مازې کیسې نه دي ورښکاره شوي بلکې باور یې ورباندې کړی دی، نو اسطورو زموږ ټولو په لاشعور کې یې ځاله کړې ده او په هغه چا باندې یې هم ژور اثر پروت دی چې شعور یې اسطورې نه مني.

ځینې کسان اسطوره د ادب ادې بولي او ځینو نورو ته بیا په دې خبره کې مبالغه ښکاري خو په دې کې شک نشته چې اساطیري عناصر نه یوازې په حماسو او ولسي نکلونو کې بلکې په ټول ادب کې موندلای او احساسولای شو. لکه څنګه چې مو وویل اسطورې د هر انسان په لاشعور کې اوسي او لکه څنګه چې ارواپوه کارل ګوستاویونګ وایي، اصیل هنر او ادب همیشه له اسطورو الهام اخیستی دی.

د یونګ استاد، فرویید، د انسان په ذهن او شخصیت کې د فردي لاشعور اهمیت ته پام شول. فرویید ثابته کړه چې د بنیادم په ذهن کې لاشعور تر شعور څو برابره زیات محتویات لري او زموږ د خوی، شخصیت او غوښتنو په جوړولو

کې د هغه څه چې زموږ هیرشوي یا مو په لوی لاس هیر کړي دي، لوی لاس دي.

یونګ وویل چې د فرد په ذهن کې نه یوازې د فردي تجربو یو لاشعوري زېرمه تون شته، بلکې د هغه د پلرونو، نیکونو، اناګانو او ان د هغه د زرګونو کلونو د اسلافو مشترکې خاطرې هم په لاشعوري ډول موجودې دي چې ټولنیز لاشعور جوړوي. یونګ وویل، لوی شاعران او لوی هنرمندان چې د ټولیز لاشعور په چینه کې د غوپې وهلو او مرغلرو راایستلو استعداد لري معمولا داسې څه بیانولای شي چې مونږ ټولو یا اکثرو ته خوند راکوي او ممکن وواېو چې داسې څه خو زما په زړه کې هم تیرېدل. د یونګ په نظر لوی هنرمن د « ازلي بصیرت» څښتن دی یعنې د ټولیز لاشعور ازلي خزانې ته یې لار ایستلې ده؛ د حکمت او پوهې هغه خزانه چې له ادمه تر دې دمه د ټول بشریت د زرګونو، زرګونو کلونو تجربه او خاطره پکې پرته ده او د خوبونو غوندې یې د بیان ژبه سیمبولیکه او غیرمستقیمه ده. د دې تجربې او خاطرې لویه برخه له هغه وخت سره تعلق لري چې بشر اسطورې منلې او بلکې اسطورې یې احساسولې او له هغو سره اوسېده. څرنګه چې په اسطورو باندې د عادي ژوند د نورو کیسو او تجربو برخلاف ، بشر ټینګ باور کاوه او ډیره اوږده موده په ډیر قوت او شدت سره احساس شوي دي نو د ټولیز لاشعور د محتویاتو اساسي برخه جوړوي.

په دیارلس سوه شپیتمو کلونو کې چې زموږ په ادبي بحثونو کې اسطورې ته توجه یو څه زیاته شوه، ځینو کسانو یوه اشتباه وکړه. دوی ګومان وکړ چې که مثلا د زاړه یونان یا لرغونې اریانا کومه الهه یا خدای ګوتې په شعر کې یاد کړي نو ګویا شعر ته به یې د اسطورې توکی ورشامل کړی وي. په شعر کې د اسطورې د عنصر د شاملولو په اړه د دوی دغه فکر د شعر د مصنوعي کیدو سبب کېده. دوی دې ته متوجه نه شول چې اسطوره کوم بدیعي صنعت نه دی چې د خال غوندې یې د شعر د ناوې پر تندي کېږدو بلکې د دې ناوې د روح حیثیت لري.

دا چې وايو، سپوږمی د خدای روی مې دروړی، په حقيقت کې سپوږمی ته د اساطيري دوران د بنيادم غوندې ژوند وربخښو او غوښتنې ورنه لرو. اسطوره که د شعر ټوله روح ونه بولو ، د دې روح يوه برخه خو يې باید وګڼو. دغه روح د مازديگر د سيوري غوندې د ادب او هنر د ښار په هره کوڅه او هر چم کې غزووني کوي.

تاريخ مرصع د بزرگانو او اوليا گانو د معرفي په سلسله کې وتو شوراني يادوي چې په ځوانی کې د خدای مينه وربانډې غالبه شوه او وطن يې پرېښود. د خواجه مودود چشتي مريد شو. پوره ديرش کاله يې د هغه په پخلنځي کې کار وکړ خو د پير ليدو ته ورنغی او په دې موده کې « هر گز په شرف د خپل پير د حضور مشرف نه شه».

« هر گاه چې وخت د خواجه د وصال راغی په دا ميان کې فرزندانو او مريدانو په عرض ورسول چې خاصه کند دې و چاوته مرحمت شي؟ شيخ وفرمايل د هر کس په قد چې موافق رايشي. هر څو فرزندانو او خليفه گانو واغوست په چا به تنگ په چا به ارت شه. پس له هغه حضرت خواجه وفرماييل چې وتو پښتون راوبولئ. دوی حيران شول چې د کوم فرزند او د کوم خليفه نوم يې وتو دی. بيا يې وفرماييل چې وتو پښتون چې دېرش کاله ده د باورچي خانې خدمت کړی دی او زه يې ليدلی نه يم. پس له هغه يې وتو حاضر کړ. حضرت خواجه پخپله هغه خرقه ور واغوستله. گويا درزي د ده په قد سازه کړې وه او حکم يې د ارشاد او د هدايت و ده ته عنايت کړ او وې فرماييل چې اوس خپل وطن ته رخصت شه ورځه.»

وتو چې وطن ته راغي، يوه ورځ د درويشانو په مجلس کې ورته وويل شول چې که واقعي درويش يې نو مارغه دې راشي او ستا پر اوږو دې کېښني، چې درويشي دې ثابته شي. «پس له يو ساعته صحرايي کوتره راغله او په اوږو د وتو کېښناسته. د هر چا اعتقاد په حق د وتو زياتي وشه.»

سفر کول ، په ځان کې بدلون راوستل او راستنیدل، د ګڼو اساطیرو د اتلانو د روایت بنیاد جوړوي. دغه اساطیري موتیف په ډېرو نکلونو کې هم وینو. مومن خان له وطنه وځي، خطر مني، ښامار وژني او راستنیږي. وتو له سفر او زحمته وروسته د خواجه ځای ناستی شو او مومن خان د ښامار له وژلو وروسته نه یوازې د پاچا لور د ځان ملګرې کړه، بلکې د شیرینو وصال یې هم په نصیب شو.( مومن او شیرینو په قبر کې سره یو ځای کیږي.) دغه موتیف په اوسنو اکثره ناولونو کې تکراریږي.

رحمان بابا فرمایي:

چې مجنون په زنکدن شه

زه یې پرېښودم نایب

خواجه مودود چشتي( د پنځمې هجري پیړۍ عارف) هم د خپلې ملنګۍ اوږد کمیس وتو ته ور کړ چې لړۍ جاري پاتې شي. له مرګ او فنا څخه ویره د انسان ډېره لویه ویره ده. له دې ویرې سره د مقابلې لپاره اساطیرو مختلفې طریقې وړاندې کړې دي. د وفات شویو د نخښو ساتل یې یوه طریقه ده.

له بلې خوا د وتو حکایت کې د حکیم او مرشد اساطیري سیمبول وینو. دی په اساطیرو او نکلونو کې معمولا سپین ږیری وي، د پوهې او اخلاقو ډېره عالي بېلګه وي او له مریدانو او مجبورو کسانو سره حیرانوونکې مرسته کوي.

مرغان چې په هوا کې الوزي او اسماني موجودات ښکاري، د اساطیري انسان توجه یې زیاته جلب کړې ده. په اساطیرو کې دوی د ستوریو غوندې د بخت ټاکوونکي دي او زما په ګومان د (ښه مرغه) او ( بده مرغه) عبارتونه مو د مرغانو اساطیري نقش ته په پام سره جوړ کړي دي. بازانو د ملي هینداري په نکلونو کې ځینې کسان پاچهي ته ورسول او د تاریخ مرصع په روایت کې صحرایي کوترې د وتو شرواني بزرګي په نورو باندې ومنله. باز پیاوړی او جنګي

مرغه دی، خو کوتره پاکه او بې ازاره الوتونکې ده چې پکار ده د درویشانو په اوړو کښېني.

درویش درانی فرمايي:

و ستوريو ته يوازې هغه وغځاوه لاس

په دوی کې چې په قد تر ټولو کم و يو سړی

وتو چې غريب و، چې پير ته هيڅوخت نژدې نه و او چې بې کسه مسافر سړی و، د کند لايق شو او اسماني موجود( کوتره) يې بزرگي ثابته کړه. د درويش د بيت يو سړی هم چې په قد تر ټولو ټيټ و او اسمان ته د رسيدو لپاره تر ټولو نامناسب تصور کېده، اسمان ته لاس وغځاوه او په امتحان کې کامياب راووت.

اساطير که له يوې خوا د بشر د ابتدايي پوهې او حکمت خزانې دي، له بلې خوا د انسان د ويرو، اندېښنو او ارزوگانو لاشعوري خيالونه او انځورونه هم دي. له مرگه وېره او له لوږې وېره د انسان ډېرې بنيادي اندېښنې دي چې د ځينو پوهانو په نظر اکثره اساطير د همدغو دوو اندېښنو د کرارولو په خدمت کې دي. له اسمان سره رابطه ټينگول له مرگه د خلاصون لپاره پکارېږي.

متل دی وايي، اسمان لکه څنگه چې غورېږي، هغسې نه ورېږي. دغه متل راته وايي چې په ظواهرو بايد تېر نه وځو او ډېر ځله وروستی کاميابي د هغه چا په نصيب وي چې په ظاهره لږ امکانات لري. دغه ډول برداشت بنيادم ته اميد ورکوي او ژوند وربانديې اسانوي. دغسې درسونه اساطيري ماهيت لري. که يو مضمون، يو شخصيت يا مثلا يو ځای دومره جاذبه ولري چې د مختلفو ژبو، وختونو او ملکونو قلموال يې په مختلفو بڼو بيا بيا يادونه وکړي او الهام ورڅخه واخلي، دغسې مضمون يا شخص يا ځای ممکن په مستقيم يا غيرمستقيم ډول له اساطيرو را اخيستل شوی وي. اساطيري روايت د اکثرو عادي حکايتونو برخلاف، سيمبوليک وي او تر خپل ظاهر ډېره معنا او ژوره معنا

لیږدولای شی. د درویش د بیت او د وتو د حکایت مضمون د مختلفو زمانو او کلچرونو په ادب کې په مختلفو جامو کې لیدلای شو.

زما په گومان د درویش درانې د شاعرانه عظمت تر ټولو لوی عامل اساطیري حکمت او تخییل دی. د ده د منظومو حکایتونو کتاب( له ناورینه تر ناورینه ) په پښتو ژبه کې د ادب او اسطورې د تړاو یو ډېر ښه مثال بللای شو.

اسطورو د هرې زمانې شاعرانو، لیکوالو او هنرمندانو ته الهامونه ورکړي دي. کله نا کله په یوه اثر باندې د اسطورې اثر ډېر مستقیم وي او ډېر ځله بیا د اسطورې او اساطیري مضامینو غیرمستقیم اثر وینو. یو اثر.لکه څنگه چې د اسطورو له لرغوني حکمته تاثیر اخلي، دغسې له خپلې زمانې هم متاثر وي او ممکن موږ ته بیخي معاصر ښکاره شي. د وتو په حکایت کې لولو چې خواجه وفرماییل چې وتو پښتون رابولئ. د پښتون کلمه غالبا څکه د حکایت برخه گرځېدلې ده چې په هند باندې د گورکانیانو له سلطې وروسته د پښتنو قومي احساسات پاریدلي وو. مونږ په همدې زمانه کې لولو چې : سره ورغلل دوه غرونه، یو مغول دویم پښتون، او یا: معرکه ده لا په منځ کې، د مغول او د افغان. که د ټکر دغه زمانه نه وای، بیا به شاید په روحاني نکل کې د وتو قوم ته اشاره نه وای شوې.

دغه راز د درویش په بیت کې د اتل او قهرمان د پټ ساتلو تمایل وینو. شاعر د معلوم اتل ذکر نه کوي بلکې ( یو سړی ) یې بولي. په پخواني ادب کې چې پیر او معشوق ته اشاره کیږي، په داسې انداز کیږي چې هغه معلوم وي او مخاطب یې پیژني خو درویش په خپلو ځینو شعرونو کې اتلان په داسې انداز یادوي چې حد اقل ځینو مخاطبانو ته ناپیژندلي پاتې شي. داسې ولې وشول؟ څکه چې د عرفاني فکر ځای تر ډیره حده سیاسي فکر ونیو او د اتل اسم د دې لپاره نکره شو چې د استبداد پلویان یې ونه پیژني.

کله چې حمید مومند وايي: مرم له خپله اشتیاقه، نه د یار له افتراقه؛ دلته یار معلوم دی، مخاطبان یې پیژني خو د درویش د شعر ( یو سړی) باید له ځینو کسانو پټ وساتل شي.

همدا د سیاسي فکر غلبه ده چې د درویش دراني نکره کول د ډېرو معاصرو شاعرانو شعرونو ته لاره موندده او ګڼو اوسنو ویناوالو د ( یو سړی) یا ( یو ځوک) غونډې عبارتونه راوړل. هره زمانه خپله سرخي او سپیده لري خو د شعر اساطیري روح په نهایت کې یو شان وي.

۱۳۹۵

# د لیکوالۍ یو اصل

---

یادونه: دا لیکنه په اول ځل په ۱۳۷۹ کال کې د « داستانونه» مجلې په څورلسمه ګڼه کې چاپ شوې وه.

---

په دې باره کې به شاید اختلاف نه وي چې زموږ په لیکنو کې ابتکار لږ دی. زموږ لیکنې معمولا نه د سبک او تکنیک په لحاظ او نه د مضمون او معنا په برخه کې نوی والي لري. دا ولې؟ دا ځکه چې ابتکار فکر کولو ته اړتیا لري او موږ په فکر کولو عادت نه یو.

موږ په خپلوښوونځیو کې له زده کوونکو څخه د فکر فعالیت نه بلکې د حافظې ممارست غواړو. زموږ په تعلیمي نظام کې ښه شاګرد هغه څوک دی چې د کتاب او استاد خبرې ښې واوري، خامخا یې رښتیا وګڼي، په پټو سترګو یې ومني او ټکي په ټکي یې حافظې ته وسپاري.

د افغانانو اجتماعي کلتور هم فکر کول نه هڅوي. دلته هغه اولاد بې ادبه ګڼل کېږي چې د پلار له رایې سره اختلاف څرګندوي او په هغه چا پورې خاندو چې زموږ غوندې جامې نه اغوندي، په نوي ډول زراعت کوي یا په نوې نقشه کور جوړوي.

د دغسې اجتماعي کلتور او تعلیمي طریقو په څنګ کې چې سیاسي عامل هم د فکر په ازادي سترګې وربرګې کړي نو ابتکار خواره کی د موږک غوندې سوړې پسې غواړي.

خو ذکر شوي عوامل، لیکوال ته دا پلمه نه شي جوړولای چې له نوښته لاس واخلي، ځکه لیکوال که ابتکار ونلري بیا خو لیکوال نه دی، حال دا چې مثلا بزګر که له نوښته بې برخې وي، تکړه بزګر به یې ونه ګڼو مګر دا نه شو ویلای چې بزګر نه دی.

البته ابتکار هغه وخت واقعي وي چې له پوهې او بصیرته راټوکېدلی وي. په شوره زمکه کې گل نه غوړېږي او په شگو کې محل نه جوړېږي

# د فلسفي فکرونو شاعر

د اشرف مفتون په یوه لیکنه کې د فلسفي او شاعر تر منځ په خبرو کې لولو:

« فلسفي: ته حواس، دلیل او مینې ته بې پته یاران ولې وایې؟

شاعر: دوی مې د حیرت تیاره کې ساتي.

فلسفي: یاري دې د چا خوښه ده؟

شاعر: د پوهې.

فلسفي: پوهه څه څیز دی؟

شاعر: چې حواس، دلیل او مینه یوبل سره غاړه غړې شي نو پوهه ترې پیدا شي او پوهه د کلي روح یا کلي نور لارښوونکې ده.»

په اوولسمه پېړۍ کې انګریز مفکر هابس او نورو ډېرو پوهانو وویل چې د انسان د پوهې یوازینۍ سرچینه د ده حواس دي. اوس هم په علمي او فلسفي کړیو کې عام نظر دا دی چې انسان د حواسو له لارې یو څه رااخلي، درک کوي یې، په حافظه کې یې خوندي کوي او په معرفت باندې یې بدلوي. خو اشرف مفتون نه یوازې په حواسو بلکې په هغه عقل او استدلال هم چندان باور نه لري چې حواس ورته اومه مواد برابروي.

دی وایي:

په محدود عقل تول د انسان خو

په سورۍ تله د سیند تلل دي

انسان او حیوان په حواسو کې شریک دي خو انسان چې عقل او د استدلال قوت لري، د حواسو له لارې راغلي مواد پخوي او د معرفت کلا ورنه جوړوي. انسان ډېر ځله د خپلو حواسو او خپل عقل تر منځ د کشمکش له لاسه په تکلیف وي.

اشرف مفتون دغه کشمکش داسې انځوروي:

یو خوا نهنګ د دلیل، بل خوا غورځنګ د احساس

د ژوندانه کشتۍ مې په مینځ دریاب کې ده

حسي دنیا مو مادي خوندونو ته بیايي او دلیل راڅخه نورې غوښتنې لري. د مفتون په قول:

هومره خوند دلیله تا کې نشته دی

څومره چې د سرو شونډو لمبو کې دی

د اشرف مفتون دا بیت هم په عقل، منطق او فلسفې باندې د خوند او لذت لاسبري ته اشاره کوي:

چې ستا دې ښکلې خولې راته د عشق قصه شروع کړه

منطق خوله خوله شو، فلسفې وشرمېدې

اشرف مفتون داسې هم وايي:

دا ستړی دلیل، پرکاله ذوق، بې پته عقل

مستو شرابونو، ګناهونو کې اوده که

دلیل ولې ستړی دی، ذوق ولې پرکاله( پریشانه ) او عقل ولې بې پته بولي؟

دلیل خو ځکه ستړی دی چې:

دلیل سره یې څه ځواب نشته

چې دنیا څنګه څه ته پیدا شوه

او:

د دلیل دام کې راته ستا ګیرول داسې ښکاري

لکه هوا چې زه په لپه کې نیولی نه شم

دغه راز:

چې خیال او تصور مې له زمان مکان شو پورته

دلیل مې حیران پاتې شو، قیاس مې رپېدو

ذوق ځکه پرکاله دی چې هره شیبه نوې او متضادې غوښتنې لري. د اشرف مفتون په قول:

زړه یار د تورو زلفو، خبرې سپینې غواړي
خوښې بې کلکې وعدې، لیچې مهینې غواړي

دغه راز:

زړگی مې لیونی دی هم ښایست او هم وفا غواړي
هم خواږه دروغ له یاره هم تراخه رښتیا غواړي
دا د محبت لا عجیبه تقاضې وگوره
هم له سترگو گرمې اوښکې هم ترې نه خندا غواړي

او عقل ځکه بې پته بولي چې په حواسو او دلیلونو یې تکیه ده او حقیقت ته په رسېدو کې کامیاب نه دی:

ځنگه چې بلبله پاس اسمان ته ختی نه شي
داسې عقل خوار زمان مکان نه وتی نه شي

عقل که ډېره توره وکړي نو په تیاره کې به د امسا مثال ولري:

د ژوند په کندو لړو تیرو کې
عقل امسا ده ، مینه رڼا ده

نو د مینې رڼا، د حواسو ژوندی وجود او د عقل امسا چې یو بل ته لاسونه سره ورکړي،پوهې ته لار وباسي. مینه دوه اصلي ځانگړنې لري: یو دا چې خودپرستي پکې نه وي او بل یې جذبه ډېره شدیده وي. انسان چې له ځانه راووځي، د جهان د مشاهدې وړتیا پیدا کوي. د دې مشاهدې جذبه چې پیاوړې وي، بیا دا امکان ډېر دی چې حواس او عقل پوهه راوبخښي او د مفتون په قول:

پوهه ده ازاده د منطق له ځولنو نه
وهم دی مجبوره وتی نه شي تورو شپو نه

پوهه چې له وهمه بېله ده، د لوی حقیقت پته راکولای شي. مفتون وایي:

دلیل ته غوږ کې پوهې غلي ووې
څه خو به وي گنې دنیا به نه وه

که د یو شاعر په فکرونو کې تسلسل او ارتباط زیات وي، ممکن فلسفي شاعر یې وبولو. د مفتون شاعري تر ډېره حده د واحد فکر په تار پېیل شوې ده. له بلې خوا دی هغه شاعر دی چې د فلسفې بنیادي پوښتنې مطرح کوي. فلسفه پوښتنه کوي چې ایا کاینات خالق لري او که یې لري کومې ځانګړنې یې دي؟ فلسفه وایي چې ایا له انسان سره دا قدرت شته چې په خپلو حواسو او خپل عقل او منطق حقیقت وپیژني؟ فلسفه د ژوند، د مرګ، د اجتماعي ارزښتونو، فردي ازادیو او داسې نورو مسایلو په باره کې بحثونه کوي. اشرف مفتون چې په فلسفه کې یې لوړې زده کړې وې، همدغسې پوښتنو ته له ځواب ورکولو سره دلچسپي لري. ده د ژوند په باره کې ویلي دي:

زنده ګي هسې بې رحمه ، بې ضمیره معشوقه ده
دا مینه نه په تا ده، نه په بل ده، نه په ما ده

ژوند چې بې رحمه زورور دی، زموږ منطق خواره کی یې د مقابلې وس نه لري:

ډوب به دژوندون د سمندر غلو څپو کې شې
چل د لامبو نشته د منطق په کتابونو کې

که څه هم غني خان د فلسفي شاعر په حیث مشهور دی خو دغه نوم تر غني له مفتون سره ښه لګېږي.

۱۳۹۳

# د لیکوال اجرونه او کړاوونه

یاجوج و ماجوج له حسابه وتلي وو، بیخي ډیر وو او بله دا چې خدای ناترسه وو، ظالمان وو. سکندر ذوالقرنین چې د دوی په سیمه پیښنه وکړه او د مظلومانو فغان یې واورېد نو د دوو غرونو تر منځ یې د وسپنې سد ( دیوال) ودراوه چې یاجوج و ماجوج په خپلو سیمو کې ایسار او نور خلک یې له ستمه خوندي پاتې شي.

د فارسي یوه پخواني شاعر ویلي دي چې سکندر که دوې مصرعې جوړولای شوی، د نوم دپاتېدلو لپاره به یې د سد جوړولو ضرورت نه احساساوه.

شاعر دا خبره ځکه کړې ده چې شاعر او لیکوال ته خپل کار ډیر مهم ښکاري. رحمان بابا له خپل شعره د افغانانو د وطن د معطر کولو توقع لري او خوشحال باوري دی چې:

د خوشحال قدر که نن په هیچا نشته

پس له مرګه به یې یاد کا ډېر عالم

موږ ممکن په خپل کور کې بې پروا وغړیږو خو په مجلس کې احتیاط کوو او هر هر څه نه وایو. شاعر او لیکوال چې ټولو خلکو او ټولو زمانو ته مخاطب دی، طبعا هغه څه وایي چې ده ته ډیر مهم ښکاري. یو ډاکتر یا انجنیر خپل کار ته په اسانی سره بیه ټاکي، خو لیکوال که پر خپل ناول پیسې هم واخلي، په زړه کې ورباندې قانع نه وي او خپل اثر تر دې ډیر مهم ګڼي چې په پیسو دې اندازه شي.

له بلې خوا واقعي هنرمن او لیکوال ته ټولنې په هره زمانه کې د فوق العاده کس په سترګه کتلي دي. که یې دی پیریاني بللی یا یې د الهام څښتن ګڼلی، په دواړو حالتونو کې داسې څوک تصور شوی دی چې استثنایي او باارزښته کار کولای شي. دغه تصور هم د دې سبب شوی چې شاعر د دوو مصرعو تړل د سد سکندر تر تړلو مهم وبولي.

د لیکوالي او شاعري په کار کې ځینې نور اجرونه هم شته.

زاهد د ثواب امید لري او مامور د معاش په تمه کار کوي. لیکوال معمولا د اجر او اجورې توقع نه لري خو تر اکثرو زاهدانو او مامورینو ډیر ستړی وي. په لیکوالو او شاعرانو تور لګول کبرې چې د شهرت لیوني دي او ځینې نور کسان بیا په ډیر احترام ورته قایل دي، د اجتماع خواخوږي او د قام او ملت خادمان یې بولي.

د لیکوال د لیکنې انګیزه که هر څه وي خو په لیکلو کې ځینې داسې اجرونه شته چې په اکثرو چارو کې نشته.

موږ چې یو هنري اثر ولولو، د ژوند په ځینو تجربو کې د تخییل له لارې د شاملیدو فرصت ومومو او په دې ډول خپل ژوند غني شوی احساس کړو. د چیخوف لنډې کیسې مو د سل یونیم سل کاله پخوا وخت روسیې ته بیایي او د هغه ځای د خلکو په غمونو، خوشحالیو، ارزوګانو، ساده ګیو، چالاکیو او تجربو کې شریکېږو.

لیکوال چې د خپلې هنري لیکنې له لارې دا قدرت لري چې په لوستونکي باندې د بل چا ژوند وڅکي، پخپله دی طبعا هغه ژوند چې ده تخییل کړی دی، لا ژور احساسولای شي. ناول لیکونکی چې د یو چا سرګذشت بیانوي، د ناول تر پایه پورې د تخییل په مرسته یو بل ژوند هم وکړي او ډیر داسې څه ویني چې پخوا یې نه وو لیدلي. د بالزاک په باره کې مې لوستي وو چې د زنکدن په وخت کې یې هغه طبیب ورباله چې ده په یوه ناول کې پنځولی و. مانا دا چې د تخییل تجربه ممکن ډیره ژوره وي. یو ځوک به دولس کاله په یوه ښوونځي کې سبق ووایي خو بیا به یې هم د ښوونځي تجربه برسیرنه وي. برعکس، کیسه لیکونکی به یو ښوونځی په کیسه کې وښیي او د دې انځور د ایستلو لپاره به دومره په خپل ذهن فشار واچوي چې تر هغه بل کس به د ده د ښوونځي تجربه ډیره واقعي او ژوندۍ ښکاري.

نه یوازې تخییلي لیکنې بلکې مقالې او تحقیقي لیکنې هم د لیکوال ژوند او فکر غني کولای شي. زه خپله معمولا په هغو موضوعاتو لیکنه نه کوم چې ګومان کوم وربانديې پوهیږم، د لیکلو لپاره ډیر ځله هغه موضوع راته جالبه وي چې زما لپاره مبهم

اړخونه پکې زيات وي. د ليکلو په وخت ورو ورو سوالونو ته ځوابونه ومومم او داسې احساس کړم چې په يو څه پوه شوی يم.

موږ چې هينداري ته ودرېږو، هاله پوه شو چې مخ او ويښته مو ښنګه دي. موږ د خپل فکر د ليدلو لپاره بيله آيينه لرو او هغه ليکنه ده. د خپل فکر ښکلاوې او بدرنګۍ هاله سمې ليدلای شو چې ويې ليکو او ويې ګورو. ليکنې د فکرونو د مخ هينداري دي. هغوی چې دا هينداري لري، د فکرونو انسجام ورته اسانه دی. ځينې کسان شايد بې هينداري هم خپل ويښته سم ږمنځ کړي خو د آيينې ښښتن ته د ويښتو سمول په مراتبو اسانه چاره ده.

د ليکوالي کار يو بل اجر هم لري. ليکوال ګومان کوي چې په ټولنه باندې اغيز اچولای او د هغې په بدلانه کې برخه لرلای شي. دا ګومان مازې خيال نه دی. د ټولنې د ذوق او فکر په جوړېدو کې هر واقعي شاعر او ليکوال خپله ونډه لري. د قلم ځوکه کله کله تر توري تېره ثابته شي.

دغه احساس چې يو وخت به نه يو، غمجن احساس دی. داسې څه ليکل چې پاييدلو ته يې اميد ولرو، د نشتوالي درد کمولای شي.

ليکوال او شاعر چې پياوړی تخييل لري، نسبت نورو کسانو ته د يوازيتوب ژوند اسانه تېروي او له دې مشکل سره چندان نه مخامخ کيږي چې وخت ښنګه واړوي. زما پلار د ژوند د وروستيو کلونو اکثره ورځې د خپل خوب په کوټه کې يوازې تيرې کړې. زه چې به ماښام له دفتره ورغلم، يوه هميشنۍ پوښتنه مې ورنه دا وه چې ورځ خو درباندې اوږده نه شوه؟ او د ده ځواب تقريبا هر ځل دا رنګه و: نه، د خيال په مرسته ډيره ژر تيره شوه.

د ليکوال ټول اجرونه د ځينو کړاوونو په بدل کې وي چې زما په ګومان درې پکې تر نورو مهم دي. يو دا چې له ده به معمولا هغه چارې نيمګړې پاتې وي چې په عادي ژوند کې ضروري بلل کيږي. دی چې ډير وخت له ځان سره بوخت وي د جهان په کار کې يې ملا ماته وي او که هر څو د رحمان بابا غوندې ووايي چې :

زه رحمان پخپله ګرم یم چې مېین شوم
دغه نور عالم مې بولي ګرم په څه

خو نور یې ګرم ګڼي او د دفتر همکاران څه کوې چې ان د کور غړي ورڅخه ډېرې ګیلې لري. یوه ورځ په پېښور کې د پروفیسر تقویم الحق کاکاخیل مرحوم او پروفیسر قلندر مومند مرحوم په مجلس کې ناست وم. دواړو شکایت کاوه چې میرمنې یې د دوی د لیکلو له کاره راضي نه دي.

د شاعر او لیکوال یو بل مشکل دا دی چې سم نه پوهیږي چې شهکار که یې چټیات لیکلي دي. بیا هم د پروفیسر کاکاخیل مرحوم یوه خاطره رایاده شوه. ویل یې، خلک راڅخه کتابونه غواړي خو زه داسې کتاب نه شم لیکلای چې شپیته کاله عمر وکړي مګر داسې کور جوړولای شم چې شپیته کاله د استفادې جوګه وي. د کاکاخیل مرحوم په دې خبره کې د لیکوال پټ اضطراب ته اشاره وینو. د خپل کار د سرنوشت په اړه اندېښنه دردوونکې ده. شاعر او لیکوال پوهیږي چې واقعي شاعري او واقعي لیکوالي په ډېر څه ارزي ، مګر د خپلو آثارو د ارزښت په باره کې تشویشونه ورسره وي. دغه تشویش یې ناارامه ساتي او لا زیاتو هڅو ته یې اړباسي.

د لیکوال او شاعر بله لویه ستونزه دا ده چې د ټولنې له اقدارو سره یې جنجال وي. د ټولنې له ارزښتونو سره کشمکش یې مجبوروي چې قلم راواخلي او په خیال کې نوې دنیا جوړه کړي. دغه کشمکش د لیکوالي په کار کې ورسره مرسته کوي مګر په عملي ژوند کې یې ډېر په تکلیفولای شي.

۱۳۹۵

# اروا پوهنیزه کره کتنه

اروا‌پوهنیزه کره کتنه په ادبي مطالعاتو کې له څلورو اړخونو برخه اخلي:

**الف، د لیکوال یا شاعرد آثارو په اساس د هغه مطالعه.**

ساینس پوه د طبیعت په باره کې او ټولنپوه د ټولنې په باب معلومات راکوي خو شاعر یا کیسه لیکونکی ډېر څهٔ د ځان، د خپل احساس او خپلو تاثراتو په باره کې وایي. دی که د گل په باره کې هم غږېږي نو په دې ځرگندونه کې د دهٔ احساس او  شخصیت شامل دی ځکه خو د لیکوال یا شاعر د آثارو په رڼا کې د هغهٔ د شخصیت په باب اروا‌پوهنیزه څېړنه کېدونې ده.

د لوی اروا‌پوه زیگمنډ فرویډ په نظر لیکوال او شاعران ( هنرمن کسان ټول ) عصبي ناروغان ( نوروتیك ) بللی شو. د هغوی لیکنه د هغوی د ناروغی په باره کې یو رپورټ دی. البته ، دوی کله کله ځان بلکل اپوټه معرفي کوي خو په هر حال، د هنر له لارې د ځان په باب غږېدل د هنروالو لپاره د درملو حیثیت لري. د لیکنې د سمبولونو، ایماژونو، توصیفونو او هغو انحرافونو په مرسته چې د هنرمن په سبك کې شته د لیکنې اروایي شننه کېدونې او د لیکوال د اروا پېژندنه ممکنه ده.

فرویډ که دا شننې کوي هغه خو اروا‌پوه دی. ایا ادیب ته ممکنه ده چې دغسې شننې وکړي؟ د کره کتنې تاریخ راته وایي چې ځینې ادیبان که څهٔ هم اراوپوهان نه وو خو د لیکوالو او شاعرانو د اروا‌پوهنې په باب یې قیمتي کارونه کړي دي. البته، په دې کار کې د لویو تېروتنو خطر هم شته.

موږ په ځینو لیکنو کې لولو چې شاعرپه دې دلیل د عالي اخلاقو څښتن معرفي کېږي چې په خپل شعر کې یې اخلاقي اقدار ستایلي دي. دا ډېر برسېرن قضاوت دی. لیکوال یا شاعر ممکن د مخاطبانو د خوشحالولو لپاره اویا

لکه څنګه چې فروييد وايي د ځان د پټولو لپاره هغه خبره وکړي چې په زړۀ کې ورسره موافق نه دي.

دغه راز شعر او ادب خپل دودونه او سوابق لري. شاعران چې څۀ ليکي تولې يې خپلې خبرې نۀ وي بلکې د پخواني دود تکرار هم پکې شامل وي. ګودر د پښتو د رومانتيك شعر دوديز مکان او مازديګر يې دوديز مهال دی. يو چا به ممکن ټول عمر ګودر نۀ وي ليدلی خو چې پښتو شعر وايي ممکن ګودر ياد کړي. زموږ کابو ټول پخواني شاعران د عرفان خبرې کوي خو ګڼو يې هسې د شاعرانه دود او د پخوانيو د پيروي په خاطر عرفاني خبرې کړې دي.

کمزوري شاعران اکثره وخت او لوی شاعران کله کله ، د وزن، رديف او په تېره بيا قافيې د مجبورۍ په خاطر هغه څه وايي چې د دوی د زړۀ اواز نه وي.

د شاعر يا ليکوال د آثارو په اساس د هغۀ د ذهن او شخصيت د درك لپاره ، په ارواپوهنه کې په ضروري معلوماتو سربېره څېړونکي ته پکار ده چې د ليکوال يا شاعر په ليکنو کې دومره ډېر غور وکړي چې هغه د چا خبره د ليکونکي د زړۀ دربا واوري او د هغۀ سبك کشف کاندي. د پښتو لوی شاعرحميد مومند د ژوند او شعر په مختلفو موضوعاتو شاعري کړې ده خو کله چې د معشوق د خط ذکر کوي هالۀ يې د شعر تصوير لا ظريف ، لاښکلی او لاروښان شي. موږ ويلای شو چې حميد د فارسي د ځينو شاعرانو په پيروي هسې د يو شاعرانه دود له مخې خط نه يادوي بلکې له خط سره د زړۀ له تله دلچسپي لري.

## ب، د اثر د تخليق د پروسې ارواپوهنيزه څېړنه:

هغه وخت چې موضوع د شاعر يا ليکوال توجه جلبوي، هغه وخت چې يې په ذهن کې پخوي، چې د ليکلو جذبه ورپيدا کېږي، چې ليکي يې او بيا يې د وروستي ځل لپاره پاکنويس کوي، دا ټول د اثر د تخليق مراحل بللی شو.

د پخوانو په نظر په شاعر باندې د الهام څپه شعر ليکي. له الهامه منظور هغه محرك دی چې شاعر او هنرمن د هنري اثر پنځولو ته اړباسي، هڅوي يې او ليکلو ته يې چمتو کوي.

زموږ د زمانې شاعر اروانښاد خيبر اپرېدی د الهام په باره کې وايي:

الهام څۀ دی؟ د حواسو بيداري ده

له باران نه مخکې لوند وي د وږمې بوی

الهام پخپله بېدارېږي، که يې بېداري د حواسو د څښتن په لاس کې ده؟

زموږ د وخت يو بل شاعر اشرف مفتون ، الهام د شاعر له کنټروله وتلی گڼي:

د حادثې شان د وس نه بار دی

شعر الهام دی خپله نازل شي

لرغونو يونانيانو به ويل چې د هنر الهه شاعر ته شعر الهاموي. د پخوانو عربو باور و چې شاعر

ته د تابعې په نوم پېرۍ او شاعرې ته د تابع په نوم پېری د شع ين کوي.

خو په نولسمه پېړۍ کې چې د الهام په باره کې نو ېرې وشوې ، وويل شول چې الهام خارجي منبع نلري بلکې د هنرمن په ذهن کې يې ځاله وي.

او کله چې زيگمند فرويد د لاشعور اهميت څرگند کړ نو په شلمه پېړۍ کې دا خبره يقيني شوه چې د الهام سرچينه د انسان په لاشعور کې ده. يعنې د ذهن په هغه برخه کې چې د وگړي له ياد، شعور او کنټروله وتلې ده.

هنرمن له ژوند او پېښو په لاشعوري ډول اغېزمن شي، يو سبب پيدا شي په ذهن کې ويدې اغېزې ناڅاپه راوېښې کړي او شاعر يا ليکوال ځان مجبور وگڼي چې قلم راواخلي.

یو بل عام خو ناسم گومان دا دی چې شاعر هڅې او مښود ته ضرورت نلري ځکه شعر په الهام ویل کېږي. درویش دراني د دې نظر د ردولو په وخت ازادۍ راډیو ته ( د ۱۳۸۵ کال په مني کې ) وویل چې پیغمبر ( ص ) هم د وحي د نازلېدو لپاره حرا غار ته لاړ او عبادتونه یې وکړل. د پیرمحمد کاروان دا خبره چې د شعر لپاره ریاضت پکار دی، مشهوره ده.

د اثر د تخلیق د مراحلو د ارواپوهنېزې څېړنې په بحث کې ، د لیکلو په وخت د هر شاعر یا لیکوال خاص خویونه او عادتونه هم یادولی شو.

ځینې لیکوال د لیکلو لپاره یوازیتوب خوښوي. استاد الفت لیکلي دي چې د مطالبو د لیکلو لپاره ډېر ځله هدیرو او گوښه ځایونو ته تللی دی. خو د استاد بېنوا په باره کې مې له خپل پلاره اورېدلي چې گڼ مطالب یې د نورو په حضور کې په دفتر کې لیکلي دي. په کندز کې یو شاعر راته ویلي وو چې یوازې د یخنۍ په موسم کې شعر ویلی شي. د استاد شپون په اټوبیوگرافي کې راغلي چې هغهٔ ته ناول لیکونکي عبیدالله محك ویلي چې د مطالبو کمپوزول یې د الهام خنډ کېږي خو په قلم باندې لیکل یې د الهام مخه نهٔ نیسي. داسې ښکاري چې د لیکلو لپاره مناسب شرایط د لیکوالو د شخصي عادتونو په اساس فرق کوي.استاد شپون پنځلس کاله پخوا ( په ۱۳۷۱ لمریز کال ) د لندن چاپ ډیوې مجلې سره په مرکه کې ویلي وو چې د ښي لاس د شهادت گوته یې غوټه لري او د دې شي وجه دا ده چې په لاس کې یې قلم ډېر نیولی دی. خو دغه استاد په ۱۳۸٦ کې په کابل کې ویل چې بې کمپیوټره او کمپوزه ورته د کیسې پنځول مشکله دي.

**ج، په لوستونکي باندې د اثر د اغېز ارواپوهنیزه مطالعه:**

ارسطو په بوطیقا کې لیکلي دي چې د تراژیدي لیدل د بنیادم د وېرې او زړهٔ سوي عواطف پاروي. وېره ځکه ورپیدا کېږي چې په ذهن کې ورگرځي

چې هسې نه زۀ په دې مصیبت واوړم او زړۀ سوی ځکه احساسوي چې له ځان سره وايي په دومره وړه خطا خو اتل ته دومره لویه سزا نه وه پکار.

د دې مثال له راوړلو منظور دا دی چې دغه بحث له پېړیو پېړیو را روان دی . د اغېز بحثونه مختلفې بڼې لرلای شي. مثلا ارسطو د یوۀ ژانر اغېز څېړلی وو خو نن سبا د ټولو ادیبانو یا خاص اثر د اغېز خبره کېږي. دغه راز د بېلو بېلو عمرونو، بېلو سویو او داسې نورو اجتماعي ګروپونو په افرادو باندې د ادبیاتو د رواني اغېز په اړه څېړنې کېدونې دي.

دال، د ادبي اثر او د هغۀ د کرکټرونو او موضوعاتو اروا پوهنیزه مطالعه:

هغه ځۀ ته چې اروا پوهنیزه کره کتنه وايي او په ادبیاتو کې استفاده ورنه کېږي، تر ډېره حده همدا د ( دال ) مورد دی.

ځینې اثار په ظاهره ګډ وډ دي خو بیا هم په لوستونکو ژور اغېز شیندي.

د دغسې اثارو اروا پوهنیزه مطالعه مو ممکن وپوهوي چې ولې اثرناک دي؟

اروا پوهنیزه مطالعه کولای شي د ځینو اثارو پټه معنا راوسپړي او د داسې رازونو د کوټې کونجې په لاس راکړي چې په بله ذریعه ورنه خبرېدل ممکن نۀ دي.

اروا پوهنې شاید تر کره کتونکو هم له لیکوالو او شاعرانو سره ډېره مرسته کړې وي چې د انسان فطرت لا ښۀ وپېژني او خپل فکر وخیال لا شتمن کاندي.

د شلمې پېړۍ شاعر اشرف مفتون وايي:

کوم چې په وېښه شریف او ساد دی
په خیال او خوب کې کاسیر او غل دی

دا هم د دۀ وینا ده:

په فطرت او شرافت کې خدایه څومره تفاوت دی
چې بېداره وه نېکي وه چې ودۀ شوله ګناه شوه

فروييد چې د انسان لاشعور ( چې په خوب کې ببداربږي ) سپړلی دا يې ثابته کړې ده چې لاشعور د کاسيرو خيالونو او رندو هوسونو ځاله ده. د اشراف مفتون په دغو بېتونو او نوره شاعري کې د نوې اروا پوهنې اثر ليدلی شو.

اروا پوهنه په مختلفو مکتبونو وېشل کېږي چې تر ګردو مطرح او منلی يې د زيګمند فروييد مکتب دی. اروا پوهنيزې کره کتنې هم تر ډېره حده د دهٔ د نظرياتو په رڼا کې کېږي.

اوسنۍ اروا پوهنې ته د زيګمند فروييد ( ۱۸۵۶-۱۹۳۹ ) تر ګردو لوی خدمت د وګړي د ذهن په لاشعوري اړخ باندې تينګار بلل شوی دی. دهٔ ثابته کړه چې د وګړي عملونه، خويونه، عادتونه او غوښتنې د لاشعور تر اغېز لاندې دي. بنيادم خپله هره غوښتنه چې ورباندې ځوربږي، د خپل شعور له ساحې باسي ، له پامه يې غورځوي ، لاشعور ته يې ټېل وهي او هلته يې بندي کوي. بنيادم خپلې ګڼې غوښتنې او خاطرې ځکه له شعوره شړي چې د دهٔ له وجدان ، کورنۍ روزنې ، دودونو، عقيدو او اقدارو سره په ټکر کې وي. د فروييډ په نظرکله چې د لاشعور په سمڅه کې ايسارې غوښتنې ډېرې زورورې او د شعور ساحې ته د راوتلو لپاره يې فشار ډېر شي ، وګړی په روحي ناروغيو مبتلا کړي.

فروييډ د خپلې يوې ناروغې مثال ورکوي : هغه يوه نجلۍ وه چې څه موده يې د ناروغ پلار خدمت کړی و. د پلار له مړينې وروسته يې مشرې خور وادهٔ وکړ. دې چې ځان بې سر پرسته ليدهٔ د خور له خاوند سره يې دلچسپي پيدا کړه خو خپل وجدان ته به يې ويل چې دا پاکه مينه ده، لکه خور چې يې له ورور سره لري. يوه ورځ د خور له مړينې خبرېږي، د هغوی کور ته ورځي او چې د خور تابوتويني نو ناڅاپه په ذهن کې ورتېرېږي:« اوس خو سړی کونډ شو ، له ما سره وادهٔ کولای شي.»

خو په دغه فکر باندې يې وجدان سمدستي يرغل کوي، شرم و ګناه احساسوي، ناکراره کېږي، او د ذهن د کرارولو لپاره دغه ناوړه فکر و احساس لا

شعور ته ټېل وهي . څهٔ موده پس نجلۍ ته روحي ناروغي پیدا کېږي. فرویډ د ارواپوهنې په طریقو نجلۍ ته هېرې کړې خبرې وریادې کړې او تلقین یې کړه چې دغسې تمایلات غیر طبیعي نه دي. نجلۍ چې ذهن سپك شوی احساس کړ، بهتره شوه.

فرویډ د انسان ذهن د شعور، لاشعور او نیم لاشعور په درېو برخو وېشي. لاشعور د ذهن تر ګردو لویه برخه ده چې په اسانۍ سره شعور ته نهٔ راوځي او ځینې محتویات یې ممکن هیڅکله راڅرګند نهٔ شي. نیم لاشعور په اسانۍ سره په شعور بدلېږي. شعور د ذهن یوه کوچنۍ برخه ده چې بنیادم یې په محتویاتو خبر دی او ورپام یې دی.

فرویډ د انسان په شخصیت کې هم درې اړخه ویني . دی د شخصیت هغه خوا چې یوازې په خوند پسې ګرځي او هیڅ ډول اجتماعي اصول نه مني ، ( اید ) بولي. اید چې ټول د ذهن په لاشعوري برخه کې دی، د لیبیدو مخزن او ګودام دی. لیبیدو د فرویډ په ارواپوهنه کې ډېر اهمیت لري. لیبیدو د شهوت انرژي ده او څرنګه چې د فرویډ په نظر جنسي غریزه د انسان د شخصیت په جوړولو او د هغهٔ د سلوك په هدایت کې تر بل هر رواني عامل اغېزناکه ده ، نو ، لیبیدو د فرویډ په ارواپوهنه کې د ژوند د شوق او جذبې سرچینه او یا په بل عبارت د ټولې رواني انرژي اصلي منبع ده.

د فرویډ په نظر د ماشوم شخصیت د زېږېدلو په وخت یوازې اید لري. دغه ماشوم ړنده غوښتنه ده او بس. نه نېکي پېژني، نهٔ بدي پېژني، نهٔ اخلاق مني، نه اصول مني. یوازې او یوازې په خوند پسې ګرځي. د اید په دنیا کې چې منطقي اصول نه چلېږي ، ممکن متضادې غوښتنې د یو بل په څنګ کې ژوند وکړي. دلته ممکن د بل د خوړولو د هوس په څنګ کې د ځان د خوړولو هوس هم ځاله وکړي.

خو ماشوم د وخت په تېرېدو سره پوه شي چې د هوس د پوره کولو لپاره د چاپېريال غوښتنو ته پام پکار دی. د اورلمبه به ښکلې وي مگر لاس بايد ورنهٔ وړي چې سوځوي يې . د پيالې په ماتولو کې به خوند وي خو په دې کار کې خطر دی ځکه مور به يې ورټي. د چاپېريال د غوښتنو په چوکاټ کې د خپلو غريزو او غوښتنو ځايول د بنيادم د شخصيت بل اړخ دی چې فرويډ يې ( ايگو ) بولي. ايگو د ايډ د ړندو غوښتنو مخالف نه دی خو څرنگه چې په چاپېريال خبر دی نو د هوس د پوره کولو لپاره شرايطو ته هم پام کوي. زموږ عقلاني فعاليتونه او حافظه له ايگو سره تعلق لري. ايگو يو څهٔ په شعور او يو څهٔ په لاشعور او نيم لاشعور کې واقع ده. په ايگو کې که څهٔ هم د ايډ په اندازه د ژوند پياوړې سېکه او جذبه نشته خو د ايډ د غريزي تمايلاتو د کنټرول او اېلولو لپاره يې وجود ضروري دی.

په څلور پنځه کلنۍ کې د شخصيت د يو بل اړخ وده پيلېږي چې فرويډ يې ( سوپر ايگو) بولي . کله چې ماشوم د مورو پلار او نورو لارښوونې ، له وېرې نه بلکې د زړهٔ له تله ومني، معنا يې دا ده چې په شخصيت کې يې د سوپر ايگو اړخ پيدا شوی دی. سوپر ايگو تر ډېره حده د ټولنې د اقدارو، باورونو او اخلاقو مدافع او د ايډ د بې شرمو غوښتنو مخالف دی . د سوپر ايگو لويه برخه په لاشعور کې وي.

د فرويډ په نظر په روحي لحاظ روغ بنيادم پياوړی ايگو لري. پياوړی ايگو هم ايډ کنټرولوي، هم سوپر ايگو دې ته نهٔ پرېږدي چې بنيادم د وچو اخلاقو پېرو او له خلکو سره په روابطو کې متعصب قاضي شي. ايگو له يوې خوا له خارجي واقعيت سره د ارتباط وسيله ده، له بلې خوا د ايډ او سوپر ايگو په شخړه کې د تعادل هڅه کوي. که يو څهٔ په غير فني ژبه وغږېږو ويلی شو چې ايگو عقل، ايډ اماره نفس او سوپر ايگو وجدان دی.

د ایډ غوښتنې چې د چاپېریال په څېږه بیا بیا ووهل شي او لاشعور ته ورټېل وهل شي ، هلته سره غوټه شي، رواني عقده ( کمپلکس ) پیدا کړي. د فرویډ د ارواپوهنې تر ګردو مهمه عقده د اودیپوس عقده نومېږي چې په ادبي اثارو کې یې هم ډېر مثالونه موندلی شو.

د فرویډ په نظر ماشوم د مور د مینې په سر له خپل پلار سره په لاشعو کې رقابت کوي. دغه رقابت په څلور، پنځهٔ کلنۍ کې راڅرګندېږي او په عقد بدلېږي. فرویډ په دې عقدې د کابو دوه نیم زره کاله پخوا یوناني ډرا لیکونکي سوفوکلس د یوې ډرامې د اتل نوم ( اودیپوس ) نوم ایښی دی. د ډرامې خلاصه داسې ده چې د تیبیس پاچا او ملکې ( لایوس او یوکاستي ) ته یو غیبګو خبر ورکوي چې د دوی ماشوم چې لوی شي، پلاربه ووژني او له مور سره به وادهٔ وکړي. پاچا امر کوي چې نوزېږی ماشوم دې یې له کوره وایستل شي، په صحرا کې دې پرېښودل شي. د یادولو ده چې ځینو پخوانو یونانیانو به خپل ناروغ نوزېږي له کوره بهر غورځول چې له لوږې تندې ومري یا یې ځناور ووژني. پاچا هم د دې لپاره چې ماشوم ومري دا کار وکړ خو په ماشوم یو شپون مهربان شو. ماشوم یې د کورینت سیمې ته یووړ. د کورینت پاچا او ملکې هغه د زوی په نوم لوی کړ. دغه هلك ته په لوینې غیبګو وویل چې پلار به ووژني او له مور سره به وادهٔ وکړي. دهٔ له تقدیره د تېښتې لپاره کورینت پرېښود، مخ په تبس روان شو. په لاره کې یې یو بوډا او د هغه کسان په جګړه کې ووژل. تبیس ته څېرمه یې د سفنکس ( ابوالهول ) له شره ښاریان وژغورل. دغه وخت چې ملکه کونډه وه ښاریانو پرېکړه کړې وه چې که هر چا د سفنکس د معماوو ځواب ووایهٔ او د هغهٔ له شره یې وژغورلو ، ملکه او تاج و تخت به د هغهٔ وي. اودیپوس په ناخبرۍ کې له مور سره وادهٔ وکړ او د تبیس پاچا شو. کلونه واوښتل او ملکه له اودیپوسه د څلورو ماشومانو مور شوه. اودیپوس په دې هم نه دی پوه چې هغه قتل کړی بوډا یې پلار و. بالاخره یو وخت په ښار کې طاعون خپرېږي. د

طاعون د خپرېدو علت دا دی چې د پخواني پاچا قاتل لا تر اوسه نامعلوم او له سزا بچ دی. څېړنې پېلېږي او حقیقت معلومېږي چې قاتل اوديپوس دی. هغه خپل پلار وژلی او له خپلې مور سره يې واده کړی دی. مور – مېرمن ( یوکاستې ) ځان وواژه او اوديپوس خپلې سترګې وایستلې ، تاج وتخت ته يې شا کړه ، له تبسه ووت.

د فرويډ په نظر نجونې بيا د پلار د مينې په سر له مور سره لاشعوري رقابت کوي. دی د نجونو دغسې عقده الکترا بولي. الکترا د سوفوکلس د بلې ډرامې نوم دی.

د فرويډ له څېړنو سره سم، ماشوم په لاشعوري ډول غواړي چې مور يې بايد د ده پلار ته نه بلکې ده ته پام وکړي. دی فکر کوي چې که پلار نه وای مور به یوازې د ده خدمت کاوه. دا په حقیقت کې د پلار د مرګ لاشعوري ارزو ده. له بلې خوا ، دی چې پلار سیال او رقیب ګڼي له هغه سره د ځان ورته کولو هوس هم کوي. مثلا ممکن د هغه کورتی واغوندي او د هغه غوندې عینکې په سترګو کړي چې که ګوندې د مور په زړه کې د پلار ځای ونیسي. وروسته بیا زده کړي چې دا خو ډېره ناولې ارزو ده، نو د یاد له ساحې يې وباسي. دی که سم تربیه شي او روحي ناروغي ونلري نو په لوینې په مخالف جنس کې غیر محارمو ته تمایل پیدا کوي. د اوديپوس شدیده عقده د فرويډ په نظر د ډېرو روحي ستونزو سرچینه ده. مثلا هغه نارینه چې د اوديپوس عقده يې پیاوړې ده ممکن په لوینې له ښځو د تېښتې او له ښځو د ګوښه کېدو خوی ولري ځکه دی له هغو سره په تعلقاتو کې د ژورې ګناه احساس کوي.

نامتو انګرېز کره کتونکی ارنسټ جونز د شکسپیر په مشهوره تراژیدي هاملت کې د هاملت دغه خوی چې له خپلې نامزدې ( افلیا ) ګرېزانه دی، د هغه د اوديپوس عقدې په وجه ګڼي. هملت چې يو دنمارکي شهزاده دی تره يې راپاڅي د ده پلار وژني او د ده له مور سره واده کوي. هاملت ته خو ځله

فرصت په ګوتو ورشي چې ترهٔ ووژني او د پلار بدل واخلي ، مګر عملي اقدام نهٔ شي کولای. تر شلمې پېړۍ پورې د هاملت د دغه متردد حالت په واقعي معنا هېڅوک نهٔ پوهېدل خو ارنسټ جونز ته د اوديپوس عقدې په رڼا کې پته ولګېده چې هملت ځکه د پلار قاتل نهٔ وژني چې د پلار وژل خو د دهٔ لاشعوري ارزو هم وه او اوس که ترهٔ وژني په رواني لحاظ يې معنا دا ده چې ځان يې وژلی دی.

اوس به د فرويډ د نظرياتو په رڼا کې د پټي خان او رابيا د نکل مختصره شننه وکړو. په دې نکل کې پټې خان د ايګو ، کرمی د ايډ او د پټي خان پلار اسلم خان د سوپر ايګو استازي بللی شو.

اسلم خان پاچا غواړي چې د پټي خان او د هغهٔ د همزولو ملګرو ( ټول شپېتهٔ کسه دي. ) ښهٔ تربيت او حفاظت وشي. سوپرايګو د اجتماعي او اخلاقي اقدارو پېرو وي خو ايډ يوازې د لېونو ارزوګانو او رندو هوسونو په پوره کولو پسې ګرځي. د ايډ او سوپر ايګو روغه سره نهٔ کېږي.

اسلم خان پاچا غواړي چې زوی يې د باتربيته انسان په توګه د دهٔ ځنګ ته په بست کې واوسي مګر د کرمي ارزو ده چې پټي خان ( او ټول ملګري يې ) په بست کې بد معاشي وکړي. يو مازديګر چې پټي خان او ملګري يې په چکر وتلي وو ، د کرمي ښځو ته پام شول چې په منګيو کې يې اوبه وړې . پټي خان ته يې وويل: پټي خانه ، راشه چې د دې ښځو منګي په ګټو مات کړو چې دا اوبهٔ ځنګه ورباندې بهيږي؟ سيل به يې وکوو.

پټي خان ورسره هو کړه.

پلار زوی په نرمه وهڅاوهٔ چې غلط کارونه مهٔ کوه. په مقابل کې کرمي، پټي خان وهڅاوهٔ چې بست پرېږدي. ( يعنې سوپر ايګو ته شا کړي. )

کرمی بريالی شو. پټي خان او ياران يې له بسته ووتل. اسلم خان د وروستی هڅې په توګه سپين ږيري ورواستول چې راستانهٔ يې کړي خو کامياب

نهٔ شو. سپین ږیرو پتي خان ته وویل چې که څې نو عربستان ته لاړ شه، هندوستان ته مهٔ ځه.

وروسته بیا پتي خان کرمي ته وویل چې، یوه څانګه جګه کړه، سهار به یې وګورو ، که هرې خوا ته کږه شوه، هغې خوا ته به ځو.

کرمي همداسې وکړل خو په نیمه شپه راپاڅېد او څانګه یې چې د عربستان په لور کږه شوې وه، د هند لور ته کږه کړه. د کرمي دا کار د شخصیت په معنوي اړخ او سوپرایګو باندې ورورستی کاري ګوزار بللی شو. پخوانو متل کړی دی چې که دین غواړې عربستان ته لاړ شه او که دنیا غواړې هندوستان ته. په هند کې کرمي خپل ملګري له شمس الدین پاچا سره په جګړه واړول چې په نتیجه کې شپېتهٔ واړه تباه شول.

د دې نکل اروا‌پوهنیز تعبیر راته وایي چې که وګړي وجدان او سوپر ایګو ته شا کړي روحي تعادل یې ختمېږي ، شخصیت یې خامخا تباه کېږي.

د فرویډ په اروا‌پوهنه کې ایګو د اېډ او سوپرایګو تر منځ د تعادل راوستو ذریعه ده. ایګو د عقل او منطق په اساس چلېږي خو هغه نور دوه احساساتي ماهیت لري. د فرویډ په نظر په رواني لحاظ روغ بنیادم پیاوړی ایګو لري خو پتي خان د ایګو د مجسم کوونکي او استازي په حیث کمزوری موجود دی. دی د پلار اوکرمي د تمایلاتو تر منځ تعادل نهٔ شي راوستلای، د کرمي په لور ښویېږي.

له دهٔ سره د پلار د سوړ وضعیت د زغملو حوصله نشته او کله چې د سپین ږیرو د غوښتنې تر اغېز لاندې هندوستان ته د تلو فیصله ځنډوي نو د دې په ځای چې په عقل او منطق تکیه وکړي خپل سرنوشت باد او لکړې ته سپاري. په پردېسۍ کې دی له ملګرو غواړي چې په هغه کلي کې مهٔ اړوئ چې کلیوال یې سره متفق دي ځکه غلبه ورباندې مشکله ده. دغه راز یوې کلا ته د داخلېدو لپاره د زور په ځای د چل توصیه کوي. دغسې کارونه ښیي چې پتي

خان د ایګو په حیث خپله دنده ترڅۀ حده پورې تر سره کوي مګر د اېډ ( کرمي ) په مقابل کې ډېر بې وسه دی. دی که څۀ هم یو وخت وایي چې کرمیه غم به نه وي غم به راوړې . خو دا ډېر ناوخته فغان دی.

د پتي خان په نکل باندې د اوديپوس د عقدې په رڼا کې هم تبصره ممکنه ده. دی چې د لاشعوري تمایلاتو په حکم غواړي د پلار له سلطې راووځي هسې په وړه خبره وطن پرېږدي.

د فرویید د اروا پوهنې په باره کې ویل کېږي چې د جنسي غریزې په اهمیت کې یې مبالغه کړې ده. ځینې اروا پوهان یې په اېډ ، ایګو او سوپر ایګو باندې د شخصیت د وېش له نظریې سره هم مخالفت ښرګندوي. خو له دغسې نیوکو سره سره د فرویید نظریات د اروا پوهنې تر ګردو مهم او منلي نظریات بلل کېږي. د اروا پوهنیزې کره کتنې لویه برخه د فرویید له اروا پوهنې سره تعلق لري.

اوس به د اروا ښاد پروفیسر قلندر مومند د یو نظم د اروا پوهنېزې شننې هڅه وکړو.

### د ګلاب ګل

یه د ګلاب ښکلوکیه ګله څه په مخه دې ښه
زما شیرینې له زما له خوا سلام یوسه
هغه شیرینه محبوبه چې هم یې زه خراب کړم ( ۱ )
هم یې خپل وخت هغې ته دا رنګې پیغام یوسه

ورته دا ووایه چې اوس خو به پوهېږې کنه
چې په ګلاب دې یادومه نو مطلب مې څۀ وي؟ (۲)
تۀ د ګلاب غوندې نازکه ښایسته یې لښتې
په دې تشبیه کې صداقت شیرینې وي که نه وي؟

د نجونو میرې هغې ښکلې ته دا هم ووایه
هغه چې خپل اسماني حسن یې پنهان ساتلی
چې که ته هم لکه د ګل وای په بېدیا زرغونه (۳)
ستا حسن هم به بې ستاینې و تر ګوره تللی

چې په تیارو کې وي ښایست هڅو قیمت یې نه وي
زما شیرینې محبوبې لږه جلوه وښیه
مخ راڅرګند کړه چې دنیا دې ارزوګانې وکړي (۴)
ورته ګلابه وایه دا هومره حیا مه کوه

د ګلاب ګله بیا د یار په غېږ کې ورږېږه
چې هغې پېغلې ته د حسن اصلیت ښکاره شي (۵)
تمامې ښکلې تول خواږۀ وي یو ساعت د پاره
چې ستا په مرګ کې ورته دغه حقیقت ښکاره شي

ګلاب ګل په اروپایي ادب کې د ښځینه ښکلا سمبول دی. زموږ په ادب کې هم له حسن ومینې او د وصال له ارزو سره تعلق لري :

په ګل ګلاب دې ووېشتمه

تر لاس دې جار شم رقیبانو ولیدمه

د پروفیسر قلندر په نظم کې د ګلاب دنده رویباري ده. عاشق د ګلاب ګل ته په خطاب کې معشوقه داسې څوك ګڼي چې هم یې ځان ته تاوان رسولی ، هم یې بل ته. ګویا په ځېل او ناپوهي یې تورنوي.

د دویم بند په اوله مصرعه کې د ( اوس خو به پوهېږې ) عبارت هم په دې دلالت کوي چې عاشق هغې ته د داسې چا په سترګه ګوري چې ژر په خبره نهٔ پوهېږي.

د دې بند په دریمه مصرعه کې لولو چې عاشق ، معشوقه څکه ګلاب بولي چې ( نازکه ښایسته ) ده. د معشوقې په نازکوالي او تاندوالي باندې د تاکید لپاره هغې ته د ( لښتې ) خطاب هم کوي. دغه تاکید په غیر مستقیم ډول معشوقې ته وایي چې همېشه به د اوس غوندې تازه نهٔ یې، د وخت پېښې او د عمر تېرېدا به دې ماته کړي. دا هغه خبره ده چې دی یې معشوقې ته نېغ په نېغه نهٔ کوي خو زړهٔ یې غواړي چې معشوقه پخپله دې نتیجې ته ورسېږي . د تشبیه د صداقت په باره کې له معشوقې د پوښتنې مقصد دا دی چې هغه په دې موضوع لا ډېر غور وکړي.

عاشق په دریم بند کې لږ نور وړاندې تللی، د غیر مستقیم اخطار ژبه یې ترخه شوې او د بیدیاني ګل د مرګ خبره یې کړې ده . که څه هم جمله شرطیه ده او وایي چې که چېرې د بیابان د ګل غوندې وای ، مګر پټ مطلب یې همدا دی چې د بیابان د ګل غوندې یې . د بېدیا ګل خو څکه ورياد شوی چې دې هم خپل اسماني حسن او یا په بله ژبه عالي، سپېڅلی ا و له لاسه وتلی حسن، له خلکو لرې په ګوښه کې ساتلی دی. معشوقې چې یو وخت دهٔ ته مخ ورښکاره

کړی و، دی ورباندې میین شوی و، او اوس یې دا دی ستاینې کوي خو اوس چې مخ پټ ساتي نو څه به کېږي؟

بیابان په ادبیاتو کې د بې حاصله، بې فایدې ژوند طبیعي سمبول دی. د دریم بند د بېدیا د بې حاصله فضا ځای په ځلورم بند کې تیارو نیولی دی. تیاره چې ښایست پکې بې قدره کېږي دلته د تیاره ذهن او تیاره اجتماعي چاپېریال معناوې هم لري. د عاشق په نظر معشوقې مخ ځکه نهٔ دی ځرګند کړی چې بې ځایه حیا کوي.

عاشق په وروستي بند کې له ګلابه د رژېدو او د ژوند د ختمېدو غوښتنه کوي ځو په دې ډول د ګلاب غوندې ښکلې او نازکه معشوقه د حسن د عمر کموالي او ماتېدوني خصلت ته متوجه شي. دا د عاشق د مصلحت ګر عقل ( ایګو ) دریځ دی چې غواړي معشوقه له تیارو راوباسي او د ژوند د ژرتېرېدونکي نعمت له اهمیته یې خبره کړي خو په دې نظم کې د عاشق لاشعوري ړندې ارزوګانې ( اېډ ) هم لوستلی شو. هغه ارزوګانې چې د ژوند له رفعت سره نه بلکې د ژوند له حیواني کیفیت سره دلچسپي لري.

موږ په لومړي بند کې ولوستل چې عاشق ، رویبار ( ګلاب ) ته په اشاره کې وویل چې معشوقه یې ځېلې او ناپوه ده. په دویم بند کې چې پیغام پیلېږي، هلته هم معشوقې ته د خبرو انداز داسې دی چې تهٔ خو نپوهېږې. ایا معشوقه تر ځان ناپوهه ګڼل یوه ړنده لاشعوري ارزو نه ده؟ د شلمې پېړۍ نامتو مورخ او مفکر ویل دورانت وايي چې نارینه په دې خوښ نهٔ دی چې ښځه په پوهه کې تر دهٔ زیاته یا ورسره برابره وي ځکه نارینه د هغې لاسبرۍ له ختمېدو سره دلچسپي نلري چې پهٔ زرګونو کلونو یې لرلې ده.

په دې نظم کې معشوقې ته د ( شیرینې ) خطاب شوی دی. ( خوږوالی ) د خوږو صفت دی او ذایقه حس پاروي. دا کلمه ( شیرینه ) چې په متن کې ځلور ځله راغلې ده، پخپل وار ، له معشوقې سره د عاشق د حسي او غریزي

دلچسپي غمازي کوي. د نظم په وروستي بیت کې د ښکلیو د خوږوالي خبره هم د مینې په جسماني اړخ باندې د ټینګار څرګندویه ده.

د دریم بند په لومړۍ مصرعه کې معشوقه د ( د نجونو میره ) بولي. د نجونو میره خو طبعا پېغله وي، نو ایا په همدې مصرعه کې د ( هغې پېغلې ) عبارت حشو او بې ځایه اطناب دی؟ نه. ( د نجونو مېرې ) عبارت یې د خوشامندو په خاطر راوړی دی او ( د هغې پېغلې ) عبارت یې ځکه په خوله جاري شوی چې د دهٔ ذهن دې خبرې مشغول ساتلی چې هغه لا پېغله ده. کله چې رویبار باید د وروستي استدلال او اتمام حجت په توګه ځان د یار په غېږ کې پانه پانه کړي ( په وروستي بند کې ) هلته هم د ( هغې پېغلې ) عبارت وینو.

د فرویید په ارواپوهنه کې ټول ژوي د ژوند له جنجالونو د ابدي راوتلو او بې ژونده حالت ته د ستنېدلو یوه لاشعوري غریزه لري چې دی یې د مرګ غریزه ( تا نا توس ) بولي.

زموږ په رندو ارزوګانو کې مرګ او تخریب او ورانی شامل دي. انسان که په شعوري ډول د غلیم تباهي غواړي، په لاشعوري ډول د معشوق او د ځان د تباهي لېونۍ ارزو هم کولای شي :

خدایه ما ګل د ګلاب کړې
چې د جانان په غېږ کې پاڼې پاڼې شمه

په پښتو نکلونو کې د خپل عاشق په لاس ، په نهٔ خبره ، د میمونې قتل، د عشق او نفرت د نژدې رابطې او په یو بل باندې د بدلېدو جوت مثال دی. د ارواپوهانو په نظر مېین ممکن ځان تحقیر شوی احساس کړي ، دغه احساس د دې سبب ګرځي چې د مینې په کرونده کې د نفرت بوټي هم زرغونه شي.

په وروستي بند کې عاشق له ګلابه د رژېدو غوښتنه کوي چې معشوقه د حسن د عمر له کموالي خبره کړي خو په دغه غوښتنه کې د معشوقې د حسن

د ژوبلېدو، د غرور د ماتېدو او د عمر د ختمېدو د پټې شیطاني ارزو زړي هم وینو. د ( مرگ ) کلمه چې د انسان لپاره راځي، دلته د گلاب لپاره راغلې ده. د حسن د اصلیت په عبارت کې د حسن د تحقیر پټه هڅه لوستلی شو او د ټولو ښکلو د یو ساعت خوږوالي په خبره کې د معشوقې د غرور د ماتېدو ارزو سترگکونه وهي.

د فرویډ په نظر زموږ هغه هیلې چې د منلو نهٔ دي او لاشعور ته مو ټېل وهلې دي ، کله کله زموږ له ارادې پرته، زموږ په لیکنه ، په خبرو یا عملونو کې راڅرگندې شي. فرویډ دغسې تېروتنې په لاشعور باندې د پوهېدو لپاره گټورې گڼي. د نظم د دریم بند په وروستۍ مصرعه کې چې عاشق د بېدیا د گل د رژېدو او د معشوقې د حسن د کمېدو یا ختمېدو په ځای گور ته د تلو خبره کوي، دا هم ژبنۍ تېروتنه ده چې د عاشق د لاشعور د یوې شیطاني ارزو راز رانمایي.

که د عاشق لاشعور د شیطاني ارزوگانو کور وي بیا خو معشوقه ډېره هوښیاره ده چې ځان ورڅخه لرې ساتي او په احتیاط ورسره چلېږي. مگر معشوقه خو علم غیب نلري، په دې څهٔ پوه شوه چې ببړه یې ممکن په تاوان وي؟

ویل ډورانټ لیکي: ښځه د مینې په چاره کې تر نارینه ماهره ده. دا ځکه چې د دې شوق دومره شدید نه دی چې د عقل سترگې یې ورپټې کړي.. داروین لیدلي دي چې د ژویو په اکثرو انواعو کې مونث جنس د عشق لېوالتیا نلري. ویل ډورانټ دا هم لیکي چې ښځه ممکن تر جنسي لذت ، له دې ډېر خوند واخلي چې محبوبه او معشوقه واوسي.

د انسان د فطرت انځوروونکي نابغه شکسپیر ویلي دي چې : عشق د ښځې لپاره داسې سرمایه ده چې په سلو کې سل گټه پکې ونهٔ ویني، چا ته یې نه سپاري.

د شکسپیر او ډورانټ خبرو او د عاشق او د لاشعوري غوښتنو په اړه مخکینیو څرګندوونو ته په پام سره ویلی شو چې د دې نظم معشوقه هغومره ژوندۍ او ښځینه فطرت ته ورنږدې ده لکه څومره چې یې عاشق د نارینه ذهن او فطرت ژوندی مثال دی.

د دې نظم په باب تبصره به د معشوقې د حیا په باره کې په څو کرښو پای ته ورسوو. عاشق د څلورم بند په وروستۍ مصرعه کې د هغې له ډېرې حیا شکایت کړی دی. په دې اړه به هم د ویل ډورانټ خبرې رانقل کړو چې وایي حیا د بشر له مدني کېدو سره غزوونې کړې او د عشق د خورا عالي کیفیتونو په ایجاد کې یې لویه برخه لرلې ده. ویل ډورانټ د لرغوني یونان د یوهٔ ښار ، ملطیې ، کیسه کوي چې یو وخت پکې د ښځو د خودکشي اندازه زیاته شوه. د یوې د خود کشي خبره به له خولو نه وه لوېدلې چې د بلې د وژلو خبر به راغی. د ښار چارواکي اندېښمن شول. مشورې یې سره وکړې . اخر یې حکم وکړ چې که هر چا ځان وواژهٔ ، مړی به یې د ښار په کوڅو کې لوڅ لغړ ګرځول کېږي. دغه حکم ځکه معقول و چې حیا ښځو ته د ځان وژلو اجازه نهٔ ورکوله.

حیا چې په پېغلو کې ډېره ده د مینې په معامله کې د هغوی په ګټه ده. ارواښاد خیبر اپرېدی وایي:

د تا دې حیا خو زهٔ په ځان مېین کړم
چې په لاره شرمېدې تر پلو لاندې

ارواپوهنیزه کره کتنه په غنایي اشعارو کې ، په هغو اشعارو کې چې شاعر خپل احساسات و عواطف بیانوي او د ځان او خپلې مینې په باره کې غږېږي، ښه نتیجه ورکوي. د اروانښاد قلندر مومند د ګلاب ګل په غنایي ( لیریك ) نظم باندې د اروپوهنې په مرسته لا ښه پوه شو. په دغه نظم کې چې د عاشق له قوله و، اروپوهنې په دې پوه کړو چې معشوقه هم د خپل دریغ لپاره دلایل لري. هغه ممکن د ښځې په حیث په غریزي ډول په دې پوه وي چې د هغو کسانو په

دلایلو، فلسفو او خوشامند و باندې تېروتل نهٔ دي پکار چې تول ښکلي ورته صرف د یو ساعت لپاره خوارهٔ دي.

اروپوهنیزه کره کتنه د کره کتنې د نورو مطرح او منل شویو طریقو غونډې راسره مرسته کوي چې ادبي اثر ته له بلې زاویې وګورو او د ادب دنیا لا زیاته وپېژنو. پتي خان زموږ لپاره یو افسانوي اتل دی خو د فرویډ د اروپوهنې په رڼا کې یې کمزوري ایګو بللی شو. دغسې تناقضات له موږ څخه لاره نه ورکوي، بلکې برعکس دنیا لا ښهٔ راپېژني او پېچلي ماهیت ته یې لا ښه متوجه کېدای شو.

# پوښتونکی

يو څوک په تيښته کې و او بل چې د هغه د راايساريدو کوښښ يې کاوه، چيغې وهلې: مه يې پريږدئ، مه يې پريږدئ!

يوه لاروي پوښتنه ورڅخه وکړه: ولې ، څه يې کړي دي؟

هغه ورته وويل: قاتل دی.

- قاتل چا ته وايي؟
- چې وژل کوي.
- يعنې قصاب دی؟
- نه، قصاب خو څاروي حلالوي، ده انسان وژلی دی.
- عسکر دی؟
- نه، عسکر خو په جنگ کې قتل کوي، ده په عادي حالت کې بل څوک وژلي دي.
- جلاد دی؟
- نه، جلاد خو مجرم وژني، ده بې گناه انسان وژلی دی.
- طبيب دی؟

نه ، طبيب خو په سهوه کې مريض وژني، ده په لوی لاس قتل کړی دی.

په دغه حکايت کې پوښتونکی سړی د يونان نامتو فيلسوف سقراط دی. حکايت به خيالي وي مگر د سقراط د تعليم د طرز په پيژندلو کې مرسته راسره کولای شي. سقراط به د پوښتنو له لارې هڅه کوله چې خلک ژورو معناوو ته ورسيږي. د ده قول دی چې : زه خلکو ته څه نه ورزده کوم بلکې يوازې فکر کولو ته يې اړباسم.

سقراط به مثلا دا نه ويل چې عدالت دې ته وايي، بلکې پوښتل به يې چې ته يې څه گڼې؟ ده به تر هغو پورې پوښتنې کولې چې مخاطب به متوجه

شو چې پخوا پوره نه و دقیق شوی او هسې په اوازو، دودونو او خرافاتو پسې تللی و.

زموږ د اکثرو معلوماتو او نظریاتو سرچینه دا دوه ټکي دي: خلک وايي.

ګومان کوم د دیارلس سوه درې اتیایم کال ژمی و چې په کابل کې اوازه شوه چې په پلانۍ شپه سخته زلزله کیږي. زلزله ونه شوه خو ډېر کسان سکاروي ووهل او یخنۍ ژوبل کړل، ځکه په هغه شپه له کورونو راوتلي وو او په کوڅو کې ګرځېدل چې له مرګه بچ شي. په دغو کسانو کې زما یو اشنا ډاکتر چې په اروپا کې یې لوړې زده کړې وې او په مکروریان کې اوسېده، هم شامل و. ده دا منله چې ساینس د زلزلې نیټه نه شي معلوموای مګر په هغه شپه یې د (خلک وايي) خبره د ساینس تر خبرې ډېره منلې وه.

سقراط دوه زره څلور سوه کاله پخوا دې حقیقت ته متوجه شوی و چې خلکو په ډېرو هغو خبرو چې د زړه له تله یې منلي دي، چندان غور نه دی کړی. ده به ویل خلک فضیلت یادوي، شجاعت یادوي، تقوا یادوي، د وطن پالنې خبرې کوي او نور ډېر کلمات استعمالوي خو په دقیق تعریف یې نه پوهیږي او په دې وجه په ناخبرۍ کې پاتیږي. سقراط د پوښتنو له لارې غوښتل چې خلک دقیق شي او په دې پوه شي چې نه پوهیږي. د ده په نظر پوهې ته د رسېدو لپاره لوی ګام دا دی چې په نه پوهېدو پوه شو.

سقراط د اکثرو مفکرانو په خلاف منزوي سړی نه و. د آتن په کوڅو کې به پښې یبلی ګرځېده او لکه څنګه چې افلاطون ویلي دي له زده کوونکو زلمکو سره یې ناسته ولاړه کوله.

د ده پوزه شواړه وه، تندی یې پلن و او جامې یې شړلې وې خو ذهن یې روغ او زړه یې ښایسته و. تر ده له مخه به د یونان فیلسوفانو د جهان د پېژندلو هڅه کوله او دې پوښتنو ته یې ځوابونه موندل چې جهان څه دی؟ له کومو

توکو رغېدلی دی؟... خو سقراط وویل چې راځئ انسان وپیژنو. د ده مشهوره خبره ده چې: که غواړې جهان وپیژنې نو اول ځان وپیژنه!

د فلسفې د مورخانو په قول دی لومړنی کس و چې له کایناتو او نورو بنیادمانو سره یې د بنیادم د اړیکو په باره کې فکر وکړ. د سقراط په نظر لکه څنگه چې طبیعت قوانین لري، دغسې د انسان د اخلاقي ژوند قوانین هم شته. ده ویلي دي چې بنیادم که پوه شي، بیا به بد نه کوي.

سقراط په خپلو وطنوالو گران و. په مېلمستیاوو کې یې د محترم مېلمه په سترگه ورته کتل او خبرو ته به یې غوږ، غوږ وو خو ورو ورو ورباندې بدگومانه شول او دې نتیجې ته ورسېدل چې سقراط د دوی ډېر منلي ارزښتونه هم د دقیقو پوښتنو په تیغ وژلای شي. دی د ځوانانو د گمراه کولو او د خدایانو د نه منلو په تورمحاکمه او اعدام شو. په محاکمه کې یې د دفاع حق درلود او لکه څنگه چې د هغه وخت اسناد ښیي خپل نظرات یې قاضیانو ته بې وېرې بیان کړل. د اعدام په وخت هم سپک چلند ورسره ونه شو. د اوسنی زمانې په تله کې یې وتلو، له سقراط سره بې انصافي وشوه ځکه اوسني خلک دا نه مني چې یو څوک دې یوازې د خپلو افکارو په گناه اعدام شي. البته، زموږ په ټولنه کې لا تر اوسه پورې داسې کسان پیدا کیږي چې بل چا ته په خپل سر سزا ورکول او له خپلې دلې یا خپل ځان څخه قاضي جوړول او د بل اعدامول او ان له مړي سره یې سپک چلند کول، بې انصافي نه گڼي. څه فکر کوئ، څومره پاتې یو؟

۱۳۹۵

# د فورمالیستې کره کتنې دوه مثالونه

زموږ په ادبي بحثونو کې د فورم کلمه معمولا یا د قالب په معنا راوړه کېږي ( مثلا د ازاد شعر قالب یا د مثنوي فورم ) او یا هغه څه ته فورم وایو چې محتوا پکې اچوو.

په لومړي تعبیر کې فورم، بې له دې چې محتوا ته یې پام وشي، یوه مستقله معنا لري چې دلته زموږ د بحث موضوع نه ده خو دویم تعبیر په ضمني ډول راته وایي چې محتوا او فورم د ظرف او مظروف غوندې رابطه سره لري او له یو بله یې بېلولی شو.

له فورم یا صورته منظور د لیکنې وزن، جوړښت، سبک ، لحن ( تون ) او نور ټول هغه عناصر دي چې له ښکلا سره تعلق لري او محتوا د ادبي اثر هغه خوا ده چې د ښکلا پېژندنې په لحاظ خنثی وي.

حمزه شینواری فرمایي:

چې دنیا د آب و ګل ته انسان راغی
مینه راغله، فتنه راغله، توفان راغی

دلته هره کلمه په یوازې ځان د ښکلا پېژندنې په لحاظ توجه نه جلبوي خو د یو بل په څنګ کې یې لویه ښکلا پیدا کړې ده.

په دې بیت کې یوه نامستقله ( او له مصرعه ) او درې مستقلې جملې ( په دویمه مصرعه کې ) لرو. د جملو په دغسې ترتیب کې د انسان د تاریخ دیني او ادبي روایت ته کامیابه اشاره وینو.

هسې وایي چې د ادم خټه برابرېده ، ډېر باران ووربد. یو روایت وایي چې خدای پاک د ادم په خاوره څلوېښت ورځې د غم او یو ساعت د خوشحالی باران ووراوه. د آب و ګل دنیا همدې خبرې ته اشاره ده.

د ادم له خلقته وروسته څه وشول؟ د لومړی مصرعې نامستقله جمله مو هڅوي چې نوره شرحه په دويمه مصرعه کې ولولو.

له يوهٔ مشهور روايت سره سم ادم او حوا په جنت کې له يو بل سره مينه وکړه او بيا ځمکې ته ستانه شول. د جنت کيسه په بېلو بېلو دينونو او مدنيتونو کې بيان شوې ده . په دغو اکثرو رواياتو کې د هغو ونو چې ورنژدې کېدل حرام دي او يا د هغو مارانو چې له انسانه د ابدي کېدو نعمت اخلي ، ذکر کېږي. ځينې کسان گومان کوي چې په دغه کيسه کې مار و انځر د مينې او شهوت سمبولونه دي.

سعدي وايي:

حديث عشق اگرگويی گناه است

گناه اول ز حوا بود و آدم

په پښتو ادب کې هم د ادم او حوا مينې ته اشارې شوې دي. حميد مومند وايي:

پلار مو د غنمو دانو ويوست له جنته

زه لا تمه دار د غنم رنگو د وفا يم

او په شلمه پېړۍ کې اشرف مفتون ويلي دي:

که په دنيا کې روماني گناه کومه خير دی

خدايه انسان يم راشړلی دې حوا سره يم

ادم و حوا چې د اولاد څښتنان شول، يو زوی يې ، قابيل، خپل ورور هابيل وواژه. کيسه داسې وه چې حوا بي بي غبرگوني ماشومان زېږول. قابيل له اقليما سره يو ځای دنيا ته راغلی و. دا نجلۍ ښکلې وه . د قابيل زړهٔ و چې واده ورسره وکړي خو ادم ورته وويل، له تا سره يو ځای زېږېدلې ، په تا ناروا ده. نو اقليما يې هابيل ته ورکړه او يوه ورځ چې هابيل ويده و، قابيل د تېږې گوزار ورباندې وکړ، ويې واژه.

داد مځکې د مخ لومړۍ فتنه وه چې د دويمې مصرعې په دويمه جمله کې اشاره ورته شوې ده. وروسته بيا د نوح په زمانه کې فتنه عامه شوه. ګنو خلکو د خدای له امره غاړه وغړوله او توفان راغی چې کابو ګرده نړۍ يې غرقه کړه. يوازې هغوی ژوندي پاتې شول چې له نوح سره بېړۍ ته ختلي وو.

په دې بيت کې د ( راغلل ) تکرار او د غير ذيروح شيانو ( لکه فتنه ) لپاره د دغه فعل راوړل ،د انسان د تاريخ د تحرك له احساسولو سره مرسته کوي.

د ( آ ) د اواز اتۀ ځله تکرار هغه فرياد رايادوي چې د انسان سرنوشت د انسان په برخه کړی دی.

دغه راز ( مينه ) او ( فتنه ) چې د فتحې په اواز ختمېږي، د پېښو پرله پسې توب او ژر ژر والی تداعي کوي او د توفان د کلمې د لومړۍ څپې د اول توري ( ت ) د ويلو په وخت په خولۀ کې د هوا د جريان د لنډ وخت لپاره بندېږي ( = تر توفان د مخه سکوت او سکون، يا ، د ادم د خلقيدو شېبې، يا ، هغه وخت چې نوح تر توفان له مخه بېړۍ جوړوله خو نور خلك بې غمه ګرځېدل، په نوح پورې يې خندل چې په وچه کې بېړۍ جوړوي، او يا دغه درې واړه حالته ) خو د دويمې څپې د لومړي توري ( ف ) د ويلو په وخت هوا له تالو سره نښلي او وځي. ( = لکه باد چې لګېږي. د ناکرار او توفاني حالت رايادوونکی اواز، د هغه حالت رايادوونکی چې د ادم له ميلاده وروسته رامنځ ته شو. )

د اکثرو ښو بيتونو غوندې دلته هم کولای شو چې د بيت د محتوا لپاره څو ډوله معنا اټکل کړو. يوه محتوا دا ده چې د انسان برخليك وار په وار بوږنوونکی او توفاني شو. په اوله کې جنت او مينه وه. مينه د هبوط سبب شوه . بيا فتنه پېښه شوه او ورپسې ګڼې فتنې وزېږېدې. داسې هم ويلای شو چې د انسان په خټه کې د غم وخوشحالي ، مينې او فتنې او هابيل و قابيل متضاد اړخونه شته چې نتيجه يې ناکراري او تکر او توفان دی.

په دغو دواړو حالتونو کې د ( توفان ) کلمه د حوادثو نتيجه بيانوي او دا نتيجه د توفان د کلمې له موسيقي سره سمون خوري. له بلې خوا د نتيجې د بيانوونکې کلمې په توګه د توفان اهميت له هغه اهميت سره سمون خوري چې توفان يې د قافيې د کلمې په توګه لري.

په دې ډول وينو چې :

الف ، فورم او محتوا له يو بله نه بېلېږي. لکه د پاسني بيت کلمې چې له يوه اړخه له محتوا سره تعلق لري او له بله اړخه يې د فورم او ښکلا په ايجاد کې برخه ده.

يو بل مثال: د کيسې پېښې د هغې محتوا بللى شو خو په داستان کې ترتيب يې فورم دى. موږ هرَه ورځ حوادث اورو خو هنري اثار يې نهٔ ګڼو. که دغه حوادث په يوهٔ داستان کې سره تنظيم کړو، هنري اثر يې ګڼو، يعنې چې کله فورم پيدا کړي ، په هنري اثر بدلېږي او ښکلا پيدا کوي.

ب ، فورم د ادبي اثر د عناصرو له ترتيب، تنظيم او متقابلو ارتباطاتو زېږي، لکه په ذکر شوي بيت کې چې د کلام نحوي ترکيب، موسيقي ، تلميح او نورو عناصرو چې يو بل ته لاس ورکړي دي او فورم يې ايجاد کړى دى.

ج ، په ادبي اثر کې فورم ځکه ډېر مهم دى چې د ادبي سبك او نورو سبکونو د بېلوالي اصلي عامل بايد همدا فورم وګڼو.

په شلمه پېړۍ کې د کره کتنې ډېر مهم مکتب ( فورماليزم ) د فورم او محتوا په اړه همدا نظر لري.

فورماليزم د ادبياتو د يوې نظريې او کره کتنې د بېلې لارې په توګه د شلمې پېړۍ په دويمه لسيزه کې په روسيه کې راڅرګند شو.

فورماليزم د شاعر ژوند، زمانې ، د ادبي اثر سياسي – اجتماعي مفاهيمو او اروايوهنيز اړخ ته اهميت نه ورکوي، ادبي اثر مستقل ګڼي او ټينګار کوي چې ادبيات خپل بېل وجود، بېل اصول او بېل ارزښتونه لري.

په دې کې شك نشته چې د افلاطون له زمانې لا فورم ته توجه کېده خو څومره توجه چې ورته په شلمه پېړۍ کې فورمولستو وکړه، پخوا ورته نه وه شوې. د افلاطون او ارسطو له زمانې راهیسې کره کتونکو خپله لویه دنده د ادبي اثر د اخلاقي پیغام کشفول ګڼل. اروا‌پوهنیزه کره کتنه د لیکوال او د اثر د کرکټرونو په رواني سپړنه زور اچوي. هغه کره کتونکي چې د لیکوال په ژوند او زمانې ډېر غږېږي ، تاریخ ته ډېر او ادبي اثر ته لږ پام کوي خو فورمالیستو له تاریخ، اروا‌پوهنې او فلسفې څخه د ادبي اثر په بېلولو ټینګار وکاوه.

هغوی چې هنر د هنر لپاره غواړي او د ادبي اثر محتوا ته په خه سترګه نهٔ ګوري ، دا کار یوازې د یوې فلسفي نظریې په اساس کوي حال دا چې فورمالیستې غواړي ادبیات له فلسفې بېل وساتي.

د اروپا په منځنیو پېړیو کې کلیسا له شعر څخه د دیني اخلاقو او فضیلت د خدمت توقع لرله. په نولسمه پېړۍ کې چې اروپایانو ( هنر د هنر لپاره ) ادبي مکتب جوړ کړ، د کلیسا له تاریخي تاثیره د شعر راایستل یې هم مقصد و.

د فورمالیستو هڅه دا ده چې د ادبیاتو د ماهیت د توضیح لپاره بېل قوانین ومومي. د دوی د دې هڅو په لړ کې د عادت ماتېدا (defamiliarization) اصطلاح یادولی شو چې دوی په ادبي اثارو کې د ژبې د نااشنا کېدو د خصوصیت لپاره وضع کړه.

مثال: موږ په اشنا او عادي ژبه کې وایو ( فتنه پېښه شوه ) ، داسې نه وایو چې فتنه راغله. د فتنې راتګ د ژبې د نا اشنا کولو هڅه ده چې د اروابناد استاد حمزه شینواري په بیت کې یې وینو. دغه راز د بشر د مذهبي – ادبي تاریخ په بنیاد د بشر د ماهیت په باره کې د څهٔ ویلو لویه موضوع په یوازې څو کلمو کې په دومره موجز ډول یادول د ژبې د نا اشنا کېدا او عادت ماتېدا یو بل کامیاب مثال دی. د استاد سعد الدین شپون په لنده کیسه ( نا څاپي پېژندګلو ) کې چې لږ وروسته به یې ولولئ، ګرنۍ ژبې ته تمایل د عادت ماتېدا بل مثال

بللې شو څکه موږ په ادبي اثارو کې له جدي ، موقر او ليکنې سبك سره عادت شوي يو او دلته دا عادت مات شوی دی.

د عادت ماتېدا اصطلاح په اول ځل روسي اديب شکلوفسکي وکاروله. شکلوفسکي په ۱۹۱۴ کې يوه ليکنه خپره کړه چې د کره کتنې مورخان د روسي فورماليزم پيل له همدې ليکنې سره غوټه کوي. البته ، د ماسکو د ژبپوهنې مرکز لومړنی مرکز و چې د فورماليزم نظريات يې په منظم ډول وړاندې کړل. دغه مرکز چې په ۱۹۱۵ کې تاسيس شو، مشر يې د ادبياتو نامتو تيوريسن رومن ياکوبسن و.

روسي فورماليزم ته ورته نظريات ځينو امريکايي ادبپوهانو هم لرل. په امريکا کې دغسې نظريات د شلمې پېړۍ په دريمه لسيزه کې د نوې کره کتنې ( نيو کرټسيزم ) په نوم خپاره شول.

موږ د مخه د استاد حمزه شينواري د بيت د توضيح په وخت هڅه وکړه چې :

- بيت د وينا وال ژوند او زمانې ته له پامه پرته مطالعه کړو.
- ادبي تخنيکونو او صنايعو ( دلته تلميح وه ) ته پام وکړو.
- د بيت جزييات وڅيرو.
- د بيت موسيقي وڅېړو او په معنا او محتوا باندې يې اغېز وګورو.
- د مختلفو عناصرو ( دلته نحوي، موسيقايي، تلميحي او معنايي عناصر) تر منځ متقابل ارتباط او وحدت ته پام وکړو.

هم په روسي فورمالزم او هم په امريکايي نوې کره کتنه کې د شعر د کره کتنې په وخت دغو مسايلو ته پام کېږي.

د فورماليستو نقد معمولا په هغو اثارو کې چې په کمي لحاظ کوچيني ( لکه لنډه کيسه، يا څلوريزه يا قطعه ) او د کيفيت په لحاظ عالي وي، ښۀ نتيجه ورکوي. څکه فورماليسټ کره کتونکي په جزيياتو پسې ډېر ګرځي او بل دوی د

اثر د بېلو بېلو عناصرو تر منځ د تناسب او ارتباط د موندلو هڅه کوي. خو کله چې ليکنه په کيفي لحاظ کمزورې وي او د عناصرو تر منځ وحدت يې شلېدلی وي ، بيا نو اثر د موزيګي شلېدلی کېږي شي او د فورماليست کره کتونکي کار داسې شي لکه په غلبېل کې چې څوك اوبه راباسي. دغه راز په کمي لحاظ لوی اثار ( لکه ناول ) هم د فورمالزم په تله کې په اسانه نۀ تلل کېږي ځکه د ګڼو جزيياتو شرحه له لوستونکي د کلاوې سر خطا کوي او بل په دغسې اثارو کې د عناصرو تر منځ هاغسې پياوړيو ارتباطاتو ته رسېدل چې فورماليست يې غواړي ، ډېر ځله مشکل وي. د تولستوي جنګ او سوله د دنيا د ادب شهکار ناول دی خو د کره کتونکو په نظر په دغه اثر کې غير ضروري او اضافي مواد هم شته. د فورماليستو په کاڼو د دغسې اثارو تلل ستونزمن کار دی.

موږ چې اوس فورماليزم يادوو منظور مو نوې کره کتنه او روسي فورمولزم دواړه دي. د روسي فورماليزم بد نصيبي دا وه چې له اکتوبر انقلاب سره په يوۀ وخت راڅرګند شو. په روسيه کې کمونستو غوښتل چې له ادبياتو د سياسي مقصدونو لپاره استفاده وکړي او بل د دوی ايديولوژي داسې وه چې کلچر و ادب يې د اقتصادي، اجتماعي او تاريخي شرايطو پيداوار بالۀ، نو د ادبي اثارو مستقله مطالعه ورته بې ځايه ښکارېدله. کمونيستو چې د نورو د نظرياتو د اورېدو او خپرېدو حوصله نه لرله ، په فورماليستو باندې بنديز ولګاوه . د دې کار نتيجه دا راووته چې د رومن ياکوبسن غوندې لوی روسي مفکران او اديبان لويديځ ته لاړل او هلته يې د نويو ادبي نظريو په ايجاد ، پاللو او بشپړولو کې لويه برخه واخيسته.

له دې سره سره چې اوس نورې ادبي نظريې هم رواج شوې دي خو فورماليزم د کره کتنې دومره اغېزمن مکتب دی چې يو چا به د دغه مکتب نوم لا نه وي اورېدلی، مګر په ادبي بحثونو کې به يې د فورماليزم جوت اثر وينو.

زموږ په ادبي ټولنو کې يو زلمی شاعر چې فورماليزم ښېخي نهٔ پېژني، ممکن هاغسې نقد وکړي لکه فورماليست کره کتونکی يې چې غواړي.

فورماليست د کيسې په کره کتنه کې هم فورم ته اهميت ورکوي. راځئ اوس د استاد شپون يوه لنډه کيسه ولولو او بيا د فورماليزم په رڼا کې تبصره ورباندې وکړو:

## ناڅاپي پېژندګلوي

هندو ځان ناګاره اچولی و، بس خپل کمپيوټر ته ځير و او تنې يې کېکاږلې . د کمپيوټر په مخ شنه تخته راغله، بيا توره شوه او د هغې په ځای به توره پرده راغله او په هغې کې به ليکونه سپين رنګي وو. ورپسې يوه سپينه ليکه د هغې په منځ کې پيدا شوه او په هغې کې هندو کوم شی ټايپ کړ او بيا يې يوه تنۍ کېکاږله. نور يې شاته په فنر لرونکې ، بې بازو چوکۍ تکيه وکړه. لاسونه يې څټ ته ځولۍ کړل او د ګوتو نه يې ټکونه وايستل او همداسې په چوکۍ کې زنګېدهٔ او له لرې د کمپيوټر پردې ته ځير و. ماته يې پاس وکتل .په انګرېزي راسره ګډ و ،په هندي انګرېزۍ چې د ټي او ډي نه يې د ډېر شد مد د لاسه کولمې ايستلې. د ټي تلفظ يې داسې و لکه ډي... واډ از ډډ... اوس به نو معلومه شي چې ستا ريزورېشن اوکې دی او کنه؟ )

زه اوس هم د ماشومتابه د وختونو په شان د انتظار په وخت کې زړهٔ رېږد ن کېږم، لکه امتحان نه پس چې قات شوې پرچه لاس کې درکړي، او ته نورو همصنفيانو ته شا کړې ، سترګې پټې کړې او د ټولو بزرګانو د ننګولو نه پس پارچه پرانېزې. ما تل فکر کاوه چې په پرچه کې به په سرهٔ خط ( ناکام مطلق ) ليکل شوي وي، خو چې بيا ګورې خير خيريت څهٔ چې لا اول نمره يې.

د ډېرو شېبو د انتظار نه پس کمپيوټر ټرهاری شروع کړ، زر زر يې څه شی ليکل او هندو په چوکۍ کې ورته رانېغ شو، د کمپيوټر د ليك سره سم يې

سر له چپ نه ښي ته ښوراوه او صفا د کمپیوټر پېښې یې کولې. چې د کمپیوټر زړهٔ تش شو، هندو راته وویل: هر څه سم دي.

بیا نو پاڅېد په یو بل کمپیوټر کې یې خالي ټکټ کېښود او بیا ... زما ټکټ یې لیکه په لیکه وښوياوه او ټول معلومات یې ولیکل.

( د ا دي ټکټ دی. د مارچ په پنځلس ، څلوربجې ، د واشنګټن نه نیویارك ته ، له نیویارك نه فرانفکورت ته، د مارچ په شپاړلسمه، بیا درې بجې د فرانفکورت نه اسلام اباد ته، هلته د مارچ په اوولسم ، نه بلکې اتلسم، د سهار په لسو بجو رسېږې. بیا درې ساعته ځنډ لرې او په دولسو بجو په فوکر الوتکه کې پېښور ته ، یوه بجه پېښور ته رسېږې.

د دو طرفه ټکټ بیه یوولس سووه ډالره وه. هغه مې نغدې ورکړې . اوس به یې څه د هندو سره سپینوې چې دا چك واخله، دا مې تذکره، دا مې پاسپورټ ، دامې ادرس، او دی به داسې د شك او سپکاوي په نظر درته ګوري لکه چې هر څه جعلي وي.

چې هر څه خلاص شو نو بیا لکه څه وینا چې یې زړهٔ کې وي، یوه ښایسته اوږده شېبه یې راته ځیر ځیر وکتل او بیا یې ژبه په شونډو تېره کړه ، لکه بل فکر چې ورغلی وي. نو یې د قهوې ست راته وکړ. ما د ( نه) ځواب ته خولهٔ جوړوله خو د ده سترګو ته چې مې وکتل یو تت شانې برقي جرك راکې وغړېد. کښېناستم. دی هم د مېز له شا زما خواته راغی او په دوو کوچونو کېناستلو.

- بوره او کریم ورسره خورې که توره قهوه؟

- دوه کڅوړې بوره ، یوه کڅوړه کریم، لطفا.

قهوه نه وه بلا وه. په مدار مدار او په انګرېزي اصطلاح سلو موشن د قهوې د بړاس په شان ، د پېژندګلو یو ه تته ښکالو را پورته کېده . لکه د نشې څاڅکي چې پلو او رګونو ته لار خلاصوي. خاطرې راپنځېدلې خو سر مې نه خلاصېده.

* * * *

د ننډلال د بجازۍ دکان د کليوالو ورځنۍ تحويلخانه وه. چابه د تېلو ډېره پکې پرېښوده چې مازديګر به يې ډکوي . بل به د دوکان مخې ته د ويالې په څنډه خپل ورى چې د منډۍ نه يې اخيستى و د ونې پورې تړلى و چې د ټک و پوک د اخيستلو نه پس به يې ډرې ( د وري د شړلو غړ ) کوي او چا به خپله سياه سره چې د حکيم نيال سنګ د معاينې د پاره يې د کلي نه راوستې وه د ونې لاندې پرېښې وه چې بيا يې ماښام د ځان پسې قنجوغه کړي.

دا کومه يو اړخيزه معامله هم نه وه چې يره هندو دى ، ايمان نه لري نو راځه هر څه چې پرې کوې دى به يې مني. کليوالو هم د اخلاص کمى نهٔ کاوه ، ټولو په ځانونو باندې د ننډلال کالنى قلنګ منلى و، چا ورته د خوراك چرګان پوره کول، چا ورته په اوړي غنم او په مني وريژې راوړې ، د مېوو او خربوزو خو د خرهٔ بارونه وو چې هر سهار چې موږ مکتب ته تلو د ننډلال د دوکان مخې ته به دلى پراته وو. موږ هلکانو به ننډلال ته لمن لمن د کشپانو هګۍ ور وړلې چې دى د هغې نه په حکيم نيال سنګ باندې ځانته معجونونه او کوشتې جوړې کړي.

کله به د يوه ډله نورو هندوانو سره زموږ د کلي باغ ته راغى او مېلې به يې کولې . زموږ د لاس خوارهٔ خو معلومداره د دوى د خوراك نه و، نو سابه ، وچه ډوډۍ او د پخلي نور سامان به مو ورته راوړ او دوى به ديګچه پزاني کوله. موږ هلکانو به د باغ د دېوال د چاود نه ننداره کوله چې هندو څنګه ډوډۍ خوري.

د ننډلال تر مشرۍ لاندې به هندوانو د جشن په ورځو کې ، د ښا ر په چمن کې ، د لالټينونو رڼا ته هر ماښام ، د تورو د جنګ نمايش ورکاوه ، بلې خواته به سکهانو په لرګيو او کړکو لکړ بازي کوله.

د ننډلال لور ميترا هم د مکتب نه پس د پلار په دوکان کې کار کاوه. کوم مکتب؟ زما په خيال هندوانو د خپلې کوڅې په درمسال کې ځانله هندوانى مکتب درلود، ځکه چې هغه وخت خو د نجونو مکتب نه و او ميترا به يوازې پس

له غرمې ، هغه وخت چې به مور هم رخصت شو، دوکان ته رسېده. دا ميترا ښايستوکې وه ، يا به مور کليوالو ته هره ښاري نجلۍ ښايسته برېښېده. ميترا سپينه وه خو په سپين کې د هندوانو په دود يو څه زېړ بخونه،نرۍ لکه لښته ، جګه ، وېښتان يې تر زنګنو پورې رسېدل او د پيوکي سره ان په زرې غړغړي .... ها خواته د حکيم نيال سنګ دوکان و. د شيشکې په شان ببر، ناشولته، قهرجنې سترګې ، سود خور، د ده پسې خلکو ويلې ، پلانکی تيار نيال سنګی دی چې دواړه يې خطا دي.

د نيال سنګي يو زوی و چې سکيرا نومېدهٔ او د خان اباد د بچه بازانو زړونه ورپسې وران و. سترګو يې خوړل کول او اوس چې فکر کوم د حميد بابا د سپوږمۍ او هالې خبره ورسره جوړېده، يره پنځلس کلن به و. د ښار ميرزايانو پخپلو کې يو ه مشاعره ورپسې جوړه کړې وه چې يو فرد مې په ياد دی: دل برده زمن باز دو چشمان سکيرا.

د ښار لنډه غران هر مازديګر حق نا حقه د حکيم نيال سنګي د دوکان مخې ته تېرېدل او د هلك د پلار زورولې او ګوانښونه به يې ګالل. کله به يې پنځه شپږ للمي ختکي سره راوړل او د چشك شرط به يې وربانديې واهۀ ، نو بيا به يې سکيرا قاضي کړ چې وګوري د چا ختکی خوږ دی. داسې ښکارېده چې د سکيرا هم د ځوانانو دا دومره توجه او سپي سپي کېدل خوښېدل او هر يوۀ ته به يې يوه نرۍ ، معصومانه او د خوش طبعۍ موسکا کوله. مګر پلار يې ډېر روی و او شورماشور به يې جوړ کړی و. يوه ورځ چې هلکانو ډېر پعذاب کړی و، په خپل دوکان کې ناست و او ژړل يې ، شاوخوا ورته کليوال راټول وو چې دلاسا يې کړي. دهٔ ويل، خدای قسم چې نور تاسو ته دارو نه ورکوم، زهر ورکوم، سنګتيا ورکوم. په دارو کې د شېر د بروت وېښته اچوم چې مړ وشئ.

نندلال چې خيرمن هندو و د خپل دوکان مخې ته د ونې لاندې د اوبو يوه چاټۍ خښه کړې وه او په اوړی کې به يې هر ه ورځ هغه د څاه د اوبو او

واورو نه چې د ده ویران نه په خرۀ راوړل کېده ، ډکوله. ځینې لنډه غران به د اوبو په پلمه ورغلل. د ټیم دوه ګیلاسونه هم په چاټۍ پورې تړلي وو. لنډه غرانو به ګیلاس ډك کړ او بیا به یې په غوړپ غوړپ هغه څښلې او د سکیرا ننداره به یې کوله.

لال سنګی یوه ورځ په غصه شو، راغی اول یې په چاټۍ کې متیازې وکړې او بیا یې هغه د خځلو نه ډکه کړه ، بیا یې په تیږو ماته کړه، کلیوالو ورپسې خندل:( نیال سنګه، د اوله به دې ماته کړې وه چې متیازې او خځلې خو درته پاتې شوې وای.) په همدې خبره د نندلال چې هندو و، د نیال سنګ سره چې سیك و، ورانه شوه او د یوۀ د بل غیبتونه به یې کول.

میترا هم لویېده او د خدای کړۀ وو د سکیرا سره یې ګوتې خوږې شوې .
خبره په ټول ښار کې مشهوره شوه او کلیوال خو بې هغې هم په ښاري نزاکت رای نه وهي، د هندو نه خو یې هیڅ سترګې نه سوځي ، نو نندلال ته به یې کله کله دا خبره هم وریادوله. یوه ورځ زه حاضر وم چې زموږ د کلي مشر، ارباب نعیم، ورته وویل:( لاله، زه دا خبره د تجربې درته کوم، نجلۍ چې دې پېغله شي، زیاتي یې چاته ورنکاح کړه.) بیا یې لکه چې خپلې خبرې ته پام شو او کوشیر یې کړه:( مسخد مې دا دی چې خپله هندوانۍ نکاح پرې وتړه، چېرته درمسال ته یې بوځه یا زېړې غوا ته ، خو هره بلا چې کوې ، نجلۍ دغه د نیال سنګي زوی ته ورکړه او سر یې په کور که، یا په ګور. )

عجبه لا دا چې نندلال د ده په خواخوږۍ پوه شو او د خپل زړۀ غوټه یې پرانیسته: (ما به میترا ورکړې وه خو سکیرا سیك دی او د تاسو د ملا خبره زما د لورسره یې نکاح نه خېژي .)

ارباب نعیم ورته وویل:( خو هلك دې بسلمان شي ، مسخد مې دی هندو دې شي کنه. موږ ته دواړه یو ښکاري ، یو یې پشم الله ( ږیرور ) دی او بل یې

صفي الله ( مخ يې صفا خرېيلی ) . ننډلال دې ټوکې او د ارباب ساده توب ته موسك شو او بيا يې وويل: څه الله دې خير کړي.

يوه ورځ خبر شو چې ميترا هندوستان ته تللې، ننډلال وويل: د تداوۍ د پاره، خو نيال سنګي ويل، د سردار جي د وېرې.

د قسمت خبره وه چې په بل کال يې د نيال سنګ زوی ، سکيرا ، لا درکه شو او وروسته خبر شو چې ميترا پسې هندوستان ته لاړ دی.

څو کاله پس د ننډلال او نيال سنګ دښمني ختمه شوه. خبر راغی چې ميترا او سکيرا سره واده کړی. ننډلال ويل چې سکيرا د سيك د دين نه اوښتی او هندو شوی دی. نيال سنګ ويل چې ... به يې هندو شي.

* * * *

ټوه چې مې خلاصه کړه نو زما خيال پلو او د خاطرو بهير هم ختم شوی و. د ... و د هندو سره مې لاس ورکړ. هغه وويل، ته يوه دقيقه ودرېږه. لاړ د ... ی د ټوټونو يو بنډل را وايست. دوه سلګون يې ترې را وايستل او ماته يې ونيول.

- په دې څه وکړم؟
- بس په تا ګټه نه کوم.
- ولې زه درته خوار ښکاره شوم که څنګه ؟
- نه.
- نو په دې روپيو څه وکړم؟
- چې پېښور ته ورسېدې ، وطنداراتو ته يې ورکړه.
- د چا وطنداراتو ته ؟ زما که ستا ؟
- نه، ستا وطنداراتو ته ، زه خو هندی يم. )

زه هك اريان پاتې شوم.

د سفر نه يوه ورځ دمخه څه دوستان د خداى پامانۍ د پاره راغلي وو. ځينو د خپلوانو د پاره روپۍ راکړې. ځينو نور ټك و پوك . په همدې کې د هندو کيسه راياده شوه او ملګرو ته مې تېره کړه. ټولو شاباسي وايهٔ او يو څه د ځانه شرمېدل هم چې هندو زموږ مهاجرو ته ډالر استوي او موږ چې څه پيدا کړو يوازې بې خپلې کورنۍ ته لېږو. په همدې کې يوه ملګري راته وويل چې دى هم په مني پېښور ته ځي او د مسافرت د همدې دفتر تلفون يې رانه وغوښت. د هغوى کارټ زما د الوتکې د ټکټ پورې سنجاق شوى و. هغه مې رابېل کړ او ملګري ته مې ورکړ. هغه ولوست:

World Travel Bureau

Sakira and Mitra Agents

د نړيوال مسافرت دفتر، سکيرا او مترا نماينده ګان

زما د حيرانتيا اټکل تاسې کولى شئ.

---

د ناڅاپي پېژندګلو راوي د کيسې د منځ يو سړى دى. يعنې ليد لورى يې اول ګړى دى. راوي د پېښو ښارونکى دى. د کيسې په اوله برخه کې د هوايي شرکت مامور په کمپيوټر کار کوي او دى يې ښاري. په دويمه برخه کې يوازې شاهد دى او په دريمه برخه کې يې ځکه شاهد بللى شو چې اصلي چارې له نورو کرکټرونو سره تعلق لري.

د کيسې په اوله او درېيمه برخه کې راوي د پېښو په څنګ کې دى مګر په دويمه برخه کې يې دقيق ځاى نه دى معلوم. کله کله يې پېښو ته نژدې وينو. مثلا هلته چې لولو:( يوه ورځ زه حاضر وم چې زموږ د کلي مشرارباب نعيم

ورته ووېل.... ) په اکثرو ځايونو کې راوي پېښو ته دومره نژدې نه دی ، ممکن له نورو يې اورېدلي وي.

په زماني لحاظ د کيسې د لومړۍ او دريمې برخې پېښې له نژدې تېر وخت سره تعلق لري خو د منځ برخه د لرې ماضي پېښې بيانوي.

راوي ته تېر وختونه ځکه ورياد شوي چې د شرکت کارکوونکي، سکيرا ورياد کړی دی او خپلو دوستانو ته يې دا کيسه ځکه کړې ده چې هندو له افغان مهاجرو سره مرسته کوي مگر پخپله افغانان مرستې ته تيار نه دي.

کيسه داسې شروع کېږي: (هندو ځان ناگاره اچولی و....) دی ولې نهٔ وايي چې د شرکت مامور ځان ناگاره اچولی و؟ ځکه چې له راوي سره لا د خپلې سيمې، خان اباد ، د خلکو کلتور او ذهنيت ملگری دی، هغه کليوال ذهنيت چې د نورو دينونو، مذهبونو ، کلتورونو او ان قبيلو له غړيو سره فردي نه بلکې اجتماعي چال چالند کوي. يعنې دا مهمه نهٔ ده چې هندو څوك دی ، مهمه دا ده چې هندو دی.

د ټکټ بيه هم په نغد ډول پرې کېدی شي او هم لکه څنگه چې په لويديځو هيوادونو کې عامه ده د چك د ورکولو په ذريعه . خو راوي نغدې روپۍ ورکوي او وايي:( د دو طرفه ټکټ بيه يو لس سوه ډالره وه. هغه مې نغدې ورکړې. اوس به يې څهٔ د هندو سره سپينوې چې دا چك واخله، دا مې تذکره ، دا مې پاسپورټ ، دامې ادرس ، او دی به داسې د شك او سپکاوي په نظر درته گوري ، لکه چې هر څهٔ جعلي وي.) دلته هم وينو چې راوي د خپل وطني کلتور څينې منفي اړخونه امريکا ته ورسره وړي دي. د دهٔ نفس دا نهٔ مني چې يو هندو ته اسناد ورښکاره کړي . راوي د وينې او عقيدې په لحاظ د بر والي يو احساس لري. کله چې دی پخپلو خاطرو کې ډوبېږي هلته هم د راوي او د راوي د کليوالو په خبرو او عملونو کې د بروالي احساس وينو.

خو کله چې دغه احساس د هندو مامور د کمپیوټر په خوا کې د راوي له حضور او راوي ته د هندو د مرستې له ورکولو سره پرتله کوو، یو بل فکر راپیدا کېږي . د راوي او د هغهٔ د کلیوالو د بروالي احساس د هندو مامور له واقعیت سره توپیر لري او په دې ډول طنزي توپیر رامنځ ته کېږي . دا هغه ډول ژور طنز دی چې د اول ګړي لیدلوري په ګڼو کامیابو کیسو کې یې موندلی شو.

د اول ګړي راوي په برخه کې معمولا دا پوښتنه هم ډېره کېږي چې ایا رښتیا به وایي؟ د ناڅاپي پېژندګلو د راوي په روایت کې داسې څه نهٔ وینو چې د راوي په دروغو دې دلالت وکړي او یا یې هڅه کړې وي چې ځینې حقایق پټ کړي . البته، د ګڼو افغانانو او په تېره بیا کلیوالو غوندې چې کله غواړي په یوه شي تاکید وکړي، مبالغه کوي. مثلا وایي: د مېوو او خربوزو خو د خرهٔ بارونه وو چې هر سهار چې موږ مکتب ته تلو د نندلال د دوکان مخې ته به دلی پراته وو. موږ هلکانو به نندلال ته لمن لمن د کشپانو هګی وروړلې چې دی د هغې نه په حکیم نیال سنګ باندې ځانته معجونونه او کوشتې جوړې کړي.)

راوي د کیسې په اوله جمله کې په ټکټ ورکوونکي تور لګوي چې ځان یې ناګاره اچولی وو، حال دا چې هغه په کمپیوټر کار کاوه چې دهٔ ته د ټکټ بندوبست وکړي. دغه تور هم قصدي نه دی بلکې د راوي له ذهنیت او د معلوماتو له کچې سره تعلق لري. دی چون هندوانو ته په ښه سترګه نه ګوري نو احساس کوي چې دهٔ ته اهمیت نه ورکوي. راوي د بې اهمیتی احساس ځکه کوي چې هندو ته محتاج ولاړ دی او بله دا چې د نوي علم او ټکنالوژۍ له لویې وسیلې یعنې کمپیوټر سره هندو بلد دی او دی نابلد غوندې ښکاري. د دهٔ نابلدي خو له دې هم رامعلومېږي چې یوازې د کمپیوټر د مخ د رنګونو بدلېدو یې توجه جلب کړې ده. دی چې له اوسني تمدن او ترقی د بې برخې تولنې غړی دی د کمپیوټر اواز ته ( ټرهاری ) وایي او په دې ډول د ماشین او ټکنالوژۍ په حقیر ګڼلو سره د حقارت د هغه احساس ځپل غواړي چې له

# دُرِ مکنون

سږ کال مې د میلادالنبي په ورځو شپو کې په همدې موضوع په کابل کې د ځینو عالمانو ویناوې واورېدلې او د دُرِ مکنون لوستل مې په نصیب شول.

دُرِ مکنون د سیرت یو کوچینی کتاب دی چې یوسلو څو کاله پخوا په ۱۳۰۹ هجري قمري کال کې )عبدالرحیم ابن قسیم گل اخوندزاده له فارسي څخه پښتو کړی دی. کتاب په اصل کې عربي دی او د اوومې هجري پېړۍ له اواخرو یا د اتمې هجري پېړۍ له اوایلو سره تعلق لري.

د دغه سیرت لوستلو خوند راکړ، د ژباړن نثر په زړه پورې و او د محتوا په لحاظ مې چې د میلاد البني په مناسبت له اکثرو ویناوو سره پرتله کړ، بهتره رامعلوم شو. البته، د دُرِ مکنون د لوستونکي بله خوشبختي دا ده چې استاد معصوم هوتک یې د سریزې، مقابلې، حاشیې او تصحیح چارې په غاړه اخیستې دي. معصوم هوتک د استاد زلمي هیواد مل او استاد کامل مومند غونډې په هغو محدودو کسانو کې دی چې لوستونکی یې ترتیب کړی متن په ډاډ سره لوستلای شي.

د دُرِ مکنون جملې روانې او واضحې دي او اطناب پکې ببخي نشته. د ژباړې دغه څو جملې چې لاندې یې لولئ، د ټول کتاب د نثر یو مثال وګڼئ:

« د قوم د اشرافو دلجویي به یې کوله. اهل فضل به یې خوښ وو. هر چا نه به یې تندی روڼ و. د عذر راوړونکي عذر به یې قبلاوه. په حق او رښتیا ویلو

کې ورته زور او کمزوری یو شان و. څوک به یې په تګ کې خپلې شانه نه پرېښود او دا به یې فرمایل چې ځما شا فرښتو ته پرېږدئ. او په سورلي کې به یې څوک پلی له ځان سره نه پرېښود. له ځان سره به یې سور کړ او که هغه به نه سورېده نو به یې ورته وفرمایل چې د خپل مطلب ځای ته له مانه وړاندې لاړ شه.»

ما چې د میلاد النبي (ص) په مناسبت تر اکثرو ویناوو دُرِ مکنون بهتره یوه وجه یې دا وه چې په ویناوو کې د رسول الله مبارک په اخلاقي فضایلو باندې هغومره خبرې ونه شوې لکه څومره چې ټولنه ورته اړتیا لري. ۱۰۰

د ښې وینا یوه لویه ځانګړنه دا ده چې اورېدونکی د داسې څه کولو ته هڅوي چې د هغه په وس کې وي. ښه ویناوال دغه «څه» اورېدونکي ته واضح کوي او پوهوي یې چې که دې عمل ورباندې وکړ نو ستا یا ټولنې دا، دا نیمګړتیاوې به غوڅې شي.

زموږ په ټولنه کې چې د څو لسیزو پرله پسې جګړو په وجه اخلاقي زوال راغلی دی او ځینې کسان ان د بل انسان په وژلو فخر کوي، له نورو ژوبو سره د نرم چلند خبره ممکن په مشکله واورېدل شي خو که د رسول الله مبارک په سیرت کې یې ولولي نو ګوندې اثر ورباندې وکړي. په درمکنون کې لولو: «د خدای تعالی په پیداوښت باندې ډېر مهربانه و. تر دې حده پورې چې د اوبو لوښی به یې د پیشو د پاره کوږ کړ او تر هغه پورې به یې کوږ نیولی و چې پیشو به په اوبو مړه شوه.»

هره ټولنه خپل مشکلات لري. ښه لیکوال یا ښه ویناوال دغه مشکلات نه هېروي او مخاطب ته هغه څه وړاندې کوي چې د مشکلاتو په حل کې به یې پکارېږي. په یو بل وخت یا بله ټولنه کې ممکن مشکلات نور وي او د بل وخت یا بلې ټولنې تکړه لیکوال او ویناوال به مخاطب ته نور مواد انتخابوي.

موږ له اوږدې مودې راهیسې د ښوونځیو پښتو او دري کتابونه په حمد او نعت پیلوو. دغه حمد او نعت منظوم او ډېر ځله د تېرو پېړیو د شاعرانو له

دیوانونو څخه انتخاب شوي وي چې کله نا کله خو ښوونکي هم سم نه وربانديې پوهېږي. زما په گومان تر اکثرو هغو نعتونو چې د مکتب په کتابونو کې يې لولو، د سيرت د کتابونو مطالب ، د پيغمبر ( ص) په اړه زده کوونکو ته ډېر څه ورزده کولای شي. د سيرت په کتابونو کې د پيغمبر( ص) د ژوند گڼ حکايتونه او تصويرونه مخاطبانو ته د ښه او اخلاقي چلند مستقيم پيغامونه لري. په دُرِ مکنون کې راغلي دي:« حضرت صلي الله عليه و سلم په يو سفر کې و. امر يې وکړ چې مږ دې پوخ کړی شي. له يارانو نه يوه ووېل چې حلالول يې پر ما دي. بل ووېل چې پوستول يې پر ما دي او بل ووېل چې پخول يې پر ما. حضرت(ص) وفرمايل چې خشاک راوړل يې پر ما دي. يارانو عرض وکړ چې دا کار هم پر موږ دی. حضرت(ص) ووېل چې زه پوهېږم چې تاسو به دا کار وکړئ خو څما دا خوښه نه ده چې ځان له تاسو نه غوره وبولم او تاسو نه ځان لوی وشمارم، ځکه چې دا خوی له خپله بنده نه خدای تعالی مکروه گڼي. دا يې ووېل او پورته شه خشاک يې ټول کړ، رايې وړ.»

۱۳۹۵

# د هرې ژبې ادب خپلې غوښتنې لري

يو دوست د خپل کتاب د تاليف وجه دا ښودله چې په نورو ژبو کې په دې موضوع ليکنې شوې دي. ده وويل، موږ بايد نورو ته دا ثابته کړو چې موږ په خپله ژبه کې په دې موضوع هم کار کړی دی.

زه د خپل دوست د احساس قدردان يم خو دليل يې راته سم نه ښکاري.

لکه څنګه چې د هېوادونو غوښتنې او اړتياوې بېلې دي، د هرې ژبې د ادب په ځانګړنو اواړتياوو کې هم فرق دی.

پښتو کلمې په سماعي لحاظ په مذکر او مونث وېشل کېږي. دغه وېش د دې سبب شوی دی چې په پښتو کې د هنري صفت بديعي صنعت خاص خوند ولري. خوشحال فرمايي:

د بلندې په قامت باندې مېين شوم

هر چې لويې چارې کاندي هغه لوی شي

(بلند) که څه هم دري کلمه ده خو په پاسني بيت کې چې په مونثه بڼه راغلې ده، نو هغه ښايست چې په دغه پښتو بيت کې هنري صفت ( د اسم په ځای د صفت استعمال) پيدا کړی دی، ممکن په دري کې يې پيدا نه کړي.

په رواني لحاظ د مونثو کلمو رازداره کيفيت زيات وي. مونږ که( روح) وايو، هغومره مرموز حالت پکې نشته لکه په ( اروا) کې. په سماعي مذکر او مونث باندې د پښتو کلمو وېش د پښتو ژبې له شاعر او ليکوال سره مرسته کوي چې د څرګندو معناوو او مرموزو معناوو په القا کولو کې يوه داسې وسيله ولري چې په دري کې نشته. موږ د خپلې ژبې له دې خصوصيته د نوې هنري ژبې په

جوړولو کې ښه استفاده کولای شو. د بازمحمد عابد په شمول ځینو شاعرانو په وروستیو لسیزو کې د مار د کلمې مونثه بڼه( ماره) هم استعمال کړه چې ورسره ژبه تازه او هنري شوه. دا د پښتو ژبې د کره کتونکو او ادبپوهانو دنده ده چې د پښتو ژبې دغه ځانګړنه معرفي کاندي او په دې طریقه ایجادېدونکې ښکلا باندې بحث وکړي.

د ادب د تاریخ په لحاظ هم په پښتو او دري کې فرق دی. دري د دربارونو ژبه وه او په دربار کې به د پاچا د مدحې لپاره قصیدې لیکل کېدلې. مدحي قصیدو خاص جوړښت درلود. پښتو قصیدې چې د دربارونو لپاره نه دي ویل شوي، معمولا د درباري قصیدو جوړښت نه لري، نو که پښتو قصیده معرفي کوو او هلته وایو چې قصیده د تشبیب و نسیب و مدحې درې برخې لري، دا به هسې تقلیدي تعریف وي او زموږ د خپلې قصیدې د ځانګړنو په اساس به نه وي.

کله چې پښتو ادبپوهانو د خپل شعر سیلابتونیک وزن نه وو کشف کړی او پښتو به د عربي عروضو په کاڼو تلل کېدله، نو خوشحال فرمایلي وو چې : پښتو شعر مشکل دی د دې د بحر مونده نه شي. کاظم خان شیدا هم ویلي وو چې پښتو ژبه بې نظمه، بې نظامه ده. خو اوس چې مو د پښتو خپل وزن پېژندلی دی، دغسې شکایتونه نه اورو او په دې پوهېږو چې پښتو خپل اوزان او خپل نظام لري.

په قافیه کې چې لا تر اوسه د عربي د اصولو پابندي کوو، مجبور یو چې د خپلو لویو شاعرانو په دیوانونو کې هم د قافیې ګڼ عیبونه پیدا کړو، حال دا چې که مو د خپلې ژبې له غوښتنو او ځانګړنو سره سم د قافیې خپل مقررات او قواعد جوړ کړي وای، ډېرو نیوکو ته به مجبور نه وو.

موږ د ګرامر په سلسله کې هم ډېره موده د عربي پیروي وکړه. زموږ په اکثرو ګرامرونو کې حرفونه، قیدونه، فعلونه،اسمونه او صفتونه د عربي ژبې د

ګرامرونو په پیروي ویشل کېږي، حال دا چې هره ژبه باید خپل بېل ګرامر ولري.
امریکایي ژبپوه پینزل چې د شلمې پېړۍ په نیمایي کې د کندهاري لهجې کوم ګرامر وکیښ، په هغه کې د عربي او نورو ژبو منفي اغیزې نه وې. د پینزل د ګرامر له چاپیدو وروسته د پښتو لپاره د داسې ګرامر د لیکلو هڅې یو څه ګړندۍ شوې چې د پښتو له غوښتنو سره سمې وي خو لا هم ډېر کار ته اړتیا ده او مونږ تر اوسه پورې د پښتو یو نسبتا بشپړ ګرامر نه لرو.

په افغانستان کې ادب پوهنځی په لومړي ځل اویا کاله پخوا ( په ۱۳۲۳ لمریز هجري کال کې) تاسیس شو. په هغه وخت کې زموږ ادبپوهانو تر ډېره حده د دري پیروي وکړه او درسي واحدونه یې د دري ژبې له غوښتنو او ځانګړنو سره سم، تصویب کړل. دري ادب په تاریخي لحاظ ډېر غنی دی. د دې ژبې د ادب د تدریس په وخت دې ته سخت ضرورت دی چې پخواني ادب ته زیاته توجه وشي، خو پښتو دغه ځانګړنه نه لري. موږ که په ادبپوهنځي کې اته واحده د ادبیاتو تاریخ ته ورکوو، دا له خپلې ژبې سره بې انصافي کوو. د ادب په تاریخ باندې غیر ضروري فشار د دې سبب شوی دی چې د پښتو ادب محصلان د خوشحال او مغلو جګړې او د روښانیانو او درویزه خېلو مخالفتونه په تفصیل سره ولولي، ځکه له دغو کشمکشونو پرته په نورو برخو کې مواد ډېر نه پیدا کېږي. د دغو کشمکشونو تفصیلي مطالعه مونږ ته د خپل ادب په برخه کې ډېر څه نه رازده کوي، خو ځرنګه چې د دري په پیروي مونږ هم په پښتو ځانګو کې د ادبیاتو تاریخ ته ډېر ځای ورکړی دی نو مجبور شوي یو چې درسي ساعتونه په هغو خبرو ډک کړو چې په پښتو ادب باندې په پوهېدو کې ډېره اړتیا ورته نشته. د پښتو ادب خپله تقاضا دا ده چې د تدریس په وخت کې ډېر زور په معاصرو ادبیاتو واچول شي. نن سبا پښتو ناول تر بل هر ژانر ډېر لوستونکي لري، خو زموږ د ادب پوهنځي لا تر اوسه دې ته نه دي تیار شوي چې دغه ژانر ته د یو مستقل درس مقام ورکړي.

د هرې ژبې ادبيات خپلې ځانګړنې لري، تاريخ يې بېل دی، انکشاف يې بېل دی او اړتياوې يې بېلې دي. موږ بايد په ګرامر، ادبي فنونو، قافيې، وزن، ادب تاريخ، ژانرونو، ادب تيوري او نورو برخو کې د پښتو خپلې غوښتنې او ځانګړنې وپېژنو او د دې پېژندنې په رڼا کې ورته درسي نظام برابر کړو.

موږ يوازې په تدريس کې نه بلکې په تحقيق کې او سيمنارونو کې هم ډېر خله د تقليد په اساس موضوعات ټاکو او د خپل ادب اړتياوو او ځانګړنو ته چندان نه ګورو. موږ ممکن د دوه سوه کاله پخوا وخت په يوه غير مهم شاعر باندې لوی سمينار جوړ کړو او له دې تصوره خوند واخلو چې ډېر پياوړي ادبيات لرو. که د دوه سوه کاله پخوا دغه شاعر واقعا مهم وي او د ادب په پرمختګ کې يې برخه اخيستې وي نو که واقعي اديبوهان ورباندې يو څه وليکي، زموږ اديبوهنې به ګټه کړې وي خو که دغه شاعر واقعي هنرمن نه وي، موږ به د ادب په وده کې څه استفاده ورنه وکړو؟ دا څه بده خبره نه ده چې د تېرو زمانو په يوه عادي شاعر باندې هم تحقيق وشي خو په عادي شاعر باندې سيمنار جوړول او ډېره انرژي ورباندې لګول، چندان د ګټې کار نه دی. موږ نه ډېر مالي امکانات لرو او نه ډېر د کار محققان او اديبوهان. زموږ خير په دې کې دی چې د تحقيق او څېړنې لپاره د مهمو او غير مهمو موضوعاتو توپير وکړو او هغه څه انتخاب کړو چې د ادب ودې ته يې زياته ګټه رسېږي.

د يوې ژبې او د هغې د ادب په باره کې تحقيقات هغه وخت ګټور وي چې د ژبې او ادب ځانګړنو او د هغې ژبې او ادب د لوستونکو او ويونکو واقعيتونو ته پکې پام شوی وي. مونږ که د تحقيق او تدريس په وخت ناول او مسدس ته په يوه سترګه ګورو ، دا زموږ د ژبې، ادب او لوستونکو له غوښتنو سره سمون نه خوري. موږ نه په مسدس کې شهکارونه لرو او نه يې ليکلو او لوستلو ته مايل يو، حال دا چې زموږ يو شمېر لوی ليکوال ناولونه ليکي او زموږ د ادب اکثره لوستونکي تر بل هر ژانر له ناول سره زياته دلچسپي لري.

# ژباړن

استاد زلمي هیواد مل په ( پښتو نثر اته سوه کاله) کې له شوروي یرغله وروسته پښتو نثر په باره کې لیکي:« یو ډېر شوم کار چې دا وخت وشو، هغه دا و چې اکثر حزبي او دولتي مهالنۍ خپرونې دوه ایډیشنه شوې چې ظاهرا خو دا کار باید سرې نېکمرغي وبولي ځکه د هرې مهالنۍ مستقل پښتو ایډیشنونه خپرېدل خو د ژبې په ګټه دي . مګر موږ ځکه شوم ګام وباله چې د دې ایډیشنونو پښتو مطالب به له دري نه ترجمه کېدل او پښتو لیکوالو د روزنې مخه یې نیوله او ترجمه یې داسې ناوړه او ګډوډه وه چې د پښتو لیکنې سبک یې خراب کړی او څه کم سل کاله وروسته یې کابو د امیرعبدالرحمن خان د زمانې پښتو بیا رواج کړې وه.د هیواد، انیس، حقیقت انقلاب ثور، زنده ګی حزبی ، مسایل صلح و سوسیالیزم او ځینې نورې خپرونې په دوو اډیشنونو کې تهیه کېدلې .»

د استاد شکایت دا دی چې ژباړې پښتو نثر ته صدمه ورسوله. ژباړه څه وخت ژبې ته صدمه رسوي؟

که ژباړن په یوه داسې اداره کې کار کوي چې آمر یې په خپل کار سم نه پوهېږي خو آمریت یې خوښ وي نو دا امکان ډېر دی چې ژباړن ټکي په ټکي ژباړې ته مخه کړي او تر بل هر څه ورته دا مهم شي چې د آمر د نیوکو مخه ونیسي.

په اخبارونو او نورو خبري رسنیو کې په دې وجه هم د مبدا ژبه د مقصد ژبې ته کیفي صدمه رسوي چې له ژباړن سره معمولاً د وخت کمی وي.

هغه ژباړونکي چې په خپل کار مسلط وي، ممکن له آمره ونه وېرېږي او د وخت کمی هم د دې سبب نه شي چې د ژباړې نثر يې ناسم او بې خونده شي. مسلط ژباړن هغه څوک دی چې د مبدا له ژبې مطلب سم واخلي، د مقصد په ژبه خو لاسبرى وي او له هغه علمي مبحث سره نااشنا نه وي چې د ژباړې متن ورسره تعلق لري. که يو څوک په انګليسي او پښتو دواړو کې استاد وي خو له طب سره اشنا نه وي او طبي متن ورکړې، ممکن ناسمه ژباړه وکړي ځکه د طبي متن ترجمې ته نه يوازې د مبدا او مقصد له ژبو سره بلدتيا بلکې له طب سره بلدتيا پکار ده.

ځينې ژباړونکي په خپل کار کې ښه تجربه لري خو لټ او بې پروا وي. ښه ژباړه اسانه چاره نه ده. حميد مومند چې شعر د زخمي زړه له خوناب يا د نيم بسمل مرغه له نغمې يا د وينو له اباسين سره تشبيه کوي، دا خبرې يې په خپل ديوان کې نشته بلکې د هغه د ( نيرنګ عشق) د ترجمې په وروستۍ برخه کې راغلي دي. عالي ژباړه نه يوازې تجربه بلکې له کار، ژبې او ولس سره مينه هم غواړي.

د ښې ژباړې لپاره بهتره دا ده چې ژباړن اول ټول متن ولولي، ځان ورباندې پوه کړي او بيا د ژباړلې لپاره متې راونغاړي.

هغوی چې ټکي په ټکي ژباړه کوي، ممکن د مبدا ژبې په جمله کې هرې راغلې کلمې ته د مقصد په ژبه کې معادل وغواړي. نن سبا په يوه تلويزيوني اعلان کې د ( وينئ) په ځای ( ننداره کوئ) راځي او دا کار ځکه شوی دی چې ژباړن د( تماشا ميکنيد) د دوو کلمو لپاره په پښتو کې هم دوه کلمې راوړې دي، حال دا چې د مقصد د ژبې د يوې کلمې د ژباړې لپاره د مبدا په ژبه کې ممکن دوې کلمې او برعکس د مقصد د ژبې د دوو کلمو لپاره د مبدا ژبې يوه کلمه کافي وي. دغه راز کيدای شي د مبدا ژبې يوه جمله د مقصد په ژبه کې په دوو جملو کې ښه راشي او برعکس.

ځینې کلمې چې هم د مقصد او هم د مبدا په ژبو کې استعمالېږي،ممکن په دواړو ژبو کې بیلې معناوې ولري. کمزوری ژباړن شاید دغه توپیر ته متوجه نه شي. نن سبا په یوه تلویزیوني اعلان کې اورو چې: احترام شناخت ماست. اعلان له اردو ژباړل شوی دی او ژباړن دې ته نه دی پام شوی چې شناخت په اردو او دري کې د یو بل معادل نه دي او همدا وجه ده چې دري ژبی د دې جملې په معنا سم نه پوهېږي.

د مقصد ژبه هغه وخت هم د مبدا ژبې تر منفي اثر لاندې راځي چې ژباړن د مبدا ژبې په جمله کې راغلي صفت ته خامخا صفت یا مثلا اسم ته خامخا اسم ولټوي. په انگریزي کې وايي: (رشین پریزډنټ) چې تکي په تکي ژباړه يې ( روسي ولسشمر) کیږي. په پښتو کې پکار ده د صفت و موصوف دغه رابطه د مضاف او مضاف الیه په رابطې بدله کړو او ولیکو: د روسیې ولسشمر. ( روسي ولسمشر) یعنې هغه ولسمشر چې په ختښه روسی دی، حال دا چې په انگریزي کې مطلب بل څه دی.

په دري کې وایو: ( من با کمپیوتر آشنایی دارم.) ( آشنايي) اسم دی او کمزوری ژباړن ممکن په پښتو کې هم اسم ورته پیدا کړي او ولیکي چې : ( زه له کمپیوټر سره بلدتیا لرم.) حال دا چې په پښتو کې بهتره ده ولیکو چې : ( زه له کمپیوټر سره بلد یم.) د دري جملې د اسم په ځای په پښتو کې صفت راغی.

په مبدا ژبه باندې د مقصد د ژبې یو بل منفي اثر دا کیدای شي چې د مبدا د ژبې په پیروي په خپله ژبه کې ترکیبونه جوړ کړو. په دري کې د ( برگریزان) لغت شته. موږ يې په پیروي ( پاڼریژ) ساز کړ، حال دا چې ضرور نه ده چې د بلې ژبې هر ترکیب په هماغه شکل پښتو کړو. پاڼریژ ته خوشحال ختک رژون وايي. خوشحال فرمایي:

په سم دي که په غره دي، د بهار خاصه گلونه
آخر به یې رژون وي د گلونو له درخته

په انگریزي کې د پیس بلډنگ اصطلاح شته، ضرور نه ده چې موږ یې اعمار صلح وبولو، ځکه سوله زموږ په ژبه کې رامنځ ته کیږي، ایجادیږي، ټینګیږي، زمینه ورته جوړیږي خو اعماریږي نه.

دا خبره مې پنځه شپږ کاله پخوا له ډیر فعال ژباړونکي او کره کتونکي ډاکتر لطیف بهاند څخه اوریدلې وه چې په یوه ژبه کې لوی کره کتونکي هغه وخت پیدا کیږي چې لوی لیکوال پکې پیدا شي. زه د ده له خبرې الهام اخلم او وایم چې ښه آثار به هغه وخت ولیکو چې ښې ژباړې وکړو. د امریکا د شلمې پیړۍ لوی شاعر او کره کتونکي ازرا پاونډ ویلي دي چې د یوې ژبې د ژباړې طلایي عصر تقریبا همیشه د هغې ژبې د ادب طلایي عصر هم وي.

که د ژباړې نقد ولرو، که د خپلو ژباړونکو د کار مادي او معنوي قدرداني وکړو او دوی ته دا وواېو چې ښه ژباړه د ښې لیکنې غوندې د یوه ملت د فرهنګ په تاریخ کې اهمیت لرلای شي، نو د ژباړې له نهضت سره به مو مرسته کړې وي.

# په لرغوني مصر کې هنر او ادبیات

د لرغوني مصر تمدن چې پنځه شپږ زره کاله پخوا پیل شو او درې زره کاله یې دوام وموند، د نړۍ تر ټولو اوږد مهالی تمدن دی. په دې لیکنه کې د دغه تمدن هنر او ادب ته ځغلنده کتنه کوو.

د لرغونو مصریانو فکر او هنر د دوی د مذهبي عقیدو پر اساس ولاړ وو. دوی ته خپل واکمن مقدس ښکارېده او مقدساتو د مصریانو په ټول ژوند باندې ژور اثر ښندلی و. په دوی باندې د خپل واکمن دومره رعب پروت و چې د هغه نوم به یې نه اخیست او فرعون یې باله. فرعون په لغت کې ( لوی کور ) ته وایي. ځرنګه چې په ( لوی کور ) کې واکمن اوسېده نو خلکو د وېرې او احترام په خاطر د مظروف په ځای ظرف ته اشاره کوله.

په لرغوني مصر کې مذهب دومره مهم و چې کابو ټول هنر د فرعون او خدایانو په خدمت کې و. هرم د فرعون د مړي ابدي کور و او په همدې وجه یې وسایل او ډیکورېشن د فرعون د مانۍ په سویه و . د هرم په داخل کې به د فرعون د کوټې دېوالونه په شاهانه منظرو منقش و.هلته به غلې دانې ، چوکۍ ، تختونه ، د خادمانو مجسمې او نور وسایل وو چې په هغه دنیا کې د فرعون پکار راشي. د فرعون مړی به دهمدې کوټې لاندې چېرته بل ځای و . د دې لپاره چې لوټمار سره زر او نور قیمتي شیان یو نه سي ، ټولې لارې به بندې وې او غالباً هغه کسان وژل کېدل چې د لارو د بندېدو کار یې سرته رساوه ، ځکه راز باید ببخي پټ پاتې وای . خو له دومره احتیاط سره سره ډېر پخوا لا غلو او لوټمارو اکثرو هرمونو ته لار وکړه او ویې لوټل .

د لرغونو مصریانو دهنر د زور د ښکاره کولو بل ځای معبدونه وو چې هغه هم د فرعون او خدایانو په ویاړ جوړېدل. د ابوالهول مجسمه چې ۱۷ متره لوړه

او ۴۴ متره اوږده ده ، د خوفو د هرم غونډې د مصر د لومړي سلطنت له زمانې سره تعلق لري . دغه مجسمه د نورو مجسمو په څېر په مذهبي مقصدونو جوړه شوې ده.

د پخوانو مصريانو ادبيات هم له ديني عقيدو پوره متأثر دي او څرنګه چې دغه عقيدې په مصر کې د ژوند او شرايطو پيداوار وې نو ادب هم له ورځني ژوند سره مستقيم يا غير مستقيم تعلق درلود.

د مقايسوي ادبياتو پوهانو د نړۍ په ادب باندې د لرغوني مصر دادبياتو اغېز څېړلی دی او دغه هېواد ته يې د نړۍ د ادب د يوې مهمې سرچينې په سترګه کتلي دي .

د دنيا د ادبي اثارو يو مشهور موتيف( تکرارېدونکی مضمون) په ټاپو کې د خزانې موندل دي، چې په لرغوني مصر کې ځېلې لري. د لرغوني مصر د منځني سلطنت د دوران په يوه کيسه (ماڼو او حيرانوونکی ټاپو ) کې ، يوه بېړۍ ډوبېږي او يوازې ماڼو ژوندی پاتېږي . ماڼو يوه ټاپو ته ځان باسي ، ټاپو نامسکون وي ، دی هلته خزانه مومي او چې څنګه له ټاپو څخه په راوتلو بريالی شي ، ټاپو په اوبو کې لاهو شي.

د سکاټلېنډ د نامتو ناول ليکونکي رابرټ لؤيس ستونسن Stevenson(۱۷۷۲ـ ۱۸۵۰) مشهور ناول (د ټاپو خزانه) دهمدې موضوع يو مشهور مثال دی. د ستونسن د ناول اتل په نامسکونه جزيره کې د خزانې نقشه مومي.

د دولسمې ميلادي پېړۍ د مسلمان فيلسوف ابن طفيل په مشهور فلسفي داستان (حی بن يقظان ) کې يو څوک په نامسکونه جزيره کې اوسي او هلته معنوي خزانه پيدا کوي، يعنې د خدای د وجود منلو ته رسيږي.

د مصريانو ځينې نکلونه د بلې دنيا په باره کې دي . د بلې دنيا ترسيم او توصيف د دنيا د ادب يو بل مهم موتيف دی چې پوهان يې سرچينې په لرغوني

مصر کې ويني [دايټاليا د ترټولو لوی شاعر دانتې شاهکار،الهي کميډي، د هغې دنيا د ترسيم ډېر مهم اثر دی.]

د لرغوني مصر په ادبياتو کې لولو چې په اسمان کې يو داسې ځای شته چې بنيادم پکې همېشه ځوان پاتېږي ، نه بوډا کېږي . دغه ځای ډېر خوندور خواړه لري ، د ښځباک له پاره خورا بهترين شيان پکې شته . د دغه ځای د اوسېدونکو خورا ښايسته جامې وي چې نه زړېږي ، نه چټلېږي . د دې ځای اوبه تازه او مېوې مزه ناکې وي. دامته شيطاني روحونه، ماران او حشرات نشته او د اوسېدونکو ذهن يې له تل پاتي سکون څخه خوند اخلي.

په يو بل ځای کې بيا بد کسان اچول کېږي . بد کسان هلته ابدي جزا ويني او په داسې جهيلونو کې چې اوبه يې د اور د لمبو په شان وي، اوسي. په دې ځای کې خطرناکې سمسارې،چيچونکي ماران او داړونکي ځناور لر بر کېږي. د دغو جهيلونو ساتونکي هم ډېر بوږنوونکي ځناور دي چې گنهگارو ته قسما قسم سزاگانې ورکوي .

د اروپايي ادب يو ډېر مشهور نکل،سيندرلا( Cinderlla ) چې په اووه سوه بڼو ويل شوی ، د يوې مظلومې نجلۍ داستان دی چې وروسته بيا يو مشهور شهزاده وربانديې زړه بايللی او.... د دې کيسې لومړنۍ بڼه په ۲٦ ميلاد مخکې پېړۍ کې په مصر کې وينو.

د لرغونو مصريانو په اوږدو نکلونو کې سنوحي snohi يوهغه نکل دی چې په پېړيو پېړيو مشهور و. دغه نکل د څلور زره کاله پخوا زمانې اثر دی.

سنوحيت Snohit په اسيايي ملکونو کې د مصر د جايداد اداره کوونکي وي. کله چې فرعون خبرېږي چې ځينې ليبيا وال په غربي دلتا کې لوټ کوي نو د مشر زوی په مشرۍ عسکر وراستوي. باغيان ځپل کېږي. د ستنېدو پر وخت شهزاده ته خبر ورکول کېږي چې فرعون مړ شوی دی. شهزاده بايد بيړه وکړي او تخت ته ځان ورسوي . د فرعون له مړينې څخه له شهزاده پرته بل

څوک نه دي خبر ،خو سنوحيت ته چې له شهزاده سره د لارې مل دی ، اطلاع رسيږي چې د شهزاده کشر ورور هم د پلار له مړينې خبر شوی او په ډېرې تېزۍ د پايتخت په لور روان دی . سنوحيت فکر کوي چې د دغو ورونو تر منځ خامخا جګړه پېښيږي نو بهتر ه ده له مصر څخه ووځي ، وتښتي.

دی د تېښتې پر وخت ډېر تکليفونه ويني اوځان فلسطين ته رسوي. دهغه ځای واکمن يې وپېژني ، خپله لور ورکړي او لوی چارواکی شي . کلونه واوړي . سنوحيت بوډا شي او وطن وریاد شي او د ستنېدو له پاره دغه دليل راوړي :« دبنيادم لپاره تر ګردو لويه خبره دا ده چې د خپل تولد په ځای کې ښخ شي .» د ده دليل ومنل شي.فرعون يې د تېښتې ګناه ورمعاف کړي، مصر ته ستون شي او هلته د ځان له پاره ښه مقبره جوړه کړي.په دغه نکل کې ریاليستيک تمايلات ډېر وينو. خو د مصريانو اکثره نکلونه په خارق العاده پېښو ولاړ دي او جادو پکې لوی نقش لري .

د کابو څلورزره کاله پخوا په يوه نکل کې لولو چې يو بې لارې سړی د يوه کوډګر مېرمن تېرباسي، تار ورسره اچوي. کوډګر يوه جادويي سمساره سازوي او کله چې دغه سړی په سيند کې لامبي، پر جادويي سمساره سزا ورکوي .

د مصر په نکلونو کې د داستاني ادب يو خورا مهم خصوصيت يعنې حيرانوونکی عنصر ډېر وينو. حيرانوونکی عنصر د هرې زمانې په داستانونو کې ليدل کېږي خو څرنګه چې حقايق بدليږي نو حيرانوونکي موضوعات هم بدليږي . په پخواني مصر کې خلکو عقيده لرله چې په جادو کې ډېر زور دی ځکه خو د دوی لپاره جادو غير معقوله حيرانتيا نه وه. د هرې زمانې خلک معمولاً هغومره حيرانتيا خوښوي چې د دوی عقل يې منلی شي.

۱۳۸۶

# د افغانستان منظرې

د افغانستان د اطلاعاتو فرهنګ وزارت د ګرځندوی ( د افغانستان منظرې) په نوم په ۱۴۹ مخونو کې د لويې کچې او ډېر اعلی کاغذ يو کتاب چاپ کړی دی چې د دغه هېواد د طبيعي منظرو او تاريخي ځايونو رنګه عکسونه پکې دي.

د دنيا په نورو ملکونو کې د سيلانيانو د جذب او لارښوونې لپاره دغسې کتابونه ډېر چاپېږي. افغانستان چې له اوږدو جګړو وروسته يو ځل بيا غواړي چې د سولې او سيل وطن شي، دغسې کتابونو ته ضرورت لري. د دې کتاب د عکسونو لنډه شرحه په انګرېزي ژبه شوې چې منظور ورنه شايد دا وي چې د نورو هېوادونو خلک يې وګوري خو د افغانستان خپلو خلکو ته هم جالب او ګټور کتاب دی.

توريزم يوازې په نورو ملکونو کې سير وسفر ته نه وايي. په خپل وطن کې ګرځېدل او سياحت کول هم توريزم دی. د داخلي سياحت غوړېدل د يو وطن د خلکو د زړونو د لانږدې کېدو سبب ګرځي. که توريزم ته له دې اړخه وګورو نو دا خبره به بې ځايه نه وي چې د داخلي توريزم په غوړېدو کې لا لويې ګټې دي.

افغانستان لوی وطن دی. دا وطن تر شپږنيم لکه کيلومتره مربع ډېر مساحت لري. يعنې د جاپان کابو دوه برابره، د انګلستان تر دوه نيم برابره زيات او د سويس پنځلس، شپاړلس برابره مساحت. له بلې خوا د دغه لوی وطن ډېرې برخې د مناسبو لارو او وسايلو کموالي ان له ډېرو ګرځندو کسانو هم نااشنا ساتلې دي. ځکه خو ويلای شو چې د افغانستان د منظرو کتاب د هر چا لپاره او حتی د هغه افغان لپاره چې په خپل وطن کې ډېر ګرځېدلی دی، نوې او په زړه پورې ننداره لري او دا هوس ورپيدا کولای شي چې د سفر موزې په پښو کړي، د آسيا په زړه کې يو ځل بيا وګرځي.

پکار خو دا ده چې د افغانستان د گرځندوی اداره د دغه هېواد د طبيعي منظرو او تاريخي ځايونو دغسې کتابونه هر کال چاپ کړي.

د افغانستان يوه طبيعي نېکمرغي دا ده چې د څلورو فصلونو وطن دی. مگر په دې کتاب کې اکثره پسرلنی منظرې وينو. که د توريزم اداره داسې کتابونه بيا چاپوي ، د مني زېړه ښکلا دې هم، چې د پسرلي تر زرغونې ښکلا کمه نه ده، نه هېروي. دغه راز د افغانستان د دوبي په مازديگر کې د کروندو تبجن حسن او يا د ژمي د موسم په واورينو صحراگانو کې د سرو غروبونو پناه کېدونکی ښايست د هېرېدو نه دی.

د افغانستان د منظرو په کتاب کې د ځينو منظرو لکه د باميان د بند امير څو ډوله عسکونه وينو او د کتاب په ۲۵ مخ کې د کندز د سه درک د پټو عکس په ۱۳۹ مخ کې هوبهو بيا راغلی دی، حال دا چې د ځينو ولايتونو هيڅ عکس پکې نشته. سربېره پر دې د کتاب گڼ عکسونه د پخو سړکونو په غاړه اخيستل شوي او عکاسانو يې په خپلو کمرو کې د پخو لارو د څنگ د غونډيو ورهاخوا ته د بې شمېره ښکلاگانو ننداره نه دي خوندي کړې.

البته دا وړې نيوکې که واقعي نيوکې هم وي د دې لوی کتاب اهميت نه شي کمولای. په دې کتاب کې د شبرغان د جامع جومات زرغونې کړکۍ ، د کندز سين د غاړې په يوه خاورينه غونډۍ باندې د سهارني لمر زېړې پلوشې، په جلال اباد کې په يوه نرۍ لاره باندې د ونو سيوری يا د کونړ د نورگل په کروندو کې يوازې ولاړه کلا او دا رنگه په سلگونو نورې صحنې د خدای له دنيا سره د انسان مينه پيدا کوي او د يوه کتاب لپاره به تر دې لا بله ښه خبره کومه وي چې زړونه له خاورينې دنيا سره ، له طبيعت سره ، د انسان د لاس له يادگارونو سره او بالاخره له زړونو سره وصل کړي.

۱۳۷۸

# اخبارونه او سفرونه

هسې وايي چې د اسپانيا يوه پاچا د قوم څينو مشرانو ته په خپله وينا کې د شويو پرمختگونو خبرې کولې. ويل يې دومره سړکونه او دومره پلونه پاخه شوي دي او د خلکو په ژوند کې دغه، دغه بدلون راغلی دی. د پاچا له وينا وروسته د راغليو کسانو له منځه يو کس پاڅېد، ويې ويل: اعليحضرتا، زه سوداگر يم او په ملک کې ډېر سفرونه کوم، خو دغه څه چې تاسې وفرمايل، دا مې نه دي ليدلي.

پاچا ورته وويل: تر دې وروسته سفرونه لږ کوه او اخبارونه ډېر لوله!

دغه حکايت ما هغه وخت اورېدلی و چې شوروي اتحاد لا ړنگ نه و او برژنيف وربانديې حکومت کاوه. په هغه وخت کې شوروي رسنيو شپه ورځ د شوروي د برياوو رپورټونه خپرول خو هغوی چې په دغه لوی هېواد کې به يې د سفر کولو اجازه موندلې وه، د اسپانيايي سوداگر غوندې نورې خبرې کولې. د شوروي نظام له ختمېدو وروسته د هر چا باور راغی چې د دغه نظام رسنيو په خپلو پرمختگونو کې مبالغه کوله.

په ولسواکو نظامونو کې چې د بيان ازادي شته، د شوروي نظام غوندې يو اړخيز تبليغات ممکن نه دي. په ولسواکو نظامونو کې که د اسپانيا پاچا اخبار راباسي نو د اسپانيا سوداگر هم اخبار لري.

خپل وطن ته به راشو او د مطبوعاتو دوې متضادې دورې به يادې کړو. د داوود خان مرحوم د جمهوريت په زمانه کې د ټولو رسنيو کار دا و چې کارونه سم وښيي او برعکس، د ولسمشر کرزي په دوران کې دا ببخي يو مود شو چې شکايت ډېر وشي او حالات ډېر کړکيچن معرفي شي.

شاوخوا اته کاله پخوا چې په هېواد کې امنیت ډېر بهتره و، د کابل د یوه خصوصي تلویزیون خبرونه مې یادېږي چې څلور، پنځه واړه سرټکي یې له جنګ او ناامنیو سره غوټه وو. د خبرونو یو عنوان پکې دا و چې د خوست ولایت په یوه کرونده کې یو توغندی لګېدلی چې مالي یا ځاني تاوان یې نه دی لرلی.

رسنۍ ازادې دي او حق لري چې په خبرونو کې انتخاب وکړي مګر خلک هم حق لري چې یو څه ارام او خوشبینه واوسي. زما منظور دا نه دی چې کاذبه خوشبیني دې رامنځ ته شي.

دروغي خوشبیني یوه ډول نشه ګڼلای شو چې بنیادم له کاره باسي او د ارواښاد حافظ مرحوم خبره:

په وچو شونډو اینبې جام به څه وي

ساقي د دې نشې انجام به څه وي؟

منظور مې دا دی چې مثبتو ټکو او پرمختګونو ته هم باید اهمیت ورکړو چې له یوې خوا مو د واقعیتونو په بیان کې تعادل ساتلی وي او له بلې خوا مو خلکو ته دا ویلي وي چې ژوند بهتره کېدای شي او دا یې مثالونه دي. څو اونۍ له مخه د افغانستان غالۍ د چین په یوه بین المللي نندارتون کې چې شاوخوا د یونیم سل هیوادونو د غالۍ اوبدنې صنعکاراتو او سوداګرو برخه پکې اخیستې وه، لومړی مقام وګاټه. په رپورټ کې راغلي وو چې نن سبا په افغانستان کې شاوخوا دوه میلیونه کسان د غالۍ اوبدنې په کار باندې لړ یا ډېر بوخت دي. د اول مقام د ګټلو خبرخپور شو خو د یوه لوی کار په سترګه ورته ونه کتل شول، حال دا چې که اهمیت ورکړ شوی وای نو عام ولس او په تېره بیا د غالیو اوبدونکو به یوه نوې جذبه پیدا کړې وه.

داسې ښکاري چې مونږ له لویه سره یوې نوې فرهنګي ستراتیژۍ او پالیسي ته ضرورت لرو چې هم پکې د بیان ازادي خوندي وي او هم د تاریخ په دې بحراني شېبو کې د ملت له ژغورلو او را ایستلو سره مرسته وکړي. دا سمه

ده چې زموږ رسنی دې ازادۍ وي خو دا پوښتنه هم باید وکړو چې دا ازادي د څه لپاره؟ موږ په سلګونو تلویزیوني، اخباري او راډیویي رسنی لرو خو اکثره خلک لا په دې نه دي خبر چې په بنده فضا کې سګریټ څکول، نورو کسانو ته سخت تاوان رسولای شي. که دا خبره واقعا د خلکو غوږونو ته رسول شوې وای نو که نورو بې پروایي کولای هغه پلار خو به احتیاط کړی و چې د خپل نوړیږي ماشوم په کوټه کې له سګریټه لوګي باسي.

موږ په تلویزیونونو کې وینو چې پرمختیایي چارې ډېر ځله د تجارتي اعلانونو په بڼه خپرېږي، حال دا چې د ولس غوږونو ته د مثبتو پرمختیاوو رسول باید خپله ملي او اخلاقي دنده وګڼو.

یو ملت چې په لسګونو کلونو ځبل شوی دی، د نړۍ تر بل هر ملت امېد ته او د مثبتو رپوټونو اورېدلو ته ضرورت لري. مثبتو پرمختیاوو ته اهمیت ورکول او داسې معرفي کول یې چې د لوستونکي، لیدونکي یا اورېدونکي پام ورواوړي، د تېرو څو لسیزو له دوامدار بحرانه د راوتلو لپاره یو ضروري اقدام دی. خلکو ته داډ، امېد او خوشحالي ورکول یوازې له مثبتو پرمختیاوو سره تعلق نه لري، که مونږ د خپل وطن یوه ښکلې دره او په زړه پورې منظره هم معرفي کړو، له خپلې خاورې سره به مو د خلکو د زړونو تړاو زیات کړی وي. افغانستان بې شمېره طبیعي ښکلاوې او جاذبې لري چې د معرفي لپاره د تکړه او ژمنو عکاسانو، ژورنالیستانو او لیکوالو د کامرو او قلمونو انتظار باسي.

د ۱۳۹۳ سنبله

# ادب او اکاډیمیک مرکزونه

هغه خبرې چې شاعر او لیکوال یې کوي، د نورو په زړونو کې هم تېرېږي خو هغوی یې نه کوي او یا یې د کولو چل نه ورځي، نو لیکوال او شاعران یې نه بولو.

شاعران او لیکوالان په ژبه لاسبري وي . دوی د هغو فکرونو، خیالونو، تجربو او ارزوګانو د بیان لپاره مناسبې جملې مومي چې زموږ هر یوه په زړه او ذهن کې ګرځېدای شي. د شاعرانو او لیکوالو امتیاز دا دی چې نورو ته د زړه او ذهن د خبرو په رسولو کې تکړه دي.

نو که دوی مخاطبانو ته خپلې خبرې رسولای شي، کره کتونکي او د ادبیاتو اکاډیمیک مرکزونه په څه بوخت دي؟ ادبیات تیوري لري، تاریخ لري، ژانرونه لري او ګڼ نور داسې اړخونه پکې شته چې څېړل او پلټل او زده کول غواړي. په دې سربېره په ځینو شعرونو او ادبي آثارو باندې د زماني دوړې پرتې وي او چې ادبپوهان یې هېرشوي لغتونه او فکرونه ونه سپړي، مونږورباندې پوهېدای نه شو. دغه راز ځینې آثار د خورا مبهم احساس او ډېرې پېچلې تجربې بیان کوي چې د خوبونو غوندې سیمبولیکه او رمزي ژبه غواړي او د هغې ژبې په توضیح کې ډېرځله د ادبپوهانو مرستې ته محتاجېږو.

د ادبي آثارو په معرفي کولو او پېژندلو کې د ادبپوهانو له کاره انکار نه شي کېدای مګر دا د سکې یو اړخ دی. د سکې بل اړخ دا دی چې ادبپوهان او اکاډیمیک مرکزونه ممکن هغو آثارو ته زیاته توجه وکړي چې د دوی لپاره پکې د کار کولو فرصت پیدا کېږي. که یو اثر د دې لنډۍ غوندې رسا وي چې:

په ګل ګلاب دې وویشتمه
تر لاس دې جار شم، رقیبانو ولیدمه

نو ادبپوه ته پکې داسې څه تقريبا نه پاتېږي چې دی ورباندې خبر وي او عام لوستونکی ورباندې خبر نه وي خو د اشرف خان هجري په دې بيت کې بيا د ادبپوه لپاره هم د يو څه خبرو فرصت او زمينه برابرېږي:

قاصدان له روهه رانغلل مدت شول

سلام باد رارسوي منت يې تم دی

دلته د ادبپوهنځي استاد يا د اکاډيمي غړی ويلای شي چې ( روه) کوم ځای ته وايي؟ شاعر چېرته و چې د ( روه) د قاصدانو په تمه و؟ د ادب استاد دا خبره هم په خوند خوند کولای شي چې په پخوانو متنونو کې ( تم) د ( تمام) په معنا زيات استعمال شوی دی. دلته ( تم) د ايسار او درېدلي په معنا نه بلکې د تمام په معنا راغلی دی او اشرف خان هجري چې درې سوه څو کاله پخوا په دکن کې بندي و، وايي چې موده وشوه چې له روه يعنې پښتونخوا څخه قاصدان نه دي ورغلي او د وطنوالو د سلامونو د ور رسولو په خاطر د باد پوره احسان ورباندې دی.

د ادبپوهانو د کار خپلې ځانګړنې د دې سبب کېږي چې دوی هغو آثارو ته توجه زياته وکړي چې معنا اخيستل ورنه لږ يا ډېر مشکل وي. دغه واقعيت ځينې لوستونکي ممکن دې نتيجې ته ورسوي چې عالي آثار خو هغه دي چې پوهېدل ورباندې آسانه نه وي. دغه راز ځينې شاعران او ليکوالان هم ممکن دې نتيجې ته ورسوي چې هغه ليکنه به يې لا بهتره وي چې مشکل لغتونه او نا اشنا صنعتونه او تلمحيات پکې وي. دغسې نتيجه اخيستل لويه اشتباه ده. د شاعر او ليکوال اصلي کمال دا دی چې وينا يې بليغه وي. يعنې له يوې خوا تر وسه وسه وضوح پکې وي او له بلې خوا اثرناکه وي. که نن سبا ( تم) د ( تمام) په معنا نه استعمالوو، دا د شاعر نه بلکې د وختونو ستونزه ده. دغه راز که د بهاوالدين مجروح ( د ځانځانی ښامار) يو څه پېچلی دی، وجه يې دا نه ده چې ليکوال د لوستونکو په تکليفول او د شارح لاربنوونو ته د لوستونکو مجبورول

غوښتل بلکې د شعور او لاشعور د لاپېچلیو مفهومونو رسولو ته تر ټولو بلیغه او رسا طریقه همدا ورښکارېده. یو وخت په پوهنتون کې د معاصر ادب د تدریس کار راسپارل شوی و. ما د تدریس لپاره د بهاوالدین مجروح اثر غوره کړ. د دې انتخاب یوه وجه دا وه چې د شارح په توګه زما لپاره د خبرو فرصت پکې زیات و خو د الفت صاحب شعرونه کې مې انتخاب کړي وای، داسې به لږ څه وو چې زه دې ورباندې وپوهېږم او محصل دې ورباندې ونه پوهېږي.

هغه ادبي آثار چې استادان او څېړونکي یې د خپل بحث لپاره غوره کوي، خامخا دا معنا نه لري چې ادبي کیفیت یې هم ډېر اوچت دی. څېړونکي او ښوونکي د خپل کار له اړتیاوو سره سم انتخاب کوي او شاعر و لیکوال ته پکار نه ده چې د ده انتخاب د ځان لپاره معیار وګڼي. کره کتونکي هم، چې د اثر د ارزښت د معلومولو کار یې په غاړه دی، ډېر ځله هغه اثر بحث ته غوره کوي چې دی ورباندې زیاتې خبرې کولای شي.

۱۳۹۳

# درېيم هنر

د شپاړلسمې میلادي پیړۍ مشهور خوشنویس میرعماد الحسني د نستعلیق خط تر ګردو لوی استاد ګڼل کیږي. د آداب المشق په نوم یو فارسي کتابګوټی چې ګویا ده لیکلی، د خوشنویسي د آدابو او اصولو په باره کې دی. په دې کتاب کې مولف لیکي چې یوه ورځ د نستعلیق خط په ننداره بوخت و او په هغه کې یې د خدای د حسن لټون کاوه. د خط الفونه د شمشاد قدو معشوقو غونډې او د صاد سترګې د ښکلو د لېمو غونډې وربښکاره شول. دالونه او لامونه یې د دلبرو د زلفو په څیر وو او د نون دایرو یې د خوبانو وروځې وریادې کړې. د ښکلي خط هر ټکی د توروسترګو کسی او هر مد یې د مشوانۍ د رنګ په ظلماتو کې آب حیات و.

میرعماد وایي چې له دې تجربې وروسته د خوشنویسي داسې شوق ورپیدا شو چې نور شوقونه یې ورپورې هیر شول.

زموږ پخوانۍ شاعري د الفبا د توریو او د خطاطي د وسایلو له ذکره مالامال ده. رحمان بابا وایي:

لکه جیم په قلم کښلی کاتبانو
تور اوربل دې لکه مار په جبین پروت دی

محمدي صاحبزاده ویلي دي:

لکه زه غم منجیله کړم راشه ګوره
تر خپل ټکي چاپیر کله وي نون هسې

کاظم خان شیدا ویلي دي:

تور لېمه لکه قلم کیږدم په لارې
چې ورځم د هغه ښکلي تر مسکنه

او دا د حنان بارکزي وينا ده:

چې کاغذ، قلم ، دوات کړي سره جمع
تعریف ستا د سترګو کاږي په له پورې

خوشحال بابا چې په دستارنامه کې د هنرونو او کمالونو ذکر کوي، خط ته د ځان له پيژندګلوي او علم حاصلولو وروسته دريم مقام وربخښي. دی د علم په وده کې د خط تاريخي نقش ته ډير ښه متوجه شوی دی او ليکلي يې دي:« علم او خط سره لازم او ملزوم دي. علم په مثال وحشي دی، خط يې لکه کمند چې وحشي پرې قيد شي.» د ليک تر ايجاد له مخه بشر د خپلو تجربو او معلوماتو د ساتلو مطمينه ذريعه نه لرله او په دې وجه علم نه زيرمه کيده او وده يې نه کوله. خوشحال چې ليک د علم د وحشي او نه ايساريدونکي ژوي د نيولو وسيله او کمند ګڼي، د نخښې منځ ولي.

په تيرو زمانو کې چې مطبعې نه وې، د ښکلي خط لرل يو لوی امتياز و او د خوشحال په قول« ځينې کسان د خط په وسيله مقرب د پادشاهانو شي.» خوشنويسانو ته په دربارونو کې اړتيا وه. ځينې شاهان او شهزاده ګان پخپله د ښکلي خط څښتنان وو. جهانګير پاچا د نستعليق خط د ليکلو شوقي و او زوی يې شاه جهان هم په دې ډول خوشنويسي کې تکړه و. تاريخ وايي چې د شاهجهان زامن اورنګزيب او دارا شکوه تکړه خطاطان وو.

زموږ په زمانه کې مصوري تر خطاطي په مراتبو زيات اهميت موندلی ، حال دا چې خوشحال په هنرونو کې شلم مقام ورکړی دی. خوشحال د دستارنامې د هنرونو د ترتيب په باره کې ليکي:« دا شل هنره مې چې په واړو کې منتخب کړل، هم خپله خپله مرتبه لري، لکه فرض،واجب، سنت، مستحب. چې اول ياد دي لکه فرض، ورپسې واجب، ورپسې سنت. په شل هنره کې اخر هنر د نسب، د نرد، د شطرنج، د تصوير دی، دا لکه مستحب.»

ښکلي او واضح خط ته اړتیا، د اوسنی زمانې د وسایلو نشتوالي او په اسلامي ټولنه کې د انځورګرۍ په شمول په ځینو هنرونو باندې لږو یا زیاتو بندیزونو یو بل ته لاسونه سره ورکړي وو او په ښکلي خط کې یې داسې تاثیر پیدا کړی و چې عارفانو پکې د ازلي حسن جلوې او شاعرانو پکې د معشوقې د حسن علامې لیدلې. زه دا نه وایم چې موږ اوس له ښکلي خطه خوند نه اخلو، بلکې دا وایم چې د اوسني وخت د وسایلو او ازادیو په برکت رامنځ ته شویو رنګارنګ ښکلاوو او د مطبعې په برکت د ښکلي خط عامیدلو په ښکلي خط کې هغه پخوانی جادوګر اثر نه دی پرې ایښی. زما پلار مرحوم چې به په بازارکې هم د دوکان ښکلې لوحه ولیده، ناڅاپه به ورته تم شو او تر څه وخته به یې په خوند خوند ورته کتل، خو زه داسې نه یم. یو څه خو به د ذوق توپیر وي مګر یو علت دا هم دی چې ده ته خپل پلار یو بخارایي خوشنویس استخدام کړی و چې خوشنویسي ورزده کړي، خو زما د ماشومتوب په وخت کې د خوشنویسي لپاره د کورني استاد د استخدامولو ضرورت نه احساسیده. زه چې په اووم او اتم کې وم، د ژمي په رخصتیو کې مې یو شوق دا و چې د خوشنویسي د پخوانو استادانو لکه میرعماد او میرعلي هروي د لیک خپرې شوې نمونې مخې ته کیږدم او خطاطي وکړم خو دا کار مې د ذوق په حکم نه بلکې په یوه تیر ژوند کې د شریکیدلو لپاره کاوه او شاید همدا وجه وي چې خوشنویسي مې زده نه کړه .زما اولاد چې د تیرو پیړیو د ژوند احساسول غواړي، قلمونه ګوري.

په تیرو زمانو کې چې اوسني قلمونه نه وو، زده کوونکو د نی او سیاهي په وسیله هم ښکلی خط زده کاوه، هم واضح خط.

ایا اوس هغه وخت نه دی رارسیدلی چې په ښوونځیو کې د حُسنِ خط د مضمون ځای یو بل څه ته ورکړو؟ زه دا امید نه لرم چې دا پوښتنه به مثبت ځواب ومومي، مګر په غور کولو ارزي او سمدستي ردول یې پکار نه دي.

د ۱۳۹۴ حمل

# د سمې زده کړې دوه شرطونه

توماس جفرسن د امریکا د خپلواکۍ د اعلامیې یو لیکوونکی او د دغه هېواد دریم ولسشمر و. ده ویلي وو چې هغه سړی چې هیڅوخت مطالعه نه کوي، تر هغه چا تعلیم یافته رابنکاري چې یوازې اخبارونه لولي.

په اخبار کې په ګڼو او مختلفو موضوعاتو باندې مختصرې خبرې کېږي. د اخبار او ورځپاڼې لوستونکی هغه سیلاني ته ورته دی چې د یوه ښار له منځه په موټر کې تېرېږي، بې شمېرو شیانو ته ځغلنده کتنه کوي او بې له دې چې د ښار له یوې برخې سره سم اشنا شي، له یوه مبهم تصور سره له ښاره وځي.

په اوسني زمانه کې چې د اطلاعاتو او رسنیو د باران زمانه یې بللای شو، هره ورځ دومره ډېرې خبرې اورو او لولو چې د غور او دقت وخت یې رانه اخیستی دی.

موږ تر هغو خلکو چې نیمګړې، خوره وره ، بې هدفه او برسېرنه مطالعه کوي، ممکن له بېخي نالوستو کسانو پخې خبرې واورو. نالوستي او د نوي عصر له معلومات ورکوونکو وسایلو بې برخې کسان په خپلو واقعي تجربو متکي وي او په یوې تجربې باندې د غور کولو لپاره زیات وخت لري خو هغه څوک چې سهار د راډیو په خبرونو راویښېږي، د ورځې د ویب لسګونو مخونو ته ځغلنده کتنې کوي او ماخوستن یې د تلویزیون ریموټ کنټرول په لاس، خوب وړي، د ژور فکر وخت نه مومي. متل دی وایي چې نیمګړی طبیب د ځان او نیمګړی ملا د ایمان خطر دی.

د ښار د پیژندلو لپاره تم کېدل راته پکار دي. پخوانو یو مثال تېر کړی دی: ملا صاحب کډې بارېږي، ژر کوه ، زوی مې ملا کړه!

د دې لپاره چې یو څه په رښتیا زده کړو، په اوسني مصروفه زمانه کې لازمه ده چې د خپلې پوهې ساحه مشخصه کړو. په تېرو پېړیو کې چې د بشر د علم خزانه خورا محدوده وه، دا ممکنه وه چې یو څوک جامع علوم او فنون

شي، خو اوس دا کار کېدونی نه دی. پنځه سوه کاله پخوا چې په اروپا کې د رنسانس زمانه وه او د نوي علم او تمدن بنیادونه ایښودل کېدل، ګڼو پوهانو مختلف علوم زده کول. دوی به له هنرونو رانیولې تر ساینسه پورې او له فلسفې رانیولې تر تاریخه پورې په هر څه باندې د لاسبري هڅه کوله. خو په راوروسته پیړیو کې چې علم او معرفت په چټکۍ سره وده وکړه، د تخصص اړتیا زیاته محسوسه شوه.

د واقعي پوهې د تر لاسه کولو لپاره بل ډېر ضرروي شرط دا دی چې پرانیستی ذهن به لرو. که مونږ د دې لپاره په معلوماتو پسې ګرځو چې د خپلې خوښې نظریاتو ته نوي دلیلونه پیدا کړو، دا د معرفت لاره نه ده. واقعي معرفت هغه څوک حاصلولای شي چې د خپلې خوښې نظریاتو یې سترګې نه وي پټې کړې.

هغه څوک چې په ځان میین وي او د ځان د بت پرستش کوي، د هغې خبرې اورېدلو ته تیار نه دی چې په ده باندې ښه نه لګېږي. مثلا ده ته که خپل قام تر بل قام ښه ښکاري نو یوازې هغه تاریخ به سم ګڼي چې د ده د قام ستاینه پکې شوې وي. دی شاید د خپلې خوښې دغسې تاریخونه په دقت سره ولولي او ډېر معلومات حافظې ته وسپاري، مګر ده په واقعي معنا علم نه دی زده کړی، ده یوازې د ځان د خوشحالولو لپاره ځان غلط کړی دی. خو هغه څوک چې په خپلې ځانولۍ باندې لاسبری دی او د ځان د پرستش ناروغي نه لري، د خپلې خوښې او نظریې مخالف تاریخونه هم لولي. دغسې کس په ځان نه بلکې په حقیقت مېین وي. د دې لپاره چې په رښتیا په یو څه پوه شو، له ځان سره مینه نه بلکې له حقیقت سره مینه راته پکار ده.

۱۳۹۳

# زموږ د ښوونې او روزنې پاشلی نظام

موږ د اولاد په ښوونه او روزنه کې د ښوونځي په نقش باندې دومره تاکید کوو چې د تعلیم او تربیې نورې موسسې مو هیرې کړې غوندې دي. کور، جومات، کورس، ټولنې( گوندونه، ورزشي ټیمونه، ادبي انجمنونه ...)، رسنۍ او ځینې نورې موسسې هم د وګړیو په ښوونه او روزنه کې لویه برخه لري. که د تعلیم او تربیې ټول کار ښوونځیو ته ورپه غاړه شي او نورې موسسې ځان مسوول ونه گڼي، د سمې ښوونې او روزنې چانس کمیږي.

موږ د مکتب په زده کړو سربیره اولاد کورسونو ته استوو چې مثلا انگریزي زده کړي او جومات ته یې استوو چې مثلا بغدادي قاعده ولولي. د دې کار معنا دا ده چې د کورنۍ او ښوونځي تر منځ د زده کړې په برخه کې لازم توافق نشته. کورنۍ ولې د ښوونځي په زده کړو ډاډه نه دي؟ ایا د ښوونځي په زده کړو کې عیب دی؟ ایا کورنۍ او د رسمي معارف نظام له زده کړو بیل تعبیرونه لري؟ موږ ته پکار ده چې په دغسې پوښتنو غور وکړو او د خپلو مختلفو تربیتي او تعلیمي موسسو تر منځ انسجام راولو.

که ښوونکي هر څومره زیار وباسي خو چې رسنۍ یوازې د پیسو گټلو په فکر کې وي او صرف هغه مطالب انتخاب کړي چې وخت ورسره ښه تیریږي، د معارف وده به اسانه نه وي. که ښوونکي په ټولگیو کې خشونت ختم کړي خو چې په کورنیو کې خشونت جاري وي، ښوونه او روزنه نه بهتره کیږي. زموږ لوستې میندې او پلرونه هم شاید خپلو کوچنیانو ته ووایي چې که درس نه وایاست نو د تلویزیون لیدو اجازه نه لرئ. دغه میندې او پلرونه په لوی لاس تعلیم او تفریح د یو بل متضاد اړخونه معرفي کوي او د اولاد زړونه له زده کړو توروي. نو که د رسمي معارف نظام بهتره هم شي، خو چې په کورنیو کې بهتري

رانه شي، د ښوونې او روزنې په برخه کې واقعي پرمختګ مشکل دی.
د تعليم او تربيې د مختلفو موسسو تر منځ د تفاهم او انسجام زياتوالی بايد زموږ
د تعليمي او تربيتي نظام يو اصلي مقصد وي.

د ۱۳۹۳ ژمی

# انحصار

په یوه لمانځغونده کې د خبرو لپاره راته وویل شول. ما وویل، پر دې موضوع مې پخوا دوه، درې مقالې لیکلې دي او دوه، درې ځله په غونډو کې غږېدلی یم، نوي څه نه لرم. بلونکې مې په استدلال قانع نه شول، ویل یې ته به تر بل چا ښې خبرې ورباندې وکړې.

زه غونډې ته ورنه غلم او وروسته چې خبر شوم، هماغو څو لیکوالو خبرې کړې وې چې په اکثرو نورو غونډو کې هم خبرې کوي.

مونږ چې کومه ادبي، کلتوري غونډه جوړوو، ولې هر ځل ګوته په شمار کسانو ته بلنه ورکوو؟ که دا وواېو چې دوی تر نورو تکړه دي نو تکړه کسان که هر چیرته، په مختلفو موضوعاتو خبرې او لیکنې کوي، تکړه توب ته یې صدمه نه رسیږي؟ ځینې کسان د شاتو د حاصل د زیاتولو لپاره د کندو په څنګ کې ګوره ږدي چې مچۍ بې تکلیفه ډېر خواږه راټول کړي. شات زیات شي مګر کیفیت یې کم شوی وي.

زه که غواړم یو څه نوې خبره وکړم، مطالعه به ورته کوم، غور به کوم او هغې شیبې ته به منتظر کښېنم چې د لیکلو لپاره مې احساس پارېدلی، فکر راټول شوی او وخت موندلی وي. زه که هرې کلتوري او اجتماعي غونډې ته حاضر شم، د مطالعې وخت مې طبعاً کمیږي. دغه راز که د یوې ښې لیکنې لپاره په مناسب ذهني حالت کې قلم راوانه خلم، نو که هر څومره مطالعه مې ورته کړې وي، د لیکنې مزه به نه وي. دغه مناسب ذهني حالت چندان په خپل لاس کې نه وي. هغوی چې د فرمایش په اساس په غونډو کې وېناوې اوروي یا مقالې لیکي، که یې مطالعه هم ورته کړې وي خو دا ضمانت نشته چې د خپلې مقالې د لیکلو یا د خپلو خبرو د کولو په وخت دې مناسب ذهني چاپیریال ولري.

یو محدود شمیر کسان ولې په اکثرو غونډو کې حضور لري او د وینا یا مقالې اورولو ته تیار دي؟ دا شی مختلف علتونه لرلای شي. د حضور او شهرت شوق ، د خپلې ورتیا په باره کې مبالغه آمیزه تصور لرل، د رابلونکو ټینګار او د ویناوال اخلاقي دریغ چې څوک ورنه خوابدی نه شي، ځینې هغه عوامل دي چې یو شمیر کسان بیا بیا اړباسي چې په اونۍ کې څو ځله په غونډو کې ویناوې واوروي.

استاد اصف صمیم یو داسې څوک دی چې د بل د غوښتنې ردول ورته سخته وي. دی د خپل اخلاقي دریغ په وجه ډېر ځله مجبورېږي چې په غونډو کې ویناوې وکړي. یو بل څوک شاید په تلویزیون او خبرونو کې د راتلو شوقي وي. ځینې کسان ایسار شوي غونډې وي؛ مطلب دا چې د یو چا په غونډه کې یې برخه اخیستې وي اوس که د بل چا غونډې ته نه ځي، د بل له خپه کیدو ویرېږي .

په ادبي او کلتوري غونډو کې حاضر کسان ورو ورو مشهور شي او داسې وخت راشي چې د هرې کلتوري غونډې د جوړېدو په وخت به دوی دریادېږي. د بنیادم په حافظه کې ډېرې خبرې وي خو ځینې خبرې په لومړي پوړ کې وي او سمدستي دریادېږي. هغه کسان چې نومونه یې بیا بیا اورې، د ذهن په لومړي پوړ کې وي. که ماته وویل شي چې ادبي غونډه ده او یو څوک راوبنیه چې وینا پکې وکړي، زه که څه هم په دې نظر یم چې تنوع بهتره ده خو په غالب ګومان به هغه څوک ورښیم چې بې زحمته رایادېږي او بې زحمته به هغه څوک رایادېږي چې همیشه یې نوم اورم او په غونډو او تلویزیونونو کې یې بیابیا وینم. مونږ اکثره همداسې یو او د نویو کسانو د موندلو لپاره ځانونه نه په تکلیفوو.

ځرنګه چې د غونډو جوړوونکي ریسک نه مني ، دوی هم ازمایل شویو کسانو ته ترجیح ورکوي. د غونډو جوړوونکي له ځان سره حساب کوي چې د تکرار شویو

کسانو په خبرو کې که نوښت نه وي نو دا خطر هم نشته چې په خپلو خبرو غوندړه خرابه کړي .

مونږ که غواړو چې کلتور او فرهنګ مو وده وکړي، ستېجونو ته د راغوښتل شویو کسانو شمیر باید یو څه زیات کړو. دا کار به هم په اوسنو محدودو کسانو باندې فشار کم کړي او هم به د نویو خبرو د اورېدلو امکان زیات شي.

د ۱۳۹۳ ژمی

# امتحان

زه به ترې غلی دوزخ کې پټ شم
چې په قیامت مې سوال و ځواب وي

د اشرف مفتون دغه بیت مې هغه وخت زده کړی و چې د لیسې زده کوونکی وم. په سوال و ځواب کې چې څوک ناکام شي نو دوزخ ته به ځي خو شاعر وايي چې سوال و ځواب دومره سخته دی چې په دوزخ کې ورنه پناه غواړي. ما ته دغه بیت د ښوونځي امتحانونه رایادول. د امتحان وېرې د زده کوونکو ژوند پرېشانه کړی دی.

څو میاشتې پخوا مې د فنلنډ د ښوونځیو په باره کې ولوستل چې د زده کړو کیفیت پکې ډېر ښه دی. دغه هیواد د اتیایمو کلونو په پیل کې دې نتیجې ته ورسېد چې د اقتصادي سوکالي لپاره په معارف باندې لا زیاته پانګونه وکړي. په تېرو شل، دېرش کلونو کې د فنلنډ معارف په کیفیت کې لوی بدلون راغلی دی. د دغه هیواد زده کوونکو په ۲۰۰۳ کال کې په ریاضي کې د نړۍ د تر ګردو تکړه زده کوونکو مقام تر لاسه کړ او په ۲۰۰٦ کې یې په ساینس کې همدا مقام په نصیب شو. په فنلنډ کې امتحان خاص اهمیت نه لري ځکه د زده کوونکو پرتله کول او مقایسه کول پکې مهم نه دي. هر زده کوونکی خپل بېل حساب لري او له خپلې ماضي سره پرتله کېږي. که یو زده کوونکی په درسونو کې شاته پاتېږي، استادان ورسره همکاري کوي اوپخپله له ده سره په مشوره یوه داسې لاره راباسي چې په درسونو کې خپلو ټولګیوالو ته ورسېږي.

فنلنډ چې ډېر تکړه ماهران د معلمي لپاره انتخابوي، د امتحان په برخه کې کولای شي عالي سستم ولري خو موږ ښځي بېل شرایط لرو. امتحان که د دوزخ تر لمبو هم راته سخته وي، رغېدن مو ترې نشته او اهمیت یې نه شو کمولای. البته، د امتحان په موجودې طریقې چې شاوخوا یوه پېړۍ وړاندې تېرېږي، له سره غور پکار دی.

دا ترخه جمله به ممکن د افغانستان د ښوونځیو هر شاګرد له استاد یا استادانو اورېدلې وي چې: په امتحان کې به سره ګورو!

مور باید په دې ځان داده کړو چې ازموینه د ویرولو ذریعه نه ده. که شاګرد د امتحان له ویرې له استاد سره د ازاد بحث جرات نه کوي او استاد د امتحان په مټ شاګردان په ویره کې ساتي، سمه خبره نه ده.

که درس ورکوونکی او نومرې ورکوونکی دوه بیل کسان وي،ګنه به وکړو که تاوان؟ د کندز د یوې لیسې زده کوونکي ته چې د بغلان په یوه لیسه کې یو بېخي نابلده استاد نومرې ورکړي، له عدالت سره به مرسته ونه شي؟

ما یو وخت د کانکور د څو کلونو پوښتنې په غور ولوستې او رامعلومه شوه چې د پوښتنو یوه وره برخه ناسمه او مبهمه ده. د نورو امتحانونو پوښتنې مو هم بې ابهامه نه دي.

د افغانستان تر ټولو مهم ګاونډی کوم یو دی؟ دا سوال مبهم او په همدې وجه ناسم دی، ځکه ( مهم) له کوم نظره؟ تر ټولو اوږده پوله له پاکستان سره لرو نو له دې نظره خو پاکستان تر نورو مهم دی مګر په سیاسي، نظامي او اقتصادي لحاظ د افغانستان تر ټولو مهم ګاونډی چین بللای شو. هره هغه خبره چې مختلف کسان مختلفې معناوې ورنه اخلي، ممکن مبهمه وي. زموږ د پوهنتونونو او ښو د ازموینو پوښتنې که راټولې شي او غور ورباندې وشي، دا به ثابته شي چې یوه برخه پوښتنې ناسمې او مبهمې دي.

په نومره ورکولو کې بې عدالتي، په پوښتنو کې ابهام، له امتحان څخه د ویرولو د ذریعې جوړول، د یو څو سوالونو لرل او هر کال په امتحان کې د هغو پوښتل، پوښتنې داسې جوړول چې یوازې د شاګرد بندول پکې منظور وي، نه د هغه د واقعي پوهې اندازه کول، د نومرو په ورکړه کې بې غوري او داسې نورې ستونزې د افغانستان د معارف او لوړو زده کړو له وزارتونو غوښتنه کوي چې د امتحانونو یو امتحان واخلي او په دې برخه کې شته نیمګړتیاوو ته حل لارې ومومي.

د ۱۳۹۳ کال منی

# صرفِ میر

صرف میر د عربي ژبې د ګرامر یو کتاب دی چې په اتمه هجري پېړۍ کې میرسید شریف جرجاني تالیف کړ. دغه کتاب تر اوسه پورې په مدرسو کې تدریس کېږي. هسې وايي چې یوه طالب له بل طالبه پوښتنه وکړه چې صرف میر دې لوستی دی؟ ده په خوب کې ورته وویل: ما هېر هم کړ، ته وایې لوستی دې دی!

دغه حکایت زموږ د تعلیمي نظام درې اصلي ستونزو ته اشاره کوي. یو دا چې زموږ زده کړه تر ډېره حده پورې د حافظې د لوښي د ډکولو لپاره وي. په حافظه محوره زده کړه کې د موضوعاتو د منطقي،تحلیلي او انتقادي زده کړې په ځای ډېره توجه دې ته کېږي چې د حافظې لوښی ډک شي او څرنګه چې حافظې ته سپارل شوي مطالب ورو ورو هېرېږي نو هغه څوک چې یو وخت یې یو کتاب په سلو کې سل زده وي، بل وخت یې ممکن د کتاب عنوان هم هېر کړی وي. د یولسم ټولګي بیالوژي مې جمله په جمله او کلمه په کلمه حافظې ته وسپارله، خو څو ویشت کاله وروسته چې مې د زړو کتابونو له یوه دوکاندار سره هغه کتاب ولید او پاڼې مې یې واړولې، راواړولې، هیڅ شی پکې اشنا راښکاره نه شول.

زموږ د تعلیمي تربیتي نظام بل مشکل دا دی چې زده کړه پکې د مینې په اساس نه بلکې د جبر په اساس وي. هغه مطلب چې په جبر زده شوی وي، د یاد ساتلو او یو ځل بیا لوستلو شوق یې نه شو کولای. د زده کوونکي وهل او ویرول او په زور مکتب ته استول، زموږ په ښوونځیو، کورنیو او مدرسو کې عام دي. موږ تر اوسه پورې په داسې طریقو لازم غور نه دی کړی چې درس او تدریس ورسره تر وسه وسه پورې اسانېدلای او په زړه پورې کېدلای شي.

پاسنی حکایت زموږ د تعلیمي نظام یوه بله اساسي نیمگړتیا هم رایادولای شي. موږ تر اوسه پورې په دې نه یو قادر شوي چې زده کوونکي په دې قانع کړو چې د دغه کتاب زده کړه درته دغه، دغه گټې لري او په ژوند کې دې پکارېږي. همدا وجه ده چې اکثره زده کوونکي او محصلان درسي کتابونه یوازې د دې لپاره لولي چې د امتحان له پلِ صراطه ورباندې په خیر واوړي. کله چې درسي کتاب یوازې د امتحان لپاره زده کوو، د امتحان په سبا یې د یاد ساتلو او بیا لوستلو انگیزه نه لرلو او خامخا مو هیرېږي.

د ۱۳۹۳ ژمی

# اړتیاوې

د انسان د اړتیاوو د ترتیب په باره کې د امریکایي ارواپوه ابرهام مزلو ( په ۱۹۷۰ کې مړ) نظریه ډېره مشهوره ده. دی د انسان اړتیاوې په څو ډولونو وېشي او وایي چې وګړي معمولا د مادي او فیزیولوژیکو اړتیاوو له پوره کولو وروسته د اجتماعي او معنوي تندې د ماتولو کوښښ کوي.

د مزلو نظریه د پنځه یا اووه پوړیز هرم په بڼه انځورېږي. په لومړي پوړ کې فیزیولوژیکې او جسمي اړتیاوې ( مثلا د ګېډې مړېدا) شاملې دي. د جسمي اړتیاوو له پوره کېدو وروسته بنیادم معمولا په امن پسې ګرځي او غواړي سلامت واوسي. په دریم پوړ کې عاطفي اړتیاوې راځي. بنیادم غواړي چې په نورو ګران واوسي او له نورو سره تعلق ولري. په ټولنه کې محترم اوسېدل او نوم ګټل ورپسې غوښتنې دي او د غوښتنو پنځمه مرحله دا ده چې وګړی یو ځل بیا په ځان کې ډوبېږي. د مېین غوندې شي. د نورو ښو یا بدو تبصرو ته اهمیت نه ورکوي، یوازې په خپلو لوړو اجتماعي مقصدونو پسې ګرځي او د ځان ثابتول غواړي. غواړي حقیقت ته ورسېږي، تلپاتې آثار ولیکي، دنیا بدله کړي او په ټولنه کې نوی روح وپوکي. د پنځمې پوړۍ اړتیاوې که څه هم د لومړي پوړ د اړتیاوو غوندې شدیدې نه وي خو پر له پسې وي، د ویده بنیادم د تندې په څېر وي چې اوبه څښي او تنده یې نه ماتېږي.

د دې هرم په یوه بله بڼه کې تر وروستي پوړ له مخه د اړتیاوو دوه نور پوړونه وینو. داسې چې په ټولنه کې د احترام له ګټلو وروسته د حقیقت موندلو تنده او بیا د ښکلا پیژندلو تنده راځي او د ځان ثابتولو اړتیا د اووم پوړ په بڼه انځورېږي.

خوشحال خټک مزلو ته ورته خبره په یوه څلوریزه کې کړې ده:

چې چا ته پیښ شي غم د خوړلو

يا غم د ښنبلو د اغوستلو

نور نور غمونه واړه تر شا شي

که د سندرو وي که د بدلو

که څه هم په مختلفو عمرونو، وګړيو او کلتورونو کې د اړتياوو دغه ترتيب بدلېداى رابدلېداى شي او داسې هم کېدونې ده چې بنيادم دې د خو پوړونو اړتياوې په يوه وخت ولري خو د مزلو مطلب دا دى چې انسانان معمولا اول په فيزيولوژيکي اړتياوو پسې ګرځي؛ بيا د امن او صحت غم ورسره وي ، ورپسې د مينې، دوستي او خپلولي تنده خړوبوي؛ په يوه بله مرحله کې د قدرت، ثروت، شهرت يا نورو ذريعو له لارې په ټولنه کې په احترام پسې ګرځي او د حقيقت موندلو، ښکلا پيژندلو، اخلاقي اوسېدلو او بالاخره ځان ثابتولو شوقونه يې تر ټولو لوړې غوښتنې دي چې کله په يوه پوړ ( پنځم پوړ) کې او کله په دريو پوړونو ( پنځم، شپږم، اووم) کې ځاى شوې دي.

د بنيادم د اړتياوو د ترتيب او وروسته وړاندې والي له بحثه مې منظور دا دى چې په وړې او ناامنه ټولنه کې فرهنګي اړتياوو ته په غالب ګومان لازمه توجه نه کيږي. فرهنګ په اصل کې د بشر د معرفت هغه برخه ده چې د مادي ګټې په خاطر نه بلکې د روحي او ذوقي تندې د ماتولو لپاره يې غواړو او لکه څنګه چې خوشحال فرمايي د سندرو او بدلو شوق خو به هاله پوره کوو چې د ډوډۍ او جامو غم راسره نه وي.

خو له بلې خوا، تاريخ راته وايي چې له کلتوري او فرهنګي بريا پرته مادي بريا هم مشکله ده. د بېوزلې ټولنې د کلتوري پرمختګ لپاره نه يوازې لايقو او دوراندېشو سياستوالو او پاليسي جوړوونکو ته ضرورت دى بلکې د فکر او فرهنګ د لارې داسې لارويان هم ورته پکار دي چې په نفس باندې کنټرول لري، د ځانولي او انانيت په لومو کې نه ايساريږي او لوى مقصدونه ورسره وي.

د داخله ناروغیو متخصص پوهاند ډاکتر نور احمد برېښ د استاد عبدالحی حبیبي د ناروغۍ د وخت یوه خاطره خوندي کړې ده. دی لیکي چې د استاد پوښتنې ته ورغلم، کتاب یې لوست. ورته ومې ویل چې په ناروغۍ کې مطالعه او په تیره بیا د تاریخ د ترخو پیښو مطالعه مه کوئ، ځکه په زړه مو بد اثر پریباسي. برېښ صاحب لیکي چې استاد په ځواب کې دا بیت ووایه:

مسیحا در علاجم گفت روی یار کمتر بین

علاجم کرد لیک از زنده گی فرمود پرهیزم

استاد حبیبي، چې د قام او وطن لپاره لویې ارزوګانې ورسره وې، د فرهنګ د ودې لپاره کار ته یې د ژوند په سترګه کتل. لوی شخصیتونه که په ډېر مشکل حالت کې هم وي، ټولنې ته خدمت کوي . دوی د مزلو د هرم د سرچپه کولو همت لري او په اصل کې همدغه کسان دي چې د ټولنو تقدیر بدلوي.

۱۳۹۳

# ذکر د خنزیرانو

خنزیر چې موږ یې خوک، بد ځناور او سرکوزي هم بولو، په اسلام او یهودیت کې ناپاک حیوان بلل شوی دی. د سرکوزي بدبخته په باره کې پخپله الله تعالی فرمایلي دي چې غوښه یې حرامه ده. په حدیث شریف کې « نجس العین » بلل شوی دی، یعنې ذات یې نجس دی. علما وایي، حتی له څرمن څخه یې استفاده حرامه ده او په اش ورکولو هم نه پاکېږي. هغه کسان چې د اسلام حقانیت په ساینس ثابتول غواړي، د خنزیر بدمرغه په غوښه کې یو ویروس یادوي او خدایزده نور لا څه ورسره وشي خو عیسویان او د چین و جاپان اوسېدونکي یې غوښه په خوند خوند خوري او رمې یې ساتي. د چین او ترکو قومونو په دودیزه جنتري کې په هره دولس کلنه موده کې یو کال د خوک په نوم دی. په افغانستان کې اوزبکان د خوک کال ته ( دونغوز ییل) وایي. تر کابو نیمې پېړۍ پخوا پورې د کندز په چاردره کې د کندز سین په ځنډو کې سرکوزي اوسېدل. د دغه سیند پر غاړه د کانو، لوخو او کړکیو لوی ځنګلونه او د کبل پراخ او جبه یي چمنونه یا جلګې وې. سرکوزي همدلته ډېره وو او له همدې ځایه په زراعتي پیداوارو پسې کروندو ته وتل .

په پټو کې به د بد ځناور د ګېډې چاره وشوه یا ونه شوه خو ورانی یې ډېر کاوه. په جوارو چې به ورپېښ شو، نیم جوار به یې یوې خوا ته چپه کړل، نیم بلې خوا ته ؛ لکه شوخ ماشوم ته چې د بنجارې دوکان په ګوتو ورشي. په دنیا کې د سرکوزیو ګڼ ډولونه دي چې له لویه سره په وحشي او اهلي وېشل کېږي. د چاردرې د سرکوزیو په باره کې به سپین ږیرو ویل چې دغه ځناور وحشي دی خو غوښیخور نه دی؛ که مست نه وي، پر انسان باندې حمله نه کوي او بل په منډه کې د غویي غوندې سست دی، تېښته ترې اسانه ده .

که یو مست سرکوزی راپیدا شي، پر بې وسلې انسان د حملې تکل وکړي، د ژغورنې لاره کومه ده؟

پخوانیو چاردره والو یې درې چلونه زده وو: یو دا چې سړی په ویاله کې پروت وکړي. سرکوزي د ویالې غوندې تنګ، ژور ځای ته سر نه ورکوزوي یا یې نه شي ورکوزولای. له ټیټ دېواله اوښتل هم د خلاصون لاره ده. سرکوزی د پسه غوندې دی، پر دېوال باندې ختل او تېرېدل یې په وس کې نه دي. که نه دېوال وي، نه ویاله، بیا نو سړي ته پکار ده چې ځان د سرکوزي مخې ته وربرابر نه کړي. د سرکوزیو غاړه ښخې لنډه ده، مخ نه شي اړولای. څو پورې چې ټول ځان تاووي، بنیادم ترې لرې کېدای شي.

په تېرو څو شپېته کلونو کې چې د سیند پر غاړه د سرکوزیو د استوګنې سیمه وار په وار د کرنې پر سیمو بدله شوه، د دغه حیوان شمېر ورو ورو لږ شو. د جګړو تر پیلیدو له مخه لا هغه زمانه نوره ختمه وه چې خلک دې له سرکوزیو په تنګ وي او له هغوی څخه د ځان ساتلو لپاره دې د تېرو نسلونو تجربو ته غوږ کېږدي. اوس په چاردره کې بد ځناور ښخي نشته.

د ۱۳۷۹ په پسرلي کې د عین المجر کلي ته تللی وم. له پلاره مې اورېدلي وو چې عین المجر په اصل کې ( ایلنمه جر ) دی چې قدیمو مرزایانو عین المجر کړی دی. ( ایلنمه) په اوزبیکي او ترکمني کې ( راوتاو شوی ) ته وایي او ( جر) هغه ځمکه ده چې یو وخت اوبو ژوره کړې وي خو اوس وچه وي. دغه کلی د سین پر غاړه ودان دی. کلیوالو ته مې وویل چې سرکوزي څه شول؟ ویل یې، نورو خواوو ته لاړل.

دغه ( نورې خواوې) دوی ته نه وې معلومې. شاید د عدم لور ته تللي وي. بد ځناور تکره لامبوزن دی. پخواني چاردره وال وایي چې بد ځناور د اوبو بهیر نبغ څیري کوي، د نورو لامبوزنو حیواناتو غوندې نه دی چې له سینده کوږ پورې وځي .

دا هم ممکنه ده چې دې ځای د سرکوزیو ژوندی پاتې شوې برخه د امو سیند د منځ ځنګلونو ته رسېدلې یا شوروي خاورو ته پورې وتې وي. په عین المجر کې لا تر اوسه د کبلو چمنونه پاتې دي. پخوانیو بزګرو به په دغسې چمنونو کې دلته او هلته، خال خال ګاځرې وکرلې. دغو سرکوزیو به چې د ګاځرو سخت شوقیان وو خو د بوېدا ( شامه) د حس یې لکه چې مزه نه وه، ګاځرې راوایستلې او د نورو په لټه به یې په خپل نېښ باندې د چمن لویه برخه په بل مخ واړوله. دغه شي په چمن کې د غویو قولبه اسانوله او د کبل ځمکه یې د کرنې پر ځمکې بدلوله.

کاشکې خپل ټول ولسي معلومات او په تېره بیا هغه پوهه او تجربه چې نوي کهولونه یې له ځان سره نه ساتي، ولیکو او خوندي کړو.

د ۱۳۹۳ منی

# وړاندیز

د نوي ځوانی په کلونو کې مې همت وکړ چې د ( کابل) مجلې د څو لسیزو ګڼې له یومخه ولولم. د اکثرو لیکنو مزه نه وه خو ځینې ژباړې او لیکنې ډېرې عالي راښکاره شوې. اروابناد عبدالوکیل صداقت د ۱۳۴۱ کال په یوه ګڼه کې د عباس محمود العقاد یوه مقاله ( څنګه قصه په لوستو ارزي؟ ) ژباړلې وه. له هغه وروسته ما د کیسو په باره کې په لسګونو اوسلګونو مقالې او کتابونه ولوستل خو دغه مقاله مې هېره نه شوه. اروابناد صداقت د امریکايي لیکوال ریچاردز سامرز یوه لیکنه هم له عربي راژباړلې وه. په دې مقاله ( یو مبتدي څنګه د کیسو ښه لیکوال کېدای شي؟) کې مې ولوستل چې « لیکوالي په ډېرو لیکلو، په پرله پسې لیکلو او په هغو لیکلو چې خطاوې يې رغوې، ښه زده کېږي».

د ۱۳۳۷ کال په یوه ګڼه کې د طه حسین یوه لیکنه خپره شوې وه چې ګومان کوم ( ثقافت) نومېده او ژباړن يې سلیمان لایق و. د شلمې پېړۍ لوی مصري لیکوال طه حسین د باکلتوره کس په باره کې لیکلي وو چې:« زما په عقیده یوازې د لوړو درجو او شهادتنامو اخیستل له ځوانانو څخه مثقف سړي نه شي جوړولای، تر څو پورې چې دا ځوانان د نابلدي هغه شعور چې د نورو هېوادونو او نورو قرنو له خلکو سره يې لري، له ځان څخه ورک نه کړي.» ما چې په ژوند کې د باکلتوره انسان په پېژندنه کې یوه ډېره د کار خبره لوستې ده، همدا ده. نالوستي خو په ځای پرېږده، زموږ په لوستو کې هم د داسې کسانو کمی نشته چې د نورو توکمونو، نورو نظرونو او نورو کلتورونو خلک په ورته کم عقل، بد او پرېوتي ښکاري. زما په خیال که څوک د رحمان بابا په دې خبره کې شک کوي، پکار ده چې په مهذبوالي کې يې شک وکړو:

واړه د خپل ځان په نظر ګوره که دانا یې

اې عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمن دی

د کابل مجلې د ۱۳۳۸ کال په یوه ګڼه کې مې د داستایوسکي په باره کې د سعدالدین شپون یوه مقاله ( یا شاید ژباړه) دومره خوښه شوه چې په یوه کتابچه کې مې د هغې لویه برخه رانقل کړه. په دې مقاله کې د دنیا د لوی ناول لیکونکي، داستایوسکي، یوه خاطره هم راغلې ده چې هر هغه څوک یې شاید ډېر په خوند ولولي چې تازه تازه یې لیکوالي پیل کړې وي او په اضطراب کې اوسي.داستایوسکي د خپل لومړي اثر( غریب وګړي) له لیکلو ډېرش کاله وروسته لیکلي دي:« له هغې ورځې ډېرش کاله تېرېږي خو زما په زړه کې لکه د سحر ګل تانده او تازه ده. زه په پطرزبورګ کې وزګار او بې هدفه ګرځېدم. یو کال دمخه مې د خپل لومړني اثر په لیکلو پیل کړی و. د اثر نوم مې ( غریب وګړي) کېښود. د مې په میاشت کې مې خلاص کړ. خو هیڅ نه پوهېدم چې څه یې یوسم او په چا یې چاپ کړم. په مطبوعاتي نړۍ کې مې چې له ګریګارویچه بل څوک نه پېژانده.

ګریګارویچ د نکراسوف [ د روسیې د نولسمې پېړۍ یو لوی شاعر او لیکوال] په اپارتمان کې اوسېده. ده ماته وویل چې خپله لیکنه راوړه، نکراسوف ته یې ورکړه... چې له نکراسوف سره مې روغبړ وکړ، ځان راته بد ښکاره شو چې لیکنه مې تر تخرګ نیولې ده، هر چېرته یې ګرځوم. نومې لیکنه ورکړه او ژر، بې له خبرو، ترې راووتم ځکه احساس مې کاوه چې زما لیکنه د خپرېدو وړ نه ده او هسې به د روسي لیکوالو خندنی شم... د شپې څلور بجې کور ته ننوتم( شپه مې بېداره د ښار په کوڅو کې تېره کړه)...که ګورم چا ور وټکاوه. حیران شوم چې په دې وخت کې به څوک وي. چې ورغلم نکراسوف او ګریګارویچ وو. زه یې بې مقدمې په غېږ کې ونیولم. دوی وویل چې مونږ ستا ګرده کیسه دا دی تر اوسه پورې ویله او له ډېره شوقه دا دی نیمه شپه کورته درغلو.

نیم ساعت سره ښه خواږه ګډ وو. د تګ په وخت کې نکراسوف په اوږو دواړه لاسونه راکښښودل، ویې ویل: ستا کیسه به بلینسکي[د نولسمې پېړۍ لوی کره کتونکی] ته هم ورکړو...اوس ویده شه. خو زه چېرته ویده کېدی شوای. تر هر شي مهم هغه احساسات وو چې دوی پکې ډوب کړی وم...

چې زه ورغلم، بلینسکي راباندې چیغه کړه: ته پوهېږې تا څه لیکلي دي؟... تا د روح څېره کښلې ده...

چې ترې راووتم،د باندې مې اسمان ته وکتل. رڼا ورځې ته ځیر شوم او ځان راته یو عجب غوندې حالت کې ښکاره شو. ایا زه په رشتیا ستر سړی وم؟

...زما د ژوند تر ګردو خوشحاله ګړی همدا وه... پرون وروسته له دېرشو کلونو ناروغ نکراسوف ته ورغلم او دا کیسه مې ور په یاد کړه».

زما وړاندیز دا دی چې یو باذوقه او دقیق لوستونکی که د کابل مجلې د لسګونو کلونو په کلکسیونونو کې د یوه کتاب په اندازه مقالې انتخاب کړي، دا به ډېر ګټور کتاب وي او لوستونکي به یې په خوند ولولي. دغسې غورچاڼ به د تېرو کهولونو د نثر له متنوع سبکونو سره د بلدتیا یو ښه فرصت راوبخښي او ورسره به د ځینو حقدارو کسانو قدرداني شوې وي. د اروانباد صداقت هیڅ کتاب نه دی چاپ شوی، حال دا چې د هغه لیکنې او ژباړنې تر ډېرو هغو کسانو، هم د سبک او هم د محتوا په لحاظ، ارزښتناکې دي چې د کتابونو څښتنان راښکاري. دغه راز د وږمې، ادب، لمر او ځینو نورو مجلو د مقالو د منتخباتو برابرول او چاپول به د لوستونکو نوی کهول د تېرو کهولونو د ذوق، تجربو او هڅو په کامیابو بېلګو کې په اسانۍ سره شریک کړي.

۱۳۹۳ ، اوړی

# د لرغونو یونانیانو عقیدې

لکه څنګه چې د لرغوني یونان فلسفې او حکمت د بشر په فرهنګ باندې ژور اثر لرلای دی، دغه راز د یونانیانو عقیدو په اروپا کې د عقیدو په تاریخ باندې او دغه راز د اروپا په ادبیاتو او تلمیحاتو باندې ژور اثر اچولی دی. د دغو عقیدو په باره کې عمومي معلومات د نړۍ د ادبي آثارو په پوهېدو کې راسره مرسته کوي.

لرغونو یونانیانو د ګڼو خدایانو عبادت کاوه. د خدایانو په باره کې د یوه عادي یوناني عقیده د خرافاتو او تقوا پر غبرګو ستنو ولاړه وه . دی دومره په دلیلونو پسې نه ګرځېده خو د یونان مفکرانو هڅه وکړه چې د خپلو خلکو اساطیرو او باورونو ته له خپلو هغو پلټنو سره سمون ورکړي چې د شیانو دعلتونو د معلومولو له پاره یې کولې.

له یوناني افسانو سره سم د دغه هېواد تر ګردو جګ غر اُلمپس Olympus د خدایانو کور و. د دې وطن خدایانو د انسانانو غوندې احساسات لرل، د انسان غوندې یې مینه کوله ، په قهرېدل او رخه ورتله ، یونیم ځل به یې ان پر ځان ملنډې وهلې . د خدایانو بوالهوسي د یوناني اساطیرو یو جالب مضمون دی . دعوامو په نظر طبیعي پېښې لکه زلزلې، طوفانونه او د موسمونو ادلون بدلون د خدایانو د طبیعت په بدلانه پورې اړوند بلل کېدل.

د دوی په خدایانو کې زیوس zeus ، اتِنا athena او اپولو apollo تر نورو مهم وو. زیوس چې د نورو خدایګوټو پلار او واکمن و، دعدالت رامنځته کوونکی او د پرېشانو کسانو حمایت کړونی بلل کېده . تندر او برېښنا دهغه د قهر علامې وې . د زیوس یوازینی عیب دا دی چې ژر مېین کېږي . ده چې پخپله ښځه نه ده خلق کړې ، د ښځې خلقت ته حیران دی . دی دېر خله په الهو او بنیادمانو مېین شوی دی . یو ځل په یوه هلک هم مین شو او هغه یې د المپُس دغره څوکې ته وتښتاوه . دغه غر د یونان د ترټولو مهمو خدایګوټو دېره ځای و.

اتنا چې د زیوس لور او د پوهې او حکمت الِهه وه ، د یونانیانو ډېره خوښېده . د دوی باور و چې اتنا د زیتون قیمتي ونه ورکړې او د ټوکرانو د جوړولو چل یې ورزده کړی دی . اتن ښار د دې د نوم په ویاړ اتن بلل شوی او دا یې ساتندویه وه. اتنا د ټولو یونانیانو په اند د پوهې ،زړه ورتیااو د نفس د کنټرول سمبول وه . اتنا پېغله وه او د نارینه وو رزمي احساسات به یې پارول . د اتن تر ټولو ښکلي معبدونه او تر گردو پرتمین جشنونه د دې په ویاړ وو.

اپولو د لمر خدایگوتی و. ده به شاعرانو او سازنده گانو ته الهام ورکاوه . اپولو به په خپل چنگ پوست موزیک غږاوه او رمې گلې به یې په څړ ځایونو کې خوندي ساتلې .

یونانیانو عقیده لرله چې د اتنا روحانیون د آینده پېشگویي کولای شي . ټولو یونانیانو دهغې دعبادت له پاره په دِلفي Delphi کې یو ځای جوړ کړی و.

د یونانیانو دعشق او ښکلا الِهه افرودیته Aphrodite وه چې اول ځل په نژدې ختیځ کې تصور شوه او بیا یې په قبرس کې عبادت کېده. دا نه یوازې د ښکلا اعلی بېلگه وه بلکې د ټولو جنسي لذتونو الِهه هم وه .

پوسي دون posiedon د سمندرونو مالک و. ده ځان د زیوس سیال او ساری باله. ده په سمندرونو سربېره په سیندونو او چینو هم حکومت چلاوه. یوناني ماڼوگانو به ده ته لمونځونه کول او په خطرناکو ټاپوگانو کې به یې دهغه معبدونه جوړول چې د سمندر له قهره په امن کې شي .

دییونوسوس dionusos یو ډېرمحبوب اومهم خدایگوتی دی. دی د شرابو، مستۍ او تاکونو رب النوع و. یونانیانو به د ښکره ور ماشوم په ډول مجسم کاوه . ویل کېدل چې په اسمان کې د زییوس په څنگ کې ناست و، د نورو خدایانو ورسره رخه وشوه . زییوس د میرې او بیا دغوایي بڼه ورکړه چې وساتل شي خو وپېژندل شو ، رخه گرو ټوک ټوک کړ ، په دیگ کې یې واچاوه ، اتنا یې زړه راوویست او بیا ژوندی شو. د دییونوسوس د مړینې او بیا ژوکړې غم

خوشحالي د یونان د ډېرو دیني مراسمو بنیاد و. په پسرلي کې چې به تاکونو تېغ وواهه ، یوناني ښځې به غونډېو ته ووتلې چې د دیيونوسوس دوباره تولد ووېني . دوی به دوې ورځې هورې وې ، هلته به یې نشه کوله. باور یې و چې هر څوک په شرابو مست نه شي احمق دی. د مستی او نڅا په دغو مراسمو کې به ښځې بېخي له واکه ووتې . د دغه جشن ډېره مهمه برخه هغه وه چې ښځو به ، مېږه یا غوایي او کله ناکله انسان چې فکر یې کاوه ، دغه خدایګوټي په کې حلول کړی دی ، را ونیو ، ټوک ټوک به یې کړ او د هغه غوښه به یې پخه کړه ، و به یې خوړه . دوی عقیده لرله چې په دې ډول خدای د انسان بدن ته ننوځي او د بنیادم ابدیت په نصیب کیږي . د دوی په نظر دغه وخت په بنیادم یوه داسې جذبه او بېهوشي غالبیږي چې دغیب پردې پرانیستې ویني ، له آینده خبریږي او په حقیقت کې بنده په خدایګوټي بدلیږي .

البته د قوم مشرانو ورو ورو دغه مراسم کنترول کړل او د دې له پاره چې د دیيونوسوس سپکاوی نه وي شوی هغه یې د اُلمپس په خدای بدل کړ .

په لرغوني یونان کې نه یوازې هر ښار بلکې هرې کورنۍ خپل خاص خدای درلود . په هر کور کې به مقدس اور بل و. د واده او مړینې مراسم د کور د مقدس اور په څنګ کې تر سره کېدل. د کور په اورتون سربېره ښار عمومي اور تون هم درلود . د یونانیانو عبادتونه د موسیقي او سندرو او قرباني او دعا په بڼه وو . کله نا کله به مقدسه ډوډۍ هم خوړل کېدله.

په یونان کې دمصر برخلاف ، کاهنانو قدرت او نظم نه درلود. معبدونه او دهغو مالونه د حکومت په لاس کې وو . د ښار د کاهنانو ترمنځ رابطه نه وه. عبادت به د کاهنانو په ذریعه نه بلکې د کورنۍ د مشرانو په ذریعه تر سره کېده .

د یونان حکومتونو رسمي دین او ثابت عقاید نه لرل چې وګړي یې پېروي وکړي . د ښار د خدایګوټي له درناوي پرته نور کوم خاص دیني بندېز نه و. په معبدونو کې به د خدایانو مجسمې ایښې وې. د دغو مجسمو مخې ته به همېشه

اور بل وو . که به خدایانو( ارباب النواعو) د یونانې ارزو پوره نه کړه یونانې به بد پسې ویل .

یونانیانو به د ارباب النواعو په ویاړ لوی جشنونه جوړول . ځینې جشنونه د اتلتیک سیالیو په چوکاټ کې وو او ځینې د ډرامې ، شاعرۍ او نوروهنرونو په بڼه وو. اتن په کال کې دوه ځله د خدایانو په ویاړ د ډرامو جشنونه جوړول . داهلته عجیبه خبره نه وه چې لوبې یا ډرامې خدایانو ته وړاندې شي . د بنیادم هر هغه اقدام چې ښه به تر سره شو ، خدایان یې خوشحالولای شوی.

د یونان تر ټولو مشهورې لوبې د المپیک Olympic وې چې په ۷۷٦ق.م کې پیل شوې او په هرو څلورو کلونو کې ترسره کېدلې .د المپیک اتل به د ټولو یونانیانو اتل و. دهغه جایزه د زیتون د ګلونو تاج و. البته په خپل ښار کې به اتل ته ډېر سوغاتونه ورکول کېدل .المپیک لوبې تر څلورمې میلادې پېړۍ پورې چې یوه رومې امپراطور بندې کړې، جاري وې. په اوسنی زمانه کې دا لوبې بیا پیل شوې او په لومړي ځل په ۱۸۹٦م کال کې په اتن کې تر سره شوې .

د یونانیانو په اساطیري بارونو او خرافاتو کې یو مهم اړخ دغیب ویلو و. د دوی باور و چې خدایانو ځینو روحانیونو ته د پېشګویي کولو قدرت وربخښلی دی. غیب ګویان د یونان د بېلو بېلو سیمو په معبدونو کې موندل کېدل . په دغو کې ډېر مشهور په مرکزي یونان کې واقع په دلفي کې د اپولو معبد و. دلته به غیب ګویه په یوه سمڅه کې ناسته وه او هغه بړاس به یې تنفس کاوه چې په غرونو کې له یو ژور چاوده راولاړېده . دې به په نیم بې حاله حالت کې هغو بوښتنو ته چې ورنه کېدلې به ، ګونګ او بونګیدلي ځوابونه ورکول . داسې تصور موجود وو چې اپولو په خپله د هغې په خوله کې ځوابونه ږدي.

غیب ګویانو د مجذوب الحاله کسانو غوندې مبهمې خبرې کولې او د دې کار ګ... ه داوه چې بازار یې نه سړېده ځکه خبرو یې مختلف تعبیرونه لرل . کله ... د اتن ښار د ایرانیانو له ګوابښ سره مخامخ شو ، غیب ګوی وویل:((

لرگين دېوالونه دې ستاسو او ستاسې د اولادونو له پاره خوندي خايونه وي

))خينو يې دا تعبير وکړ چې اکروپولس ته به وخېژو ، څکه يو وخت يې لرگين دېوالونه لرل ، خو ځينو نورو دغيب گوی له خبرې د بېړی معنا واخيسته چې له نېکه مرغه دا دوهم تعبير ومنل شو ، څکه ايرانيانو د اکروپولس په شمول ټول اتن تباه کړ خو په اوبو کې بيا بری د يونانيانو په نصيب شو .

د لرغوني مصر او بين النهرين خلکو عقيده لرله چې د دوی خدايان پوره زورور دي او د انسان تقدير د دوی په لاس کې دی .خو يونانيانو خپل خدايگوتي انسانانو ته ډېر ورته گڼل. د يوناني خدايانو او انسان لوی فرق په دې کې و چې خدايانو مرگ او زړبودن نه درلود . داسې نه وو چې د خدايانو هر څه زړه وغواړي هغه وکړي. دهغو په نظر، هم د خدايانو هم د انسانانو اصلي واکمن د طبعيت قانون يا په بله ژبه تقدير و. د يونان په اساطيروکې دنيا خدايانو نه ده پيداکړې ، مخکه تر خدايانو دمخه وه او خدايانو په خپل منځ کې د ودونو او بيا له بنيادمانو سره د ودونو له لارې ، انسانان پيداکړي دي . د دوی له اساطيرو سره سم خدايان د انسانانو پلرونه دي .

د يونان خدايانو بشپړ علم او قدرت نه درلود . هر خدای د بل خدای په ذريعه محدودېده . د دوی به کله کله په خپل منځ کې سره جنجال وو. خو د ټولو مشر زيوس و او دهغه په دربار کې به سره راټولېدل.

د يونانيانو باور و چې بنيادم وروسته له مړينې تر زمکې لاندې سيوري ته ورته ځای ته ځي چې هيډيزHEDES نومېږي او پلاتو plato نومې خدايگوتی يې اداره کوي . ځينې محدود کسان او اتلان ،چې په خدايانو ډېر گران دي تر زمکې لاندې يوبل ځای ته چې د الېزې ميدانونه نومېږي ، ځي او هلته همېشه مزې کوي . البته يونانيانو د بلې دنيا د ژوند په باره کې ډېر فکر نه کاوه. د دوی ډېر پام دې ته و چې ښار- دولت ښه وځلوي او په ښار دولت کې ښه وځلېږي.

# د ادب او ژورنالیزم شریکه ساحه

که د ۱۳۹۳ د حمل تر وروستۍ اونۍ پورې چې ګابریل ګارسیا مارکیز لا ژوندی و، چا پوښتنه کړې وای چې د نړۍ په ژوندو لیکوالو کې تر ټولو لوی ناول لیکونکی څوک دی؟ نو شاید ګڼو کسانو به له ځنډه ویلي وای: مارکیز.

ځینې کسان لا ژوندي وي خو دا ثابته وي چې د تاریخ تلپاتې څېرې دي. ګابریل ګارسیا مارکیز همداسې مقام ته رسیدلی و.

مارکیز اووه اتیا کاله عمر وکړ. د جنوبي امریکا په کولمبیا کې دنیا ته راغی. په ماشومتوب کې یې له نیکه او انا څخه د سیمې ولسي نکلونه او د پیریانو، دیوانو او ارواګانو کیسې واورېدلې. دغو نکلونو ژور اثر ورباندې وکړ. البته، مارکیز دومره ساده سړی نه و چې په افسانو کې ایسار پاتې شي. دی سترګور بنیادم و او چاپېریال ته یې په دقت سره کتلای شوی. ده د خپل وطن تاریخ ته په ځیر وکتل او استبداد یې له خپلو ټولو بدرنګیو سره احساس کړ. پلار یې غوښتل چې حقوق وربانديې ولولي خو دی، چې په نوې ځوانۍ کې یې ګڼ ادبي آثار ولوستل، د ادب او ژورنالیزم شوقي و. د کیسو لیکلو ته یې متې راونغښتلې او ورو ورو یې خپل سبک چې په کوډګر ریالیزم مشهور دی، پوخ کړ. په دې سبک کې خیال او واقعیت داسې سره غاړه غړۍ کیږي چې بیلیدل یې نشته. مارکیز ویلي وو چې د لاتیني امریکا د خلکو ژوند له نکلونو، کوډو او اساطیرو سره اخښلی دی او د دې سیمې د خلکو واقعیتونه له ذکر شویو خیالي عناصرو نه بیلیږي.

مارکیز نه یوازې د کیسو او ناولونو لوی لیکوال شو، بلکې د ژورنالیزم په دنیا کې هم ډېر وځلید او مهمې لیکنې ورڅخه پاتې شوې.

د مارکیز قول دی:« زما په نظر ژورنالیزم یو ادبي ژانر او د تیاتر او داستان په څیر د واقعیت د وړاندې کولو او تعبیر یو ډول دی. د ژورنالیزم په کار کې ډیر سختګیر او واقعیت ته خورا دقیق یم خو واقعیت ته د کتلو او په هغه کې د انتخاب طریقه مې ډیره ادبي ده... له ادبیاتو سره د تعلق په وجه په واقعیت کې هغه څه وینم چې نورو ته نه وربښکاري. له بلې خوا، د ژورنالیزم کار راسره مرسته کړې ده چې د ادب په کار کې له واقعیته بیل نه شم.»

د شلمې پیړۍ دریې، څلور تر ټولو مشهور او منل شوي ناولونه که یادوو، یو به پکې خامخا د مارکیز( سل کاله یوازیتوب ) وي. دغه ناول په ۱۹۷۶ کې خپور شو او مارکیز یې تر خپریدو شپږ کاله وروسته د نوبل ادبي جایزه وګټله.

داستان او ژورنالستیک آثار په ظاهره ډیر توپیر سره لري. داستان خیالي اثر وي او ژورنالسیتک اثر د تاریخي رپوټ غوندې باید خامخا واقعي وي. د ژورنالستیکو آثارو په باره کې ویل شوي دي چې یوازې د نن لپاره لوستونکي لري خو داستانونه یوازې د نن لپاره نه لیکل کیږي. دغه توپیرونه شته مګر که د رپوټ لیکونکی له کلیشو ځان وساتي، نثر یې یو څه تصویري وي، انداز یې یو څه ډراماتیک وي او موضوع ته یې له نوې زاویې کتلې وي، نو داسې څه وړاندې کولای شي چې د تاریخ او داستان دواړو تنده ورباندې ماته شي.

مونږ ته د رپوټ کلمه معمولا خبري راپورونه رایادوي خو رپورټونه مختلفې بڼې لري او څینې یې د عالي هنري اثر غوندې ښکلي وي. په خبري رپورټ کې اول یوه پیښه واقع کیږي او بیا د خبر د عناصرو په مټ د هغې رپورټ برابریږي مګر د رپورټ په نورو ډولونو کې د لیکنې اډانه په خبر نه وي ولاړه او یا لیکنه بیخي خبري اړخ نه لري.

زموږ په مطبوعاتو کې له مشهورو کسانو سره مرکې زیاتې خپریږي، خو که د ټولنې له یوه عادي وګړي سره، له یوه اوښپه، یوه بزګر، یوه ترکاڼ، یوه ملنګ یا د ښاروالي له یوه جاروکش سره مرکه وشي او د هغه خصوصي ژوند راوسپړل

شي او بیا مرکه په رپورتاژ بدله شي او په رپورتاژ کې یو نیم ځل د هغه خبرې رانقل شي، ممکن د ښې کیسې غوندې هنري لیکنه ورنه جوړه شي.

زموږ لوستونکي له یونلیکونو سره هم اشنا دي. په یونلیک کې لیکوال معمولا هغه څه لیکي چې په سفر کې ورسره مخ کیږي خو یو ځای ته دسفر په رپورتاژ کې لیکوال د لنډې کیسې غوندې د واقعیت یوه خاصه برخه رااخلي چې خاص تاثر او پیغام ولیږدوي. دا ضرور نه ده چې سړی لرې او نااشنا وطن ته لاړ شي او رپورتاژ یې ولیکي. که لیکوال سترګې وغړوي او په نوي نظر چاپیریال ته وګوري، د نویو او جالبو موضوعاتو کمی نشته. د اوړي جمعه د پغمان په باغ عمومي کې څه ډول تیریږي؟ او د باندې د سکون او تنهایي شپه په هغه چا څنګه سبا کیږي چې د ښار له شورماشوره ورغلی دی؟

د زیارت یوه زړه دروازه، د اوبو یوه ژرنده، د کلیوال هغه بایسکل چې څو ځراغونه، ځوهینداري او د رنګارنګ پلاستیکو پوښ لري او داسې نور په زرګونو شیان د هنري راپورونو په موضوع بدلیدلای شي. موږ په افغانستان کې د شیانو په باب رپورتاژ لیکلو ته هم توجه نه ده کړې. د مشاهدې، مصاحبې او مطالعې په مټ، د تصویري او توصیفي نثر په ذریعه په یو، یونیم مخ کې د ګنو شیانو خصوصا هغو شیانو په باب چې په یادونو او خاطرو کې یې ځاله کړې ده، ښکلي رپورتاژونه لیکل کیدای شي.

موږ خبري رپورتاژونه لرو، له علمي- تحقیقي راپورونو سره څه نا څه بلد یو خو هنري رپورتاژونو ته مو خاصه توجه نه ده کړې. په یوه هنري رپورتاژ کې د ادب او ژورنالیزم د ملګرتیا په برکت واقعیت د خیال غوندې جاذبه پیدا کوي.

۱۳۹۳

# د خوشحال خټک درې خبرې

خېرنوال مشوانی دې خدای په عزت لري، د دستارنامې یو داسې متن یې برابر کړی دی چې چاپي تیروتنې یې خورا کمې دي. دې دستارنامې یو ځل بیا د خوشحال خټک له فکرونو سره د مشغولا نوی فرصت را په برخه کړ.

دستارنامه د ملک او ولس د مشر لپاره لازمې ځانګړنې بیانوي خو هغه درې خبرې چې زه یې له دستارنامې را اخلم، د لیکوال، شاعر او هنرمن له کار سره تعلق لري.

لوی اروپوه زیګمند فرویید وایي چې هنري او ادبي اثر د خپل ښتن د روحي او عصبي ناکراریو رپورټ بللای شو. دی په دې نظر دی چې د لیکوال او شاعر اثر ممکن د خپل ښتن لپاره د درملو حیثیت ولري. دغه خبره چې فرویید یې د نوي علم په رڼا کې کوي، له زمانو راهیسې شاعرانو، لیکوالو او د هنر خاوندانو په مختلفو طریقو بیان کړې ده. په پښتو ادب کې یې یو مشهور مثال د رحمان بابا هغه بیت دی چې فرمایي:

دا دستور دی چې له درده زبیرګی خیژي
ګنه څه و د رحمان له شاعری

لوی عارف ابویزید بسطامي ویلي دي چې: «که مو غم زړه ته لاره وکړه، غنیمت یې ګڼئ، ځکه خلک د غم په مټ یو ځای ته رسیږي».

خوشحال خټک ته په هندوستان کې، چې هورې یې د بند او پردیسي ترخې ورځې شپې تیرولې، د دستارنامې د لیکلو فکر ورپیدا شو. د دستارنامې په سریزه کې لولو: «په خاطر فاطر ورسېدل چې یوه موجزه مختصره رساله پښتو کړم انشا چې عبارت یې روان وي، قریب الفهمه وي... چې هم مې په دا فکر کې بالفعل دلګیري پرې رفع وي، هم په دا التیام کې ګوندې د چا نفع وي».

غم او روحي دردونه خو به هر څوک اظهار کړي ، مګر دغه اظهار هغه وخت ارزښتناک دی چې ټولنې ته ګټه پکې وي.

د دستارنامې د دریم هنر یعنې خوشنویسي د معرفي په وخت خوشحال خټک لیکي:« هر چه عالي فطرت دی، په هر هنر چې لاس ولګوي قصد به یې دا وي چې په دا هنر کې د بل تېر وي او که نه برابر وي، د چا نه کوز خو نه وي... حسد په هیڅ کار کې له چا سره نه بویه، ولې غبطه بویه».

کله چې د بل چا د امتیازونو او نعمتونو د تباه کیدو ارزو کوو، دا حسادت دی خو چې ارزو کوو د بل غوندې مونږ هم نعمتونه او کمالونه ولرو، دا غبطه ده او په اخلاقي لحاظ عیب پکې نشته.

د دستارنامې په رااخیستل شویو جملو کې د لیکوال او هنرمن د ارواپوهنې، د علم، ادب او هنر د اجتماعي ارزښت او د هنر او ادب په کار کې د ادیب او هنرمن د ترقي په باره کې ډیرو بنیادي ټکو ته اشاره شوې ده.

زموږ ځینې شاعران او لیکوال یوازې د خپل زړه براس باسي او ټولنې ته ژمن نه دي. دوی که د لوستونکي او ټولنې خیر په نظر کې ونه نیسي، اثر به یې واقعي ارزښت پیدا نه کړي.

زموږ په ټولنه کې د داسې شاعرانو او لیکوالو شمیر هم کم نه دی چې د خلکو او ټولنې خیر غواړي خو د قلم او هنر په کار کې ځان ډیر نه ستومانه کوي او تر نورو مخکې کیدل ورته مهم هدف نه ښکاري. لکه څنګه چې خوشحال فرمایلي دي حسد او غبطه له یو بل بیل دي او دا بداخلاقي نه ده چې تر لویو ادیبانو مخکې کیدل مو په نیت کې وي.

هغوی چې لیکنې کوي خو په کیفیت پسې یې نه ګرځي، له ټولنې سکون اخلي او تاوان پیښوي.

د ۱۳۹۴ حمل

دریمه برخه :

# گرامر

# یو

له اختره وروسته یوه دوست د مېلمستیا بلنه راکړه، راته ویې ویل: په خپل لاس سیخي کباب پخوم.

ورغلم. غوښه، سکاره، منقل، هر څه تیار و خو د نارینه وو کار و، کوربه لم هیر کړی و. یوه زلمي ته یې وویل: ورشه له هوټله یو نیم کیلو چربي راوړه!

زلمی چې له لم سره راستون شو، کوربه ورته وویل: دا خو دې ډېر شی راوړی دی!

زلمي وویل: زیات نه دی یونیم کیلو دی.

کوربه وویل: ما نیم کیلو درته ویلي وو، نه یونیم.

د کوربه مقصد نیم کیلو و خو ( یو) یې ورسره هسې زیات کړی و. موږ وایو: یو انسان باید قتل ونه کړي. دلته هم منظور دا دی چې انسان( = نوع انسان) باید قتل ونه کړي، نه ایکي یو کس.

په هغه شپه دوستانو نورې خبرې کولې او زه په زړه کې له ( یو) سره بوخت پاتې شوم.

زموږ په لیکنو کې ( یو) کله نا کله بې ضرورته استعمالیږي. (یو) نه یوازې زما د کوربه مصرف ډېر کړ بلکې په هغه بله جمله کې یې هم د ژبې اقتصاد ته تاوان ورساوه. هره هغه کلمه چې په جمله کې گټور نقش نه لري او خاصه اړتیا نه پوره کوي، د بې ځایه اوږدېدا سبب گرځي. که موږ ولیکو چې انسان باید قتل ونه کړي، نه یوازې لنډون راغی، بلکې معنا هم دقیقه شوه.

رحمان بابا فرمایي:

**هیڅ مانه دې څوک له مستو سترگو نه کا**

**کوم یو مست دی چې قدم په لاره سم ږدي**

**راحت بې زحمته نه دی چا موندلی**

**کوم طبیب دی چې په روغ صورت مرهم ږدي**

( کوم طبیب) روان ویل کیږي، خو په ( کوم مست) کې د دوو میمونو ځنګ په ځنګ والی ثقلت پیدا کوي او رحمان بابا چې د کلام رواني او سلاست یې سبکي ځانګړنه ده، په اول بیت کې د ( یو) د راوړلو ضرورت احساس کړی دی. دلته ( یو) بې نقشه نه دی او په کلام باندې نه بار کیږي.

په دستار نامه کې لولو: « **یوه ملوک خاورې خوړلې. طبیبانو یې علاج کاوه. له خاورو منع نه شه. یو حکیم لاف وکړ چې زه به یې علاج وکړم. ور ویې باله. ورته یې ووې چې خاورې مه خوره! ملوک وویل چې زړه مې ورځنې نه دریږي.**» کله چې مخاطب ته یو څوک یا یو شی نامعلوم وي نو تر نامشخص اسم له مخه ( یو) لیکو، لکه یو ملوک یا یو حکیم. په ورپسې جملو کې له ذکر شوي اسم سره ( یو) نه راوړو. په ورپسې جملو کې چې نااشنا اسم ته اشاره کوو، یا اشاري صفتونه ( مثلا: هغه حکیم) ورسره راوړو او یا د دستارنامې د پاسنیو جملو غوندې اشاري صفتونو ته هم ضرورت نه وینو، ځکه پوهیږو چې منظور هغه حکیم دی. ( تر اوسني نثر په پخواني نثر کې داسې جملې زیاتې دي چې د نا معلوم کس د اسم د دوباره یادولو په وخت له اشاري صفته استفاده نه کیږي.)

هغه اسم چې د مخاطب لپاره نامشخص وي، نکره بولو او چې د مخاطب لپاره معلوم وي، معرفه بلل کیږي. ( یو) د اسم د نکره کولو وسیله هم ده. د دستارنامې په پاسنیو جملو کې د حکیم او پاچا د دویم ځلي ذکر په وخت ځکه ( یو) نشته چې نور نو مخاطب پوهیږي چې هغه پاچا مراد دی چې خاورې یې خوړلې او هغه حکیم یادوو چې د پاچا د علاج لاپه یې کړې وه.

که محمود له احمده وپوښتي چې :« په هغو پیسو دې څه وکړل؟» او احمد ځواب ورکړي: « یو موټر مې واخیست.» دلته « یو» ته ضرورت شته ؟ زما

په نظر دلته (یو) ته اړتیا نشته، ځکه د ( موټر) له کلمې پوهیږو چې څو نه بلکې یو موټر پیرودل شوی دی او د محمود دلچسپي د پیسو له برخلیک سره ده، نه د جنس په باره کې له دقیقو معلوماتو سره. همدا وجه ده چې دغسې پوښتنو ته د ځواب ورکولو په وخت خلک معمولا ( یو) نه استعمالوي.

موږ وایو« نن مې یو موټر ولید، ډیر ښکلی و...» دلته (یو) د دې لپاره راوړو چې مخاطب ته وایو د داسې موټر په باره کې خبرې کوو چې ستا په ذهن کې نشته خو په هغه بل مثال کې ځکه ( موټر مې واخیست) غوره بولو چې مخاطب ته د موټر نه بلکې د پیسو د استفادې په اړه معلومات ورکوو.

که ستا د لاس په کڅوړه کې کتاب وي او محمود درڅخه وپوښتي چې: « کڅوړه کې څه دي؟.» نو ته که غواړې چې محمود کتاب وپیژني، ممکن ووایې: « کتاب دی.» خو که دغه دلچسپي نه لرې، وبه وایې:« یو کتاب دی.»

« هغه یو کتاب چې تاسې یې ستاینه کوله، په بازار کې نه پیدا کیږي.» دلته په ( یو) باندې هیڅ نیمګړې نه پوره کیږي او ناسم یې بللای شو.

البته، په دې جمله کې ( یو ) ضرور دی:« زموږ په کوڅه کې یو تکړه انجنیر اوسیږي.» ځکه په نورو ځایونو کې هم طبعا لایق انجنیران شته. که څوک د دغه سړي په باره کې پوښتنه رانه وکړي چې لایق انجنیر دی؟ نو په ځواب کې به وایم: « هو، لایق انجنیر دی.»

خوشحال خټک فرمایي:

**خدای یو هسې فکر راکړ**
**چې یې ملک راته رڼا کړ**
**که په نورو توره شپه ده**
**په خوشحال یې سپین سبا کړ**

دلته( یو) د ( هسې) په کلمې باندې تاکید زیات کړی دی او یوه ګټوره معنا رسوي. ( یو) په ډېرو جملو کې تاکیدي نقش لري. د رحمان بابا لاندې بیت د ( یو) د دغه نقش بل مثال دی:

**یو د حسن اور یې بل کړ په جهان کې**

**په دا اور باندې یې وسوه ډېر کورونه**

( یو) او مختلف ترکیبونه یې مختلفې معناوې لري چې په څېړنه او سپړنه ارزي.

د رحمان بابا په لاندې بیت کې ( یو) د ( یو شان) معادل دی:

**مخ د یار شمس و قمر درې واړه یو دي**

**قد و سرو و صنوبر درې واړه یو دي**

د خوشحال خټک په دغه بیت کې ( یو) د فقط او یوازې معنا ښندي:

**پښتانه مغول هندکي واړه خوشحال دي**

**لیونی خو یو خوشحال دی په دا منځ کې**

د خوشحال بابا په دا بل بیت کې ( یوه) د ( بله نه ده) معادل ښکاري:

**توکلت علی الله وینا یوه ده**

**د خوشحال له زمانې سره ساز نشته**

د رحمان بابا په لاندې بیت کې ( یوه) د ( حتی یوه) او ( هیڅ ) معادله ده:

**ستا په عشق کې هسې خلاص یم له شعوره**

**چې یوه خبره نه لرم منظوره**

( یو یو) د قید او صفت په بڼه راځي.

خوشحال فرمایي:

**دواړه تي یې ناشپاتي دي**

**چې یې یو یو امرا خوري**

د شاعر په قول دغه ناشپاتي( ناک ډوله مېوه) چېرته يونيم اشرافي سرې خوړلای شي. البته، که يو يو قيد وبولو نو شاعر وايي چې اشرافي دغه ناشپاتي په ترتيب سره خوري. په دې بيت کې د ( يو يو) دوه گوني تعبير د شعر ښکلا زياته کړې ده.

( يو) چې له ځل، کرت يا وار سره يو ځای شي، قيدي عبارت جوړوي:

**يو وار دې لاس په لاس کې راکړه**

**دا لاس نيوی به دې تر ډېرو يادومه**

په پخواني ادب کې د ( يو زمان) عبارت ډېر وينو چې د ( يوې شيبې) په معنا راځي، حال دا چې نن سبا ( يو زمان) د يو وخت او اوږدې مودې لپاره استعمالوو.

رحمان بابا فرمايي:

**که دې ډېر عمر پکار دی غفلت مه کړه**

**په وده باندې سل کاله يو زمان شي**

د پخواني ادب د ( څه خو) په ځای نن سبا معمولا ( يو څه) راوړو. په تاريخ مرصع کې لولو:« عادل خان مضطربه او پريشان شه، ورته يې ووې څه خو صبر وکړه.»

په دستار نامه کې راغلي دي:« دنيا له چا سره وفا کړې ده چې له ما سره به يې کا. دا هونبره ملوکان څه شول؟ د دوی ملک، خزانې څه شوې؟ خو وار و، په هر چا تېر شه.»

په اوسني نثر کې ممکن ( يو وار) وليکو چې زما په گومان د خوشحال طرز بهتره دی.

په اوسنی پښتو کې ( يو) له ځينو نورو کلمو سره ترکيب شوی او نوي لغتونه يې جوړ کړي دي. مثالونه: يو اړخيز، يومخيز، يو ورځنی سيمينار، يو گوندي نظام، يو سيلابه کلمه، يو طرفه سړک. دغه ډول ترکيبونه په پخوانو

کتابونو کې نه مومو. البته، د یو سترګي او یو ورزي غونډې ترکیبونه د ولس په ژبه کې له پخوا راهیسې شته دي. په اوسنی پښتو کې ممکن واورو:« له هغه یو ډول وېره لرم.» چې د پښتو ګرامر له نظره غلط نه ښکاري خو ښه نه را باندې لګېږي ځکه د ذهن د لټې باعث ګرځي او د توضیح له زحمته د تیښتې چل راښیی. یو ډول وېره! اخرځنګه وېره؟

په ( یو څه) ، ( یو څو کسه) او ( یو شمیر کسان) کې ( یو) د ( څه)، ( څو) او ( شمیر) د کموالي معنا ښندي او دا د ( یو) یو بل نقش دی.

( یو په یو ناسته) یعنې چې دریم کس پکې نه وي او په غزني کې په خینو لهجو کې ( یو په یو شو.) د ناڅاپي او فوري مړینې معنا ورکوي. ( یو په درې) یعنې درې برابره او ( یو پر درې) د دریمې حصې په معنا استعمالوو.

( یو هغه څوک چې بشر ته یې ډېر خدمت وکړ، پاستور دی.) خینې لیکونکي همدا جمله ممکن داسې ولیکي:« هغه یو څوک...» زما په ګومان لومړی ترتیب معیاري دی، ځکه ( هغه) اشاري صفت دی او اشاري صفت له موصوف سره جوخت پکار دی.

په پښتو پښویه کې استاد زیار لیکي چې ( یو) د تخمین او اټکل لپاره هم استعمالیږي.« یو سل کسه به وو» یعنې شاوخوا سل کسه به وو. زما د کوربه په ( یو نیم ) کې ( یو) د تخمین معنا ښندله، یعنې نیم کیلو یا څو ګرامه زیات و کم.

خینې لیکونکي د مونث اسم لپاره هم ( یو) استعمالوي چې پکار ده، یوه منه ووایو، نه یو منه. خو په شعر کې کله نا کله د مونث دوه سیلابي ( یوه) د وزن په خاطر یو سیلابي شي چې د پښتو شعر د شعري اختیاراتو ( Poetic Licence)په بحث کې ورته جواز پیدا کیږي خو که د ( یوه) په ځای ( یو) یوازې د وزن د پوره کولو لپاره راوړو، عیب یې بللای شو.

[ کله نا کله په شعر کې ( زړه ) زړګي شي او د ( تل) قيد له فعل سره مل شي، او مقصد صرف دا وي چې د وزن د نيمګړتيا مخه ونيسي. د کلمو دا رنګه استعمال د شعر د بې خوندي سبب کيږي. د هغو کلمو پيژندل او راټولول چې شاعران ورباندې يوازې وزن پوره کوي، زموږ د نقد او شعر پيژندنې يو ناسپړلی باب دی. دغه راز په پښتو کې د شعري اختياراتو د حدودو د معلومولو لپاره څيړنو ته اړتيا ده. په دې باب استاد منلي په ازادي راډيو کې يو ګټور بحث کړی و چې کاشکې يې ځوان محققان پسې وغځوي او معيارونه وټاکي.]

د خوشحال بابا يوه قطعه ده:

**يو چې ډير خوري سوګندونه**
**بل چې ډير کاندي پورونه**
**اشنايي ورسره مه کړه**
**دا بې پته دي کارونه**

په دې قطعه کې د معنا په ښکلا سربيره ناڅاپي پيل هم يو خوند پيدا کړی دی. موږ معمولا له مقدماتي خبرو وروسته ، يو، دوه، بل... ته رسيږو خو خوشحال چې خپله خبره له ( يو) څخه پيل کړې، موږ يې د ناڅاپي والي په خوند کې شريک کړي يو.( د ناڅاپي والي ښکلا زموږ په بلاغي کتابونو کې نه معرفي کيږي او په معرفي ارزي.)

د ( يو) د بلاغي نقش پيژندل، په پخواني او اوسني سبک کې د ( يو) او د هغه د ترکيبونو او معنا ګانو راټولول، د ( يو) د ناسم استعمال د مواردو معرفي کول، په ولسي ژبه او لهجو کې د ( يو) د معناګانو او ترکيبونو راغونډول او شنل د ځوانو ژبپوهانو لپاره د ګټور تحقيق موضوع ده.

۱۳۹۵

# لا

یو خو هغه ( لا) دی چې د کلمې شریفې په سر کې راځي او د نفي حرف دی. بل د پښتو ( لا) ده چې په ډکشنریو او ګرامرونو کې نیمګړې او زما په ګومان کله نا کله ناسمه اشاره ورته شوې ده. دلته په پښتو ( لا) خبرې کوو.

( لا) وییکی دی او د قید استفاده هم ورڅخه کیږي. علي خان وايي: **ما لا ګل بوی کړی نه و، بهار تیر شو.** په دې مصرعه کې ( لا) د زمان قید دی او د (تر دې وخته) معنا ښندي. د بیاض په لاندې بیت کې ( لا) د ( لا تر اوسه) معادل دی:

**لا هغه چیغې زما په غوږ کې شته دي**
**چې به ما درته ژړل ستا به خندا وه**

( لا) په ځینو ځایونو کې د ( تر دې وروسته هم) او( بیا هم) معادل ښکاري، لکه د بیاض په دې بیت کې:

**لا به پروت یم ستا د غم په ځولنو کې**
**که به ما غریب ته هم چیرې ازاد کړې**

( لا) په یوه بله معنا کې د ( ان) او ( حتی) مترادف دی. کامګار خټک وايي:

**دلبران په عاشقانو مهر ډیر کا**
**یار په ما باندې ډیر نه کاندي کم هم لا**

په دستارنامه کې لولو:« **د توکل ځوانانو میندې یا ویاړې یا ژاړي، بلکې ژړلي یې لا هاله وي چې په اورنې کې یې نغاړي.**»

د تاریخ مرصع جمله ده:« **... ورته مې ووې چې زه لا بیګا خبر وم خو نه مې ویل چې خود به ښکاره شي....**»

( لا) په ځینو جملو کې د ( هم) په معنا راځي. بیاض وایي:

**وېرولی یم په خوب کې تورو زلفو**

**نه مې ځای کیږي په کور نه په صحرا لا**

**سپینه ږیره، ټیټه ملا، عصا په لاس کې**

**بیاض ګرځي په ښایسته وو پسې بیا لا**

د رحمان بابا په دې بیت کې هم د ( هم ) معنا ښندي:

**د رقیب له بده خویه به څه وایم**

**لا چې یار ورسره مل شي هاله ګوره**

( لا) په ځینو جملو کې ( له دې سره سره ) او ( خو بیا هم) معنا ورکوي. رحمان بابا فرمایي:

**له ده وزېږي، د ده په وړاندې ومري**

**لا یې مینه د دنیا په کاروبار شي**

په پاسني مثال کې ( لا) د قید نه بلکې د جملو د ربط نقش تر سره کوي. بیاض وایي:

**یار بیاض ته مخ وانه ړاوه په بېرته**

**تر دېرې ورپسې درومي خوار لا بیا**

( لابیا) د ( له دې سره سره) معنا ورکوي.

( لا) له نورو کلمو سره هم ترکیبېږي او بېلې معناوې ښندي. په دستارنامه کې لولو:« که زوی وي چې ځوان شي پلار یې لا هسې زوړ نه وي، رضا یې دا وي چې که دا پلار مې ومري زه به یې په ځای کښېنم.» دلته ( لا هسې) د نن سبا د ( دومره) او ( دومره هم) په معنا راغلی دی.

که زه ووایم:« اجمل لا نه دی راغلی.» دلته ( لا) قید دی . که همدا خبره په سوالیه انداز وکړم او ووایم چې : اجمل لا نه دی راغلی؟ دلته ( لا) زما هغه

اعتراض ته اشاره کوي چې د اجمل په څنډیدو باندې یې لرم. ( لا) په سوالیه جملو کې د ویونکي د نارضایتي احساسات لېږدوي. نور مثالونه:

۱- دی څه وایي؟

۲- دی لا څه وایي؟

۳- ته لا نه وې راغلی؟

۴- ته لا نه وې راغلی چې احمد تلفون راوکړ.

۵- دی څوک دی؟

٦- دی لا څوک دی؟

په دغو مثالونو کې وینو چې کومې جملې ( لا) لري او سوالیه دي، د متکلم اعتراضي انداز پکې احساسوو.

( لا) د قیدونو او صفتونو د قوت د زیاتولو لپاره هم پکارېږي. د دستارنامې مثال:« **اگر چه واړه مسکرات په اتفاق حرام دي اما چې پرې نص گویا دی د هغو حرمت لا صریح دی.**» دلته« لا» د (صریح) ستاینوم ته شدت ورکړی دی او د ( ډېر صریح) معادل دی. کله چې ( لا) قید او صفت ته د شدت ورکوونکي نقش تر سره کوي، ( الف) یې په فشار سره تلفظ کېږي.

د تاریخ مرصع جمله ده:«**... تر مونږه تاسې وته لا نژدې دی.**»

رحمان بابا فرمایي:

**تر ما لا په دلبرانو ډېر مبین دي**

**چې خبرې کا د کشف و کرامات**

**په لاندې جمله کې ( خو لا ) د متکلم د اعتراض له رسولو سره مرسته کوي:** « **حیوان به داسې ونه کړي ته خو لا انسان یې.**»

په «غوره نثرونه» کې لولو:« **یوازې خبره لا څه چې ژبه، وینا،معنا، خطابه، مقاله هم د تانیث علامې لري.**» دلته هم ( لا ) عاطفي نقش لري او متکلم وایي چې د خبرې مونث والی خو هیڅ یادوه مه، نور ډېر څه هم شته چې

مونث یې بللای شو. د غوره نثرونه یوه بله جمله ده:« **ماشومان لا پریږده چې د ږیرو خاوندان هم دغه شان دي او لوی لوی سړي د یوه او بل په خبرو تیروزي.**»

بیاض وایي:

**زه لا څه یم هر سړی دې دعواګیر دی**
**نه پوهیږم یار د بل یې که زما یې**

په درې واړو پاسنیو مثالونو کې که ( لا) وباسو د جملو په معنا کې فرق نه راځي. کله چې د ( لا) ایستل په معنا کې فرق نه راولي، هلته د ( لا ) نقش یوازې عاطفي وي او یوازې د متکلم د خبرو د انداز او احساساتو په باره کې یو څه راته وایي.

کله چې وایو:«دا یې لا بله»، مطلب دا نه وي چې دا یې دویمه، یا سربیره پردې دا یې بله، بلکې یو څوک، مثلا، د چا اقدامатو ناکراره کړی دی، د هغه بل د منفي اقدام په باره کې ممکن ووایي: دا یې لا بله... یعنې دلته( لا) عاطفي نقش لري.

پښتو- پښتو تشریحي قاموس ( لا) د عطف توری او صفت بولي او دا معناوې ورته لیکي:« لیا، تر اوسه پورې، تر دې وخته، کله، کله پورې. زیات، پرې د پاسه، دویم، زیات پرې.»

دریاب ډکشنري لیکي چې:

[ لا ] ( حرف عطف ) اوسه پورې، تر دې وخته، کله، کله پورې، لیا
[ لا ] ( اسم صفت ) دوېم، زیات، پری د پاسه.»

لکه څنګه چې مو ولیدل، ( لا) ډیر څله د تړوییکي ( حرف ربط، حرف عطف) او دغه راز د تاکیدي قید یا زماني قید نقشونه لري او د متکلم د عواطفو د بیان لپاره بیل نقش هم ترسره کوي. زه په ( لا) باندې د غور کولو په وخت د

دې وييکي ځينو هغو معناګانو ته متوجه نه شوم چې په دوو ذکرشويو ډکشنريو کې راغلې دي. مثلا په دې نه پوهيږم چې په کومو جملو کې د ( دويم) معنا ورکوي. زه به دې هم شکي يم چې ( لا) دې د ( کله ) معادل وي.
( لا) د ( يا) په معنا هم راځي، لکه په دې بيت کې:

**لا مې چې زړګي ته رانږدې نه واى**
**لا مو چې تر منځه فاصلې نه واى**

( دغه بيت تکړه شاعر بېکسيار راوښود.)

( لا ... چې) په شريکه د همهال والي د بيان لپاره ربطي عبارت دى.

مثال:« زه لا په وطن کې وم چې دى مسافر شو.»

د ( لا) د مختلفو معناګانو او د هغه د ګرامري او عاطفي نقش پيژندل او د ( لا) د ترکيبونو معرفي کول يو ګټور بحث دى چې د کاميابو مکالمو په ليکلو او د ځينو جملو دقيقې معنا ته په رسېدلو کې مو پکاريږي. که يو چا وعده راکړې وي چې درځم او د وعدې په نيته يې ورځې واوړي او بيا يې ووينم نو ممکن ورته ووايم: ته به لا راځې!

۱۳۹۵

# پوهاند که پوهانده؟

پوهاند ډاکتر درخانۍ، پوهانده ډاکتره درخانۍ، پوهانده ډاکتر درخانۍ او که پوهاند ډاکتره درخانۍ؟ په دغو بڼو کې کومه سمه وبولو او د معیار درجه ورکړو؟

د دې پوښتنې د ځواب لپاره پکار ده په پاسني عبارت کې د ( درخانۍ) د علمي لقب او رتبې( پوهاند ډاکتر) ګرامري نقش او مقام معلوم کړو.

په معنوي لحاظ خو د ډاکتر، انجنیر، ډګروال یا ساتنمن په څېر علمي او اداري رتبې او القاب د صفتونو نقش لري. صفتونه( ستاینومونه) د اسم حالت بیانوي او بل خصوصیت یې دا دی چې شتون یې په موصوف ( اسم) پورې غوټه وي، یعنې خپل مستقل وجود نه لري. کله چې ( دنګ غرونه) وایو، د غره دنګوالی د هغه له شتونه پرته نشته. دغه رتبې هم مستقل وجود نه لري او یوازې د یو شمېر کسانو یو حالت توضیح کوي.

خو تر بحث لاندې رتبې د فورم او شکل په لحاظ صفت نه شو بللای. ځکه د اسمي صفت ( چې نن سبا ورته ځینې نړدې ستاینوم وایي او زما په خیال دا پخوانی نوم یې د معنا په لحاظ دقیق دی.) او موصوف د ویلو په وخت خج په صفت راځي. موږ چې ( سپینه کوتره) وایو، د ویلو په وخت یې په سپینه فشار اچوو، مګر د ( ډاکتر داوود ) د ویلو په وخت په ( ډاکتر ) باندې فشار نه اچوو.

د صفتونو او تر بحث لاندې درجو یو بل فرق دا دی چې صفتونه هم د خاص اسم لپاره وي او هم د عام اسم لپاره. په ( عاقل انسان) کې ( عاقل) د عام اسم صفت دی خو په ( ښکلې کندهار ) کې د ښکلې صفت د یوه خاص اسم حالت بیانوي. دغه علمي او اداري رتبې او درجې چې په دې لیکنه کې

ورباندې خبري کوو،عام اسم ته نه راځي، له خاصو اسمونو سره غوټه وي. مور داسې نه وايو چې ( ډگروال انسان) خو ( ډگروال اسلم ) وايو.

تر دې ځايه دې نتيجې ته رسېږو چې علمي، اداري او رسمي رتبې صفت نه ورته دي خو صفتونه نه دي او په همدې وجه ضرور نه ده چې د پښتو گرامر هغه قاعدې ورباندې تطبيق شي چې په جملو او عبارتونو کې يې د صفت د استعمال لپاره لازمې گڼو.

په گرامر کې يو بل شی لرو چې ( بدل ) ورته وايو. ( بدل) د صفت غوندې له اسم سره غوټه وي خو فرق يې دا دی چې بدل د اسم د ځينش يو حالت نه بيانوي بلکې پخپله د هماغه اسم بلې بڼې ته چې ممکن د اسم د معرفي لپاره پکار راشي، بدل وايو. کله چې وايو( زرغونه سپينه ده.) د زرغونې يو خصوصيت ښيو، خو کله چې وايو( د بدرى لور، زرغونه مې وليده.) منظور مو دا وي چې که څوک زرغونه په خپل نوم ونه پيژني نو د مور د نوم په اخيستلو سره خو به يې وپيژني.

له بلې خوا د بدل او ورسره اسم د ويلو لپاره هاغسې فشار ته اړتيا نشته چې د وصفي ترکيبونو د ويلو په وخت يې په صفت باندې اچوو. له دې درکه ( د بدرى مور، زرغونه مې وليده.) او ( ډاکتر داوود مې وليد.) څه نا څه سره ورته دي.

البته، څرنگه چې د بدل او هغه بل اسم (بدل منه)تر منځ چې بدل يې د توضيح لپاره راځي، خامخا درېږو نو ډېر خله يې په منځ کې کامه راولو، مگر د ( ډاکتر داوود) د ويلو په وخت نه درېږو او په هيڅ وجه کامه نه پرږدو.

په معنوي لحاظ د ( بدل) او تر بحث لاندې درجو توپير ډېر څرگند دی. د ( بدل ) او ( بدل منه) په پاسني مثال کې ( د بدرى مور او زرغونه د يو بل معادل دي مگر ( پوهاند ډاکتر) د ( درخانی ) د اسم معادل نه دی.

له خاصو اسمونو سره غوټه علمي او اداري رتبې په وصفي او بدلي عبارتونو سربېره له اسمي ترکیبونو سره هم ورته والی لري. ( انار ګله) یو اسمي ترکیب او د ښځو لپاره یو نوم دی. دلته یوازې د ترکیب دویم جز په مونثه بڼه راغلی دی. په مرکبو اسمونو کې دا قاعده عامه ده. په ( سپین سترګې ) کې یوازې د دویم جز په مونث کولو بسنه شوې ده، حال دا چې د ( توره نجلۍ ) په وصفي ترکیب کې د ترکیب دواړه غاړې مونثې دي.

څرنګه چې ( پوهاند ډاکتر درخانۍ) وصفي ترکیب نه دی، نو د وصفي ترکیبونو په پیروۍ د صفت او موصوف مطابقت پکې ضرور نه دی او کېدای شي چې د اسمي ترکیبونو په پیروۍ یوازې د ترکیب د وروستۍ برخې په مونث والي یې بسنه وکړو.

البته، که یې نوم نه اخلو او یوازې یې په علمي رتبې یادوو، بیا باید، مثلا، ووایو: پوهانده راغله! لکه ( انارګله ) چې بې ( ګله) یادوو، ( اناره ) یې بولو.

نن سبا وګړي تخلصونه لري او له ګڼو تخلصونو دا نه ښکاري چې څښتن یې نارینه دی که ښځه ده. مثلا که یوه پوهاند ډاکتره ، قاسمي تخلص ولري او مونږ ولیکو چې ( پوهاند ډاکتر قاسمي وویل) ، لوستونکی ممکن پوه نه شي چې دا مېرمن ده ، که ښاغلی. د دې مشکل د حل لپاره بهتره ده چې د علمي لقب وروستۍ جز مونث ادا کړو او ولیکو چې : پوهاند ډاکترې قاسمي وویل.

خو که د مېرمن قاسمي نوم ( رڼا) وي، بیا ضرور نه ده چې په ذکر شوي مثال کې یې ( ډاکتره ) وبولو. بیا به لیکو چې: پوهاند ډاکتر رڼا قاسمي وویل.

مونږ دا قاعده یوازې د کار د اسانۍ په خاطر نه جوړوو بلکې د پښتو د مرکبو اسمونو د قواعدو په پیروي یې مطرح کوو.

موږ ( مېرمنه ګلالۍ ) نه وایو بلکې ( میرمن ګلالۍ ) وایو، خو دا بهتره ګڼو چې ووایو: دې مېرمنې وویل. د رسمي او علمي القابو لپاره هم دې قاعدې ته پام کولای او لیکلای شو چې : دې ډاکترې وویل.

د ښځو تر نوم دمخه د ( مېرمن ) کلمه د احترام يو غيررسمي لقب دی چې په معنوي لحاظ علمي، رسمي او اداري درجو ته ورته دی او ګرامري نقش يې سره توپير نه لري.

د شوي بحث په رڼا کې زه په دې نظر يم چې که يوه ډاکتره د خپل کتنځي لپاره لوحه جوړوي، داسې دې نه ليکي چې : دوکتوره زرغونه احمدي يا دوکتورس زرغونه احمدي. بهتره ده وليکي: دوکتور زرغونه احمدي.

انجنير، ډګروال يا روغتياپال رسمي لقبونه دي. موږ په غير رسمي ژبه کې هم ګڼ لقبونه لرو چې اکثره يې د نارينه وو لپاره دي: ملا، مولوي، ميا، سيد، خان،حاجي، بابا، سردار .... په دغو لقبونو کې ځينې مونث معادل لري. مثلا سيده او حاجيانۍ وايو خو ځرنګه چې ښځې ملايانې نشته او د ميا صاحب لور ته د ميا لقب نه استعمالوو، نو بحث ورباندې نه کوو. البته، د ( صاحب) د لقب لپاره ( صاحبه ) لرو. د غيررسمي لقبونو راټولول او په هغو باندې له مختلفو ژبنيو اړخونو خبرې کول، د پښتو ژبې او ګرامر يو بل ناسپړلی باب دی. ( حاجي احمد) د يو مرکب اسم غوندې تلفظ کوو خو ( احمد حاجي) د يوه وصفي ترکيب په څير وايو. هغه ( ولي خان) چې فشار پکې په لومړۍ کلمې اچوو، له هغه ولي خانه په معنوي لحاظ څه توپير لري چې فشار يې په دويمې کلمې لوېږي؟ موږ ولې ځينې القاب د اسم په اخر کې راوړو ( لکه: رحمان بابا) او ځينې د اسم په سر کې ( لکه: سردار ولي) ، د دې شي اصلي وجه څه ده؟ هغه اسمونه چې تر يوه زيات لقبونه لري ( لکه: اميرعبدالرحمن خان)، خج يې بايد په کومه کلمه وي؟ او د مکث قواعد مو بايد څنګه وي؟ دا او داسې نورې پوښتنې د ځوانو او تکړه څېړونکو د ځواب انتظار باسي.

۱۳۹۳

# هم

یو مختاړی ( هم) دی چې د ستاینومونو په جوړولو کې ورنه کار اخلو، لکه :
همراز، همکار، همغږی.... او بل د ربط د حرف په توګه ( هم) دی چې استاد رشتین یې په باره کې لیکي:« د دوو جملو د ارتباط لپاره استعمالیږي او څرګندوي چې یو حکم د دوو شیزونو یا یو شیز د دوو حکمونو تر منځ شریک دی، لکه: زلمی هم ناروغه دی او بریالی هم ناروغه دی».

( هم) په دغه نقش کې چې استاد رشتین بیان کړی ، د (او) غوندې د ربط توری دی. په دې سربیره (هم) د ربط د ګڼو نورو حرفونو غوندې د قید نقش تر سره کوي. په دې لاندې جمله کې (هم) د انځورګر او شاعر دوې کلمې سره وصل کړي دي او د ربط نقش لري:« ومان هم شاعر دی، هم انځورګر.»

د ( هم... هم) په ذریعه د متضادو معناوو جملې هم سره وصلیږي. خوشحال فرمایي:«هم مې ووژني په خپله هم په ما باندې ژړا کا.» په دې بل مثال کې راغلی (هم ) د زمان د قید نقش تر سره کوي او د ( ورپسې) یا ( له دې وروسته ) غوندې معنا ښندي: « ورځ تېره شوه او ماښام شو. د ماښام ډوډی هم وخوړه شوه».

رحمان بابا فرمایي:

طالبان که مرور هم دي پخلا دي

دلته ( که ... هم) په شریکه د ( که څه هم ... خو) معنا ښندي او دوې داسې جملې یې سره یو ځای کړي چې د معنا په لحاظ په تقابل کې دي خو د قلندر مومند په دې لاندې بیت کې:

**ګلستان که مې په وینو تازه کیږي**

**را غزی دې هم زما په زړه کې مات شي**

(هم) د دې معنا په رسولو کې برخه لري چې اغزي دې د بل چا نه بلکې زما په زړه کې مات شي.

(هم) په ګڼو جملو کې د (ان) او (حتی) معادل دی. استاد الفت لیکي: «هغه شیطاني چلونه چې انسان کشف کړي دي او شیطان هم ورته حیران دی، د ساده ګانو او احمقانو کار نه دی».

د (هم) د مختلفو معناوو لټون یو جالب او لازم بحث دی. په دغه لاندې حکایت کې د نجلۍ پلار د (هم) په مرسته غواړي زمري ته ووایي چې له نجلۍ سره که مشوره کوم، معنا یې دا نه ده چې یوازې د هغې مشوره به منم، بلکې ته هم په مشوره او وروستۍ پریکړه کې شامل یې.

مېـین زمری

«نجلۍ ځنګله ته تللې وه چې بوټي وکړي. هورې له لرې زمري ولیده، ورباندې مېین شو. نجلۍ، له زمري ناخبره، د بوټو بار په شا کور ته راغله، لرګي یې په برنډه کې کېښودل.

دغه وخت دروازه وډبېده.

پلار یې ورووت. که ګوري زمری ولاړ دی. زمري د نجلۍ پلار ته وویل: مه وارخطا کېږه، نه دې خورم، په لور دې مېین یم، ما ته یې راکړه. سړی چې لړ ډاډه شو، ورته ویې ویل: دا خو اسانه کار دی، کور ته دننه راشئ، خبرې به سره وکړو.

زمری په سړي پسې کور ته ننوت، په حویلۍ کې ودرېد، ویې ویل: ښه، څه خبرې کوې؟

سړي ورته وویل: که دې اجازه وي، له لور سره به مې هم مشوره وکړم، غوته چې په لاس پرانستل کېږي، غاښونو ته حاجت نشته.

زمري اجازه ورکړه. سړی کور ته ننوت، د کور غړي یې په کیسه پوه کړل او داډ یې ورکړ چې وارخطا کېږئ مه، یوه لاره به جوړه کړم .

وروسته چې حویلۍ ته راستون شو، زمري ته یې وویل: لور مې رضا ده خو وایي چې د زمري له غاښونو او منګولو وېرېږم. که دغه وباسي!

زمری چې میین و، سمدستي یې وویل: ورشه، انبور دې راوړه، ویې باسه!

سړي انبور راوړ، د زمري منګولې او غاښونه یې وایستل او بیا کور ته لاړ چې له لور سره راشي .

خو د لور په ځای یو غټ کوتک ورسره و او بې غاښونو، بې منګولو زمری یې په وهلو، وهلو له کوره وایست« .

(هم) ډېرځله له نورو کلمو سره په ملګرتیا د تاکید نقش تر سره کوي، لکه د رحمان بابا په دې بیت کې:

هم په شان د تورو زلفو به پریشان وي
هر چې کاندي انتظار د تورو زلفو

دلته ( په شان) د قید نقش لري او ( هم) د دغه قید د تاکید نقش تر سره کوي .

( هم) له نورو کلمو سره په شریکه ډېر ځله د ځانګړي کولو لپاره پکاریږي.

رحمان بابا فرمایي:

هم هغه به یې خرمن وي پس له مرګه
هر چه کاندي زراعت په دا دنیا

یعنې بل شی نه بلکې یوازې د دې دنیا زراعت به یې پس له مرګه خرمن وي.
د بابا په دې بل بیت کې هم ( همدا غشی) د بل نه بلکې همدې غشي معنا رسوي:

ته چې بل په غشیو ولې هسې پوه شه
چې همدا غشی به ستا په لور ګوزار شي

(هم) په ځينو جملو کې د يو شمير کلمو له حذف کولو سره مرسته کوي او د طنز يا ايجاز يا دواړو باعث گرځي. د راحت زاخيلي په (شلېدلې پڼه ) کې لولو:« خدای پاک هر سړي او هر ځيز ته په خپل ځای بهتروالی او مرتبه ورکړې ده او څه نا څه خوبي يې هم پکې ايښې ده.» دلته په ( هم) کې بدو او منفي اړخونو ته اشاره نغښتې ده.

هسې وايي چې په وريجو کې شگې زياتې وې. کوربه وشرمېد، مېلمه ته يې وويل: وبخښه، شگې پکې دي. مېلمه چې شگو په تنگ کړی و، کوربه ته وويل: خير، وريجې هم پکې شته!

که يو څوک ظلم او قتل کوي، موږ ممکن ووايو: دی هم ځان ته انسان وايي! دلته ( هم) د ( حال دا چې انسان نه دی) جملې ځای نيسي.

( هم) مختلف نقشونه لري او د گڼو کلمو په ترکيب کې شامل دی ( مثالونه: همدارنگه، په همدې ډول، که څه هم، همداراز...). له بلې خوا تاکيد او مبالغې ته زموږ ميلان د دې سبب شوی دی چې ( هم) د ضرورت تر اندازې زيات وکاروو او دغه ډير استعمال يې کله نا کله د نثر د بې خوندي او شايد ناسموالي سبب شي.

استاد سيد شمس الدين مجروح په خپله يوه مقاله ( د گل پاچا الفت يادونه) کې ليکي:« ډيره ظريفه طبعه يې لرله. ښې د مزې ټوقې يې کولې خو ده په ټوقو او ټقالو کې هم ادبي نکات پراته وه او زياتره يې ادبي طنز و. » زما په گومان که دلته ( هم) نه وای، مفهوم به لا ښه رسيدلی و .

استاد حبيب الله رفيع ليکي:« تکلونه د هنري ادب يوبل ډول دی. په تکل کې هم معمولا يوه کيسه، پيښه او خاطره رانغښتله کېږي خو د فن له پلوه د لنډې کيسې غوندې چوکاټ او بنديزونه نه غواړي. ليکوال خپله کيسه او پيښه يوازې په ادبي او هنري ژبه بيانوي، نور نو کولای شي خپله عقيده هم پرې ورگډه کړي، نتيجه هم ترې واخلي او مقدمه هم ورته کېږدي خو زيات تکلونه

دومره خواږه، خوندور او د لوړې ادبي پایې او سویې درلودونکي وي چې ترلنډې کیسې یې هم اغیز زیات او ژور وي. په دې سربیره په تکلونو کې اجتماعي او فلسفي مضمونونه هم په پخه ادبي ژبه بیانیږي.» په دې نثر کې د (هم) د کموالي امکانات شته چې د نثر ښکلا ورسره زیاتیدای شي. مثلا لومړی ( هم) که وباسو، معنا نه بدلیږي.

دغه راز د انځور صاحب په لاندې جمله کې راغلی ( هم) بې نقشه دی:« کله کله کیدای شي چې زموږ په لومړنیو لنډو کیسو کې ځینې داسې آثار هم پیدا شي چې له ډیرو تخنیکي او هنري اړخونو څخه نیمګړتیاوې ولري».

ما د روان کال( ۱۳۹۳) په مني کې خپله یوه ژباړه ( د زرو هیندارو کور) یو ځل بیا ولوسته چې دویم چاپ ته یې واستوم. هلته ( هم) څو ځایه غیر ضروري راښکاره شو.

څرنګه چې ( هم) د ربط حرف دی نو په جملو کې که نور حروف د ربط وظیفه تر سره کړي، ممکن ( هم) ته چندان ضرورت پیښ نه شي. مثال:« که دوی چمتو وي، زه هم چمتو یم.» دلته(که) د دوو جملو د وصلولو لپاره بس دی او د ( هم ) نشتوالی مشکل نه پیښوي. دغه راز، څرنګه چې ( هم) ډیر ځله د تاکید لپاره راځي نو که تاکید ته واقعي اړتیا نه وي، له ( هم) او هغو ترکیبونو تیریدلای شو چې ( هم ) پکې شامل دی. مثلا، کیدای شي چې د ( همدغه راز) په ځای ( دغه راز) ولیکو.

په دې لاندې مثال کې چې ( او بل) د ربط وظیفه په ښه ډول تر سره کوي، ( هم) ته ضرورت نه ښکاري:« احمد کابل ته لاړ چې علاج وکړي او بل ځان ته کار هم پیدا کړي.» خو په دا دویم مثال کې (هم) بې نقشه نه دی:« احمد مې ماما دی او بله دا چې خسر مې هم دی.» په وروستي مثال کې ( هم) ځکه پکار دی چې په یوه مفهوم باندې د بل مفهوم د زیاتولو وظیفه تر سره کوي، حال دا چې په لومړي مثال کې د علاج او کار پیدا کولو مفاهیم سره

بیل دي. کله چې زه وایم« ومان نه یوازې شاعر بلکې انځورگر هم دی.» د ( هم) په ذریعه د ومان په یوه مهارت باندې بل مهارت زیاتوم. مگر په لاندنی جمله کې ( هم) ته څکه ضرورت نشته چې د ومان په درس ویلو باندې د پوهنتون استادي نه زیاتوم، بلکې دا ویل غواړم چې په مکتب کې درس ویل بې څه کوې چې د پوهنتون استاد دی:« ومان نه یوازې مکتب ویلی بلکې د پوهنتون استاد دی».

د ( هم) په استعمال کې دقت د نثر د بې خوندي مخه نیسي او له وضوح او دقت سره مرسته کوي.

د ۱۳۹۳ ژمی

# روستاړې يا

ورم سهار مې په بي بي سي کې ( د ګلتونيزو ګازونو) ترکيب واورېد.( ګلتونيز) کلمه په اول ځل څو ويشت کاله پخوا ما استعمال کړه خو په وروستيو کلونو کې ورو ورو دې نتيجې ته ورسيدم چې کاشکې مې د ( ګلتونيز) په ځای ( ګلتوني) کلمه غوره کړې وای.

د يخنۍ په موسم کې ګلونه په ګلخانو کې ساتل کيږي. د ګلخانو هوا يو څه توده وي، ځکه چې ګلخانې ډيرې شيشې لري او د شيشو خاصيت دی چې د لمر د وړانګو تودوخه داخلېدو ته پريږدي خو د خارجېدو په وخت يې څه نا څه مخه نيسي. په نتيجه کې د ګلخانې هوا تر باندنۍ هوا توده شي او ګل ته د ژمي په موسم کې د غوړېدو امکان برابر شي. هغه ګازونه چې د ځمکې په فضا کې دي او د ځمکې په سطحه باندې د لمر د لګېدونکو وړانګو د بيرته ستنيدو په وخت کې تر څه حده پورې د هغو مخه نيسي، د ګلخانې له شيشو سره مقايسه کولای شو. البته، ټول ګازونه د حرارت د ساتلو خاصيت نه لري. دغه خاصيت يوازې په ځينو ګازونو مثلا د اوبو په بړاس او کاربن دای اکسايد کې ډير دی. د دغه خاصيت لرونکي ګازونه ځمکې ته د لمر د رارسيدلي حرارت د بيرته ستيندو او فرار مخه نيولای شي. نو هر څومره چې کاربن دای اکسايد او ځينې نور ګازونه په فضا کې ډيريږي، د ځمکې د مخ د حرارت د ډيريدو امکان زياتيږي. دغه ګازونه چې د ګلخانو د شيشو غونډې د حرارت د وتلو په لاره کې خنډ جوړوي، په فارسي کې (ګلخانه اي) ګازونه بلل کيږي. دغه نوم د ګرين هاوس ګيسيز انګليسي کلمې ترجمه ده.

( ګلتوني) او ( ګلتونيز) دواړه پښتو کلمې او زموږ د ژبې له قواعدو سره سمې دي. البته ( ګلتوني) پکې د يو حرف د کموالي امتياز لري.

په پښتو او دري دواړو کې د ( ی) روستاړي په مرسته اکثره اسمونه په ستاینومونو بدلیږي. مثلا د ( ننګرهار) اسم د (ی) روستاړي په مرسته د ( ننګرهاري ) په صفت بدلوو او له ( شراب) څخه شرابي جوړوو. د( وراندیز) اسم نه چې (ی) ورزیاته کړو د ( وراندیزي= وراندیز شوی) صفت ورنه جوړیږي.

داسې کیږي چې د ( ی) روستاړی صفت په اسم بدل کړي، لکه په عاشق او عاشقي کې.

په یونیم ځای کې روستاړي ( یا) د کلمې د ګرامري دریځ په بدلولو کې برخه نه اخلي؛ مثلا ( رڼا) او ( رڼایي) دواړه اسمونه دي، خو په اکثرو ځایونو کې ( ی) اسمونه په ستاینومونو بدلوي. ( یز) د (ی) غونډې یو بل روستاړی دی چې اسمونه په صفتونو بدلوي. مونږ د ( بنسټ) اسم د ( یز) په مرسته د ( بنسټیز) په ستاینوم اړولی دی. کله کله ( بنسټي) هم وایو خو ( بنسټیز) عام دی او یو علت به یې دا وي چې ګومان کوو د (یز) په مرسته به کلمه لا سوچه پښتو شي، حال دا چې (ی) او ( یز) دواړه په پښتو کې راځي.

زموږ په پخواني ادب کې د روستاړي (ی) په مرسته ځینې داسې کلمې جوړې شوې دي چې اوس ورنه استفاده نه کوو او دغه نااشنا حالت د ځینو بیتونو ښکلا زیاته کړې ده.

خوشحال خټک فرمایي:

که عذرا په ملک کې شته مخ دې ښکاره کا
زه په تن کې زړه لرم د وامقی

( د وامقي زړه) د عادي او معمولي ژبې ترکیب نه دی او په همدې وجه د خوشحال په بیت کې له دغه نااشنا حالته خوند اخلو. دا لاندې بیتونه هم د خوشحال بابا دي:

چا وته ویل کړم ترجمان په منځ کې نشته
زه سمرقندی یم، یاران واړه ملتاني دي

مخ په مخ شه ماته خانده چې خاطر مې
هوسي شي، په خوښیه شي بې غمه
چې یې سیوری په ما و لکه پادشاه وم
همایي وه ستا د تورو زلفو سیوره

د ( هوسي) یا ( همایي) غوندې کلمې اوس نه استعمالوو خو خوشحال او ځینو تورو شاعرانو جوړولې او کارولې. موږ کولای شو چې له ( صفت) جوړوونکې ( ی) څخه هم په اوسني شعر او نثر کې لا زیاته استفاده وکړو او خپلې ژبې ته د معنا او ښکلا له اړخه ګټه ورسوو. له استاد بختاني مې څو ځله اوریدلي دي چې ( بنستیز) کلمه یوه بله کلمه وریادوي او ښه نه ورباندې لګیږي. که موږ د ( بنستیز) په ځای ( بنستي) ووایو، تاوان نه بلکې ګټه کوو.

د ۱۳۹۳ حوت

# د ژبې دوې متقابلې غوښتنې۲

رحمان بابا فرمايي:

چې د توک په طلب ګرځې خدای دې هېر دی
فقيران دا هسې چيرې وي فقيره

نن سبا د ( دا هسې ) په ځای معمولا ( داسې ) وايو.

د رحمان بابا په ديوان کې د ( هغسې) په ځای ( هغه هسې)، د ( هغومره) په ځای ( هغه هومره)، يا مثلا د نن سبا د ( هماغه) په ځای( هم هغه) لولو. بابا فرمايي:

هم هغه به پس له مرګه ازاريږي
هر چې بل ازاروي په دا جهان کې

په ژبه کې دا تحول په دې وجه راغلی دی چې خلک لنډون او اختصار ته مايل دي. لکه د سين اوبه چې د وخت په تيريدو سره ځيږې تيږې سولوي،

---

۲. ما په اوله کې د دې مقالې نوم ( د ژبې دوې متضادې غوښتنې ) ايښی و خو پوهاند ډاکټر زيار په څهله يوه مقاله کې دغه نوم سم ونه باله. د استاد دلايل زما زړه ته پريوتل او نوم مې بدل کړ. استاد ليکلي وو: "د ژبپوهنې له ترمينالوجی سره سم د لاتين "کونترست" ، پښتو اندول (مخاوی) او عربي هغه (تقابل) راځي، نه ( تضاد) يا (تنا قض). چې د منطق او فلسفې د ترمونو په توګه سره هم نه يو ځلاکېدونکي دي، او ( تقابلونه) د (تېز او انتي تېز= سېنتېز) غوندې دريهم يوځلاکېدونکی اکر راځېلولای شي. په ژبه کې ان بد مانيزونه (مختلف المعاني لغات) هم پرتليز (نسبي) ارز ول کېږي. ځکون او لنډون سره له اره د ژبې د پرمختيايي بهير يو له بله نه بېلېدونکي پېښې يا پديدې دي، او په ګډه د مخاوي (تقابل) او (کونترست) يوه يوازينی تولی (مقوله) رغوي. نو د دې لپاره که د "د ژبې دوې متقابلې غوښتنې" يا "د ژبې دوې ځانګرتياوې" ، "د ژبې دوې متقابلې غوښتنې" د استاد غضنفر "د ژبې دوې متضادې غوښتنې" ځايناستی شي، نو سر ليک اوليکنه، يا يې په څهله ژبه، (عنوان او معنون) به سره همغږي شي، غوښتنه د "ځانګرتيا" د يو مجازي يا بديهي بديل په توګه بيا کومه تخنيکي تګر نه رامخته کوي."

وړوي، صافوي او ښوَيَوي، دغسې کلمات او عبارتونه هم ممکن د خلکو په ژبه کې ورو ورو لنډ او پاسته شي.

نن سبا ځینې کسان د ( مثلا) په ځای ( د بیلګې په توګه) لیکي او ځینې نور ممکن د ( نسبتا) په ځای د ( په پرتله ییزه توګه ) عبارت راوړي.دغه کسان بهتره ګڼي چې هغه کلمې عامې شي چې دوی ته سوچه پښتو ښکاري خو که د خلکو عام عادت ته ګورو چې لنډو کلمو او عبارتونو ته ترجیح ورکوي نو شپږ سیلابیز ( د بېلګې په توګه) به خدایزده چې د ( مثلا) ځای نیسي.

البته، په ژبه کې یو متضاد تمایل هم شته. د وضوح یا تاکید په خاطر کله کله لنډ عبارتونه اوږده شي. رحمان بابا فرمایي:

چې یې ولیده د ستا د جمال عکس په خپل ځان کې
هم په دا د آیینې په څېر حیران دی زما روح

په اوسنو لیکنو کې د ( هم په دا) ځای معمولا ( په همدې دلیل )، ( په همدې وجه) یا ( په همدې سبب) ته ورکوو.

په ژبه کې دغه تغییر د دې لپاره راغلی دی چې وضوح او تاکید زیات شي. ( په) چې له ( دې ) یا ( دا ) سره یو ځای شي، د علت قید ورڅخه جوړېږي او د دې لپاره چې تاکید ورباندې وشي، ( هم ) ورسره یو ځای شوی دی. د وخت په تېریدو سره د لا زیات تاکید لپاره ( دلیل، وجه، سبب...) هم ورعلاوه شوي دي. ( همدا ) په اصل کې اشاري صفت دی چې د ( په ) په مرسته په قیدي عبارت بدلیږي. که زه ووایم ( په همدې مې خبره ومنله.) نو که ( په همدې ) قید وګڼو، معنا یې دا شوه چې په همدې دلیل مې خبره ومنله خو که ( په) له ( همدې) جدا وګڼو ، ( همدې ) په اشاري صفت بدلیږي او د جملې معنا دا کیږي چې په پلانی باندې مې خپله خبره ومنله. کله چې له بحث لاندې قیدي عبارت سره د ( علت، وجه، سبب..) غوندې کلمې زیاتوو، یو مقصد مو دا هم دی چې وضوح زیاته وکړو.

د رحمان بابا په دوهم را اخيستل شوي بيت کې د ( هر چه) عبارت راغلی دی چې نن سبا يې په ځای ( هر څوک چې) يا ( هر څه چې) وايو. دغه عبارت د وخت په تيريدو سره د کلام د لا واضح کولو لپاره اوړد شوی دی. کله چې ( هر چه) وايو، د انسان او غيرانسان فرق پکې مشکل شي او په اوسني تمدن کې چې د انسان اهميت زيات شوی نو له غيرانسانه يې توپير ته هم توجه زياته شوې ده.

رحمان بابا فرمايي:

څو يې وړی فراغت له درست جهانه
هغه هومره يې يوازې له ما يوور

دغه بيت که اوسني شاعر ويلای د ( څو) په ځای به يې د (څومره) کلمه راوړه، څکه نن سبا د ( څومره... هغومره) جوړه د جملو د وصلولو لپاره کاروو او ( څو) ته نور نقشونه سپارل شوي دي. مجيد قرار وايي:

دغه سړي دومره وژلي دي همدغه خلک
دا څومره خلک چې د دې سړي تر شا ښکاريږي

که يو نوی عبارت تر خپل عام شوي معادل اوږد وي او د وضوح يا تاکيد په څير نقشونه ونه لري، په ژبه باندې به بوج شي او د منلو چانس به يې کم وي. په څينو اخبارونو کې د دې جملې په ځای چې ( په غونډه کې يې وينا وکړه) ممکن ولولو: ( د غونډې په جريان کې يې وينا وکړه.) دلته ( جريان) جمله بې ځايه اوږده کړې ده او گټور نقش نه لري.

په جملو او عبارتونو کې اوږدوالی که يوه تشه ډکه نه کړي، بې گټې کار دی او تاوان پيښوي. تر دې چې ووايو: که څه هم ښه سړی دی خو په خبره نه پوهيږي؛ دا جمله بهتره ده: ښه سړی دی خو په خبره نه پوهيږي. دغه راز، تر دې جملې چې ( دی د رشوت په وسيله مقرر شو.) دا جمله ښه ده:( دی په رشوت مقرر شو.

۱۳۹۵

# د نالیکل شویو فعلونو جملې

یو څه بې لارې کس که ټوکي او خوش صبحته وي، په خلکو چندان بد نه لګیږي. هغه ځوک چې زه یې دلته «شریف» بولم، همداسې کس دی. شریف ته ځو کاله پخوا د حج کولو شوق ورپیدا شو.

حاجیان چې راستانه شي، د حج کیسې کوي. حاجي شریف ویل، د شیطانانو د ویشتلو لپاره مې چې ځنګه ګاټو ته لاس وغځاوه ، شیطان را باندې اواز وکړ: شریفه ته هم!

دلته د شیطان خبره یوه جمله ده خو فعل پکې ناویلی پاتې دی. جمله ځکه ده چې مخاطب د معنا په اخیستلو کې نیمګړتیا نه احساسوي. که زه ولیکم:« د جمعې په مازدیګر چې وروسته له ورزش کولو کور ته راغلم او ملګري مې ولیدل...» اورېدونکی معنا نیمګړې ګڼي او د خبرې د بشپړېدو منتظر پاتیږي. د معنا د بشپړولو لپاره فعل ضروري دی. دلته فعل څه چې فعلونه شته خو خبره لا نیمګړې پاتې ده او جمله بشپړه نه ده.

په دې لیکنه کې په داسې جملو خبرې کوو چې فعل پکې نشته مګر مخاطب ته خبره بشپړه رسیږي، یعنې مخاطب پخپله پوهیږي چې د فعل په شمول کومې کلمې ناویلې پاتې دي. د شیطان د خبرې اورېدونکی پوهیږي چې شیطان دغسې یو څه وایي: شریفه ته هم، چې زما زوړ انډیوال یې، ما په کاڼو ولې؟

که ماشوم له مور سره د چاړې د نه اخیستلو ژمنه وکړي او بیا ژمنه ماته کړي، مور یې ممکن ورته ووایي: بیا! دغه ( بیا) بشپړه معنا رسوي او د دې خبرې معادل ده : بیا دې چاړې ته لاس وروړ! ځکه خو ویلای شو چې دغه ( بیا) چې د پوره جملې نقش تر سره کوي، جمله ده.

د بې فعله جملو استعمال مختلف عوامل لري. د حاجي شريف په ټوکه کې بې فعله جملې هنري دنده تر سره کړه. د ټوکو او طنزي حکايتونو يوه ځانګړنه دا ده چې وروستۍ او اصلي جمله يې چې د خندا سبب ګرځي، تر وسه وسه لنډه وي. دغه لنډون مخاطب ته فرصت ورکوي چې د خبرې د بشپړولو لپاره خپل فکر په کار واچوي. کله چې لوستونکی او مخاطب د معنا په تکميل کې برخه اخلي، د معنا خوند او اغيز ډيريږي. بنيادم له هغه څه سره لا زياته دلچسپي پيدا کوي چې خپله پکې شريک شي.

بې فعله جملې چې د ولس په ژبه کې زياتې وي، په ليکنو کې د ژوندۍ ژبې رنګ او خوند پيدا کوي. د استاد شپون او ماسټر کريم مرحوم په ليکنو کې دغه ډول جملو ته توجه د هغوی د نثرونو د ولسي رنګ او خوند يو عامل دی.

په ( و نه و يو شپون) کې لولو: « صندلۍ ته خوګيانيوالو چرګۍ ويله، بس مينځ کې نغرى، پکې غټې سکروټې، په خوړلن پټې.»

هغه کسان چې د فلم سناريو، ډرامه يا د کيسو مکالمه ليکي او يا د خپلو نورو ليکنو ښکلا ته زيات پام کوي، د بې فعله جملو په ځای استعمال يې پکارېدلای شي.

په ځای استعمال دا معنا چې د نثر وضوح ته صدمه ونه رسيږي او د پښتو جملو په هغو جوړښتونو کې استفاده ورڅخه وشي چې د فعل حذف پکې امکان لري. دغه راز د خبرې هغه چاپيريال بايد وپيژنو چې بې فعله جمله پکې استعماليږي. زما د همدې پاراګراف په لومړۍ جمله کې له ( معنا) څخه وروسته د ( لري) فعل حذف شوی دی. داسې ځکه شوي دي چې په ځينو هغو جملو کې چې په ( دا) پيل کيږي، د فعل د حذف امکان شته. يوه خونکار او بې همته سړي ته ممکن ووايو: دا يې ستا پښتو! يا : دا يې ستا مسلماني! دا خبره مو شايد زياته اورېدلې وي چې : دا زه او دا ته، ما کله ويلي دي؟ مشهور متل دی چې: دا ګز او دا ميدان.

هغه مرکبې جملې چې په یو فرض پیل کیږي، په گڼو مثالونو کې یې د لومړۍ برخې د فعل د حذف امکان شته. لکه دا خبره چې« داسې به وګڼو چې زه ملامت یم، مگر دی هم باید خپله پړه ومني» دا رنگه هم کوو:« دا یې زه ملامت، مگر دی هم باید خپله پړه ومني.» او دا یې بل معادل دی:« زه یې ملامت، مگر دی هم باید خپله پړه ومني.» متل دی وایي:« موږ یې گناهگار خو دی دې خدای راجوړ کړي.»

د استاد شپون په مثال کې بې فعله جملې ځکه غیرطبیعي نه دي چې د لومړۍ جملې [ صندلۍ ته خوگیانیوالو چرگۍ ویله ] لپاره د توضیح نقش لري. په تاریخ مرصع کې لولو:« شپږ ښه ځوانان د ختکو په کار راغلل: دوه مهمندي، یو ببر، یو سیني، یو د کدې اسماعیل خېل، بل هم مېږه خېل.» ما له ( راغلل) څخه وروسته د شارحې (:) علامه کیښوده خو پخوانو له دې سره سره چې د شارحې علامه نه پیژندله، په ځینو توضیحي جملو کې فعل نه راوړ.

د استاد شپون د بې فعله جملو په سر کې د ( بس) کلمه راغلې ده. که دغه ( بس) نه وای بیا به هم د فعل حذف یو څه غیرطبیعي ښکارېده. دا چې ولې داسې ده، تحقیق غواړي. که یو څوک خپلې خبرې تمامې کړي او بیا ورته ووایو چې نور؟ دی شاید داسې ځواب راکړي: بس همدومره! یعنې همدومره خبرې کافي دي.

کله چې د جملو تر منځ د څپو د تعداد له درکه، یا د معنا له اړخه یا د قافیې په حساب او یا د کلمو له جهته یو تناسب او مشابهت وي، د فعل د حذف امکان زیاتیږي. د استاد شپون په مثال کې د دریو بې فعله جملو تر منځ دغسې تناسب شته: بس مینځ کې نغرۍ، پکې غټې سکروټې، په خوړلن پټې.

د تاریخ مرصع دا جمله زما د ادعا یو بل مثال دی:« لس شل جاهلان په یوه پسې، لس شل په بل پسې.»

پخوانو متل کړی دی : چې نه کار په هغه څه کار. دلته هم د دواړو غاړو تر منځ د قافیې او آهنګ تناسب د فعل حذف آسانه کړی دی. البته، په دې مثال کې د جملې سوالیه انداز د فعل د حذف یو بل دلیل دی. موږ وایو: څه؟ په څو؟ ستا یې څه؟ په دغو جملو کې سوالیه انداز د فعل حذف ممکن کړی دی. خوشحال فرمایي:

زه څه خدای په ښکلي مخ باندې مبین دی
ګوره احسن القصص په استدلال

خوشحال د ( زه لا څه یم) په ځای ځکه ( زه څه) راوړي چې په سوالیه حالت سربیره د تعجب په حالت کې او په ځینو نورو حالتونو کې چې د متکلم عواطف پاربدلي وي، د فعل د حذف امکان شته.

په شعر کې د وزن د اړتیا په وجه ممکن په ډیرو نورو ځایونو کې فعل حذف شي خو له ( څه) ښخه وروسته د فعل د حذف مثالونه په نثر کې هم کم نه دي.

په غزني کې یو بوډا ربابي و، پیرغلام نومېده. دی به په ژمي کندز ته راته او رباب به یې غږاوه. ما په ماشومتوب کې د یوه چرسي کیسه ورنه اورېدلې وه. ویل یې، یوه ورځ د ریبل شویو غنمو په پټو کې روان وم چې اواز راباندې وشو: پلاله ده، ملاله ده، ولاړه ده، خوشحاله ده، مه، مه، مه، مه!

په پوله باندې ناست چرسي وېرېدلی و چې هسې نه په سپیره پټي کې ولاړه پلاله ( سواره، دروزه) تر پښو لاندې شي. دی چې نشه و، پلالې ته یې په څه بله سترګه کتل.

چرسي د ( مه کوه) په ځای ( مه) وویل او جمله یې ځکه ناسمه نه راښکاري چې د وارخطایي، قهر یا حیرانتیا په حالت کې هم کله نا کله فعل حذف کوو. د خطر په وخت کې ممکن د ( منده وکړئ! ) په ځای ووایو: منده! منده! دغه راز د قهر په حالت کې ممکن چیغه کړو چې : چوپ!

په تاریخ مرصع کې لولو: «دا سگ عجب چې لا تر اوسه په یوسفزیو کې چا نیست و نابود کړی نه دی.»

خوشحال فرمایي:

ښه خو دا چې د چا نوم پکې یادیږي
په فاني دنیا به نه وي ژوندی تل څوک

دلته د (دا ښه ده) په ځای (دا ښه) لولو او یوه وجه یې دا ده چې که د (دا) اشاري صفت د جملې د مسند الیه په ځای راشي نو دا امکان شته چې فعل حذف شي. بله وجه یې دا ده چې که یو شی تر بل شي ښه گڼو، هغه وخت هم د فعل د حذف امکان ډیریږي.

د چارسدې د مولانا محمد اکبر خادم یوه قصیده مې (چې شاید اوس په اسانه پیدا نه شي) یو وخت اوریدلې وه چې د دویمو مصرعو جملې یې بې فعله وې. دوه بیته یې زما په حافظه کې پاتې دي:

قرآن اینبی دوی د ښکار لپاره دام دی
له دې دامه په څه چل راوتل لا ښه
دنیا کښت د اخرت دی نبي وایي
د ږلی فصل کې مال څرېدل لا ښه

په تاریخ مرصع کې لولو: «هر چې په پښتانه کې جاهلتر هغه د ده معتقد و.»

د ماسټر کریم په (څولی گلونه) کې یو نیول شوی جنایتکار نورو بندیانو ته د ځان د سپینولو لپاره وایي: «خدای شته او تل به وي چې نه خبر، نه اتر، خاص په دښمنی راسره شوي دي.» له سوالگرو څخه اورو: «قسم که د ماښام ډوډی لرم.» د ماسټر کریم مرحوم په مثال کې د (یم) فعل [نه خبر نه اتر یم.] او د سوالگر په مثال کې د (دی) فعل[ قسم دی که د ...] حذف شوي دي. د قسم له یادولو وروسته د فعل د حذف مثالونه کم نه دي.

د یوه حالت د بیان په وخت هم د فعل د حذف امکان شته. د ماستر کریم په خولی گلونه کې لولو:« څومره چې به د لاټرۍ نېټه رالنډېده، ما به وظیفو له زور ورکولو، کار پاتې، روزگار پاتې، ما ویلې بنده، خدای راضي کړه چې بس هم دا یو کار درله وکړي.» او د ماستر صاحب د نثر یو بل مثال:« ... نیم نه زیات کلي په تور سحر ډاکخانې ته ووتو، ته ما سره پس پس، زه تا سره گور گور...»

یو وخت په اباسین کې هغه بېړۍ ماته شوه چې خوشحال خټک پکې و. دغه حالت په تاریخ مرصع کې داسې بیان شوی دی:« خان علیین مکان په دا حال په تخته باندې، توره شپه، په اټک په خیراباد کې غوغا چې ډوب شه.»

متل دی وایي: هم بوره هم بدنامه. یو بل متل دی: یا مړ یا موړ یا جگ په غوایي سپور. ( هم... هم) ، ( یا... یا) او د وییکو ځینې نورې جوړې په ځینو ځایونو کې د فعل حذف ته لاره اواروي.

د تاریخ مرصع جملې دي: « گگیاني وویل چې ملک د دولتې د ما. مهمندزي وویل چې ملک د اشنغر د ما.» موږ معمولا داسې نه وایو چې :« دا دې زما وي ، دا دې ستا وي.» بلکې وایو:« دا یې زما، دا یې ستا.» هغه کلمې چې د مالکیت له بیان سره تعلق لري، ممکن د جملې د فعل له حذف کولو سره مرسته وکړي. په ( و نه و یو شپون ) کې لولو:« برسر یې د ابا و، د دېوال خوا د لالا، د کړکی یا وره خوا د موراو خویندو...»

موږ وایو: پلانی او سرېتوب! یعنې پلانی له سرېتوبه ډېر لرې دی. په تاریخ مرصع کې راغلي دي:« ته دې ما سره او دا هسې کارونه کېږي.» دغه ( او ) ته د استبعاد ( او) وایي چې د دوو هغو څیزونو د یو ځای کولو لپاره یې استعمالوو چې نه سره یو ځای کېږي. په هغو جملو کې چې د استبعاد ( او) راځي، د فعل د حذف امکان شته. یو بل مثال: زه ژوندی او دی مې د میراث دعوه کوي.

په کوڅو کې گرځنده سوداگر وایي: پیاز من په سل، پیاز من په سل! او بزگران چې د درمند غنم تلي وایي: یو برکت ، یو ، دوه برکت، دوه... له( برکته)

يې منظور ( برکت دې وکړي.) دی او د سوداګر په جمله کې خو په اسانه پوهېږو چې ( دی) کم شوی دی.

مشهوره او تکرار شوې خبره ممکن په نیمه کې وکړو. د بزګر او سوداګر جملې د تکرار په وجه او په دې وجه چې غوږونه ورسره اشنا دي، لنډې شوې دي. په پېښور او ځینو نورو سیمو کې د ( په خیر راغلې!) مشهوره جمله ممکن یوازې ( په خیر) وویل شي. د اوسني وخت په تعارفاتو کې هم د فعل حذف ته تمایل وینو. موږ اورو چې: ښه شپه، ښه سفر( یعنې ښه سفر په مخ کې ولرې)، غرمه مو نیکمرغه...

په راډیوګانو کې مثلا اورو: اته بجې خبرونه، نهه بجې ادبي خپرونه... زموږ د نوي ژوند په ځینو ساحو کې د جملو د فعلونو کمښدا نسبتا زیاته ده. په راډیو سربېره شعارونه د فعل د حذف یوه بله عصري ساحه ده. مخ په وړاندې د بري په لور! یعنې د بري په لور حرکت پکار دی او یا دا چې مخ مو د بري په لور شه !

په ځینو ځایونو کې د انګریزي د نو سموکینګ یا د دري د سګریت کشیدن ممنوع تر اغیز لاندې لیکلي دي چې : سګریټ څکول ممنوع. د دغسې پیغامونو له لنډون څخه منظور دا دی چې مخاطب پیغام ژر ولولي او له ورایه یې ولولي. که کلمې زیاتې شي، بیا به د لیک سایز کوچیني او له ورایه لوستل به یې سخته شي. لنډون تر هغه حده جایز دی چې یا مفهوم ګونګ نه شي او یا د ژبې له طبیعي حالت سره په ټکر کې نه وي. زما په ګومان موږ که د سګریټو د بندیز په پیغام کې ( څکول) ونه لیکو، پروا نه کوي، ځکه کله چې وایو د سګریټو اجازه نشته، منظور مو دا وي چې د څکولو اجازه یې نشته. د ( سولې لپاره هڅه) که د ( سولې هڅه) وبولو، پروا نه کوي خو ( د خلکو لپاره کار) که ( د خلکو کار) کړو، په معنا کې تغییر راغی. منظور دا چې لنډون باید معنا ژوبله نه کړي. دغه راز لنډون او د فعل حذف باید د خپلې ژبې د غوښتنو مطابق وي.

د تاریخ مرصع په دې جمله کې د فعل حذف: «دا سگ عجب چې لا تر اوسه په یوسفزیو کې چا نیست و نابود کړی نه دی.» د پښتو د روحیې مطابق نه ښکاري خو حکم راته ځکه سخته دی چې مونږ د خپلې ژبې د گرامر په دې اړخ څېړنه نه ده کړې او د فعل د حذف کولو خپل قواعد مو سم نه دي پیژندلي.
پروفیسر کاکاخیل مرحوم د مخزن په مقدمه کې د دغه کتاب د ترتیب په اړه چې د اخوند درویزه د کړوسي مصطفی محمد په لاس وشو، لیکي: «خدای خیر، هغه دا ترتیب په څه نیت ورکړی و....» او په ملي هینداره کې د ( خیر) کلمه د (خیر دې وي) په معنا ډېر ځله راغلې ده. د پښتو هغه جملې چې فعل پکې ناویل شوی پاتې وي، مفصله څېړنه غواړي. د گرامر دا اړخ هم د ځوانو ژبپوهانو د څېړنې انتظار باسي.
۱۳۹۵

څلورمه برخه

# هغه ما لیدلي خلک

# زموږ کليوال

په کندز کې ماماخېل د چاردرې ولسوالي د يوه کلي او هم د هغه د کليوالو نوم دی. د دې کلي د جوړېدو په ابتدا کې( د ۱۳۱۰ او ۱۳۲۵ کلونو تر منځ) د دې کلي د جوړېدو په ابتدا کې يو شمېر کسان د نورو ماماگان وو او بيا د کار د اسانې لپاره ټول کليوال ماماخېل وبلل شول. کله چې د دې کلي اوسېدونکي ووايي: «د ماماخېلو يم.» منظور يې کلی وي خو چې ووايي« ماماخېل يم» منظور يې دا وي چې زه د دې کلي اصلي اوسېدونکی يم.

يو څوک به له ډېرو کلونو راهيسې په ماماخېلو کې اوسي، خو ماماخېل به نه وي او برعکس، يو څوک به زما غوندې په نورو ځايونو کې ژوند کوي او ماماخېل به وي، دا ولې؟

اکثره ماماخېل خروټي، دوتاني، مياني او شينواري دي. يو نيم کور خدراڼ، وردگ، مياخېل، اندړ او د يوې نيمې بلې قبيلې اړوندان هم پکې شته. دوی ټول په هغه غزنيواله پښتو لهجه غږېږي چې د (ښين) توری (شين) تلفظ کوي او د خبرو په وخت يو نيم اوزبکي لغت هم استعمالوي. مثلا د ځمکې بريد ته به ارچک( د لومړيو دريو توريو په زور) وايي او که څوک واده ته (توی) ووايي، نااشنا خبره به يې نه گڼي. په ماماخېلو کې اوزبک او د کندهاري لهجې پښتانه هم اوسي او د ځينو خو يې هورې ځمکې دي او ښې ډېر کلونه وشول چې هلته ډېره دي مگر ماماخېل ځکه نه گڼل کېږي چې په کندهاري لهجه يا اوزبکي باندې خبرې کوي. د ماماخېلو چارچاپېره اوزبک او خصوصا کندهاري قبايل داسې راتاو پراته دي لکه منگوليا چې د روس او چين په منځ کې ايساره ده. اوزبک د دوی غوندې ځمکه وال دي خو د ختې، ژبې او دود دستور ببلوالي

ورڅخه ببل کړي او کندهاريان که څه هم په پښتو غږېږي خو څرنگه چې اکثره يې مالدار دي او مالونه يې د ماماخېلو فصلونو ته تاوان رسولای شي نو د اقتصادي گټو تضاد دغه دوه گاونډي لا ډېر سره ببل ساتلي دي.

مالدار کندهاريان د کندز ولايت د نفوسو يوه لويه برخه جوړوي. دوی د پښتو په لويديځه لجهه خبرې کوي او له همدې امله کندهاريان بلل کېږي، حال دا چې د دوی مشران د نويو ځرځايونو د موندلو لپاره له فارياب څخه رالېږدېدلي دي. اکثرو يې شايد کندز په نولسمه پېړۍ کې استوگنې ته غوره کړی وي. د افغانستان په شمال کې مالدار کلمه د کوچي معادل ده، لکه څنگه چې په پکتيکا، دېره اسماعيل خان او ځينو نورو سيمو کې کوچي ته پوونده وايي.

ټول اصلي ماماخېل ، که په کلي کې دي يا د باندې په شمار تر يونيم سل کورونو نه اوړي . د اوزبکو او کندهاريانو په مقابل کې دغه د شمېر لږوالي د ماماخېلو ټولې قبيلې يو بل ته دومره نږدې کړې دي چې مثلا د ماماخېلو يو شينواری يا خروټی د کندز ولايت د بل کلي له خروټي يا شينواري سره هغومره عزيزولي نه احساسوي لکه د خپل کلي د بېلې قبيلې له غړي سره چې ځان خپل گڼي. ماماخېلو له خپلو اصلي قبيلو سره ارتباط کمزوری کړی او د هغه په ځای يې په خپلو منځو کې يو داسې تعلق پيدا کړی دی چې د قبيلې د داخلي تړاو خصوصيات لري. ماماخېل په خپلو منځو کې خپلوي او خېښي غوره گڼي. پر يوه غړي تېری پر نورو غړيو تېری گڼي. د ود دستور، لهجه او ځينې خويونه يې سره شريک دي او د نورو تر هغو ښه ورښکاري.

يو نيم وخت له غزني يا پکتيکا يا بلې خوا د اصلي قبيلې يو سړی راشي، دلته د خپلې قبيلې د کسانو مېلمه شي، دوی په خپل منځ کې د قبيلې د غړيو د اتحاد او ارتباط خبرې وکړي، متلونه سره تېر کړي چې خپل خپل وي ، پردی ، پردی وي؛ بد تربور په بده ورځ کې پکارېږي؛ يا خپل که دې مړ هم کړي نو سيوري ته به دې واچوي ، خو دا ټولې خبرې د دې سب نه گرځي چې قبيله

پالنه د ماماخېل پالنې ځای ونیسي. دلته جغرافیایي واقعیت په تاریخي واقعیت باندې زورور دی.

ماماخېل په خپل منځ کې له یو بل سره د قبیلې په بنیاد خپښي، دوستي یا مخالفت نه کوي . په خاصې قبیلې پورې د ارتباط احساس ورته تر ډېره حده د تلون او تفنن ذریعه ده. څو کاله پخوا مې د یوه دوتاني کلیوال د مېلمه خانې په دېوال باندې دغه شعار چې په خودکار قلم لیکل شوی و، ولوست: ژوندي دې وي دوتاني! دغه شعار په غزني کې ممکن اجتماعي اهمیت ولري خو په ماماخېلو کې صرف د یوې نوې خبرې د کولو مینه ورباندې ماتېږي لکه شعرونه چې د خبرېدلو لپاره نه بلکې د خوند اخیستلو په نیت لولو.

ماماخېل تر خپلو دواړو لویو ګاونډیو نرم خلک دي، پوچې کلمې لږې استعمالوي ، پاسته غږېږي ، تر وسه وسه هڅه کوي چې له بل چا سره جنجال ونه کړي.

تر خپلو ګاونډیو د شمېر لږوالی د ماماخېلو د نرم خویي یو علت دی. ماماخېل د خپلو ګاونډیو پرتله زده کړې ته ډېره توجه کوي.ماشومان مکتب ته لېږي. د مطالعې شوقیان پکې پیدا کېږي. د دوی د کلي ښوونځی د شاوخوا کلیو تر ښوونځیو ډېر پخوانی دی. دغه شی د دوی د نرمښت یو بل علت ګڼلای شو.

ماماخېل د نورو ګڼو پښتنو په خلاف ټوپک لرل او ټوپک په غاړه ګرځول ویاړ نه ګڼي . دوی چې ټوپک نه ساته ، قتل پکې نه پېښېده او چې قتل پکې نه و، د بدل کلتور یې هم نه درلود.

اصحابي خېل خروټي د ماماخېلو په ختیځ کې اوسي، د دوی په منځ کې نرۍ ګډه پوله ده، اصحابي خېل که هغه ( ږ) چې ماماخېل یې په ( ژ) تلفظ کوي، په ( ز) تلفظ نه کړي، مثلا ( کېږي) ته ( کېزي) ونه وایي او ( خوږېږي) ، ( خوزیزي) تلفظ نه کړي، نور یې له ماماخېلو څخه د لهجې توپیر کول اسان

نه دي. دوی له ماماخېلو سره خپښي کوي، غم ښادي يې سره شريکه ده او حتی کله نا کله ځان ماماخېل گڼي، مگر بيا هم د توپک او بدل په کلتور کې توپير دوی سره بېل ساتلي دي.

اوس که يو څوک کټ مټ د ماماخېلو په لهجه غږېږي، يعنې د غزني د ( شين) پښتو ته ځينې اوزبکي لغتونه ورگډ کړي او د بين الافغاني پښتو په گټه خو د ژبې د تصويري، هنري او فولکوريکې شتمنۍ په تاوان د غزني د پښتو له ځينو خاصو متلونو ، اصطلاحاتو او کلمو تېر شي، غزنيوال اتڼ يې زده وي، ماماخېل پالنه تر قبيله پالنې غوره وگڼي ، نرم خويه وي او د ماماخېلو له « جيوپالتيکس» گټو سره خواخوږي ولري، خو په ماماخېلو کې ځمکه ونه لري، ماماخېل دی؟

که په کلي کې اوسي، بې شکه ماماخېل دی. البته، په لومړيو کلونو کې دې ځان پخپله ماماخېل نه بولي، ځکه دا خبره که ترې پخواني ماماخېل واوري، نو چې دوه کسه يې سره بېل کښېني، ممکن داسې تبصره ورباندې وکړي:

- دا دی اوس له کومه ماماخېل سو؟

- دغه حال ده( دی)، اوس هر څوک ځان ته ماماخېل وايي!

که يو څوک له پلاره او نيکه په ماماخېلو کې ځمکه ولري خو دی نه يوازې دلته ونه اوسي بلکې د دې ځای د خلکو ژبې، کلتور،فکر او ځايي گټو ته هم اهميت ورنه کړي، ايا ماماخېل بلل کېږي؟ هو، دی ماماخېل گڼل کېږي خو ذکر به يې له غيبت سره مل وي. پخواني ماماخېل به د ده په باره کې وايي: زوی يې مړ نه کې( کړې)، سړی به څه وايي. هاغه د پلار نيکه نوم شان ته يې گوره او بيا ده ته گوره! نه خپلوي، نه پېژندگلوي( پيژندگلوي)، نه پشتو( پښتو) ، نه هيڅ شی!

**۱۳۷۹**

# په وده کې ونډه

د ماماخېلو د کلي لومړني اوسېدونکي په نولس سوه دېرشمو کلونو کې دلته راوکوچېدل. هغه وخت د دې سیمې لویدیزه او جنوب لویدیزه خوا وچه مېره وه او په نیمه نوره کې د اوبو کولونه( تالابونه)، د کولونو شاوخوا د کانو، لوخو او غِشو ځنګلونه او د ځنګلونو چارچاپېره د کبلو چمنونه وو. دغو خلکو د ځمکو د ابادولو لپاره د کانو، لوخو او غشو ځنګلونه ورېبل،ځمکې یې اوارې کړې او هسکو ځمکو ته یې د اوبو خېژولو بندوبست وکړ. د دغه کار بشپړتیا څو کاله وخت وغوښت.

لومړنیو ماماخېلو په شاوخوا سیمو کې د استوګنې سم کور ونه لید. د شاوخوا خلک په کنډر او خس کپه کې اوسېدل. خس کپه به یې له غشو جوړوله. غشه( د لومړي توري په زېر او د دویم توري په زور) د نیی قلم په څېر یو بوټی دی، خو د نی یا د دورمې منځ ډډ وي او د غشي ډک، بله دا چې نی کلک او غشه پسته وي، که تاو یې کړې نه ماتېږي.

د خس کېږې د جوړولو لپاره د غشو ګېډۍ پکار دي، داسې چې يو ګورت غشې به را اخلې، په لوخو باندې به يې تړې، د ګېډۍ يو سر به په شل پنځه ويشت سانتي متره ژوره کړې ځمکه کې ښخوې او پاسنی سر به يې د غشو د همدارنګه ګېډيو له پاسني سر سره نښلوې. په دې ډول د خس کېږې چوکاټ جوړ شي. اوس به نورې غشې د خس کېږې تر ملا راتاووې او د لوخو په ذريعه به يې د چوکاټ له ګېډيو سره تړې، دې ته وايي خس کپه. اما له کندړ څخه مقصد د ختو له دېوالونو جوړه يوه کوټه ده چې خيمه ډوله بام لري. د کندړ سر په شاتير، د شاتير په دواړو غاړو نريو لرګيو او د هغو د پاسه غشو او لوخو باندې پوښل کېږي. د کندړ بام يا کاګل شي او يا دغسې پاتې شي.د کندړ په دوو مقابلو دېوالونو کې د هوا او رڼا لپاره يوه، يوه دريڅه وي چې په ژمي کې يې د يخنې د مخنيوي لپاره په زړو جامو او زياتي ټوکرانو باندې بندوي.

لومړنيو ماماخېلو ته خس کېږې او کندړونه ښه ښکاره نه شول. دوی داسې کوټې جوړې کړې چې د لمر او رڼا لپاره يې ښيښې او کړکۍ لرلې او بامونه يې په لرګو اوار پوښل شوي وو. دغه کوټې څه نا څه په نقشه برابرې وې، په حويلی کې وې او د ځان وينځلو لپاره يې تشنابونه لرل. په ورپسې کلونو کې د شاوخوا ګڼو خلکو د کندړونو او خس کپو په ځای د دغسې کورونو جوړولو ته مخه کړه.

د ماماخېلو له راتلو څخه له مخه په چاردره کې بخارۍ رواج نه وه. د کوټې په منځ کې به يې په نغري کې اور بل کړ، ښه شېبه به لوګی جګېده، له سترګو به اوښکې راماتې وې. وروسته چې به لمبې په لوګي زوروړې شوې او کوټه به يو څه رڼه شوه، سترګې به هم يو څه رڼې شوې. ماماخېلو د کوټې دغسې تودېدل خوښ نه کړل، په ښار کې يې بخارۍ واخيستې. د بخارۍ رواج د ژوند په اسانولو کې لويه مرسته وکړه.

غزني شين وطن نه دی، بوټي پکې لږ دي، خو ژمی يې ببخي سوړ دی. نو د کوټې د تودولو اسانه او ارزانه لاره تاوخانه ده. غزنيوال د کوټې د دېوال په

باندني بېخ کې اتش دان جوړ کړي. له اتش دان څخه د کوټې د غولي لاندې دوه، درې موری تېرې کړي؛ کله چې په اتش دان کې اور بل شي، تاو يې موريو ته ورشي او په دې ډول د کوټې ټول غولی تود شي. موری د کوټې په بل سر کې سره يو ځای او له دودکش سره وصل کېږي. دود کش په دېوال کې نېغ د بام خواته ختلی وي.

ماماخېلو په چاردره کې هم د تاوخانې شوق وکړ. له وچ غره يې، چې دوی نږدې پروت دی، اوارې پربنې راوړې، تاوخانې يې ورباندې جوړې کړې ، خو د شاوخوا خلکو تاوخانې خوښې نه کړې. دا ځای غزنی نه و چې د سونګ د توکو سپما ته ډېره اړتيا وي. خلکو چې پنبه کرله، پرېمانه غوزه پايه ( د پنبې وچ بوټی) يې لرله او بل د چاردرې د شمالي څنډو په شګو کې زرګونه جريبه ځمکه په سکساول ونو پوښلې وه. سکساول يو ډول لنډه ونه ده چې په بې اوبو شګو کې پخپله زرغونېږي. دا ونې يو، يونيم متر د باندې راوتلې او درې څلور لوېشتې په شګو کې ښخې وي. بوټېنو به سکساول له بېخه وهل چې يو څه ډېره ګټه وکړي. خدايزده څومره موده به دا کار شوی وي خو د داوود خان تر جمهوريت له مخه لا د سکساول ونې ختمې او د چاردرې زراعتي ځمکې د شګو د مخنيوي له يوې بهترينې ذريعې بې برخې شوې.

خبره مو د تاوخانو کوله، له تاوخانې څخه د خوند اخيستلو لپاره بايد سړی د کوټې په غولي باندې وغځېږي خو د کندز په نمجنه ځمکه ډېر غځېدل، مرضونه پيدا کوي. نو تاوخانه چې په چاردره کې يې د سونګ سپما ته اهميت ورنه کړای شو او په روغتيايي لحاظ مضره وه، رواج نه شوه. که چېرته دلته د لوګر د خېنو سيمو غوندې تاوخانې، چې موری يې په ديوال کې تېرېږي، جوړې شوې وای، د رواجېدو امکان يې ډېر و.

په چاردره کې په لومړي ځل ماماخېلو راډيوګانې پيدا کړې. د هغه وخت راډيوګانې د موټر په بېټرۍ چلېدلې، ماماخېلو د بېټرۍ د چارج لپاره د اوبو

ځروبي ته ناوه جوړه کړه. د ناوې په لاندې خوله کې يې پره ولګوله. پره د يوه فلزي ميل په ذريعه چې ګوردم يې باله، له يوه لرګين څرخ سره، چې قطر يې کابو يو متر و، وصل وه. د اوبو فشار پره تاووله، پرې ميل تاواوه او له ميل سره څرخ تاوېده. د څرخ د محيط لرګي ته به يې د غويي د څرمن يوه تسمه وراچوله. دغه تسمه به يو لوی څرخ ته، چې قطر يې درې متره کېده، هم ورلوېدلې وه. لوی څرخ به د يوې بلې تسمې په ذريعه له ډاينمو سره وصل و چې لوی څرخ به څرخېده، د ډاينمو پولی به په شلګونو او سلګونو ځله تاو شوې وه او په دې ډول به برېښنا پيدا کېده. دوی په دې برېښنا باندې بېټرۍ چارجوله. تر هغه وخته چې د وچو بېټريو راډيوګانې پيدا شوې، په ماماخېلو کې د موټرو د بېټرۍ د چارجولو لپاره ذکر شوې طريقه استعمالېدله.

په دې کلي کې به د بېټرۍ په برېښنا برقي څراغونه بلېدل چې د واده د شپې په چراغان کولو کې مرسته وکړي.

لومړنيو ماماخېلو له غزني څخه ډولچي راوغوښت چې ډول وډنګوي او دوی ورته د واده په شپو او د اختر په ورځو او نورو خوشحاليو کې اتڼ واچوي.

دادوګی د ماماخېلو لومړنی ډولچي و. دی په ماماخېلو کې د زوی څښتن شو. د زوی نوم يې غلام محيی الدين و خو مور به له نازه خان باله. خان په لوينې په خان قره باغی مشهور او د راډيو تلويزيون سندرغاړی شو. ماماخېل د اتڼ شوقيان وو. د دوی غزنيوال اتڼ به د کندز ولايت جشنونه تودول. په چاردره کې بېلابيلو خلکو خپل اتڼونه لرل. د ځدراڼو، منګلو او وردګو اتڼ مشهور و. د ماماخېلو امتياز پکې دا و چې د خپل مکتب زده کوونکو ته يې هم اتڼ ورزده کاوه. جشن ته به لا مياشت پاتې وه چې د کلي ډولچي به هر مازديګر د زده کوونکو اتڼ ته ډول ډنګاوه. ګومان کوم د کندز ولايت په ټولو مکتبونو کې د ماماخېلو د لومړني ښوونځي اتڼ سر و.

په ۱۳۳۱ لمریز هجري کال کې د کلي د مشرانو له منډو رامنډو وروسته په ماماخېلو کې کلیوالي ښوونځی پرانیستل شو. دغه ښوونځي اول، دویم او دریم ټولګی درلود. له هغه وروسته کلیوالو په کلونو کلونو هڅه وکړه چې د دوی ښوونځی دې تر شپږمه شي خو تر ۱۳۴۸ کال پورې کامیاب نه شول. کلیوالو مکتب ته د ځمکې ورکولو او د نوې ودانۍ جوړول پر خپله غاړه اخیستي وو خو د حکومت مامورینو ورته مختلفې بهانې کولې. ډېر کلونه خو یې پلمه دا وه چې په معارف وزارت کې پښتو کتابونه کم دي. د کلیوالي ښوونځي په ابتداییه کولو کې د هغه وخت د والي ډاکټر محمود حبیبي مرسته د یادولو ده. نوي ښوونځي ته ځمکه حاجي غلام علي ناشر مرحوم ورکړه.

له جګړې څخه دمخه د افغانستان په څو مهمو صادراتي مالونو کې پنبه هم شامله وه. د ظاهر شاه د دموکراسي په کلونو کې فرانسوي ماهرانو د پنبې د حاصلاتو په زیاتولو کې زموږ د وطن له بزګرانو سره پوره مرسته وکړه. دوی د پنبې د کرنې یوه نوې طریقه وښوده. په دې طریقه کې د قولبې په سپاره کابو یوه لوېشت ژورې جویې چې له یو بله اتیا سانتي متره لرې وي،جوړېږي. د جویو په غاړه په هرو شلو سانتي مترو کې څلور، پنځه دانې چیګت( پنبه دانه) ایښود کېږي چې په دغو کې له زرغونېدو وروسته باید یوازې قوي بوټي پاتې او نور وایستل شي. کله چې اضافي وابښه په جویه کې یو څپک( د لاس د څلورو ننښتو ګوتو په اندازه) راجګ شي، نو د جویې قولبه کول پکار دي چې په دې ډول اضافي وابښه په شنه سره او کود بدل شي.

فرانسوي ماهرانو زموږ بزګران د تورې او سپینې سرې له مناسب وخت او اندازې سره اشنا کړل. دوی زموږ بزګرو ته فلزي سپارې وروپېژندلې، چې وروسته بیا په جنګلک کې جوړېدلې. فلزي سپارې تېرې وې، سپکې وې او خاص د پنبې د جویو لپاره ډیزاین شوې وې.

په کندز ولایت کې ماماخېل لومړني خلک وو چې د فرانسوي ماهرانو طریقه یې خپله کړه. په نورو کلیو کې چې د نوښت پلویان کم وو، دا طریقه وروسته رواج شوه.

ماماخېلو که د پنبې په زراعت کې د فرانسویانو لاره خوښه کړه، د سپېدارو د ځنګله په جوړولو کې یې خپله لاره راوایسته، چې کامیابه شوه او تر اوسه دود ده.

د سپېدارو د ځنګلونو په پخوانۍ معموله طریقه کې به یې جویې جوړولې او د جویو پر دواړو غاړو به یې سپېدار لګول. د دغو جویو ژوروالی درې چارکه( پنځه اویا سانتي متره)، خوله یو متر او پشته( د لومړي توري په ضم او د دویم توري په سکون، هغه خالي ځمکه چې د دوو جویو په منځ کې وي، لکه د پالېز، پنبې یا ځنګل پشته)دوه متره وه. د وخت په تېرېدو سره د اوبو خړه وياله ډکه کړي، د ډکې ویالې کینستل پکار وي خو د سپېدارو د بېخ غځېدل ویاله تنګه کړي او د کینستلو مخه یې ونیسي چې په نتیجه کې ځنګل بې جویې شي.

د جویه لرونکي ځنګل په اوبو کې سپما راځي، څرنګه چې اوبه یوازې په جویه کې بهېږي، نو پشتې وچې پاتې شي. د پشتو وچوالی په هغو کې د وښو د بوټېدلو مخه نیسي او په دې ډول د ځمکې قوت تر ډېره حده یوازې د سپېدارو په وده ولګېږي.

د ماماخېلو د خپلو ابتکاري طریقو له مخې د جویې ژوروالی نیم ګز، خوله یې درې چارکه او پشته یې پنځه چارکه وي. په دې طریقه کې صرف د جویې په یوه غاړه سپېدار ابښود کېږي. په دې ډول د لمر رڼا ځنګله ته ډېره راځي او ځنګل هیڅ وخت بې جویې نه پاتېږي، ځکه د ولې دا بل اړخ ته د جویې جوړولو امکان موجود وي، حال دا چې په زړه طریقه کې دا کار نه شي کېدای. د نویو جویو د کینستلو په وخت د پشتې خاوره، چې څو کلونو لمرونو او ورستو شویو پاڼو ښه قوي کړې وي، د سپېدارو بېخ ته کوته شي او د ځنګله ونې شنه سره

ومومي. نو د لمر پوره رڼا، د جویو همېشه والی او شنه سره د ځنګل وده سالمه او ګړندۍ کړي. د ماماخېلو په طریقه کې د جویو د بر او ژورتیا کموالی د مردیکارو د لګښت اندازه کموي او د اوبو په سپما کې بې اثره نه وي.

په چارده کې سپېدارو ته تر بل هر کلي ماماخېلو ډېره توجه وکړه. ماماخېلو د چاردرې په کچه په لومړي ځل د منو او بادامو باغونه کېښودل او همدوی وو چې ونې یې له یو بله په ټاکلې فاصله او سیخو کرښو کېښودلې.

د ثور تر کودتا له مخه د ټولې چاردرې د چنارونو تر نیمی زیاته برخه په ماماخېلو کې وه. د دې کلي اوسېدونکو له حوضونو، چوترو او د هغو پر غاړه د چنارونو له ایښودو سره خاصه مینه وه.

د دې کلي په جنوب لویدیځ کې د وچ غره او زراعتي ځمکو تر منځ بې اوبو ځمکو باندې دغو خلکو دوه، دوه نیم متره لوړه ډبرینه چوتره او د هغې له پاسه برنده جوړه کړه چې د وزلوبې سیل ورڅخه وکړي. د سولې په کلونو کې د کندز له مرکزه پرته چې د وزلوبې د سیل لپاره یې کانکریټي برنډې او زینې لرلې، نور په ټول ولایت کې د دغه مقصد لپاره ځنبته پر ځنبته چا نه وه ایښې. ماماخیل په چارده کې لومړني خلک وو چې خپل کلي ته یې په خپلو پیسو نېغ سړکونه تېر کړل، د نورو کلیو لارې به کږې وږې وې.

۱۳۷۹

# د وحشي ژويو دنيا

لومړي ماماخېل له سرکوزيو( خنزيرانو) په تنګ و. د کندز سين له ماماخېلو اووه، اته کيلومتره لرې بهېږي. د دغه سين پر غاړه د کانو( نيو)، لوخو او کړکيو( غشو) لوی ځنګلونه او د کبل پراخ چمنونه د سرکوزيو اصلي استوګنځايونه وو. د داوود خان د جمهوريت په کلونو کې مې نه يادېږي چې چارډره کې دې چا د سرکوزي د ليدلو خبره کړې وي. په غالب ګومان د شلمې پېړۍ تر اويايمو کلونو پورې سرکوزي له چارډرې وتلي اوختم شوي وو. سرکوزيو که څه هم کروندو ته تاوان رساوه خو ما کله نه دي اورېدلي چې څوک يې وژلی وي. سرکوزی له ټولو بدناميو سره سره غوښيخور نه دی.

د سرکوزيو د ختميدو لويه وجه دا وه چې د دوی اصلي استوګنځای په زراعتي ځمکو بدل شو، دغه چل له دښتي چرګ سره هم وشو. د ګورو وحشي بوټو ختمېدو په دښتي چرګ باندې د ژوند ساحه تنګه کړه. البته، ښکاريانو هم د هغه غوښې ته وکتل او د هغه د ښايست پروا يې ونه ساتله. دښتي چرګ په ښايست له خپل اهلي تربوره ميدان وړی دی.

لومړنيو ماماخېلو په پټو کې د لو په وخت د دښتي چرګ هګۍ پيدا کړې. کليوالو د دوی هګۍ تر کورنۍ چرګې لاندې کېښودلې خو د دښتي چرګ چوچوني چې څنګه له هګۍ راووتل، منډه يې کړه ، تري تم شول.

له سرکوزيو او دښتي چرګانو وروسته د لېوانو وار و چې د کليو له پراخېدو او د خلکو له ګڼېدو سره په چارډره کې د ختمېدو له خطر سره مخامخ شول.

تر نولس سوه اويايمو کلونو پورې د ماماخېلو د سپېدارو په ځنګلونو کې د لېوه ليدل عادي خبره وه. هغه وخت په دغو ځنګلونو کې داسې غارونه ليدل کېدل چې بل سر به يې دوه، دوه نيم متره لرې راوتلی و. دا د لېوانو کورونه وو. په دې سيمه کې لېوانو پر انسانانو حمله نه ده کړې. د کليوالو او مالدارو پسونو، خرو او نورو څارويو د لېوه د ګېډې چاره کوله. خر په حماقت مشهور دی. د دې شهرت يو علت بايد دا وګڼو چې ده ته د وحشي ځناورو په مقابل کې د ځان ساتلو چل نه ورځي. پخواني ماماخېل وايي چې خر د لېوه په ليدو وارخطا شي، شا وروا ړوي او د دې په ځای چې وتښتي، د لېوه په لور شا شا ته روان شي. لېوه يې بې زحمته وداړي.

تر جګړو له مخه ( تر اتيايمې ميلادي لسيزې له مخه) په ماماخېلو او شاوخوا کليو کې توپک په ندرت پيدا کېده. کله چې به چا ته د لېوه د ځورولو هوس پيدا شو او يا به يې کلي ته نژدې په پټو کې لېوه وليد، سوټی به يې راواخيست، پر آس به سپور شو. آس په منډه کې تېز دی. چې کله به لېوه ته ورنژدې شو، لېوه به پر سر سوټی وخوړ، ژوبل به شو. البته، آس تر ډېرو پورې منډه نه شي وهلای، لېوه ته يوازې د منډې په لومړيو شېبو کې ورسېدای شي، نه وروسته.

اوس د ماماخېلو په ځنګلونو کې لېوان نه ليدل کېږي. په ښار کې د لېوه د خرمن له بيې ښکاري چې توپک به يې په غرونو او لرې سيمو کې هم پاتې نسل له منځه يوسي.

د ماماخېلو په ځنګلونو کې پخوا ګيدړې هم ډېرې وې چې ظاهرا د لېوه غوندې خپل پوست ورته بلا دی او ښکاريان يې په ارامه نه پرېږدي خو چغال چې پوست يې خريدار نلري، د ماماخېلو په ځنګلونو کې بيخي ډېر دي. سږ کال ( ۱۳۷۹ ) اوړی چې په کلي کې وم، د چغالانو انګولا ډېر ځله د شپې له خوبه راويښ کړم.

تېر کال (۱۳۷۸) ژمی د کلي پر چرګانو وحشي پیشوګان اموخته شوي وو. دوی چې تر معمولي پیشوګانو غټ دي، له ځګو دیوالونو په اسانی اوړي او په چرګانو پسې د هسکو ونو سرونو ته خېژي. پر دغه حیوان باندې کلیوالو د « شغال پیشو» نوم ایښی دی . له شغال پیشو سره د مقابلې لپاره کلیوالو تېر ژمی مخصوصې لومې جوړې کړې.

ماماخېلو ته په نژدې دښته کې سیمساره هم پیدا کېږي. د دې ځای سیمساره کابو دوه متره اوږده وي. سر یې د متوسط سپي په اندازه او پلنوالی یې معمولا یوه نیمه لوېشت وي. دغه لویه بلا چې پښې هم لري، په وچ غره کې له لویو مارانو سره په شریکه د وېرېدلو کسانو په ذهنونو کې د واقعیت او تصور پولې ګډې وډې کړي او حیرانوونکې افسانې وزېږوي.

« د یرګنګ کوتل په سر سپلی ایسار کړم. دوړې بادېدلې، لار مې نه لیدله. یو وخت مې پام شول چې د ښامار په خټ سپور یم. ښامار د وچ غره یوې سمڅې ته لاړ، اشاره یې راته وکړه چې کوز شه، زه کوز شوم او ښامار په سمڅه کې پسې ننووت. هورې د سمڅې په خوله کې په زرګونو ماران تاوېدل راتاوېدل. هغوی ټولو یوه تېره څټله. ما هم وڅټله. بیا نو کابو یو کال هورې وم، نه تږی شوم او نه وږی، خو جامې مې ورژېدې. کال پس یو ځل بیا سخت باد راوالوت. دوړې شوې، ښامار راووت. پر خټ یې کېناستم. په لاره کې تږې غلی کوز شوم، کور ته راغلم.»

پاستی کیسه راته سږ کال یوه ملګري وکړه چې ویل یې د هغه پر دوست څو کاله پخوا کټ مټ تېره شوې وه.زما ملګری وایی:« دوست مې د دروغو سړی نه دی، په رښتیا پوره یو کال ورک و او چې کور ته راغی، حال یې ابتر و،اوس هم تاروغ دی.»

په دې کیسه کې له زمان او مکان څخه پرته( یرګنګ د ګاف او نون په زور، له ماماخېلو څخه څوکیلومتره لرې د کندز، مزارشریف په لاره کې د وچ غره

کوتل دی.)، د تېرې د څټلو، ښامار او باد الوتلو په شمول نور توکونه د پخوانو نکلونو دي. معلومه ده چې تېرو نکلونو د دغه سرې پر خيالي نقشه باندې اثر لرلی دی خو که چېرته د چاردرې په وچ غره او ورسره څېرمه دښته کې سيمسارې او ډول ډول ماران نه وای، کيسه به بل ډول وه، شايد بېخي جوړه شوې نه وای.

په ماماخېلو کې ممکن په څو ساعتونو کې څو ماران ووينئ. يو به د باغ په وښو کې تېرېږي، بل به د دېوال له چاوده راوځي او بل به په پوټلنه لاره ليکې جوړوي. دلته له يو ځل پرته د چا نه يادېږي چې مار څوک دې چيچلی وي.
په ماماخېلو کې يو ډول بې زهره ماران چې دوی يې بترۍ ( د اول توري په زور او د دويم توري سکون) بولي،او د دوی گاونډي کندهاريان ورته « ژړ ماران » وايي، بېخي ډېر دي.

زموږ په کلي کې د کور د منځ ماران يونيم وخت بده وېره پيدا کوي، داسې هم کېږي چې مار د چت په تيرانو کې لکۍ بنده کړي، نور ځان د کوټې په فضا کې راوځړوي، لاندې ناست سړي ته نېغ نېغ وگوري.
ماماخېل وايي چې د وچ غره په ډډه کې منگرى او کپچه مار او د چاردرې په شمالي څنډو کې شترمار او سوندرمار پيدا کېږي. دغه ماران زهرجن يادېږي. سوندرمار چې سوندري ليکې لري، په دې سيمه کې د مرغيو په خوړلو ډېر مشهور دي. لنډۍ ( کورمار) ته د ماماخېلو اوسېدونکي د غزنيوالو غونډې « لنډۍ لټکه» وايي. لنډۍ لټکه( د دويم لام او ټې په زور) د کلي په يوه غونډۍ (افندي بابا) کې شته. د کليوالو په قول، سترگې نه لري خو زهر يې خطرناک دي. پخوا به په دې سيمه کې د اوبو ماران هم ډېر وو چې د دې ځای خلک ورڅخه نه وېرېدل.

هغه يو کس چې مار چيچلی و، د يوه شتمن اشپز و. ده به ويل، مار يې نه چيچي، هوده يې لري. ده دروغ نه ويل،ځکه په مارانو زړه ور ورته. يو نيم

وخت به يې مار ونيو او په ظاهره به يې هوده وچلېده. چې ماران به زهر جن نه وو او که څه بل چل به و، خو يوه ورځ چې ده غوښتل د نيولي مار په خوله کې نسوار واچوي، مار ټک ورکړ. اشپز بيا هم ډاکتر ته د تلو ضرورت احساس نکړ او د دم او هودې تاثير ته منتظر پاتې شو خو صحت يې وار په وار خراب شو او چې ډاکتر ته يې رساوه، سا يې ورکړه. دغه واقعه د شلمې پېړۍ په شپېتمو کلونو کې پېښه شوه.

د ماماخېلو او بلکې ټولې چاردې د مارغانو په دنيا کې يوه نوې خبره دا ده چې پخوا دلته ميناوې( ښاروگانې) زياتې وې او اوس نشته. ځينې کسان وايي، جگړو ورکې کړې. د ځينو نورو په قول، د پنجه چنارونو له کمېدو سره نورو سيمو ته والوتې.

سږ کال او تېرکال مې د کلي په ونو کې کونگ ونه ليد، حال دا چې پخوا د ماماخېلو باغونه او ځنگلونه له کونگانو تش نه وو. کونگ بدبخته د سرکوزي غوندې بدنام ژوی دی. په نشتوالي يې سړی له وېرې افسوس هم نه شي کولای. کونگ د نړۍ په گڼو هيوادونو کې شوم مرغه گڼل کېږي. په وروستيو کلونو کې ځينو څېړنو د دغه مرغه د شوم گڼلو راز څرگند کړی دی. کونگ د ورځې په گوښه ځای کې خوب کوي، د شپې ويښ وي، خو کله چې د سېل، زلزلې، يا توپان په څېر خطر رانژدې شي، کونگ ته د ورځې خوب نه ورځي، له گوښه ځايه راووځي، خلک يې ويني. دا چې انسانانو تر بدو پېښو له مخه په مکرر ډول ليدلی دی نو له دغه شي د کونگ د بدمرغۍ انگېرنه زېږېدلې ده. د پښتو د بدمرغه او نيکمرغه کلمې له هغو زړو باورونو راوتلې معلومېږي چې د مرغانو د ښه يا بد شاگوم( مرغ) په باره کې موجود وو.

۱۳۷۹

# زړې نخښې

د ماماخېلو ساحه شپږ، اووه غونډۍ لري چې په اکثرو کې یې د تېرو زمانو نخښې پیدا کېږي. د دې سیمې په شمالي څنډه کې مولن غونډۍ پرته ده. په دې غونډۍ کې د یونانو باختري او کوشاني زمانې سکې، پخې خښتې او داسې نمونه موندل شوي چې په منځ کې یې د انسان هډوکي دي.

ایا دغو خلکو خپل مړي په خم کې کېښودل؟ ځرنګه چې په خم کې د مړي ناسته او د مور په ګېډه کې د ماشوم وضعیت ورته والی لري، نو ایا دوی به مرګ د بل ژوند پیل ګاڼه؟ که د دې پوښتنې ځواب مثبت وي، بیا خو ویلای شو چې د دې غونډۍ پخوانو اوسېدونکو د مرګ او ژوند په باره کې ښکلې عقیدې لرلې.

په دې غونډۍ او ځینو نورو هغو کې د یونانوباختري او کوشاني پاچایانو سکې موندل کېږي. پر سکو باندې د یوناني واکمنو څېرې په اسانه تشخیص کېږي. د کوشاني پاچا ویما کدفیزس ( په یوسلولس میلادي کال کې مړ) سکې هم پېژندل شوې دي. په دې حساب په دغو غونډیو باندې له میلاد څخه دوه ، درې پېړۍ وړاندې او یوه یوه نیمه پېړۍ راوروسته ځینې متمدن خلک اوسېدل.

د جګړو تر پیلېدو له مخه به بزګرو د دغو غونډیو خاوره پټو ته ورکوله چې حاصلات یې زیات شي. د غونډیو د پخوانو آثارو په باره کې پاسنې معلومات د کلیوالو د هاغه وخت د مشاهدو په اساس وړاندې شول. کنه نو دلته علمي کیندنې نه دي شوې. تېر کال پسرلی( ۱۳۷۸ ) په ټول کندز کې د قاچاقبرو له خوا د کینستنو بازار ښه تود وو.

د ماماخېلو په لویدیځ کې د خرابې غونډۍ واقع ده. د شفاهي رواياتو له مخې پر خرابه باندې ښار، اووه شله کاله پخوا یو کوچیني ښارګوټی اباد و چې د کندز میر تباه کړ. د «زهرې» داستان چې زما په خیال د پلاټ او منظر کشي له پلوه د پښتو تر ګردو پیاوړی منظوم داستان دی، د خرابې د خرابېدو د پیښې په باره کې دی.

د ماماخېلو یوه بله غونډۍ «افندي بابا» نومېږي. پر دې غونډۍ په همدې نامه د یو مجذوب ملنګ قبر دی. خلک نذرونه وروړي، د کرامت څښتن يې ګڼي. پر ماشومانو چې دانې وخېژي، یا غویی د تبق ناروغي ولري( تبق، د اول او دویم توري په زور، یوه ناروغي ده چې د غويي له خولې ځګونه بهېږي، پښې يې زخم، زخم شي، له قولبې ووځي)، د دې قبر خاورې ورباندې موښي، همداراز که د آس میتازې بندې وي، کلیوال يې دې غونډۍ ته خېژوي، له قبره يې څو ځله تاووي.

د کلي په منځنی برخه کې د یوه شهید قبر دی چې نوم يې چا ته یاد نه دی خو ویل کېږي چې هغو شوروي عسکرو وژلی دی چې د ستالین په وخت کې له سرحده راپورې وتې. سږ اوړی مې هم د جمعې په ماښام د هغه په زیارت باندې بلې شوې ډیوې ولیدې.

۱۳۷۹

# ښکلې فطرت

د کندز د اکثرو سیمو غونډۍ د ماماخېلو خاوره، بې شګو، بې تیږو، پسته او لنده ده، زرغونېدلو ته بس پلمه غواړي. تېر کال چې ژمی پوست و، په لویه څله پسې ناڅاپه پسرلی راغی، وښو او ګلونو دنیا ونیوله.

دلته که پر بام باندې له کاه ګل سره مالګه ګډه نه شي، ممکن تول یام د ولاړ فصل غونډۍ شنه ډکي وپوښي او که د کوټې په منځ کې لمر او لنده یل یو بل وویني، شاید وابښه پکې را زرغونه کړي.

د یوې غونډۍ له پاسه چې د غاټولو جامونه په خپله خوا کې د تالستي ځای درکړي: شین آسمان به داسې درښکاره شي لکه د پاڼو، بوټو او ونیو له زرغونې دنیا چې یې د مینې لاسونه تاو کړي وي او ورسره به دې لاندې د یادامو او منو د باغونو سپینو ګلونو ته پام واوړي چې زرغونې دنیا په خپله غیږه کې ټینګ نیولي دي.

د دې چاپېریال جنوب لوېدیځ پلو ته وچ غر ولاړ دی. د غره په لوړو کې یوه اواره غونډۍ ده چې د دې ځای خلک یې تختِ قباد بولي. ګواکې څو زره کاله پخوا افسانوي پاچا کیقباد له دغه لوړ ځایه د فطرت د ښکلاوو ننداره کوله. اوس نو زه او ته باید د هغه په پل، پل کېږدو، له عمره خوند واخلو، سترګې خوږې کړو، دم غنیمت وګڼو او یاد ولرو چې دا غونډۍ به همېشه پاتې وي خو موږ بس د څو ورځو مېلمانه یو.

د پسرلي په شپو کې که د شوتلې او سنځلې بوی هوس ته پینګې ورکوي، د تودوخې په ورځو کې د مېوو او پالېزونو بوی اشتها پاروي او د منې په موسم کې چې د سپېدارو وچې پاڼې د سرولمبو غونډۍ رویایي ښکلا لري، لاندې د

ځنګله له ورستو شویو پاڼو تریخ بوی راالتېږي او د یخ موسم په لړو کې پناه کېږي.

ژمی چې د کلیوالو د فراغت وختونه دي، اوږدې شپې یې د بخارۍ شاوخوا ته د نکلونو او خاطرو په مجلسونو لنډېږي او سهار چې لمانځه ته راپاڅې او دنیا په واورو کې پټه ووینې، ځان لکه د دښمن د پوځ په منځ کې ایسار دربښکاره شي. په دې ورځ ځینو ته د ژمني ښکار هوس ور پیدا شي، ځینې نور قطعه بازي شروع کړي او د تخییل څښتنان په واورو پوښلې ونه کې د شګوفو د موسم ښکلا ومومي.

۱۳۷۹

# دوستي او دښمني

تېر کال په ثور کې له کندز څخه کابل ته تلم. کرۍ ورځ مې په هوايي ډګر کې تېره کړه . ماښام راغی خو الوتکه رانغله. ښار ته د ستنېدو لپاره ټکسي نه پيدا کېده. طالبانو په هوايي ډګر کې يو جومات جوړ کړی دی. ځينې کسان د شپې تېرولو لپاره جومات ته لاړل. ماته يوه ځنګلوري چې جمعه منګل نومېده او په همدغه ورځ مې پېژندلی و، وويل، په شورابي کې زما يو خوړ انډيوال دی، راځه شپه به له هغه سره تېره کړو. ما هم نری ست غوښت، بکسونه په شا، شورابي کلي ته روان شو. وروسته له څوځلويښت دقيقو پلي مزله، چې د ماښام او سپوږمۍ تتې رڼا ته مو د کروندو په نريو پولو باندې وکړ، د جمعه منګل د انډيوال کره ورسېدو.

کوربه بصير نومېده. د مجاهدينو قومندان و خو طالبانو ورڅخه وسله اخيستې وه. قومندان اوجمعه منګل د خپلو خاطرو بوخڅې پرانيستلې.د دواړو مخاطب زه وم، ځکه دوی د يو بل له حاله پوره خبر وو. معلومه شوه چې جمعه منګل د تېر چپي حکومت د پوليسو منصبدار و. لس دولس کاله يې د قلعه زال ولسوالي د پوليسو قومنداني کړې وه او په لسګونو ځله له هغو مجاهدينو سره جنګېدلی و چې غوښتل يې د قلعه زال مرکز، آقتيپه ونيسي.

راته ويل يې دغه بصير ته معلومه ده، مجاهدين به زما له تش نومه وېرېدل.

منګل ويل، ما ته له کندزه څو څو ځله مخابره راوشوه چې آقتيپې ته به دوست قواوې د مرستې لپاره درشي خو ما هر ځل ورته ويل، زه د روس ښځه... زه د خپل انقلاب دفاع پخپله کوم.

جمعه منګل د ډاکتر نجیب د حکومت په وروستیو کې د کندز ښار ته راتبدیل شوی و او دلته یې چېرته د پولیسو د سیاسي آمر په حیث کار کړی و.

قومندان بصیر هم د خپل جهاد کیسې وکړې او دواړو پر خپلو بدنونو د جګړو د ټپونو نخښې رانښکاره کړې.

د افغانستان په قبایلي ټولنه کې قبیلوي رابطه ممکن د بېلو بېلو سلیقو خاوندان پر یوه مزي وپېیي او د یو بل ملګري یې کړي خو دلته دا رابطه نه وه. بصیر ښار ته څېرمه د شورابي کلي وزبک و او دا بل د قلعه زال د لرې پرتې ولسوالي منګل و چې اوس له خپلې قبیلې سره د زاړه پیوند د تازه کولو لپاره پکتیا ته روان و. ما وپوښتل، تاسې څنګه سره ملګري شوئ؟

جمعه منګل ځواب راکړ: د نجیب د حکومت په لومړیو ورځو کې په یوه کافي کې ناست وم، چای مې راغوښتی و، دغه وخت همدا بصیر راغی، ما ته نژدې کېناست. هغه هم چای راوغوښت، خبرې پیل شوې، سړی مې خوښ شو، د ده هم طبعه راسره ولګېده،یو بل ته مو د اندیوالی لاس ورکړ.

ما ورته وویل: تر هغه له مخه مو هیڅ نه سره پیژندل؟

منګل وویل: نه، نه، دغه اول وار و خو بس زړه په زړه آیینه ده. بصیر ورغبرګه کړه: آ، دل به دل راه داره!

په هغه شپه چې غرمه مې لا په هوایي ډګر کې وږې تېره کړې وه، د قومندان بصیر تېل پلو خوند وکړ. په سبا چې له جمعه منګل سره کابل ته لاړم، د رخصتیدو په وخت مې د هغه د کندز پته ورڅخه وغوښته. ده د خپل زوی پته راکړه چې د کوکب درملتون څنګ ته د یوه مستري په دوکان کې شاګرد و.

سږ کال چې کندز ته لاړم، د مستري دوکان ته ورغلم، جمعه منګل مې هورې ولید خو قلعه زال ته روان و. د هغه هلته څو جریبه ځمکه وه، اراده یې وه هغه وپلوري او په پیسو یې خپله ناروغه مېرمن د علاج لپاره پېښور ته بوځي.

ویل يې، تېره میاشت مزارشریف ته تللی وم، مېرمن مې په زیارتونو وگرځوله
مگرگټه يې ونکړه.

زه چې کومو خبرو ته راغلی وم، هغو روغ زړه غوښت او جمعه منگل
پریشان و، د خدای پاماني غېږ مې ورکړه. په مړوند باندې يې تېغ بند تعویذ و
چې تېر کال مې نه وو وړپام شوي. تعویذ مې په گوتو کې ونیو، منگل ته مې
وکتل.

د مارکسیست ، لیننست انقلاب پخواني جنگیالي او د سیاسي چارو امر
وویل: د همدې برکت و چې ژوندي پاتې شو!

او د قومندان بصیر په باره کې مې واورېدل چې تالقان ته تللی او د
طالبانو له مخالفانو سره یو ځای شوی دی.

۱۳۷۹

# ذکر د شراب او شرابیانو

دغه لیکنه مې په ۱۳۷۹ کې کندز ته له سفره وروسته ولیکله او د هغه وخت معلومات او تاثرات پکې دي. دلته له ( سر کال) ،( روان کال ) او ( اوس ) څخه منظور هماغه وخت دی.

__________

د کندز سپین ږیري وایي چې تر دیارلس سوه څوویشتمو کلونو پورې دلته هیڅوک شرابي نه وو، شراب د کابل اوسېدونکو راوړل. وروسته بیا په ځینو ښتمنو ښاري کورنیو کې شرابیان پیدا شول. ظاهرا هندوانو د کندز مسلماني ټولنې ته د ام الخبایث په اول وار لېږدولو کې لاس نه دی لرلی.

د داوود خان د جمهوریت په زمانه کې د اوس غونډې د اکثرو خلکو شرابي سړي بد ایسېده، خو د ښاري زلمو په دنیا کې شراب څښل دومره لوی عیب نه ګڼل کېده. په ښار کې د داسې زلمیو شمیر چې د شرابو څښل ورته عیب نه ښکارېده، سلګونو کسانو ته رسېده. دغو زلمیو چې به د نشې په حال کې د یو بل غیبت کاوه، ویل به یې،« بس دا د هندوانو دوا چیرته پیدا کړي....» او یا« دروغ وایي، سړې اوبه وڅښې، وایي نشه مې کړې ده.»

هغه وخت زموږ د کوڅې په وروستي سر کې یوه زلمي په خپل کور کې شراب جوړول، هم یې څښل او هم یې پلورل. په راوروسته کلونو کې به نوموړي سړي د کولتور پارک د ناژو د کورنۍ په ګڼو بوټو کې د « دوا» بوتل کېښود، خپله به ورته په پارک کې پر یوې چوکۍ کیناست، چې باپیار به راغی او خبره به ورسره وشوه، د بوتل ځای به یې وروښود.

دغه سړي به انګور واخیستل، په خم کې به یې واچول، هفته پس به چې انګور چنیاسن شول او چڼیاسو به ډومبکي ( حبابونه) وکړل او ډومبکي به بیرته

کیناستل، په یو سرپوښلي دیګ کې به یې واچول، نری اور به یې تري لاندې بل کړ. دغه سرپوښلي دیګ، چې د بخار دیګ غونډې یې د بړاس ایستلو لپاره یو سوری درلود، د کندوز یوه پښ ورته جوړ کړی و. د دیګ سوري په یوه فلزي نل له یوه بل لوښي سره نښتي و. نل به یې په سړو اوبو کې ایښی و، د دیګ بړاس، چې به ساړه نل ته ورسېد، بیرته به اوبه شو او په بل لوښي کې به څاڅکی څاڅکی توی شو. همدغه څاڅکي شراب وو. ده له ممیزو( وځکو) هم شراب جوړول.

دغه سړی اوس په ښاروالي کې مامور دی. په رشوت اخیستلو د خدای مخلوق څوروي او خپله ګوزاره کوي. سږ کال مې په جوزا کې په کندز کې ولید .هغه پخوانی کسب مې وریاد کړ. ویل یې، اوس مې توبه کړې ده. غوږونو ته یې ګوتې وروړې.

د داوود خان د جمهوریت په کلونو کې یو ماخوستن د کندز د سینما پر سړک یو زلمی زانګه وانګه روان و، لکه څوک چې ځان نه شي تکیه کولای. ملګري یې چې تازه له سینما راوتلي وو، مخې ته ورغلل، د حال پوښتنه یې ځنې وکړه.ده ورته وویل: دوا مې ډیره څښلې ده.هغو له مړونده ونیو، کور ته یې ورساوه. دغه کسان د ستنیدو پر وخت له داسې چا سره مخامخ شول چې نوموړی زلمی په هماغه شپه ، تر دوی له مخه ، له ده سره و. معلومه شوه زلمی نشه نه و، هسې اکټ یې کاوه.

پر دغو زلمیو سربیره ښار یو شمیر زاړه شرابیان هم لرل. دوی د شتمنو کورنیو کسان وو او په دیارلس سوه څودېرشمو کلونو کې یې شراب پیژندلي وو. دوی نور په شراب څښلو باندې د افتخار کولو له پړاوه اوښتي وو، د خوند او عادت له مخې یې څښل. څرنګه چې په ښار کې اوسېدل او د قبیلې له چوکاټه وتلي وو، د بدنامۍ غم یې نه کاوه. له بلې خوا پیسې ورسره وې، له پولیسو هم چندان نه ویرېدل.

د شرابیانو په یوه بله ډله کې ځینې لوړ پوړې مامورین، ډاکتران او یو شمېر داسې کسان شامل وو چې د خپل اجتماعي حیثیت ساتنې ته یې اهمیت ورکاوه. دوی به معمولا د رخصتیو په شپو، په خورا خصوصي حلقو کې ، له نورو پټ، په احتیاط پیکونه په سر اړول او د حکیم خیام نصیحت یې نه هیراوه چې:

**گر باده خوری تو با خردمندان خور**

**یا با صمنی لاله رخی خندان خور**

**بسیار مخور و رد مکن فاش مساز**

**اندک خور و گه گاه خور و پنهان خور**

هغه وخت ودکا لږ وو، ویسکي ډېر پلویان لرل. کنیاک او شامپاین هم په بازار کې پیدا کیدل. یو بوتل ویسکي په یوسلو پنځوس افغانۍ وو، چې شپږ اووه کسان یې مستولای شول. په کندز کې د قهوه خانې پارک د شرابیانو د خوښې ځای وو. دغه پارک لوړې ژورې او گڼې ونې لرلې، مازدیگر مهال به شرابیانو له شراب او کباب او سلاتې سره دغه پارک ته ځانونه رسول او یو گوښه ځای به یې ناستې ته غوره کړ.

همدا د داوود خان د جمهوریت په کلونو کې د تخارستان د دیني مدرسې یو طالب زموږ د لوبو ملگری و. دی د تخارستان په لیلیله کې نه اوسېده، د خیابان په مدرسه کې یې ځانته بېله حجره پیدا کړې وه. دغه مهال څو کسه شوروي انجنیرانو د کندوز- تالقان د لویې لارې د پخولو په پروژه کې کار کاوه. په دوی کې د دوو کسو کور زموږ په کوڅه کې و، یو یې روسی و او بل تاجیک. زموږ طالب انډیوال له دغو خلکو سره تگ راتگ پیل کړ. طالب به ویل، په شوروي کې مې یوه ترور ده، دومره خبر یم چې اولاد یې عالي تحصیلات کړي،اوس ښه ژوند لري خو رابطه ورسره نه لرو، غواړم د دغو شورویانو له لارې له هغوی سره وپیژنم. طالب به د هغوی له کوره موږ ته روسي شکلات، د

ازبکستان امروز فارسي مجله او د منځنۍ اسیا د جمهوریتونو په باب معلوماتي
، تبلیغاتي کتابونه راوړل. یوه ورځ چې د خیابان په مدرسه کې د ده حجرې ته
ورغلی وم، د کتابونو د کتلو په نیت کې مې د کړکۍ پرده پورته کړه، که ګورم د
ام الخبایث بوتل ایښی دی. طالب وویل: دا مې له شورویانو راوړي چې خرڅ
یې کړم.

تاجیک لیکوال صدرالدین عیني چې تر بلشویک انقلاب دمخه یې د
بخارا په مدرسو کې طالبي کړې ده، پخپلو خاطرو کې لیکي چې هورې د شرابو
څښلو ته دا شرعي حیله جوړه وه چې د خدای د ذکر لپاره که د « قوت قلب» په
نیت وڅښل شي، پروا نه کوي.

نور نو پوه نه شوم چې زما ملګري طالب، په رښتیا خرڅول که یې د قوت
قلب لپاره پکارول.

ځینو کسانو به ویل: روسان په لوی لاس غواړي شراب رواج کړي. پر
شورویانو سربېره ځینې چپیان هم د خپلو سیاسي مخالفانو له خوا د منهیانو په
خپراوي تورن وو.

په هغو کلونو کې یوه غونډۍ د « تپه بې ننګان » په نوم مشهوره شوه. ځکه
چې ویل کېدل دلته د ښار ځینې بې لارې سړي د ښار له ځینو بدګرځو ښځو
سره راځي ، عیاشي او مستي کوي. د بې ننګو پر غونډۍ به په پسرلي کې دومره
ګلان وغوړېدل چې د وینو شین رنګ به پکې ورک شو.

سږ کال په کندز کې متوجه شوم چې خلکو د غونډۍ هغه نوم هېر کړی
دی. غونډۍ د روسي قواوو په یوه مهم دیره ځای بدله شوې وه. مجاهدینو
وربانديې په کلونو کلونو د درنو وسلو زړونه تش کړي وو. روسانو پکې ماینونه
ایښي وو او راوروسته بیا د چاردرې له لوړو څخه د جنرال عبدالرشید دوستم
قواوو، په ښار او هوایي ډګر کې د مېشتو ځواکونو د کمزورولو لپاره بې شمېره
ځلې په نښه کړې وه. غونډۍ تر هغو پورې چې طالبانو په وروستي ځل

مزارشریف ونیو، کراره ورځ ونه لیده. خو هغه خاوره چې زړه یې څیرل شوی او ماینونه پکې ښخ وي ، په اسانه چیرته کرارېږي؟ تیر کال په حمل کې د همدې غونډۍ په لمنو کې د یوه بزگر لور په ماین وخته، پښه یې له ورانه غوڅه شوه. د روان کال په اوړي کې مې د هیلوټرسټ موسسې یو بلدي کارکوونکی ولید. ویل یې د هوایي ډگر شاوخوا غونډۍ مو لویشت په لویشت وپلټلې، اوس هیڅ ماین پکې نشته.

خو د غونډۍ له ماینونو څخه ویره او د هغې له بدمرغې ماضي څخه کرکه له خلکو سره موجوده ده. البته، زمانه ډیره زوروره ده. خلک به ډیر څه هیر کړي. پسرلي به راشي، غونډۍ به شنې شي، غاټول به وغوړېږي. نجونې او زلمي به سیل ته ورشي، وبه خاندي، مستی به وکړي.

خو اوس چې هوس او شراب یو ځل بیا د شاعرانو په دیوانونو کې ایسار دي، نو زلمي یې په کتابونو کې پسې غواړي. د کندز په کتابپلورنځیو کې د خیام څلوریزې هم پلورل کیږي. هلته لیکلي دي:

**با سروقدی تازه تر از خرمن گل**

**از دست مده جام می و دامن گل**

**زآن بیش که ناگه شود از باد اجل**

**پیراهن عمر تو چو پیراهن گل**

او همدا خیامي ارزوگانې کله ناکله لیونۍ شي، د کتاب له پاڼو راووځي او د واقعیت جامه واغوندي، جنجال جوړ کړي. سږ کال د جوزا په څلورمه نیټه د ښار څو کسه زلمکي د بادې له بوتل سره ونیول شول. د نر زامنو غوښتل په یوه عامه غونډه کې چې د ښوونکي د ورځ په ویاړ وه، ځانونه نشه کړي.

ورم کال( ۱۳۷۷) په کندوز کې د شرابو یوه پخواني شوقي نه خارجي دوا پیدا کړه او نه مطمینه داخلي دوا، ځکه د طالبانو له راتگ سره د شرابو مجربو جوړوونکو پخپلو خمونو باندې برغولي اینبي وو، نو پخواني شوقي مجبور

شو، دوا یې خپله جوړه کړه ، یا یې له کوم بې تجربې جوړوونکي څخه ویېرله او رخپله. دې نشې سړی په غبرګو روند کړ. نور نو له ژونده بېزاره شو، څو ورځې وروسته یې له فاني دنیا رخصت واخیست.

د ده د روند والي په باب هاغه سړي چې یو وخت یې زمونږ د کوڅې په پای کې شراب جوړول، تینګار کاوه چې دی د ممیزو یا انګورو ډکو روند کړ. دا ډکې چې پوره لرې نه شي، سړی رندوي.

د طالبانو په وخت کې که د شرابو نشتوالي د مرګ یوه وجه ده، د چپیانو په وخت کې یې ډېروالی د مرګ یو عامل و. په ۱۳۶۷ کال کې د کندز د والي زلمي مرستیال دومره شراب پر سر واړول چې زړه یې ودرېد او تر هغه له مخه د کندز ولایت د پلار وطنې جبهې مشر د بدمستی په یوه محفل کې د خپلو مستو ملګرو په ډزو ووژل شو.

# د فرعون د زمانې یادګار

له نولمسې پېړۍ راهیسې د فرعونانو د زمانې په باره کې ښځي ډېرې خبرې معلومې شوې دي. د فرعونانو د وخت مصریانو به د پاپیروس په پاڼو لیک کاوه. پاپیروس یو ډول وابنه ډوله بوټی دی چې په مصر کې ډېر و او له هغه به یې کاغذ جوړاوه.

د فراعنه وو د دوران پر یوه موندل شوي پاپیروس باندې یوه زده کوونکي خپل پخواني استاد ته لیکلي دي:« تا پر ملا ووهلم او په دې ډول ستا تعلیمات زما غوږ ته ننوتل.» د همدې زمانې په یوه بله لیکنه کې لولو:« زلمی شا لري او چې دا شا ګوزار وخوري نو بیا سبق ته پام کوي، ځکه چې د زلمیو غوږونه د هغوی شا ته دي.»

د ښوونې او روزنې دا فرعوني طریقه د داوود خان د جمهوریت په وروستیو کلونو کې د کندز ښار په ښوونځیو کې له رواجه لوېدلې وه خو په ولسوالیو چې د تعلیم او تربیې له اصولو سره بلدو استادانو کمی و،وهل ټکول نه وو کم شوي.

د کندز ښار په شمالي څنډه کې د حاجي شهید په نوم یو زیارت دی. له زیارت سره څېرمه یوه جومات او سرپوښلی حوض هم شته. پخوا به دلته د نوروز په څلوېښتمه ښځو مېله کوله. یو کال په ماشومتوب کې له مور سره دې مېلې ته تللی وم. سږ کال په ثور کې د همدې خاطرې په یاد د حاجي شهید خوا ته ورغلم. هلته اوس مدرسه وه. اتیا کسه هلکانو حفظ کاوه او څلوېښت نورو نور دیني علم حاصلاوه. هورې مې یو زلمی ولید چې غټه لښته یې په لاس کې وه، پر هلکانو ګرځېده. لکه ګاډیوان چې د عادت له مخې آس ته متروکه ورخطا کوي، ده هم د عادت له مخې متروکه نېغه نېغه کوله. شېبه نیمه پس زلمی راووت. ما ورته وویل: هلکان مه وهئ، وهل یې هم تعلیم ته تاوان رسوي، هم

ترېبي ته. ده راته کړه: د افغانستان خلک سوېه مسلمان دي، بې وهلو نه سمېږي!

د زده کړې او وهلو رابطه زموږ په کلتور کې دومره ژورې ريښې لري چې د حکومتونو جدي اقدامات يې هم په لنډه موده کې نه شي ختمولای. چېرته چې، هلته ادب زموږ متل دی او شيخ سعدي ويلي دي چې جور استاد به ز مهر پدر.

ځکه خو د دغه بد عادت د ختمولو لپاره د معارف وزارت په حکمونو او د ښوونې او روزنې له علمي طريقو سره د استادانو په بلدتيا سربېره په ټول هېواد کې دوامداره تبليغات پکار دي، څو په دې ډول له ماشومانو سره او بلکې هر چا سره نرم چلند کول زموږ د کلتور برخه وګرځي.

که ميندې او پلرونه په دې پوه نه شي چې له اولادونو سره تونديې د هغوی د بچيانو راتلونکی ژوند او شخصيت تباه کولای شي،نو د معارف وزارت د مکتوبونو ګټه به هم ډېره نه وي. د بنيادم د خوی او خصلت بنيادونه تر پنځه کلنۍ پورې جوړېږي. څېړنو ثابته کړې ده چې د اکثرو مجرمانو د جنايتکار خوی اصلي علت په ماشومتوب کې د پلار او په تېره بيا مور تريخ او بې مينې چال چلند دی.

البته، له دې وروستۍ خبرې به دا نتيجه نه اخلو چې تر څو پورې په کورنيو کې تاوتريخوالی او خشونت ختم نه شي، په ښوونځيو کې يې ختمول بې ګټې دي، ځکه چې خشونت د عمر په هر پړاو کې تاوان پېښوي او په زده کوونکو کې د ذهني او اخلاقي ودې مخه نيسي. شيخ سعدي فرمايلي دي چې پاچا که د پردۍ ونې يوه مڼه بې اجازې وخوري، رعيت به يې ونه له بېخه وباسي. که معارف وزارت په ښوونځيو کې له وهلو سره شديد مخالفت ونه کړي، ځيني ښوونکي به له فرعوني حدودو هم ورواوړي. په پنځم ټولګي کې زموږ يوه استاد، کله نا کله له يو مخې په دې وهلو چې ده به ګومان کاوه د خندا اواز يې

اورېدلی دی. ده له ربړه، چې له کوهیانو د اوبو ایستلو لپاره د رسی استفاده ورنه کېده، ډُره جوړه وه. یو شوخ شاگرد یې دره پټه کړه او د ښوونځي د ونې په ډډ پورې یې بلا ډېر مېخونه وربانديې ټک وهل. څو کاله پس استاد وفات شو. د وفات په ورځ یې باران ورېده. له ده واړه ماشومان پاتې وو. د ده د بې وخته مړینې خپگان او هغه په پنځم ټولگي کې د وهلو ټکولو خاطرو یې یو پېچلی احساس راکړ او د یوې کیسې لیکلو ته یې وهڅولم.

محمد خان نن سبا په کندز کې لوی سوداگر دی. دی د حقخواه لمیټډ په نوم یو شرکت لري چې له خارج څخه تراکتورونه، تریشرونه، ژرندې،واټرپمپونه او زراعتي سامان آلات واردوي. محمد خان وایي، په اول،دویم او دریم ټولگي کې یې په چپ لاس د لیکلو له امله ډېر وهل خوړلي دي. دی اوس هم په چپ لاس لیکل کوي او استادانو یې شاید هیڅکله په دې غور نه وي کړی چې په چپ لاس لیکلو کې محمد خان یا بل چا ته څه تاوان و؟

۱۳۷۹

# د کندز هندوان او سیکان

په کندز ښار کې د داوود خان د جمهوریت په دوران کې د هندوانو او سیکانو په شلګونو کورنۍ اوسېدلې چې د جګړو او ناامنیو له زیاتېدو وروسته اکثره کابل او بیا هند ته ولېږدېدلې. په هغه وخت کې د کندز اکثرو هندوانو او سیکانو د ښار په مرکزي سیمه کې د بنجارې دوکانونه لرل. د یوه نیم یې د طبابت دوکان و او ځینو نورو به یې په پیاده رو کې توکر غوړولی و، له بادیان و سپېرکۍ رانیولې تر پاکستاني عطرو پورې مختلف ځیزونه یې خرڅول.

د ښار اوسېدونکي وایي چې د جهاد په کلونو کې هم د دغو خلکو کاروبار مخ په ښه روان و. د پیاده رو وال یې ورو ورو د دوکانونو څښتنان شول. د ډاکتر نجیب په وخت کې د ښار د هندو او سیکو کورنیو شمېر تر سلو زیات و. البته، ژوند یې له مشکلاتو خالي نه و.

د تنظیمونو قوماندانانو به یې درمسال ته رقعې وراستولې، مرستې یې ځنې غوښتې. یوه سړي چې هغه وخت یې د خپل قوماندان رقعه معبد ته وړې وه، راته ویل چې د معبد روحاني مشر د توشک پېڅه واړوله، ګڼ لیکونه یې راوښودل، ویې ویل ، وار به کوئ، رقعې ډېرې ډېرې دي.

دغه راز د جهاد په کلونو کې یو شمېر هندوان او سیکان په مختلفو پېښو کې ووژل شول. د دوی زلمو د نورو وطنوالو غوندې د اوږدې او وژونکې عسکرۍ له لاسه خواني په غم او وېره کې تېروله.

رام چند هندو د کندز د هندوانو او سیکانو مشر و. دی د کلي د ملک په څېر د خپلو خلکو او حکومت تر منځ رابط و، خو ملک یا ارباب نه بلکې کلانتر بلل کېده. کلانتر ډېره برېت خرېيل، د اېرېدو غوندې یې د مزریو جګه خولی

پر سروله. رام چند اجتماعي سړی و. پر دوکان به یې د کندز سپین ږیري ناست وو. په ۱۳۷۸ کال کې مې، چې د طالبانو دوران و، په کندز کې د کلانتر پوښتنه وکړه. راته وویل شول :« دلته یې اوس نه کور شته، نه دوکان، په جلال اباد کې اوسي. په نوروز کې کندز ته راغلی و، ږیره یې پرې ایښې ده.» په همدې کال مې له خپل پلاره واورېدل چې کلانتر به اوس شاید نوي کلن وي. کلانتر کابو لس کاله نور هم په جلال اباد کې ژوند وکړ او هماغلته ومړ. د ده زامن په هند کې دیره دي.

د ډاکتر نجیب د حکومت له ړنګېدو وروسته چې د کندز ښار امنیت ګډوډ شو، د دغه لړه کي کورنۍ مجبورې شوې چې کورونه او دوکانونه وپلوري، ځانونه وباسي. د دوی د لړ تر لړه یو شمېر کسانو جایدادونه د جبر او ګواښ له لارې په ارزانه بیه اخیستل شوي دي.

د طالبانو په وخت کې مې په کندز کې څو کسه ګوته په شمار سیکان ولیدل چې څړه اوسېدل. د طالبانو د حکومت له ختمیدو وروسته ځینې سیکیان او هندوان کندز ته ستانه شول او شمیر یې ورو ورو کابو شلو کورنیو ته ورسېد خو تیر کال چې کندز ښار د حکومتي قواوو او طالبانو د جګړې په میدان بدل شو، دوی یو ځل بیا کډه کولو ته ځان مجبور ولید. اوس په کندز کې هندوانې او سیکانې یا د دوی ماشومان نشته، د لاله دلسوز په شمول یوازې د ګوتو په شمیر لاله ګان لا پاتې دي. دلسوز طبابت کوي، دوه کسه یې یوناني دواګانې پلوري او دوه نور یې د بنجارې دوکانونه لري. لاله دلسوز۳ وایي ، نه یوازې ناامني بلکې په مکتبونو کې بد وضعیت هم دوی اړ ایستل چې کورنۍ

---

۳- لاله دلسوز پاسنی خبرې تر وژل کېدو درې، څلور میاشتې له مخه د ۱۳۹۵ په سنبله کې راته وکړې. دی د همدې کال د جدي په لومړیو کې ترور شو. د ده له هیڅچا سره بدي نه وه او د وژلو وجه یې ظاهرا دا وه چې یو خبر جوړ شي چې کندز ناامنه دی.

وباسي. دی د تعلیم د کیفیت له خرابولي شکایت نه کوي بلکې له خپلو بچو سره د ښوونکو او زده کوونکو له بد چلنده شاکي دی. د داوود خان مرحوم په کلونو کې چې ما په کندز کې سبق لوست، د هندوانو او سیکانو بچو ته په مکتبونو کې خاص مشکل نه جوړېده خو اوړدو جګړو بې ادبي زیاته کړې ده او د هغو کسانو شمېر زیات شوی دی چې د بل چا ځورول ورته بده چاره نه ښکاري.

هندوانو او سیکانو د ظاهر شاه د دموکراسي په کلونو کې یو ښکلی درمسال جوړ کړی و. په درمسال کې به له سیک مذهب سره اړوند د ګروګرانت کتاب لوستل کېده او اورېدل کېده. هندوانو ویل، د کتاب یوازې وروستۍ برخه له دوی سره تعلق نه لري، نور نو د خدای د ذکر کتاب دی او خدای خو د ګردې دنیا دی.

د داوود خان د جمهوریت په کلونو کې مې یادېږي چې زموږ له ګاونډي هندو، کرتا، سره څو کسه سیکان وران شول. دغو سیکانو ته ، چې د اختر په ورځ زموږ کور ته راغلي وو، زما پلار وویل:« کرتا ښه سړی دی، جنجال مه ورسره کوئ.» دوی له هغه څخه د شکایت کولو په سلسله کې وویل:« موږ خو سیکان یو، یو خدای منو او کرتا هندو دی، بت پرست دی.»

په تېرو څلویښت کلونو کې د کندز ښار هندوانو او سیکانو ډېرې لوړې ژورې ولیدې خو درمسال یې تقریبا هیڅ وخت بند نه شو. البته، اوس هغه وختونه یوه خوب ته ورته ښکاري چې هندوانې او سیکانې به سحر او مازدیګر له کورونو جوپه جوپه راووتې او د درمسال په لور به روانې شوې. درمسال اوس هم پرانیستی دی خو داسې ښکاري لکه د مرغانو چې له خپلې ورانې ځالې زړه نه صبرېږي.

هندوان او سیکان د دوکانداري په کار کې ډېر کامیاب وو. دوی د دوکان د سینګار په هنر ښه پوهېدل. زه چې ماشوم وم، په بازار کې به مې د دوی دوکانونو ته په شېبو شېبو کتل.

زموږ د ښار هندوانو او سیکانو اکثره خېښي په جلال اباد کې له خپلو هم عقیده خلکو سره کولې. شتمنو یې له کورنیو سره یو ځای د جلال اباد د ژمي نندارہ او د ویساک مېله نه هېروله. یوه نیم کس یې په ژمي هندوستان ته سفر کاوه. سیکانو له هندوستان څخه د خپلو ګروګانو( ډېر لوی روحاني پېشوا) او د امرتسر د طلايي معبد رنګین عکسونه او مذهبي کتابونه راوړل. د سیکانو په یوه نیم مذهبي کتاب کې د قرآن کریم بشپړې سورې رانقل شوې دي، ځکه خو به یې خپل کتابونه د مطالعې شوقي مسلمانانو ته زړه ور ورکول. پر سیک مذهب باندې اسلام ژور اغېز کړی دی.

په دوکانداري او یوناني طب کې پر مهارت سربېره د دغو خلکو بېل مذهب، بېل معبد، خاصو هندي خوراکونو، د چوب بازي لوبو، ځانته ژبې، د مېرمنو جامو، او د غم او ښادۍ بېلو دودونو په کندز ښار کې د ژوند او کلتور له رنګارنګۍ سره مرسته کوله.

د ۱۳۹۵ کال سنبله

# فرغانه چیان

« فرغانه چي» یعنې د فرغانې اوسېدونکی. « چي» د انتساب وروستاړی( سفکس) دی. فرغانه د منځنۍ اسیا یوه ښیرازه او ګڼ نفوسه دره ده چې د دې درې لږ تر لږه په سلګونو کورنۍ د بلشویک انقلاب په لومړیو کلونو کې افغانستان ته راپورې وتې، چې ډیرې یې په کندز ښار کې دیره شوې. د داوود خان د جمهوریت په زمانه کې به د کندوز فرغانه چیان شاید پنځه شپږ سوه کوره کیدل، خو اوس په دغه ښار کې د هغوی یوازې د ګوتو په شمیر کورنۍ پاتې دي. نور یې له افغانستان څخه وتلي او عموما په سعودي عربستان کې میشت شوي دي. له افغانستان څخه د دوی وتنه د ثور له کودتا څخه دمخه پیل شوې وه. جنګ او کودتا یې وتنه چټکه کړه.

فرغانه چیان په خټه اوزبک دي. خو لکه د ښاریانو او کلیوالو چې فرق وي، دغسې د دوی او نورو اکثرو افغاني اوزبکو فرق دی. فرغانه چي کورنۍ خپل ماشومان خامخا جومات ته استوي، چې د دین مبادي ، تجوید او وروستۍ سپارې ټولې یا یې اکثره سورتونه زده کړي. په دې حساب هر فرغانه چي یو څه ملا دی. د دوی کورنۍ د دوی د جامو غونډې پاک ستره وي. فرغانه چي د کار لپاره بیل لباس لري. د کار په وخت د اروپایانو شپو ته ورته خولۍ چې سر او څټ له لمره ساتي، پر سروي او د کابلیانو د دریشي خو غونډې لنډ کمیس چې تنې نه لري او په سر راکش کیږي، اغوندي. په نورو حالاتو کې پتلون ته ورته نسبتا تنګ پرتوګ، کمیس، چپنه، د تور سندوف یا بخمل چارکونجه ډوله خولۍ او د هغې له پاسه د سپین ململ کوچینی پټکی د فرغانه چي سرې جامې دي.

دوی په خپلو کورونو کې د سبو له کرلو سره دلچسپي لري. د دوی اکثرو یو یا دوه، درې کسبه څه نا څه زده وي. ګڼو فرغانه چیانو ته د ابتدایي معماري چل ورځي او د سبزي کاري ، بخارۍ جوړولو او پیله وري په کار کې خو استادان دي.

دوی په کندز کې د سلیپر او ماسۍ جوړولو ( ماسۍ داسې موزو ته وایي چې پونده او تلی نه لري. د ژمي په موسم کې د جورابو له پاسه په پښو کیږي. د ماسۍ د پاسه بیا کلوشې وي. په دې ډول د کوټې په منځ کې هم د ماسۍ ایستلو ته اړتیا نشته.) د صنعت له ودې سره مرسته وکړه.

دوی په اله چه( د الف او لام په زور، د چپنې د مخ ټوکر) په تیره بیا وریښمینې الچه اوبدنې، چپن ګنډلو، جبلک( د لام په زور، هغه چپن چې پنبه نه لري او په تاوده موسم کې اغوستل کیږي.) ګنډلو، قنادي او ځینو نورو کسبونو کې ښه ماهر کسان لرل او د دغو کسبونو په وده او دودولو کې یې برخه اخیستې ده. همدا راز د حلوا د کورنۍ د ځینو خوراکونو ( لکه پشمک حلوا، کنجد حلوا، مغزي حلوا) په عاملو کې د فرغانه چیانو پر برخه سترګې نه شي پټیدلای. وروسته چې د ساعت جوړونې او راډیو جوړونې غوندې کسبونه دود شول، نو هم د فرغانه چیانو ونډه پکې ښکاره وه. د فرغانه چیانو د خوراکونو په کلچر کې منتو او اش بریده خاص مقام لري، خو په دغو دواړو خوراکونو کې د کابل تر خلکو ابتدایي دي.

فرغانه چیانو د اوزبکو تر اکثرو نورو قبیلو له زده کړې او معارف سره مینه لرله.څرنګه چې مهذب ، مذهبي او کسبګر خلک وو، د ښار په اجتماعي ژوند کې یې د خپل نفوس په تناسب ونډه لویه وه. د دیموکراسي په کلونو کې د شورا د دولسمې دورې لپاره د کندز د ښار وکیل مولوي عبدالرحمن او په هماغه وخت او راوروسته کلونو کې د اختر د لمونځونو ملا امام، قاري عبدالاحد، په خته فرغانه چي وو.

دوی په کندز کې له نیمې پېړۍ میشتېدنې وروسته هم د ماورالنهر خاطرې هېرې نه کړې. د ثور له کودتا څو کاله له مخه چې د کندز د شیرخان لیسې شاته فرغانه چیانو یو ښکلی جومات جوړ کړ، کاساني جومات یې ونوماوه. کاسان په فرغانه کې د یو ځای نوم دی.

په کندز کې د اکثرو فرغانه چیانو کورونه د یوه کاږه واږه نهر پر غاړه وو. په دغسې بې ترتیبه، بې نقشې کوڅو کې معمولا چټلي ډېره وي، خو د دوی کوڅې به خورا پاکې وې.

په افغانستان کې د فرغانه چیانو منلی مشر سید مبشر خان طرازي نومېده. طرازي چې له بلشویک انقلاب څخه وروسته افغانستان ته راغی، د خپل علمي او اجتماعي مقام په خاطر د افغانستان د پاچا علمي مشاور وټاکل شو. له دغه سړي سره د دویمې نړیوالې جګړې په کلونو کې د جرمني استخباراتو رابطه جوړه کړه . ویل کیږي چې جرمنیانو ده ته شل میلیونه افغانۍ ورکړې چې له ماورالنهر څخه راغلیو خلکو ته وربandې وسلې واخلي او د شوروي اتحاد په خاوره کې یې چریکي حملو ته وهڅوي. ګواکې د جرمنیانو مقصد دا و چې شورویان په افغاني خاوره باندې یرغل ته تیار کړي، چې په دې ډول د روسانو پرخلاف د ټولو افغانانو د جهاد لپاره لاره اواره شي. د کابل حکومت ته چې د دغه پلان پته ولګېده، سید مبشر طرازي او د هغه په پروګرام کې شامل ځینې کسان ( منجمله مولوي عبدالرحمن او قاري عبدالاحد چې مخکې یې یادونه وشوه.) یې د یو څه وخت لپاره بندیان کړل.

زما د نیکه نوکر، ایشان دا دا خان، هم په دغه حرکت کې شامل و. ایشان په راوروسته کلونو کې زموږ د کورنۍ مشرانو ته د دغه پلان او د وسلو د اخیستلو او لېږدولو کیسې کړې وې.ایشان پخپله پکې د وسلو سنبالوونکی او لیږدوونکی و.

سردار محمد هاشم خان مستبد صدراعظم و. دا چې له طرازي او د هغه له نورو ملگرو سره يې نرم چلند وکړ، يوه وجه يې د بلشويکو له مخالفو مجاهدينو سره د هاشم خان او د هغه د ورور عاطفي رابطه گڼلای شو.

زما د نيکه په کتابتون کې د منځنی اسيا د جهاد د نامتو قوماندان انور بيگ په باب د انورپاشا په نوم يو کتاب و. کتاب په هندوستان کې چاپ و، په اردو ژبه و او په دوو مقالو مشتمل و. دويمه مقاله چې د کتاب اصلي ليکنه وه او څو پنځوس مخه کيده، د اعليحضرت نادرشاه په قلم کښل شوې وه. ليکنه د هغه وخت وه چې نادرشاه لا پاچا نه و، د سپاه سالار محمد نادرخان په نوم ياديده. پلار مرحوم مې چې دا مقاله لوستې وه، وايي چې مقاله ډېره عاطفي او د منځنی اسيا له جهاد سره له خواخوږۍ ډکه وه. انور بيگ د لوی اختر په ورځ وژل شوی دی.[ په ۱۹۲۲ ميلادي کال کې] سپاه سالار د هغه د قتل له ذکره وروسته دا بيت رااخيستی دی:

دوستان ديدم به خواب امشب که می گشتم شهيد

خويش را بهر خدا در عيد قربان می کشم

او د هغه د قاتل د ذکر په وخت يې دا بيت ليکلی دی:

خون ناحق دست از دامان قاتل برنه داشت

ديده باشی لکه های دامن قصاب را

داسې معلومېږي چې د شلمې پېړۍ په دريمه لسيزه کې د افغاني پولې پر هاغه غاړه د بلشويکو په لاس د تاجيکستان، اوزبيکستان او ترکمنستان جوړولو ته په اماني او نادري دوره او لږ څه راوروسته کلونو کې ، افغاني حکومتونو د شک په سترگه کتل او دا ويره ورسره وه چې په دغو نومونو به د روسي ترکستان ويشل د افغاني خاورې په لور د روسانو د پرمخيون سريزه وي.ذکر شويو افغان حکومتونو د خپل هيواد د ملي گټو په حدودو کې د مرکزي اسيا د مجاهدينو ننگه گوله. نادرخان چې د اعليحضرت امان الله خان په وخت

کې د قطغن او بدخشان نایب الحکومه و، د مرکزي اسیا مجاهدینو ته پټې مرستې رسولې، د قطغن باخبرو سپین ږیرو ته د دغو مرستو ځینې خاطرې یادې دي.

له طرازي او د هغه له ملګرو سره د افغانستان د حکومت د نرم چلند بل علت دا و چې د افغانستان حکومت د دویم نړیوال جنګ په کلونو کې په دې نه پوهېده چې جنګ به روسان ګټي او که جرمنیان؟ دغه راز د مرکزي اسیا له پخوانو مجاهدینو سره د برطانوي هند خواخوږي هم د دې سبب کېده چې افغان حکومت له هغوی سره په احتیاط وچلېږي.

زما یو ورور اجمل پسرلی، چې څو کاله په سعودي عربستان کې محصل و، وایي، د روسانو له وتلو وروسته د ډاکتر نجیب د حکومت په وخت څو شپې په مکه مکرمه او جده کې د طرازي د کورنۍ میلمه وم. دغه کورنۍ په عربستان کې د عزت ژوند تیروي او ځینې کسان یې د سعودي په پوهنتونونو کې استادان دي. اجمل وایي، دوی نور په ترکي او افغاني ژبو نه غږېدل، په خپلو منځو کې یې هم عربي ویله، خو لویه ارزو یې دا وه چې افغان جهاد شوروي خاورو ته وغځېږي.

۱۳۷۹

# د ښاروالۍ جاروکش

د جوزا اتلسمه وه. د چوک په يوه رستوران کې ناست وم، ډوډۍ مې خوړه، يو خيرن بوډا راغی، څنګ ته مې کېناست. بوډا ريږېده، لکه ژوبل شوی پوډری. زړه مې په تنګ او تندی مې تريو شو. بوډا تريخ چای راغوښت. ما ورته خپله پاتې ډوډۍ ورکړه.دی په خبرو شو، سا يې اچوله او ويل يې:« د ښاروالۍ جاروکش يم، پنځوس کاله کېږي... يو زلمی زوی مې و، عسکر شو، شهيد شو، په کور کې لوی څوک نه لرم. د هغه صغيران راپاتې دي. اته لکه اتيا زره جنبشي افغانۍ ( يولک او پنځه ويشت زره جنبشی يو امريکايي ډالر کېږي.) مې د مياشتې تنخواه ده... پخوا به په ښاروالۍ کې شل کسه جاروکش وو، اوس يوازې دوه کسه پاتې دي...»

پوره يقين مې نه راته چې دی دې جاروکش وي. ده چې د چايو پياله سمه نه شوای پورته کولی، جاروکشي به يې څنګه کوله؟ له کړکۍ مې بهر وکتل. د پياده رو د غاړې په ونه کې يوه د اوږد لاستي جارو ځوړنده وه. د لاستي په بل سر کې يې د ببېل غوندې تېزه وسپنه وه چې د خوشايو، لوټو، تېږو او داسې نورو شيانو د لرې کولو لپاره پکارېږي. پوه شوم چې دا بايد د ښاروالي د کسانو وي.

ده ته مې وويل: جارو دې چېرته ده؟

ده همدغه ځړېدلې جارو راوښوده، خو بيا مې هم پوره يقين رانه غی. ده به نو دا جارو څنګه اوچتوله؟

په دې منځ کې یو سپین ږیری ترافیک رستوران ته راوخوت. موږ ته نژدې کېناست. هغه وویل: «ما شپږ ځلوېښت کاله ترافیکي کړې ده او دا شپږ ځلوېښت کاله مې دا سړی لیدلی دی چې په ښار کې جاروکشي کوي.»

جاروکش قسم وخوړ چې تېره شپه یې په کور کې ماشومان وږي ویده شوې دي. ویل یې، « نن کندز ته ځوک غټ مېلمانه راروان دي، ډېر کار مې کړی دی.»

زما زړه غوښتل دی ووینم چې جارو څنګه اوچتوي خو جاروکش ډېر ستړی و، نیت یې نه و ژر پاځي، زه لاړم.

۱۳۷۹

# که مه پرس...

د داوود خان د جمهوریت په کلونو کې به د کندز ښار د کلتور پارک په سمنټي چوکیو سهار او ماښام یو وچ، نری سړی، چې اوږدې غاړې، اوږدو بریتونو او د مری راوتلي جاغور ظاهر هویدا ته ورته کړی و، یوازې ناست و

هلکانو به ویل، دا سړی شرابي دی. اکثرو ورته په ښه سترګه نه کتل. په چورتونو کې ډوب حالت، یوازیتوب او په پټه خوله ناسته یې هسې هم د ګناهګارو غوندې وو.

یوه ورځ مې له خپل ملګري ګوهرشاه سره په پارک کې د ګرځېدو په حال کې دري کتاب لوست. دغه سړي چې راوکتل، ویې ویل: یو ښه شعر خو را واوروئ! په هغو وختونو کې موږ د شعر جنګي لپاره د حافظ ډېر شعرونه یاد کړي وو.

دغه بیت مې ور واوراوه:

به یکی جرعه که آزار کسش در پی نیست

زحمتی می کشم از مردم نادان که مپرس

بیت خوند ورکړ. سړی یې وغوړاوه. له هغه وروسته چې به کله په پارک کې د ده مخې ته تېرېدم، موسکی به شو، بیت به یې ووایه، سر به یې وخوځاوه، ګواکې هم یې سلام کاوه، هم یې مننه.

سږ کال ( ۱۳۷۹) مې د جوزا په نولسم مازدیګر وروسته له څوویشت کلونو، هماغه سړی د کلتور پارک پر سمینټي چوکیو یو ځل بیا ولید چې یوازې ناست و. بوډا شوی و. ږیره یې پرېښې وه. د پطلون په ځای یې ملي جامې اغوستې وې او خوله یې لکه ګوزڼ چې وهلې وي، کږه شوې وه. ما وپېژاند، ورغلم، څنګ ته یې کښېناستم. یقین مې و چې د هماغه وخت غوندې به یې ښنګلوری ښه نه ایسي، نو سمدستي مې د حافظ د بیت خاطره ورتازه کړه. سړی تازه شو، ویل یې بیت یې هېر کړی و، ډېر وخت پسې ګرځېده. بیت مې ورته تر هغو تکرار کړ چې یو ځل بیا یې حافظې ته وسپاره. ده راځخه د کاروبار، ځای ځایګي او کورنۍ په باره کې پوښتنې وکړې خو زړه یې نه غوښتل چې د ځان په باره کې معلومات راکړي. لاسونه یې رېږېدل. ۱۳۷۹

# نخښې

میر عبدالرشید اغا د کابل د ده یحیا د حاجي صاحب پای منار له اولادې څخه و. ده د داوود خان د جمهوریت په زمانه کې کابو دوه کاله د کندز ولایت د امنیه قوماندان په حیث کار وکړ. دغه قوماندان په لویدیځ جرمني کې لوړې زده کړې کړې وې. په خپل مسلک کې عالم و. جرمني او انګلیسي ژبې یې ښې زده وې. د کار لپاره شپه ورځ ورته یوه وه.

میر عبدالرشید اغا په کندز کې زما د تره په یوه کور کې چې زموږ له کور سره دیوال په دیوال و، اوسېده. مېرمن او دوې لونې یې لرلې. د واده یې لس، یولس کاله کېدل. په کندز کې خدای پاک زوی ورکړ. نوم یې اکبر ورباندې کېښود. اکبر رنځور غاړی ماشوم و. ډاکتر یې مور ته توصیه وکړه چې تر وسه، وسه خپلې شیدې ورکړي خو د مور شیدې یې لږې وې.

د اکبر مور خپل مېړه ته د شیدو د زیاتېدو لپاره د ډاکتر خبره وکړه چې مناسب خواړه ورته پکار دي خو مېړه یې ورته وویل: په پینځه زره افغانی تنخواه باندې به خواړه څنګه ښه کوو؟

اکبر هماغسې کمزوری پاتې شو.

د قوماندان د مېرمن ( عاقله جانې) او اولاد تګ راتګ زموږ کور ته ډېر و. له خصوصي ژونده یې زیات خبرېدو. ځینې کسان په رشوت نه خوړلو مشهور وي خو بیا هم له خپل قدرت څخه په غیرمستقیمو لارو د خپل مادي ژوند د ښه کولو لپاره استفاده کوي. دغسې استفاده په ځینو موردونو کې غیرقانوني یا ناروا نه وي او ډېر پاک کسان هم ورته ممکن زړه ښه کړي خو قوماندان رشید خان ته یوازې تنخواه حلاله ښکارېده. د دوی د کور ماښامنۍ به اکثره وخت چای، بوره او وچه ډوډۍ وه. قوماندان په لمانځه او روژه کې ښه تکړه و. د ده په کور

کې د روژه ماتي لپاره معمولا د ميو شوله پخېده، څکه غټې وريجې ارزانه وې.دغه شوله به ډېر خله بې غوښې وه.

رشيد خان له کندز څخه کندهار ته تبديل شو. په داخله وزارت کې يې ورته ويلي وو چې د کندهار امنيت سم نه دی، موږ مجبور يو ستا غوندې د کار سړی ورواستوو.

دی په کندهار کې د امنيې قوماندان و چې د ثور کودتا پېښه شوه. د قدرت په نشه مستو چپيانو سمدستي بندي کړ.

ميرمن به يې پسې ګرځېده چې ځای يې معلوم کړي. اخر يې د خاوند درک ولګاوه، د هغه جامې يې اُطو کړې، ډوډۍ يې ورته پخه کړه، پل چرخي ته لاړه خو د بنديخانې ساتونکو يې ډوډۍ او جامې وانه خيستې.

يو ځل ورته د هغه وخت د داخله وزير اسلم وطنجار په نوم عريضه وليکله. په عريضه کې هغې خپل مېړه ته د ډوډۍ او جامو د استولو اجازه وغوښته. اسلم وطنجار يې عرضيانه ورخيرې کړه، ورته ويې ويل: موږ مه پعذابوه،ورشه بل مېړه وکه!

سيدا ګل غريب يار چې په شپېتمو کلونو کې امريکا ته په کډه لاړ ، په ۱۳۶۰ کې په پېښور کې زما پلار ته د ميرعبدالرشيد اغا يوه خاطره داسې بيان کړه:« په پلچرخي کې مې وليد، په څمکه ناست و، يو خلی يې په لاس کې و، په څمکه يې کرښې ايستلې.

ما ورته وويل: قوماندان صاحب څه کوې؟

راته ويې ويل: نخښې پرېږدوه!

غريب يار وايي چې ميرعبدالرشيد اغا صرف څو ساعته نور ژوندی و او بيا يې اعدام ته يوړ.

ما عاقله جانه په وروستي ځل د ۱۳۵۸ کال په اوړي کې په کابل کې وليده چې اکبر يې تر لاس نيولی واو زموږ له کوره راوتله. اکبر هماغسې وچ

کلک و خو تور شوی و او د دې څرخې سترګې د پخوا غوندې غټې او ښکلې وې مګر هغه همېشنۍ موسکا پکې نه وه. د غم ګردونه یې په مخ پراته وو.

د تره لور مې ( محبوبه جانه) چې ډاکتره ده او اوس په لندن کې اوسي، پرنکال په ډیلي کې راته وویل چې د ډاکتر نجیب د حکومت په وروستیو کې یوه ورځ په پېښور کې معاینه خانې ته یوه ښځه له خپلې ناروغې لور سره راغله. ښځه راته داسې ښکاره شوه لکه پخوا چې مې چېرته لیدلې وي. اخر مې ورته وویل: ته خو به عاقله جانه نه یې؟ او هغې راته وویل: ته خو به هغه محبوبا نه یې چې د مکتب په سبقونو کې تکړه وې؟

د تره لور مې راته وویل چې عاقله جانه له پېښوره جرمني ته لاړه. د زړبودن عمر په پردېسۍ کې تېروي.

۱۳۹۳

# غرنی خوب

شعر، موسيقي، داستان، انځورګري او اکثره نور هنرونه که فايده ولري، ښه تر ښه ، کنه نو همدا کافي ده چې ښکلي وي، خو معماري برعکس، يو داسې هنر دی چې معمولا يې د فايدې اړخ ته ګورو. موږ ودانۍ د استفادې لپاره جوړوو او ښکلا يې ضمني هدف دی. په تاريخ کې د تاج محل غوندې مثالونه خورا کم دي چې اصلي هدف پکې استفاده نه بلکې د ښکلا د تندې ماتول وي.

لکه څنګه چې ښکلاوې له يو بله فرق لري، دغسې په بنيادم باندې د هر ښکلي شي بيل تاثير وي. چې غره ته ګورو، د عظمت تر اثر لاندې يې راځو او د حيرت احساس کوو خو د استاد اولمير ترانه چې اورو، د ملي غرور په احساس کې ډوبېږو.

د باعظمتې معماري اغيز د غره اغيز ته ورته دی. لويو او باذوقو شاهانو لويې ودانۍ يوازې د استفادې لپاره نه بلکې د دې لپاره هم جوړولې چې وګړي يې تر تاثير لاندې راشي او د تسليم حالت پکې پياوړی شي.

په افغانستان کې يوه هغه ودانۍ چې د عظمت ساری يې ډېر کم پيدا کېږي، د کونړ په نورګل کې ده. دغه کلا چې حاجي حسام مرحوم يې نقشه ايستلې او په خپلو پيسو ودانه کړې، د تاج محل په شان د دې لپاره جوړه شوې ده چې د هنر او کلتور يو اعلی مثال وي. شاهجهان پاچا چې د هندوستان خزانې ورسره وې، د تاج محل د ودانولو په مټ وغوښتل چې له ارجمند بانو سره د خپلې مينې ياد ابدي کړي خو زموږ حاجي حسام مرحوم په هغو پيسو چې په خپل زحمت يې ګټلې وې، د کونړ د دوديزې معمارۍ د يوه تلپاتې شهکار د

جوړولو هڅه وکړه. يو اروپايي ليکوال تاج محل ( مرمرينه مرثيه) بولي. زما زړه غواړي د حاجي صاحب کلا( غرنی خوب) يا ( غرنی ارزو) ونوموم.

زه دې کلا ته دوه ځله ورغلی يم. په وروستي ځل د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ کې له حاجي صاحب سره په کلا کې وګرځيدم. ده راته وويل:« اولاد مې په دې راضي نه دی چې په کلا مې په سلګونو لکه افغانی لګولي دي، خو زه غواړم د دې سيمې د معماري يو شهکار ولرو».

په دې باعظمته، څو پوړيزه کلا کې چې د غره په ډډه کې د کونړ له تيرو او لرګو رغيدلې ده، بنيادم داسې احساس کوي لکه تيرو زمانو ته چې ستون شوی وي. په معاصرې معماري نيوکه کيږي چې د بنيادم د جسم اړتياوو ته ځواب وايي خو د روح اړتياوو ته پکې پام نه کيږي. د حاجي صاحب کلا د معاصرې معماري برعکس، د لاشعور غوښتنو ته ځواب وايي. په دې کلا کې به داسې احساس کوې، لکه خوب چې وينې او يا لکه د پخوانو نکلونو په خيالي دنيا کې چې ګرځې. د کلا د جومات په ديوال کې مې د يوې صندوقچې په اندازه ځای ته پام شو. حاجي صاحب ته مې وويل: دا د څه لپاره؟ د حاجي ځواب ډير خوند راکړ:« بس هسې!» د هنر اصلي قلمرو له هاغه ځايه پيليږي چې د توضيح قدرت پای ته رسيږي.

زما په نظر که له حاجي صاحبه يوازې د نور ګل کلا پاتې وای، بيا به هم د دې وطن په نه هيريدونکو کسانو کې حساب و.

زموږ په ښارونو کې ځينې ودانۍ ډيرې ښکلې دي، مګر عيب يې دا وي چې له چاپيريال سره لازم تناسب نه لري. که يوه شانداره مانۍ له تنګو اپارتمانونو سره خوا په خوا وي، ممکن د يو بل په څنګ کې ښې ښکاره نه شي. د نورګل د لويې او ډبرينې کلا يو امتياز دا دی چې ډبرين غره ته يې ډډه لګولې ده او چې بر سر ته يې وخيږې، پوه به شې چې د کور د حويلۍ شاتنۍ برخه

دې د غره د منځ غېږه ده. د کلا د منځ لارې او کوټې هم د غره احساس درکوي، لکه په غره کې چې ګرځې او ناڅاپه د يوې کوټې دروازه درښکاره شي.

د نولسمې پېړۍ جرمن مفکر ګوستاو تيودور فکنر ويلي دي چې معماري تر ټولو اوچت هنر دی،ځکه د ماڼيو، معبدونو، تياترونو او داسې نورو ودانيو د جوړولو په برکت ټولو هنرونو ته د ودې امکان برابر شوی دی. زما په نظر د نورګل کلا د کلتوري آثارو د نندارتونونو، مشاعرو او فلمونو لپاره پکاريدای شي او لکه څنګه چې د حاجي صاحب ارزو وه، که کونړ او غزنی حالت يې وساتل شي نو د هر هغه ګرځندوی لپاره به يو جالب ځای وي چې د افغانستان د ختيځ په يوه پخوانۍ کلا کې اوسيدل غواړي. په دې کلا کې چوکی نشته، بلکې د حجرو په دود کټونه ايښي دي او تر وسه وسه له فلز څخه نه بلکې د کونړ له لرګيو استفاده شوې ده. حاجي حسام د کلا په کتابتون کې راته وويل:« دا اصيل لرګي دي، په سلګونو کلونو به يې خوشبويي خپريږي.» حاجي صاحب له دې خبرو دوه، درې مياشتې وروسته د تير حوت په وروستۍ اونۍ کې وفات شو.

د ۱۳۹۴ کال حمل

# غیرتمن عالم

د جمعې په ماښام انځور صاحب راته وویل چې د پوهاند کاکړ د عمر وروستي ساعتونه دي.

که څه هم د پوهاند صاحب په باره کې مې څو ورځې له مخه اورېدلي وو چې تر یوې اونۍ به ډېر ژوند ونه کړي خو د انځور صاحب خبره داسې راباندې ولګېده لکه بیخي نوي څه چې اورم.

پوهاند صاحب د عمر اته اتیا کاله پوره کړي وو. دا لنډ عمر نه دی او مرګ حق دی خو د جمعې په شپه ناکراره وم او په سهار مې د هغه په باره کې د نوي خبر لټون په داسې انداز کاوه لکه څوک چې له سخت امتحانه وروسته د خپلو نومرو پوښتنه کوي.

په ځوانۍ کې بنیادم ډېر فرصت لري چې له ژونده خوند واخلي او ټولنې ته خیر ورسوي. د ځوان په مړینه ممکن احساس کړو چې لوی فرصت ضایع شو او مرګ له ژوند سره بې انصافي وکړه. د پوهاند صاحب په عمر مړینه غیرطبیعي نه ښکاري او زړه یې منلای شي، خو له دې حقیقت سره سره د جمعې شپه درنه راباندې تېره شوه او د جمعې په ورځ د ګڼو کسانو له تاثراتو خبر شوم.

معصوم هوتک د هغه لپاره په مرثیه کې وویل چې:

په کلـــــــــــونو روزل ســـــــوي ستر مغزونه

په یـــــــــــوه شېبه کي خــــــاوري سي ایرې

د عالم سړي پر مړینه د افسوس یوه وجه همدا ده چې لویه انساني تجربه او ستره معنوي سرمایه د سترګو په رپ کې پوپنا شي.

البته د ډېر عمر کسان معمولا د ژوند په وروستیو کلونو کې کار او فعالیت پرېږدي او ټولنه ورو ورو عادت کړي چې هغه لویه سرمایه او تجربه ضایع شوې وګڼي

خو پوهاند صاحب کاکړ برعکس، د ژوند تر وروستیو ورځو فعال و. استاد شپون راته وویل چې هغه به د ژوند په وروستیو میاشتو کې هم د خپلو نویو هڅو خبرې کولې.

د پوهاند صاحب لور، خوروې کاکړ راته وویل چې په اخري کلونو کې به یې، چې پخوانی قوت ورسره نه و، ډیر ځله ترجمې ته مخه کړه ، ځکه ترجمې د تحقیق په اندازه نه په تکلیف کاوه. خوروې یې په دې وروستیو کې د یوه بشپړې کړې ترجمې خبره کوله چې تر چاپ لاندې ده او استاد شپون یې د وروستیو وختونو د یوه نیمګړي کتاب یادونه وکړه.

خواجه حافظ وايي چې د آتش پرستو په پیرخانه کې یې ځکه قدر کیږي چې په زړه کې یې هغه اور بل دی چې هیڅوخت نه مري.

د زماني بادونه د رښتونې مینې ډیوه نه شي وژلای. پوهاند کاکړ چې په څو اتیا کلنی کې یې هم زړه له کاره نه صبرېده، وجه یې هماغه اور و چې په ځینو زړونو کې بل شي او هیڅوخت نه مري.

حنیف بکتاش مرحوم د تاریخ ډاکټر او متخصص و. ایمل پسرلي د هغه له قوله لیکلي دي چې په افغانستان کې یوازې پوهاند حسن کاکړ په نوي میتود تاریخ بیانوي.

تاریخ لیکنه زموږ په کلتور او ادب کې له پیړیو راهیسې دود ده. زموږ په دودیزه طریقه کې مورخ د یوې اوریدلې، لیدلې یا لیکل شوې پیښې کټ مټ رانقل کولو ته تاریخ لیکنه وايي خو د نوي میتود مورخ د پیښې په رپوټ کې شک کوي، مختلف او متضاد اسناد رااخلي ، د یو بل په څنګ کې یې ږدي او په دې ډول غواړي د زماني په دوړو کې پټ حقیقت راوسپړي او د پانې بل مخ هم ولولي. پخوانی مورخ د پیښو په علتونو پسې چندان نه ګرځي او دې شي ته یې لږ پام کیږي چې پیښې له یو بل سره د علیت په تار وپیيي او رابطې یې ومومي.

پوهاند صاحب تر ډیره حده د افغانستان د شلمې او نولسمې پیړۍ د حالاتو په باره کې تحقیقي لیکنې کړې دي. په تیرو څلورو لسیزو کې سیاسي اختلافونه او کشمکشونه د دې سبب شول چې د هیواد د شلمې او نولسمې پیړۍ د تاریخ په

اره ډېر افراطي قضاوتونه وشي. پوهاند صاحب که څه هم اکثره ليکنې د سياسي کشمکشونو په همدې موده کې وکړې او په همدې موده کې يې پنځه کاله بنديخانه او څو لسيزې جلاوطني وزغمله خو د تاريخ د عالم په حيث يې تر وسه وسه هڅه وکړه چې علمي بې طرفي وساتي. دی نه د ځينو درباري خاطره ليکونکو غوندې خلک په تک تور او تک سپين ويشي او نه د ايډيالوژيو تر اثر لاندې دی چې تاريخ په لوی لاس په خاصو قالبونو کې واچوي او مثلاً د پروفيسر اسلانوف غوندې د روښانيانو هڅې طبقاتي مبارزه وبولي.

د لويديځ اکثره تعليم يافته نه د ميتود مشکل لري او نه په ظاهره د خاصو ايډيالوژيو په لومه کې ايسار دي خو ځينې يې د لويديځ تر اثر لاندې دومره ډېر راغلي وي چې صرف هغه څه ورته حقيقت ښکاري چې غربيان يې حقيقت بولي. د ځينو نورو کسانو اشتباه بيا دا ده چې د خپلې ټولنې په نيمګړتياوو کې خامخا د پردو لاس ويني.

پوهاند ډاکتر حسن کاکړ په لندن کې د تاريخ دوکتورا اخيستې وه، مګر حقيقت تر دې لوی ورښکارېده چې بوازې د لويديځ له لورې ورته وګورې او يا د ګڼو وطني صاحبنظرو غوندې ټوله ملامتي په پردو واچوي.

تېر ماښام د دويچلې راډيو اسماعيل شاکر ټلفون راکړی و چې د پوهاند کاکړ په باره کې مرکه ورسره وکړم. ما په خپلو خبرو کې د پوهاند صاحب علمي شخصيت ته اشارې وکړې . له مرکې وروسته په ذهن کې راوګرځېدل چې کاشکې مې دا هم ويلي وای چې پوهاند کاکړ غيرتمن انسان و،

چې په وطن بده ورځ راغله، دی د وطن په ننګ ودرېد او د مرګ تر شيبې يې افغانستان ته خدمت وکړ. له خوږې کاکړ مې واورېدل چې د پلار يې ارزو وه چې په وطن کې داسې ځای خاورو ته وسپارل شي چې هلته د يوه کتابتون او تحقيقي مرکز د جوړېدو امکان وي او په دې ډول يې قبر د وطن خلکو ته د خير سبب شي.

يکشنبه، د جدي نولسمه، ۱۳۹۵

# د مهاجرت نخښه

په روان کال کې په سلګونو زره افغانان وطن ته راستانه شول. هغه کسان چې هیڅ ګومان نه کیده چې له پاکستانه به راووځي، راکډه شول او دا لړۍ لا روانه ده. پرون چې شربت ګله وطن ته راغله، داسې مې وګڼله چې دغه تریخ داستان په ریښتیا پای ته رسیږي.

دا لنډۍ مې د شلمې پېړۍ په اتیایمو کلونو کې په پېښور کې اورېدلې وه:

خدایه هغه ساعت به کوم وي

چې په تورخم کې کډې وراندې وروسته ځینه

په تیرو څلورو لسیزو کې په میلیونونو افغانانو په پاکستان کې ژوند وکړ، څا یو کال، څا لس کاله او څا د عمر لویه برخه هورې تیره کړه. زموږ یو ګڼ شمیر وطنوال په پاکستان کې وزیږېدل او ګڼ نور د پردیسي په هدیرو کې خاورو ته وسپارل شول.

جرمن شاعر برتولت برښت ویلي وو چې په کوڅوکې له تیرېدونکي باده پرته نورهیڅ نه پاتیږي، خو د مهاجرو د کمپونو چې کوڅې هم له منځه ځي، له ماتو ګوډو خاطرو پرته به څه ورنه پاتې شي؟ دیرش کاله پخوا د ناصر باغ یا کچه ګړۍ کمپونه بنارونو ته ورته وو او اوس یې تنها نومونه راپاتې دي.

د هجرت دوران ډیر مشکل و. د دغه ژوند تصویرونه د هغه وخت په ځینو کیسو، شعرونو، مقالو او عکسونو کې لیدلای شو. البته، زموږ د هغه وخت په ځینو مطبوعاتو کې به په داسې انداز لیکنې کېدلې لکه پخوا چې په وطن کې ژوند بد و او اوس کامیابي او کامراني پیل شوې ده. په یوه خپره شوې بیوګرافي کې د ظاهر شاه د دوران په باره کې لیکلي وو چې د ظلم او جهل توره کمپله خپره وه، د حق اواز نه اورېدل کیده ... په دغسې چاپیریال کې پلانی دنیا ته راغی...

هغوی چې د مهاجرو سياسي نمايندګي يې کوله، په وطن کې تېر کړی ژوند چندان نه ياداوه ، تر ډېره حده له نن سره بوخت وو خو عام مهاجر په تيره بيا ښځې او بوډاګان د وطن د فراق په اور کې سوځېدل.

پلار مرحوم مې د سپيدې په نوم يوه مجله خپروله. د يوې ګڼې په پوښتي يې د شاه دوشمشيره جومات عکس چاپ کړی و. مجله چې استاد خليلي مرحوم وليده، ناڅاپه په ژړا سر شو، جومات ته نژدې يو ځای ته يې ګوته ونيوله، ويې ويل، دغلته مې د ماشومتوب مستی کړې دي.

مهاجر به هميشه د يو بل کور ته تلل او د نوې خبرې د اورېدو په تمه به وو. کله چې شوروي مشر برژنيف مړ شو، استاد رفيع زمور کور ته راغی او هغه شپه تر سهاره په خبرو، په بحثونو، په شعرونو وينبه تېره شوه.

ورور مې ( اجمل پسرلي) په هغو کلونو کې ( د مهاجر خيرات ) په نوم يوه لنډکی کيسه وکښله. په دې کيسه کې د يوې کونډې مهاجرې زوی مري او دا حلوا پخوي ، کوڅې ته يې باسي. په کوڅه کې چې ځايي خلک اوسي ، هيڅوک د بېوزلې کونډې د حلوا خوړلو ته تيار نه دي. په دغسې کيسو کې مبالغه نه وه.

په کچه ګړی کې يوه برنډه وه. هورې به يو سپين ږيری ګونګی ناست و، لويديځ ته به يې کتل، د افغانستان خواته. د ده له وفاته وروسته خبر شوم چې سپين ږيري وطن ته د تلو ارزو لرله.

په همدې کمپ کې مې يوه ورځ ماشومان وليدل چې د پوليس په ليدو يې ژړل. د الوتکو د تيرېدو په وخت کې مې هم د مهاجرو ماشومانو ژړا اورېدلې ده. البته، ماشومانو په لنډ وخت کې له نوي چاپيريال سره ځان بلداوه. نارينه وو د پام غلطولو لپاره په خپل منځ کې مجلسونه کول، په ښار کې ګرځېدل، سياست يې کاوه، جهاد ته تلل، د کار پيدا کولو هڅه يې کوله او په جوماتونو کې يې د ملا صاحبانو وعظونه اورېدل. ګومان کوم د بې وطني درد ښځو ډير وګاله.

یوه ورځ اسلام اباد ته تللی وم. ژمی و. په لاره کې ټکسیلا ته نژدې ناڅاپه واوره پیل شوه. په بوتل کې مې واچوله، پیښورته مې راوړه. مور مې ورته دومره خوشاله وه، لکه چا چې لوی سوغات ورکړی وي.

هره هغه نخښه ښه لګیده چې وطن به یې در یاداوه. د پیښور په بورډ کې مهاجرو رستورانونه جوړ وو، د وطن په دود یې تختونه پکې ایښي وو. کله کله به له کوره لاړم، هورې به مې چای راوغوښت چې وطن احساس کړم خو لکه په خوب کې چې تېرې یې او اوبه څښې، تنده وربادې نه ماتیده. کور ته چې به راستنیدم ځان به راته کم عقل ښکارېده چې واقعیتونه نه منم او په خیال کې اوسم.

د هجرت په کلونو کې به دې ته هم خوشحاله وم چې په خوب کې وطن ووینم. د هغه وخت ګڼ خوبونه مې لیکلي دي. ګومان کوم داسې شپه ډیره لږ راغله چې په خوب کې دې په افغانستان کې نه یم.

یوه ورځ له شپږ، اووه کسه مهاجرو زلمو سره ناست وم، د خوبونو ذکر راغی. دوی ټولو وویل چې په خوب کې معمولا وطن ته ځي او هورې عسکر پسې راځي چې عسکري ته یې ونیسي. د اتیایمې لسیزې اوږده، وژونکې او اجباري عسکري د افغان زلمو په غاړه ایښې توره وه چې ان په پیښور کې یې ارام ته نه پرېښودل.

د مهاجرت په ژوند کې زړه ډیر نازک وي. تېره اوني یوه تازه راغلي مهاجر کیسه کوله چې نن سبا پولیسو نه په تنګولو خو په کوڅه کې مې دوه، درې ځله له ځایي خلکو واورېدل چې کله به ځئ؟ دې پوښتنې وطن ته راستون کړم.

د ده کیسې ما ته خپلې خاطرې رایادې کړې.

په اتیایمو کلونو کې چې په پیښور کې محصل وم، ټولګیوالو مو مېله جوړه کړه. فیصله دا وه چې ټول به یوه کس ته پیسې ورکوو او لګښت به د هغه په غاړه وي. دغه کس په اوله کې له ما پیسې وانه خیستې او چې د مېلې په پای کې مې د پیسو ورته وویل ، نورو ته یې وکتل ، ویې ویل: خیر دی، له تا یې نه اخلو.

دې خواخوږي ودردولم او چې په وروستي کال ټولګیوال کراچي او نورو ښارونو ته د پوهنتون په لګښت د سیر علمي لپاره تلل، په کور پاتې شوم.

په لومړي ځل چې مې پروفیسر تقویم الحق کاکاخیل ولید، راته ویې ویل: خلک وايي د مهاجرو دې خپل وطن په نصیب شي، خو زه وایم همداسې ښه دي.

په ما یې خبره بده ولګیده. استاد زیاته کړه: زه د زړه مریض یم او ډاکتر راته وايي چې منې خوره. که ځايي دوکاندارانو ته ورځم په تریو تندي راسره چلیږي خو له کابلیانو چې یې اخلم، سړیتوب راسره کوي، نو زه ولې د افغانستان خیر وغواړم؟

استاد قلندر مومند یوه ورځ راته وویل چې کامل صاحب ستاسې له لاسه مړ شو. ویل یې، هغه د زړه ناروغ و او ډاکتر ورته ویلي وو چې منې خوره خو ده نه خوړلې او تینګار یې کاوه چې د افغانستان منې د افغانانو په وینو لړلې دي، تر ستوني مې نه تیریږي..

استاد دوست محمد خان کامل مومند په افغانستان کې د وینو د سیلاب په لومړي کال وفات شوی و. د پاکستان د خپلو منو پیداوار په هغه وخت کې زیات نه و.

انا مې په هجرت کې مړه شوه. سرطان وه. د ژوند په وروستي میاشت کې زه ورسره په کوټه کې وم. د هغې د کوټې په دیوال د افغانستان نقشه ځوړنده وه. چې په هوش به وه، تر ډیرو پورې به یې نقشې ته کتل.

د مهاجرت ژوند ټوکې هم لرلې. مهاجرو ته به راشن ورکول کېده. په راشن کې به خوراکي مواد، لکه چای، بوره او غوړي وو. دوی یوه ټوکه جوړه وه چې یو چا خپل میلمه ته وویل شین چای څښې که تور ؟ میلمه ورته وویل: هر څه چې په راشن کې وي.

مهاجرو یوه بله ټوکه هم کوله. دوی به ځايي خلک په سختۍ تورنول. ویل یې یو ځوک د چا کورته ورغلل. کوربه په دې تمه چې میلمه به چاي ونه څښي، پوښتنه ورځخه وکړه: تور چای څښې که شین ؟ میلمه ورته وویل: تور چای به اوس وڅښو او شین به له ډوډۍ وروسته.

لکه د برېښنا لوخ لاین ته چې لاس وروړې، لکه سین ته چې ودانګې او لامبو دې نه وي زده، لکه د ۱۹۸۵ کال د ماشومې شربت ګلې لېمو ته چې وګورې، مهاجرت بورنووونکې تجربه وه.

د افغانستان ولسمشر شربت ګلې ته په کابل کې یو کور ورکړ. د کور د ورکولو په حکم کې یې شربت ګله د افغان کډوالو نخښنه بللې ده.

دا نخښنه چې اوس په کابل کې ده، داسې احساسوم چې په پاکستان کې زموږ د پردیسي داستان پای ته رسیږي. داستان پای ته رسیږي خو په خاطرو کې له سره ژوندی کیږي. تر پرانیستې دروازې دې بنده دروازه د یوه کور منځ ته ډېر وربولي.

د لړم شلمه، ۱۳۹۵

# له پلار سره پلي تګونه

پلار مرحوم (محمد صدیق پسرلی) به مې د عمر په وروستیو کلونو کې
هره ورځ کاوه چې تر زړه‌بوډئ په ځوانی کې ورته پلی تګ سخته و.

ده تر څوځلوییشت کلنی پورې یو ډول بې فیلتره ډیر ترخه روسي سګریټ
څکول. د داوود خان د جمهوریت په کلونو کې ډاکتر له سګریټو منع کړ. پلار
به ویل چې د سګریټو تر بس کولو له مخه به که څو سوه متره مزل هم و، د موټر
انتظار به یې کاوه.

د سګریټو له پرېښودو څو میاشتې وروسته یې یو ماسپښین راته وویل
چې راځه په بازار کې یو ښایسته خط درښکاره کړم!

ګومان کوم ځکه یې په ما باندې اواز وکړ چې زه د پلي تګ ډیر شوقي
وم. البته د خطاطي کتابونه به مې هم اړول را اړول. پلار به مې کله نا کله په
کور کې اړ څو ساعته د خوشخطو آثارو په ننداره تېرول. ما به هم د پخوانو
استادانو د خوشنویسي آثار په غور کتل خو د خط په ښایست چندان نه پوهېدم
بلکې په دې تمه وم چې د پخوانو استادانو د ښکلو خطونو ننداره به مې ګوندې
له تېرو ورکو زمانو سره وصل کړي.

پلار په بازار کې د یوه دوکان لوحې ته ودرولم او راته ویې ویل: خصوصا
دا وروستی لام یې ډیر ښکلی دی!

خط به ښایسته و او لام به یې شاید لا ډیر ښایسته و خو ما اصلي خوند
له پلي تګه او د پلار له ملګرتیا واخیست.

پلار مې ټول عمر د ښکلو خطونو د ننداري شوق هېر نکړ. کله نا کله به
یې خپل میلمانه د خوشنویسي یو اثر ته ودرول چې سترګې ورباندې خوړې
کړي او زه به د هغه په دې کار نه خوشحاله کېدم، ځکه ګومان مې کاوه چې
میلمانه شاید هسې د ده په خاطر د خط ننداري ته درېږي.

دغه لوحه چې ذکر یې وشو د کندز ښار چوک ته نژدې په یوه دوکان باندې ځوړنده وه. په هغه وخت کې زه د نهم ټولګي زده کوونکی وم. له پلار سره د پلي تګ دا بله کیسه له پیښنور او کابو یوې لسیزې وروسته مودې سره تعلق لري. زموږ کور په کاکشال کې و. کاکشال د پیښنور یوه مشهور او تاریخي پارک، وزیر باغ ته نژدې دی. وزیر باغ د وزیر فتح خان بارکزي یادګار دی. وزیر باغ په پیښنور کې د تاریخ او ښکلا یو اعلی مثال و چې خدای دې وکړي، لا زیات نه وي تخریب شوی. د شلمې پیړۍ په اتیایمو کلونو کې چې زه په پیښنور کې وم، د باغ تاریخي اهمیت ته خاصه توجه نه کېده او د ښاروالي انجنیرانو ته دا بده نه ښکارېده چې مثلا د سیمې د اوبو ذخیره په پارک کې جوړه کړي او د دوه سوه کلنې ښکلا ځای د سمنټو یوې لویې بدرنګې کوټې ته ورکړي.

په هغو کلونو کې له پلار سره وزیر باغ ته ډېر ځله تللی یم. یو مازدیګر چې ماښام ناوخته له پارکه راوتلو، پلار مې راته وویل: نن مې د خپلې خوښې ټول شیان ولیدل، هم ماشومان زیات وو، هم زیړ ګلونه غوړېدلي وو او هم مې یو ښایسته آس ولید. او بیا یې پاس په اسمان کې ستوریو ته وکتل چې خپل خوندونه تکمیل کړي.

پلار به مې افسوس کاوه چې د ستوریو په باره کې یې معلومات کم دي. د ده په شعرونو کې ستوري ډېر یاد شوي دي. د داوود خان د جمهوریت په کلونو کې مې یوه ورځ یادېږي چې د کندز د جریدې مسوول مدیر ( لکه چې اسلم عادلیار نومېده) زما پلار ته راغی او د اخبار لپاره یې د شعر غوښتنه ورځخه وکړه. پلار مې دغه څلوریزه چې تازه یې لیکلې وه، ورکړه:

د لرې ستوریو په غبږ کې ډنډ وای
څو وزر ماتې مارغان پرې پنډ وای
یا خو په مځکه له ښه ضمیره
حکومت لرې، عدالت لنډ وای

د جريدې مسوول مدير وويل: داسې شعرونه خو په حکومت ښه نه لګېږي!

د جريدې مدير هغه څلوريزه نشر نه کړه او بل ځل يې شعر ونه غوښت.

ګومان کوم زما پلار د ګلونو مينه له خپلې مور او د آسونو مينه له خپل پلاره په ميراث وړې وه. د مور يې ( زما انا) له ګلونو سره سخته جوړه وه، کرې ورځ به يې د ګلونو په پاللو تېروله او پلار يې( زما نيکه) د ځوانۍ په کلونو کې د آس په شا اوږده مزلونه کړي وو، مثلا د آس په سورلۍ له افغانستان څخه روسي ترکستان ته په ځلونو تللی او راغلی و. نيکه مې د ځوانۍ په کلونو کې په غزني کې د سانګه وهلو خوږې خاطرې هم لرلې. پلار مې چې په کندز کې لوی شوی و، د خپلې ځوانۍ په کلونو کې د سانګې نه بلکې د اوزلوبې لپاره آسونه ساتل. ده به ويل، په اکثرو پخوانو کتابونو کې د آس بحث له خرافاتو سره مل دی خو خوشحال خټک چې د ښه آس په باره کې څه ويلي دي، له واقعي تجربو سره سمون خوري.

له پلار سره د پلي تګ يوه بله خاطره هم د کندز د وختونو ده. د ديارلس سوه شپږ پنځوسم کال د اوړي يو مازديګر و چې د قدم وهلو په نيت له کوره ووتم او چې څنګه ساعت نيم پس بيرته راغلم، پلار مې راته وويل: زړه مې غواړي، لږ وګرځم .

ما ورته وويل: ملګری دې يم، چيرته لاړ شو؟

ويل يې: هر چيرته چې ستا خوښه وي.

موږ د سپين زر چمن په خوا روان شو.

ما مخکې د کندزښار له سپين زر چمن سره په لسګونو نوي روسي زرهپوښ ګاډي او ټانکونه ليدلي وو. په هغو کلونو کې به وسلې د شيرخان بندر له لارې راوړل کېدې او د وسلو کاروان به تر ماښامه پورې، چې بيا به د کابل په لوري روانېده، د ښار په دغه ځای کې ولاړ و.

پلار ته مې ونه ویل چې ولې یې د سپین زر چمن خوا ته بیایم. غوښتل مې له ناڅاپي خوشحالي سره یې مخامخ کړم. ما چې به کله هم نوي کاغذ پیچه ټانکونه، زرهپوښ او نور نظامي وسایل ولیدل، خوشاله به شوم او افغانستان به لا پیاوړی راښکاره شو. کله چې د ټانکونو او زرهپوښو ځای ته نژدې شو ،پلار ته مې وویل: اوس به د نویو وسلو یو لوی کاروان ووینې. پلار مې سمدستي ودرېد، ویې ویل: دا ټانکونه به یوه ورځ زموږ خپل کلي له خاورو سره خاورې کوي، نه یې ګورم!

دا خبره مې ځکه په حافظه کې پاتې شوه چې په هیڅ وجه راته د منلو نه وه خو دوه کاله لا نه وو تېر چې ټانکونو همدا کار پیل کړ او د مهاجرت له اوږدو کلونو وروسته چې وطن ته راغلم، اکثره کلاګانې مې له خاورو سره خاورې شوې ولیدې.

ما په راوروسته لسیزو کې څو ځله پلار ته وویل چې دی څنګه پوهېده چې دا ټانکونه به د وطن کلي ورانوي؟ د ده ځواب به دا و: هدونه مې خبر و، یعني شپږم حس راته ویل.

د داوود خان مرحوم د جمهوریت په دوران کې که څه هم وطن ډېر ارام و خو له پلار سره به مې ویره وه چې یو بد حالت راروان دی. د دې ویرې یوه بله نه هیرېدونکې خاطره هم لرم. پلار مې په یوه واده کې د ګډون لپاره چاردرې ته تللی و، چې څنګه مازدیګر کور ته راغی، د شعرونو کتابچه یې وغوښته. ورته را مې وړه. له جیبه یې یوه ټوټه کاغذ را وایست او د هغې له مخې یې په کتابچه کې دا څلوریزه ولیکله:

پښتون زلمیه بې توله مه شې
پښتنې ناوې بې پسوله مه شې
حلقې دې مه شه د اتڼ ړنګې
پښتون ولسه بې دوله مه شې

چې ځنګه د کورنیو جګړو اورونه بل شول، د دغه واده زلمی او د هغه پلار خونکارانو ووژل او کورنی یې د کور کلي پرېښودلو ته مجبوره شوه. له دې ترخو پېښو وروسته به مې پلار ویل چې دا ځلوریزه د واده په شیبو کې یوې پټې وېرې وربانډې وویله.

له پلار سره د پلي تګ یوه بله خاطره له کابل او د هغه د عمر له وروستیو کلونو سره تعلق لري. په ده افغانان کې ورسره پلی ګرځېدم، یوې کوڅې ته یې لاس ونیو، ویې ویل: ستا تر تولد پخوا په دغه کوڅه کې په یوه بالاخانه کې څو میاشتې اوسېدلی یم.

ما ورته وویل: راځه ورشو، ګوندې پیدا یې کړو!

پلار مې وویل: اوس حوصله نه لرم.

د ۱۳۹۲ کال په جدي کې د پلار له وفاته وروسته یوه ورځ د دې کوټې د موندلو ارزو بې قراره کړم. زه د ده افغانان په کوڅو کې شل، پنځه ویشت دقیقې په یوې داسې کوټې پسې ګرځېدم، چې هیڅ نخښنه یې راسره نه وه او که یې نخښې هم راسره وای، دا امکان ډیر کم و چې شاوخوا نیمه پیړۍ وروسته دې په خپلو پښو ولاړه وي. په یوه جاپاني هایکو کې شاعر ارزو کړې وه چې کاشکې د مور او پلار د واده په هغه کالیزه کې حاضر وای چې زه لا دې دنیا ته نه وم راغلی.

۱۳۹۵، جدي

# وروستۍ ورځ

د یکشنبې د سهار په اته بجې چې د پلار کټ ته ودرېدم او سلام مې وراچاوه، غبرگون یې نه و. ورټیټ شوم، خوله مې غوږ ته ورنژدې کړه، اواز مې ورباندې وکړ: اغا! اغا! اغا!

پوره بېهوشه و. اغا د میترو روغتون د آی، سي، یو د کونج د کوټې په یوازیني کټ باندې تر بل هر وخت بېوسه پروت و. نیم پرانیستې سترگې یې نه رپېدې. لکه چا چې اوږده منډه کړې وي، سا یې ژر ژر اخیسته. په خولې او پوزې پورې وصل شویو پایپونو کې یې اکسیجن او درمل روان وو. ژوند لا د مرگ منلو ته تیار نه و.

پرون ډاکتر پیهوش ویل چې سینې ته به یې یو پایپ ورتېروو او بلغم به ورنه راباسو. د هغه په قول په دې کار کې څلوېښت فیصده د مرگ خطر دی. ما چې د اغا اوسني حال ته وکتل، څلوېښت فیصده خطر راته اسانه انتخاب ښکاره شو. لږ وروسته محبوبا( د تره لور مې) آی، سي، یو ته راغله او د نرسانو له مشرې سره ودرېده. محبوبا چې په پاکستان، انگلستان او کوېټ کې یې طبابت کړی دی، پخپله یوه لویه ډاکتره ده. دا نه یوازې له معالجو ډکترانو او نرسانو سره په خبره ښه پوهېده، بلکې هغو یې خاطر هم کاوه. محبوبا راته وویل: دوی غواړي چې اول یې باید د گردو د فعالولو غم وکړي.

پرون مې له ډاکترانو اورېدلي وو چې د گردو فعالیت یې یو څه بهتره شوی دی خو نن د پایپ د تېرولو په ځای د گردو خبره کېده. محبوبا ته مې وویل: سینې ته یې پایپ له دې وروسته تېروي؟ هغې را وویل: معلومه شي.

له آی، سي، یو راووتم. نه پوهېدم چې څه وکړم. د میترو روغتون ( پوره نوم یې Metro Hospitals and Heart Instituteدی.) په پاسني منزل کې مو کوټه وه. کوټې ته لاړم. کوښښ مې وکړ چې فکر بدل کړم خو نه کېده. د کوټې د دېوالي ساعت ټکهار هم کافي وو چې اعصاب راوږیچوي. د روغتون د دهلیز په دیوال باندې

مې دا شعار ولوست: ټولې ورځې يو شان دي خو دا زړه دی چې فرق پکې راولي. په ذهن کې راتېره شوه: که مشکل ومنم او معقول فکر وکړم، وارخطايي به کمه شي.

يو ځل بيا آی، سي، يو ته لاړم. خوريی مې ( فريد) چې د اغا د عيادت په کار کې راسره ملګری و، د اغا کټ ته غلی ولاړ و. فريد تېره شپه ذکام شوی و.

وروسته يې اغا د دياليز کوټې ته بوت چې د ګردو د نه فعاليت په وجه راپيدا شوې ستونزه يې حل شي. هورې څو ساعته پروت و. د ډاکتر انونن په نوم يو متخصص وربانديې بوخت و. محبوبا يې په سترګو ګوتې ووهلې چې ګوندې غبرګون وښيي خو غبرګون نه و. بيا يې په تندي باندې يو څه ملهم ورموښل. مرګ د سيوري غوندې غلی راروان و.

مونږ د تېرې سه شنبې په ورځ ډيلي ته راغلی وو. د سه شنبې په ماښام پوچا نومې نرسې خواړه ورته راوړل. له ځانه وړوکې، توره کی، پوچا ډېره مهربانه وه. وړه کاچوغه به يې ژر ژر ډکوله او په اغا به يې اوازونه کول: دادا، دادا! ما په تېرو څو ورځو کې په لومړي ځل اغا وليد چې له خوراک سره مخالفت نه کوي. ډېر خوشحاله شوم. اغا د ځوانۍ په کلونو کې له خپلې مور سره چې ناروغه وه، ډيلي ته راغلی و او ما ورنه څو ځله د يوې وړه کی، توره کی نرسې د مهربانۍ خبره اورېدلې وه. د هغې ښې خاطرې د وريادولو په خاطر مې ورته وويل:« اغا دا لکه چې د هغې نرسې لور ده چې د انا خدمت يې کړی و.» اغا موسکی شو خو غږ يې ونه کړ. په تېرو څو ورځو کې يې خبرې تقريبا نه کولې. په ميترو روغتون کې يې صرف يو ځل د چهارشنبې په ورځ مازديګر چې راستون شوم، راته وويل: نه وې!

د يکشنبې په مازديګر يې د دياليز له کوټې بېرته آی، سي، يو ته ولېږداوه. بهترې پکې نه وه راغلې. نور نو نهيلی وم.

په تېرو دوه، درې اونيو کې چې اغا ناروغه شوی و، کابو هره شپه د درويش دراني دا بيت راياد شوی و:

دغه شپه ډېره درنه ده پر ځبلو

دغه شپه کړه له ځبلو سره تېره

ماخوستن ناوخته نوکریوال ډاکتر وویل چې ډاکتر پیهوش اجازه راکړې ده چې انتیوبیشن وکړم او بیا یې یوه پاڼه د امضا کولو لپاره راکړه. محبوبا راته وویل: په دې عملیه کې د مرګ خطر ډېر دی خو یو څه چانس هم شته. که دا عملیه نه وي، څو ساعته پس هر څه له لاسه ورکوو، ولې عملیه که کامیابه شي، یو څه بهتري به راشي.

محبوبا لا ما او فرید ته توضیح راکوله چې نوکریوال ډاکتر په وارخطا غږ وویل: مانیتور ته وګورئ، زړه مخ په درېدو دی، ژر فیصله وکړئ!

پاڼه مې لاسلیک کړه او موږ ته وویل شول چې انتیوبیشن که کامیاب وي، صرف پنځه دقیقې وخت غواړي، له آی، سي، یو ووځئ!

موږ درې واړه دهلیز ته ووتو. ما د وارخطایي د وخت له عادت سره سم په دهلیز کې قدم وهل شروع کړل او محبوبا مې ولیده چې د عادت برخلاف د یوه دیوال سیوري ته غلې ولاړه ده، لکه چې ژړل یې.

د انتیوبیشن د عملیې دوه، درې دقیقې لا نه وې تېرې چې اواز را وشو: عملیه ناکامه شوه.

محبوبا سمدستي داخل ته ورغله او شېبه نیمه پس یې ما او فرید ته وویل: هر څه ختم شول.

ما وپوښتله: په کابل کې څوک خبر کړم؟

په ځواب کې یې راته وویل: په طبي لحاظ وفات شوی دی خو یو څو دقیقې صبر وکړه، د زړه د بیافعالولو د هڅې امکان شته.

څو دقیقې وروسته په مصنوعي طریقه فعال شوی زړه هم ودرېد.

اغا د ډیلي په وخت د شپې په یولس بجې او پنځه ویشت دقیقې وفات شو. د کټ پښو ته یې ودرېدم. لکه څوک چې له ډېر ستړي مزله وروسته ارام شوی وي. ارام و خو له ځانه یې د روغتون د شنو جامو د راایستلو لپاره باید د بدن غړي یو ځل بیا ناارام شوي وای.

په کابل کې مې د پلار د ماما زوی رباني ناشر (چې هغه هم دوه میاشتې پخوا وفات شو.) او په ډیلي کې الهام جمالزی او دیاسینګ انجان په پېښه خبر کړل. الهام په بل ښار کې اوسېده خو زموږ په خاطر دا ځو ورځې په ډیلي کې و. الهام، انجان او یوې وطنوالې ډاکترې، ایندرجیت، چې اوس هندي شوې وه، ډېرې منډې راسره وکړې. د افغان سفیر، د سفارت د ځینو نورو کارکوونکو، ډاکتر خالق رشید او ځینو افغان محصلانو اخلاص هم د هېرېدو نه دی.

له وفاته وروسته راته وویل شول چې د روغتون او پولیسو په دفتر کې اداري کارونه، د الوتکې د ټکټ برابرول او د تابوت برابرول په مخکې دي. د تابوت خبرې د اغا یو بیت رایاد کړ چې څو اونۍ مخکې یې په کابل کې بې مقدمې راته ویلی و. زه په کابل کې د ده په کوټه کې وم. دی په خپل کټ باندې ناست و، تسپې یې اړولې او زه لاندې په توشک ورته ناست وم. څه نور مجلس مو کاوه خو ده د خبرو په منځ کې ناڅاپه راته وویل: «ګوجی د یوه کوچیني سمندري ژوي وچ پوستکی دی چې ښایسته ماشومانو ته یې ورټومبي چې په نظر نه شي. ما څو کاله پخوا ویلي وو:

ور یې وړئ تابوت چې یې بلا اخلي په مړینه هم
دغه تش ګوجی په ښایسته کابل کې وټومبئ»

سهار وختي محبوبا د روغتون د هغو کوټو، کټونو او دهلیزونو عکسونه اخیستل چې اغا پکې د ژوند وروستۍ شپږ ورځې تېرې کړې وې. د دغو عکسونو او دغو خاطرو د خوندي کولو مقصد څه دی؟ مرګ له موږ سره څه کوي؟ دا یو راز دی. او موږ له مرګ سره څه کوو؟ دا یو بل راز دی.

د ۱۳۹۳ کال د جدي دوه ویشتمه

## پنځمه برخه :

# دري مرکي

# کلمې به د پيسو غونډې په احتياط لګوو

يادونه: دلته د ګران دوست علم ګل سحر پوښتنو ته زما ځوابونه لولئ. دغه مرکه په ۱۳۸۵ کې وه او هغه وخت د زرکې مجلې په دويمه ګڼه کې خپره شوه. زموږ په ادب باندې د سحر صاحب يو احسان دا هم دی چې نور ليکلو ته هڅوي. که د ده هڅه نه وای دلته اکثره راغلې خبرې به مې شايد هيڅوخت نه وې کړې.

**کيسه ليکلو ته مو څنګه پام شول؟**

په ماشومتوب کې مې د نورو ماشومانو غونډې له نکلونو سره مينه وه. د ليک لوست له څه نا څه زده زده کړې وروسته چې مې لومړنی کتاب په ژوند کې ولوست د اروانباد محمد ګل نوري ملي هينداره و. وروسته مې بيا ( په دولس، ديارلس کلنۍ کې ) نورو همزولو ته د اورېدلو نکلونو د ځينو توکو په مرسته فی البديهه نکلونه جوړول او په دې به خوشحاليدم چې هغوی راته غوږ ايښی دی. زموږ د کور په کتابتون کې د داستاني آثارو کمی نه و. شايد د هغو لوستنې هم کيسه ليکنې ته هڅولی يم.

**لومړۍ کيسه دې کومه ده؟ ايا ترې راضي ياست؟**

نه مې ياديږي خو دا وايم چې راضي به ترې نه وم ځکه داسې ډېر لږ کيږي چې خپله ليکنه راته په تول پوره ښکاره شي. دا وروستۍ خبره د تواضع له مخې نه کوم.زما باور دی چې زموږ د نورو ليکوالو په آثارو کې هم ښې ليکنې کمې دي.په لومړي ځل زما لنډه کيسه په ۱۳۶۳ کې چاپ شوه. تر دې له مخه مې په لسګونو کيسې ليکلې وې خو نه مې خوښېدلې. له لومړۍ چاپ شوې کيسې هم راضي نه يم خو څرنګه چې له شوروي نيواک سره مقابله مې لازمه ګڼله نو د خپلو هغو کيسو د چاپولو نيت مې وکړ چې د شورويانو د يرغل مخالفت پکې شوی و.

**کره کتنې ته دې ولې مخه کړه؟**

زما د نیکه ( د پلار پلار) یو عادت و چې د کتاب له لوستلو وروسته به یې ورباندې تبصره لیکله. زه د خپل نیکه د وفات په وخت درې کلن وم. د هغه د تبصرې لیکلو په عادت هاله خبر شوم چې په راوروسته کلونو کې مې مطالعه پیل کړه او د کور د کتابتون د ګڼو کتابونو په وروستي سپینه پاڼه یا حاشیو کې مې د هغه تبصرې ولوستې. ما ته هم له دغه کار سره مینه پیدا شوه. د کتاب له لوستو وروسته به مې خپله تبصره ولیکله او که به مې نیکه ورباندې تبصره لیکلې وه هغه به مې ورسره پرتله کړه. ګومان کوم له کره کتنې سره مې لومړۍ مینه په دې ډول پیدا شوه. البته، د ژوند یوې بلې تجربې هم همیشه کره کتنې ته مایل کړی یم.

ما چې د کیسه لیکنې هڅه پیل کړه، ورسره مې په ( ژوندون) مجله کې د وطني لیکوالو د لنډو کیسو لوستل پیل کړل. ژوندون مجله په اونۍ کې یو ځل چاپیده. دغو کیسو خوند نه راکاوه. فکر مې کاوه چې بدذوقه یم. دغه فکر ځورولم. د نیکه تبصرو هم راسره مرسته نه کوله، ځکه تبصرې یې په ناولونو او د تاریخ په کتابونو باندې وې، هغه هم په شپږو ، اوو کرښو کې ډیرې کُلي خبرې. له پلاره مې څو ځله اورېدلي وو چې د کابل د مطبوعاتو کیسې ښې نه دي خو ما په زړه کې ویل چې که لنډې کیسې دغسې نه لیکل کیږي نو ولې یې په سرکاري مجلو کې چاپوي. په دغه ذهني کشمکش به مې کال ، یو نیم کال تېر و چې په لومړي ځل مې د چیخوف یوه لنډه کیسه( شرط) ولوسته. بې حده خوند یې راکړ. زه چې له یوې لیکنې ډېر خوند واخلم بیا نو راته ځای په ځای ناسته مشکله شي، ګرځم، په هغه ورځ هم د ښاروالي پارک ته، چې په کندز کې زموږ کور ته نژدې و، لاړم، تر ډېرو پکې ګرځېدم. له هغه وروسته وار په وار د ګڼو لیکوالو په آثارو شکي شوم او دا هوس راپیدا شو چې که مې وس ورسیږي زلمي او زلمکي به په دې قانع کوم چې د خپل وخت د مشهورو لیکوالو د شهرت پروا ونه کړي، خپل فکر او خپل ذوق ته په کمه سترګه ونه ګوري، په هر اثر باندې شک وکړي او تر هغو یې ونه مني چې زړه او ذهن یې نه وي منلی.

**کله چې ماشوم وې دا فکر دې کولای شوی چې یو وخت به لوی لیکوال شې؟**

پلار مې راته کیسه کوله چې یو وخت یې د یو چا د نظم و نثر په باره کې مضمون لیکلی او استاد بینوا مرحوم ته یې ور وړی و. استاد د مضمون له لوستو وروسته ورته ویلي وو: هر لیکونکي ته لیکوال مه وایه. په څو ماتو ګوډو لیکنو یو څوک نه لیکوال کیږي.

دا د دیارلس سوه څودیرشمو کلونو خبره ده. زمونږ مشرانو به د لیکوال کلمه په احتیاط استعمالوله خو مونږ له کلمو سره انصاف نه کوو. ما ته د استاد خبره ځکه رایاده شوه چې د پوښتنې په جمله کې دې د ( لوی لیکوال) عبارت راغلی و. غوره خو دا ده چې کلمې د پیسو غوندې په احتیاط ولګوو.

پاته شوه د سوال خبره. په ماشومتوب کې په دې نه پوهېدم چې په لوینې به د لیکوالۍ شوق کوم. په لومړي ځل مې په شپږم ټولګي کې د ښوونځي د سبقونو لپاره نه بلکې د خپلو لیکنو لپاره کتابچه واخیسته او چې تر څو پوهنتون تلم، شل ورقه کتابچې به مې له سرمقالې نیولې تر داستان پورې، په خپلو مختلفو لیکنو، تلخیصونو او ژباړو ډکولې. دغه کتابچې مې مجلې بللې. مجلې مې په دې نیت نه برابرولې چې لیکوال شم. بس هسې ساتیري وه. اوس یو څه اجتماعي مسولیت احساسوم. ځان مجبور ګڼم چې راشه درشه وکړم. په هغه وخت کې آزاد وم. یوازې به خوشحاله وم. اوس هم له یوازیتوبه ډیر خوند اخلم. سړی چې یوازې وي بیا نو په خیال کې ژوند کوي، مجلې راباسي.

ګومان کوم ورو ورو مې دا تمایل ډیریده چې کاشکې لیکوال واوسم، ځکه په یولسم کې چې وم د تخار په چاه آب کې یو چا چې ادعا یې کوله، د لاس د کرښو په معنا پوهیږي، راته وویل چې لیکوال به شې. زما هغه وخت هم په فالونو یقین نه راته، نو حیران پاتې شوم چې دغه سړی زما د زړه په پټه آرزو څه خبر شو. دغه د تخار د

سفر خاطرې ته چې ګورم، ویلای شم چې لږ تر لږه د لیسې په دوره کې، که څه هم په دې نه پوهیدم چې په آینده کې به څه کوم خو زړه مې غوښتل چې لیکوال واوسم.

**تاسې لکه څنګه چې د داستان په برخه کې د نظر خاوند او کره کتونکي یاست، د شعر او نورو ادبي ژانرو په برخه کې هم یاست،خو شعر نه لیکئ، دا ولې؟**

په شپږم ټولګي کې مې د شعر لپاره هم یوه کتابچه لرله. په اووم کې مې خپل یوه ټولګیوال ته چې اقبال نومېده او په ترافیکي پیښه کې ووژل شو، مرثیه ولیکله. د مرثیې د قافیې کلمې مې د خوشحال بابا د یوې قصیدې د قافیې له کلمو راواخیستلې. کال ، نهال ، اقبال... د هغه مړینې ډیر ودردولم خو د مرثیې د لیکلو لپاره چې د قافیې د کلمو د لست برابرول رایادوم نو دې نتیجې ته رسیږم چې فطرت مې د شاعر نه و.

په نهم کې چې وم د سعدي د ګلستان په پیروي مې د حکایتونو او شعري قطعاتو یوه ټولګه برابره کړه. د پوهنتون په لومړیو دوو کلونو کې مې د سلو پاڼو کتابچه په شعرونو ډکه کړه. دا وروستۍ کتابچه تر اوسه راسره شته خو شعر پکې نشته. کلمې یې هغسې ترتیب نه لري چې د شعر له مضمون سره متناسبه، ښایسته موسیقي وغږوي. زه کله کله احساس کوم چې یوه موسیقي راڅخه ورکه ده، که هغه پیدا کړم نو د شعر د الهې معبد ته به د ننوتلو اجازه ومومم.

په شعر باندې د پوهیدو په اړه به ووایم چې په شعر که لږ پوهیدلی یم یا ډیر، دا ټول د پلار له برکته ګڼم. ما په خپل ژوند کې تر هغه له شعر سره بلد سړی نه دی لیدلی. زه چې د کوم بیت په معنا پوه نه شم ده ته یې ښیم او چې ورباندې پوه مې کړي حقارت احساس کړم ځکه تر هغه له مخه ما ډیر غور ورباندې کړی وي خو د چا خبره سر مې ورباندې نه وي خلاص شوی.

**په تیر انجمن کې ولې عیبونه وینئ؟**

د ليکوالو اتحاديه چې څو کاله وروسته يې نوم انجمن شو د ۱۳۵۹ کال په ميزان کې جوړه شوه. زه په هغه وخت کې محصل وم. ما د اتحاديې د تاسيس د غونډې ويناوې له خپريدو وروسته ولوستې او د هغو ځينې برخې مې د خپلو خاطرو په کتابچه کې وليکلې. په دې خاطر نه چې خوند يې راکړ بلکې له دې کبله چې بدې راباندې لګيدلې وې.

د اتحاديې د تاسيس د ورځې مشر ويناوال سلطان علي کشتمند و. هغه د واکمن ګوند د مرکزي کميټې پيغام ولوست. په پيغام کې راغلي وو« در اين لحظه حساس مرحله نوين انقلاب ثور در حالی که حزب همه نيروها را در جهت محو کامل ضد انقلاب و باندهای مسلح مداخله گر، اين جيره خواران امپرياليزم و هژمونيزم، سوق داده است، وطن از نويسندگان و شعرای خود انتظار آفرينش چنان آثاری را دارد که نفرت مردم را عليه دشمنان شعله ور گرداند و عقيده آنها را در پيروزی کامل اين امر مقدس تحکيم بخشد و از قهرمانی ها و پايمردی های مدافعين پر افتخار مردم ستايش بعمل آورد.»

په دې غونډه کې يو بل چارواکي حبيب منګل د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د ليکوالو او شاعرانو د اتحاديې د موسسې کنګرې اساسي بيانيه ولوسته. د اتحاديې د اساسي بيانيې يوه برخه هم، چې راسره نوټ کړې مې ده، دلته ټکي په ټکي را اخلم.« انقلاب سوال اساسی را برای هر يک از نويسندگان مطرح نمود. شما امروز در کنار چه کسانی قرار داريد؟ با مردم زحمتکش و ستم ديده که درفش آزادی و انقلاب را بالاخره بالا نموده اند، يا يک دسته مزدوران استعمار وامپرياليزم ،خفه کنندگان آزادی و دشمنان انقلاب ، دزدان و آدمکشان ؟ محک قضاوت در مورد شخصيت هر نويسنده و شاعر امروزی موضوع موضعگيری او در برابر انقلاب و ضد انقلاب می باشد. مايه خوشنوديست که اکثر نويسندگان افغانستان امروز در صنوف اول سنگرهای انقلاب قرار دارند وهمراه با مردم و حزب خود کار و پيکار می کنند.»

دغسې خبرې وې چې اتحادیې ته مې له ابتدا د شک په نظر کتلي دي. البته، د شورویانو په وخت کې د حکومت هر اقدام راباندې بد لګېده، د استبداد په لور یو ګام رابښکاریده. له شوروي سره مې د ماشومتوب له وخته کینه وه او چې شورویانو زمونږ وطن لاندې کړ، دغه کینه یو په څو شوه.

زمونږ د کورنۍ مشرانو د اکتوبر تر انقلاب له مخه او راوروسته څو کلونو کې په روسیه او روسي ترکستان کې تجارت کاوه. لوی کاروبار یې و. دوی ته بلشویکان دومره بې لارې کسان ښکاره شول چې د عثماي ترکیې له پخواني جنرال، انور پاشا سره یې ملګرتیا وکړه او په هغو هڅو کې یې برخه واخیسته چې په روسي ترکستان کې د کمونیست حکومت د جوړېدو د مخنیوي لپاره روانې وې. د بلشویکو د ظلمونو او قتلونو کیسې لا تر هغه وخته چې زه ماشوم وم، زمونږ په کور کې نه وې هیرې شوې. دغو کیسو مې په ذهن اثر کړی دی. اوس هم چې د شوروي په رنګیدو کلونه تیر دي، د لینین او ستالین د عسکرو عکسونه وېره رااچوي، لکه څوک چې وېروونکي فلم ته ګوري. دغه راز زما د ماشومتوب په وخت کې لا په کندز کې د بلوشکویو له ظلمه راتښیدلي مهاجر ژوندي وو. یوه اوزبکه مهاجره مې یادیږي چې ویل به یې د راپورې وتو په وخت یې خپل څو میاشتینی زوی څکه په توره شپه کې د آمو خوني څپو ته سپارلی و چې ژړل یې او مېږه یې ورته ویلي وو چې سین ته یې خطا کړه، هسې نه روسي عسکر یې اواز واوري او راپام یې شي.

د ۱۳٦۴ کال د دلوې په نولسمه شپه په صوابۍ کې د افغان مهاجرو په کمپ باندې تر سهاره پورې باران ورېده. زه او ملګري مې دغه کمپ ته مازدیګر رارسېدلي او د ژمي په هغه لنډ او ساړه مازدیګر کې مو د څو کورنیو غمجن داستانونه اورېدلي وو. مونږ د یوه مستند فلم په جوړولو بوخت وو.

د ماښام له ډوډۍ لږ څه وروسته په بسترو کې وغځېدو خو ماته خوب رانغی. د یوې دنګې، نرۍ ، رنګ الوتې میرمن څېره مې له ذهنه نه وته. دا تر څه مودې دمخه پورې په ننګرهار کې اوسېده، په خپل کلي کې. یوه ورځ چې له خپلو ماشومانو سره

په کور کې پوازې وه، دروازه ور وټکېده، له چولې یې ور وکتل. روسي عسکر وو، وسلې یې لمر ته ځلېدلې. دې دروازه ورخلاصه نه کړه. عسکرو د برچو په څوکو د دروازې په ماتولو شروع وکړه. دې چې نور فکر نه شوای کولی، ماشومان یې د ژغورنې په نیت د کور کوهي ته واچول.

او اوس یې کور د ملګرو ملتونو په یوه خیمه کې و. د ماشومانو په ځای د غم او ګناه له احساس سره اوسېده.

په هغه مازدیګر مې په صوابۍ کې نورې غملړلې خبرې هم اورېدلې وې خو زه پوهیدم چې د دې مېرمن کیسې ولې ډېر وبورنولم. دې مې په ذهن کې د هغې اوزبکې مهاجرې خاطره ژوندۍ کوله چې له آمو راپورې وتله او ماشوم یې د سره پوځ د عسکرو له وېرې سین ته اچولی و.

اوس چې شوروي اتحاد، پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د یرغل په څېر، د تاریخ یوه برخه ده او تېرو پیښو ته په یو څه ارامو اعصابو کتلی شم، دې نتیجې ته رسېږم چې د لیکوالو اتحادیه، د هغه وخت د نورو ګڼو اجتماعي سازمانونو په نسبت، ګټوره موسسه وه. د هیواد یو شمېر ډېر ښه او تکړه لیکوال او شاعران د اتحادیې غړي وو. اتحادیې ( او انجمن) ګڼ کتابونه چاپ کړل چې ځینې یې د معاصر ادب په مهمو آثارو کې حساب دي.

له اتحادیې څخه د سلطان علي کشتمند او حبیب منګل په غوښتنو سربیره د هغه وخت د هغه په چاپ شویو لیکنو کې ځینې داسې تمایلات هم وو چې د ژبې، فکر او ادب په تاوان یې ګڼم. زه چې کله انجمن په ښو نه یادوم منظور مې له دغو تمایلاتو او هغو غوښتنو سره مخالفت وي. هغه وخت د تصنع، ابهام او کُلي ګویي بازار تود و او په نظمونو او نثرونو کې دا رنګه جملې چې د کمزورو ترجمو غوندې ښکارېدې، کمې نه وې. مونږ په عادي ژوند کې د اجتماعي اصولو او منل شویو فکرونو احترام کوو. دغه احترام کله نا کله راباندې بوج شي، ځکه د وګړي غوښتنې او د ټولنې غوښتنې له یو بله بېلې دي، نو د دغه بوج د کمولو لپاره یوه لاره دا ده چې هنر او ادب

ته پناه وروړو. دلته د زړه په خوښه خبرې کوو، اجتماعي قیدونه پکې کم وي. همدا وجه ده چې د هنر او ادب دنیا تصنع نه شي منلی. له ځانه په لوی لاس بل څوک جوړول د ادب په دنیا کې بې ادبي ګڼل کیږي.

لاندې، پټ لاس راغځولی او د وچې صحرا تږو لاروبانو ته یې د خپلو نعمتونو ډکه لپه نیولې ده.

ما د دې پوښتنې په ځواب کې چې تېر انجمن ولې غندم، اوردې او جدي خبرې وکړې. که ټول عمر جدي غږیږو، ستومانه کیږو . زه هم که کله کله د انجمن د لیکنو په انتقاد کې جدي یم، کله بیا هسې د خپلو « انجمني» دوستانو سره د ټوکو لپاره په انجمن نیوکه کوم خو اوس ګومان کوم چې ما په خپله ټوکه کې افراط کړی دی، ځکه په دې وروستیو ورځو کې یوه لیکوال ملګري راته وویل: غضنفر صاحب، زه دا منم چې سور کمونیست وم مګر باور وکه د انجمن غړی نه وم!

**تاسې به د پوهنتون استادان لیدلي وي چې د علمي رتبې لپاره آثار لیکي مګر ځینو ته یې لیکوال وایو، ځینو ته نه، دا ولې؟**

دې پوښتنې ته زما ځواب دا دی چې که یو مفهوم ، مثلا پنځوس درجې پیچلی وي او یو څوک هغه داسې ولیکي چې پیچلتیا یې څلویښت درجو ته راکمه شي، دغه کس لیکوال دی، که یې پیچلتیا په خپل حال وساتي، لیکوال نه دی او که ی یې نور هم پیچلی کړي، نه یوازې لیکوال نه دی بلکې ( ضد لیکوال) دی.

یو وخت ما له پروفیسر قلندر مومند مرحوم څخه پوښتنه وکړه چې ایا سایتسي لیکنو ته ادبي لیکنې ویلای شو؟ هغه جالب ځواب راکړ، راته ویې ویل چې له ادبیاتو پرته د نورو ساحو مثلا ساینسي پوهنو لیکونکي که خپل اثر په داسې ډول ولیکي چې د نوموړي علم په ماهرانو سربیره نورو خلکو ته هم اپیل وکړي، یعنې دغه اثر نورو ته هم د مخاطب کیدو قدرت ولري او د هغوی لپاره د پوهیدو او لوستو وړ وي، د ادبي ارزښت لرونکی اثر یې بللای شو.

له جزییاتو څخه کلیات او قاعدې جوړول د علم کار دی. علمي لیکنې د کلیاتو بیان او ادبي لیکنې د جزییاتو بیان ته متمایلې دي. دا د علمي سبک جمله ده چې اوبه یو بې بویه، بې رنګه، بې خاصې مزې مایع ته وایي چې د تودوخې په ذریعه په بړاس او د یخنۍ په ذریعه په کنګل بدلیږي. مګر دا ادبي طرز دی چې: د وچې صحرا په تېز لمر کې د یخو رڼو اوبو چینه یوې غیبې خزانې ته ورته وه. په اوبو کې د غره د واورو او بوټو تریخ خوشبویه خوند و، تا به ویل چې د صحرا د ختیځ خوا ته ولاړ غره تر زمکه

**ستاسې د کیسو کرکټرونه زیاتره نارینه وي، ولې د ښځو برخه پکې لږه ده؟**

ښځې زموږ د اجتماعي ژوند په څنډه کې اوسي. دوکانداران، ډریوران، هوټلیان، بزګران، توپکیان، ملکان، سیاستوال، داړه مار، غله، صوفیان، ملایان، دا ټول نارینه دي یا تقریبا نارینه دي. بله دا چې کیسه هغه وخت ښه لیکل کیږي چې کرکټر ورکې فعال وي. زموږ دودونو نارینه وو ته دا چانس ډیر ورکړی دی چې فعال واوسي. نارینه ته په دې وطن کې خرپ او ترپ دواړه اسان دي.

**موسیقي نه اورئ خو شعر مو ډیر خوښیږي، ولې؟**

هسې وایي چې د بلخ مولانا، جلال الدین محمد، یوه ورځ د ښار د زرکوبانو له کوځې تېریده ، د هغوی د څټکانو ټک، ټک یې حال بدل کړ، د مستۍ څپه ورباندې راغله، په نڅا سر شو، د ماسپښین د لمانځه له وخته د مازدیګر د لمانځه تر مهاله وڅرخېده، پایکوبي یې وکوله او سندرې یې وویلې.

یو روایت مې لوستی و چې کله به په رسول الله مبارک باندې وحی راتله نو اول به یې د جرس د شرنګهار غوندې یو اواز واوریده.

لرغونو یونانیانو چې د پخوانۍ دنیا تر ګردو لوی تمدن یې رامنځ ته کړ، په ښوونځیو کې د موسیقي زده کړه ضروري بلله.

په اوسنۍ زمانه کې موسیقي ته دومره ډېر اهمیت ورکول یوازې د هوس خبره نه ده بلکې د بنیادم د استعداد او روحیې په غوړولو کې د هغې برخه هم د دې سبب شوې ده چې ډېر پام ورته وشي.

زه پخپله ډېره لږه موسیقي اورم او دا څو علته لري. کله چې ماشوم او زلمکی وم د کندز په رستورانونو کې به په لوړ اواز سندرې خپرېدې؛ په کور کې به هم چا په پخلنځي کې د راډیو سندرې اوریدې او چا په کوټه کې ټیپ ته کسټ وراچولی و. دغه هر ځای او هر وخت موسیقي مې له دغه هنر سره مینه کمه کړه. وروسته بیا چې ډېر کلونه په وطن کې د وینو باران و او د سولې د رڼا هیڅ پته نه لګېده، زړه مې دومره مات و چې د موسیقي د اوریدو حوصله نه وه راپاتې. یو ذوق چې ونه پالل شي، مړاوي کېږي او یو شي ته چې توجه ونه کړو، که هغه اهمیت هم و لري، اهمیت يې زموږ په ژوند کې کمېږي. کله چې فرصت پیدا کړم او موسیقي را په یاد شي، سل نورې چارې راته ضرور وایسي او د موسیقي شوق مې هماغسې د ژوند په څنډه کې پاتې شي.

د ځلورو، پنځو کلونو په عمر به وم چې له مور سره د ماماګانو کره غزني ته تللی وم. هلته مور یو، دوه ځایه ودونو ته بوتلم. په دغو ودونو کې چې مې کومې سندرې واورېدې، هغو مې په ذهن کې همیشنۍ ځاله وکړه. زه د خپل ذهن په صحرا کې اوس هم چې د ورځني ژوند شورماشور غلی وي، د هغې موسیقي اواز اورم، لکه د بیابان په چوپتیا کې چې د باد اواز اورېدل کېږي.

یو نیم وخت فکر کوم چې شعر ځکه نه شم ویلی چې په روح کې مې پرته موسیقي د وطن د غرونو او بیابانونو غونډې لرغونې ده خو خبرې راسره اوسنۍ دي. دوی له یو بل سره نه غاړه غړۍ کېږي.

## ایا مینه دې کړې ده؟

په اتم، نهم ټولګي کې چې وم، له ځان سره به مې ویل چې که لوی شم یوه مقاله به لیکم ، له شاعرانو به غواړم چې د مینې په باره کې شاعري بس کړي، ځکه د مینې ذکر په کافي اندازه شوی دی، بل څه دې ووایي، خو په ورپسې کلونو کې د

خپل فکر په خامي پوه شوم او بیا وروسته چې په وطن کې د جنګ لمبې بلې شوې نو د سعدي صاحب خبره زما په برخه کې هم رښتیا وخته چې ویلي یې وو، یو وخت په دمشق کې وچکالي دومره ډېره شوه چې یارانو مینه هېره کړه.

لس، پنځلس کاله پخوا مې د مینې په باره کې یوه کیسه لیکلې وه چې اوس په کاغذونو کې رانه ورکه ده، که یې ومومم چاپ به یې کړم. په دې کیسه کې یو هلک په ماشومتوب کې د ګاونډۍ نجلۍ ته لیوال شي ځکه د دې نجلۍ د نیک خوی ډېر تعریفونه کیږي. دې نجلۍ ته ډېر متوجه شي، پوه شي چې په درسونو کې تر ده لایقه نه ده نو لیوالتیا یې ورو ورو ختمه شي.

هلک د بلوغ په کلونو کې یوه ورځ په بس کې ډېره ښکلې نجلۍ ویني، سمدستي وربانديې میین شي خو د بس په لنډ سفر کې یې پام شي چې نجلۍ غیرمهذبه او بې ادبه ده نو له بسه لا کوز شوی نه وي چې د هغې مینه یې هم له زړه کډه وکړي. دغه هلک د محصلي په دوران کې یوه ډېره لایقه او ذکي نجلۍ ویني. دا نجلۍ که څه هم ښکلې نه ده خو د خپل نبوغ په زور د ده په ذهن کې ځاله وکړي.

وروسته بیا یوه شپه محصل زلمی خوب ویني چې درې واړه نجونې ، دغه لایقه، هغه ښکلې او هغه نېکه، سره یو ځای شي، په یوه کس بدلې شي. زلمی د دغه کس د لیدلو توان نه لري ، چیغه کړي، راویښ شي او شکر وباسي چې د رښتیا په دنیا کې دغسې څوک نشته، کنه ټول عمر به یې غلام و.

په دې کیسه کې چې د مینې په باره کې کوم فکر دی، هغه مې زړه ته پریوځي او د خپل ژوند له تجربو سره یې مخالف نه ګڼم.

## وینو چې تل په کار بوخت یې، ایا وزګار وخت هم لرئ؟ که یې لرئ په څه شي یې تېروئ؟

زما په اړه دا خبره چندان سمه نه ده چې تل په کار بوخت یم. سمه دا ده چې زه د تفریح په چل نپوهیږم. هغوی چې غواړي واقعا فعال واوسي باید د تفریح په چل پوه شي. کله چې ستړی نه یم او د وخت اختیار مې په خپل لاس کې وي، په لیک

لوست ځان بوخت ساتم او چې ذهن مې ستومانه وي، تر بل هر څه راته پلې تګ خوند راکوي او چې په جسمي او ذهني دواړو لحاظونو ستومانه شم بیا نو که ممکنه وي د کوټې پردې کشوم، تیاره جوړوم او یوازې کښېنم یا څملم.

## ولې په سیمینارونو او لویو غونډو کې برخه نه اخلئ؟

چې مطالعه کوم هغه څه لولم چې غواړم یې. په سیمینارونو کې دا اختیار نه لرم. دغه راز، په لویو غونډو کې ویره راسره وي چې هسې نه د چا د خپګان سبب شم. د لږو کسانو په غونډه کې دا ویره کمه وي او تنهایي خو پاکه پاچهي ده.

## که اوږد سمندري سفر ولرئ او د یوه کتاب د وړلو اجازه ولرئ کوم کتاب به له ځانه سره وړئ؟

د لنډېو یو کتاب.

## د خپل ماشومتوب په باره کې راته ووایاست؟

یوه ورځ مې په لښته پښه اړولې وه، د مهمانخانې په حویلۍ کې ګرځېدم. په خپل خیال کې په آس سپور وم. نیکه مې له خپل یوه ملګري سره چې مونږ به علاقه دار ماما باله ، ناست و. دوی چې زه ولیدم راغږ یې کړل چې ورشم خو ورنه غلم. دوی په خپل منځ کې سره وویل: د ماشومانو عجبه خوندوره دنیا ده!

د هغوی له خبرې وروسته شیبه نیمه د یوه چنار ډډ ته ودریدم او له ځان سره مې فکر وکړ چې په ماشومتوب کې نو څه خوند دی؟ په لښته سپور یم، ځان غلطوم.

دغه وخت به زه د دوه نیمو کلونو وم او دا مې د ژوند لومړۍ خاطره ده. زه ګومان کوم دې لومړۍ خاطرې مې په ټول ژوند سیوري کړی دی. کله چې خلک مېلو ته ځي، ودونو ته ځي، اختر ته خوشحالیږي او یا په ژوند کې د یوه بري په خاطر سره راغونډیږي، بریاوې لمانځي، زه په ظاهره له نورو سره موسکی کیږم خو په زړه کې هماغسې فکر کوم لکه د ژوند د لومړۍ خاطرې په وخت چې مې کړی و.

زما د ماشومتوب په وخت زموږ د کور حویلۍ ډېره لویه وه. لس، پنځلس چنارونه او د ګل ګلاب په سلګونو بوټې پکې وو. له ما سره به دا فکر و چې د چنارونو او ګلونو

د پاڼو او څانګو په منځ کې ممکن یو پټ راز وي. ډېر ځله به د ګلاب بوټو ته ناست وم، لکه یو څوک چې یو شی پسې غواړي. لس ، دولس کاله پخوا مې یوه شپه خوب لیده چې لیکنې مې د ګلاب په بوټو بدلې شوې وي. خوبونه خو د سیمبولونو او استعارو په ژبه خبرې کوي. ما چې په ماشومتوب کې د ګلاب په بوټو کې په یوه راز او پټ شي پسې ګرځېدل په یاد و، د خوب له منظرې دا معنا واخیسته چې اوس په لوینې یوې موضوع ته کښېنم، ورته ګورم، په راز پسې یې ګرځم او له خپلې پلټنې کیسه یا مقاله جوړوم. زه د خپل ماشومتوب د هاغه عادت او اوسني ژوند تر منځ ژوره رابطه وینم.

**ولې دریشي نه کوئ؟**

پخوا مې دریشي اغوسته، اوس مې زړه غواړي ملي جامې واغوندم. غواړم د هغو کلیوالو په ډله کې شامل واوسم چې د وطني جامو د اغوستلو په خاطر، ځان د خپل وطن په دفترونو کې پردی احساسوي.

زما یو ایرانی ملګری، سیروس یزداني، اته، نهه کاله پخوا په تهران کې په اجتماعي علومو کې ماسټري اخیسته. هغه ته پوهنتون ویلي وو چې د اسیایي ملتونو د جامو په اړه څېړنه وکړي. یزداني راځخه په دې څېړنه کې د برخه اخیستلو غوښتنه وکړه. د څېړنې په وخت دې نتیجې ته ورسیدم چې زمونږ ملي جامې په آسیایي جامو کې خاص مقام لري. په وروستیو لسیزو کې ډېرو نورو خلکو ، مثلا ګڼ شمیر پنجابیانو، زموږ د جامو تقلید کړی او دا په کلتوري ساحه کې لوی بری دی. عجبه خبره خو دا ده چې زموږ د خلکو د ښځینه جامو نوي ډولونه نن سبا په کابل کې د پنجابي جامو په نوم یادیږي. زموږ ګاونډي څومره بختور خلک دي!

**په ژوند کې دې څو ځله د زړه له اخلاصه خندلي دي؟**

په دې پوښتنه سم نه پوهیږم.

**کله چې له خواشینی سره مخ یاست، څه کوئ؟**

پلی ګرځم، تاریخ لولم، شعر یا داسې بل څه لولم. له پلار سره کښینم او له هغه د تېرو وختونو په اړه پوښتنې کوم. خو که هم پوره ستړی واوسم او هم پوره خواشینی، بیا هځه کوم چې ویده شم.

**کوم ډول خواړه دې زیات خوښېږي؟**

چې غوړي يې کم وي او ښه پاخه شوي وي او زه ورته وږی یم. ټول خواړه خوندور دي. البته، تور بانجان او شیر برنج که هر رنګه پاخه شي، کبر دې نه شي، نه مې خوښېږي.

## که بیا ژوند ولرې بیا به هم په همدې لاره ځې که به بله لاره انتخابوې؟

برترند راسل د شلمې پېړۍ ډیر لوی انسان و. له هغه يې په تېر عمر وپوښتل چې که بیا وزېږېدې همداسې ژوند به کوې یا بل ډول؟ هغه ځواب ورکړ: همداسې ژوند به کوم.

له راسل سره دا مرکه ما هغه وخت لوستې وه چې د لیسې د دورې زده کوونکی وم. زما یادېږي چې هغه وخت مې دغه پوښتنه له ځانه وکړه او هاله د تېر عمر ډیرې شیبې ضایع شوې رابښکاره شوې. زما د ورځنیو هڅو یو اصلي مقصد او که ووایم تر ټولو اصلي مقصد ممکن دا وي چې غواړم د ژوند د مزل په پای کې مې د پښیمانیو بار کم وي او دې مقصد ته به هله رسېږم چې چا ته ضرر ونه رسوم، وخت وزګاره تېر نه کړم او لیکلو لوستلو ته ډیر فرصت ولرم. د لیکلو او لوستلو په کار پښیمانه نه یم.

**که د افغانستان د اطلاعاتو کلتور وزیر شئ څه به کوئ؟**

په دې باره کې مې فکر نه دی کړی.

## د نورو کسانو برعکس تاسې ډیر نه په غصه کیږئ، راز يې په څه کې دئ؟

زه چې په خپل کار بوخت یم، د بل چا داسې حرکت ته چې ممکن زما د قهر سبب شي، په اسانه نه پام کیږي او که مې پام هم شي د هیریدو هڅه يې کوم ځکه

د څو دقیقو قهر ممکن ټوله ورځ را بې خونده کړي. البته، يو بل علت هم شته. زما زړه په اسانه دا نه مني چې وګړي په لوی لاس ناسم عمل کوي. خلک معمولا بد نه کوي بلکې سهوه کوي. هيڅوک نه غواړي چې پياله دې يې له لاسه ولوېږي، ماته دې شي، مګر هره ورځ ډېرې پيالې ماتېږي.

## تر اوسه چې دې کوم ښه شعر اورېدلی دی، کوم دی؟

شعرونه مې ډېر اورېدلي دي خو که دې منظور تر ټولو ښه شعر وي، زما په نظر تر ټولو ښه شعر نشته، ځکه نشته چې د مختلفو فورمونو، زمانو او سبکونو شعرونه له يو بل سره نه پرتله کېږي.

# د نطاقي په باب مرکه

دغه مرکه نامتو ویاند محمد هاشم سنگر نیازي په ۱۳۸۲ لمریز کال کې راسره کړې او هغه وخت چاپ شوې وه.

**پوښتنه: نطاقي دې څه وخت او چېرته شروع کړه؟**

ځواب: په ۱۳۶۸ کال کې ، په تهران راډیو کې.

**پوښتنه: مینه دې ورسره وه؟**

ځواب: نه، هسې تصادف و. تهران راډیو ته یو ځوک پکار و. ما پوهنتون تمام کړی و خو په پاکستان کې مې داسې کار نه و چې خوند راکړي. بل د پاکستان هوا ډیره گرمه وه، پعذابولم یې، په وطن کې ستونزې وې، نو که په بل هر ساړه وطن کې کوم بل کار هم راپیدا شوی وای، شاید په خوشحالي به مې مانه.

**پوښتنه: وروسته چې دې نطاقي وکړه، مینه دې ورسره پیدا شوه؟**

ځواب: ولې نه. گومان گوم یو ځوک که له یو کار سره بلد شي، بیا یې مینه ورسره پیدا کېږي.

**پوښتنه: په اوله کې دې ورسره ولې دلچسپي نه وه؟**

ځواب: فکر مې کاوه چې نطاقي هسې خبرې دي، خو وروسته پوه شوم چې هزار نکته باریکتر ز مو اینجاست. البته، دې تجربې که نطاقي راته مهمه چاره وگرځوله، وېره یې هم را زیاته کړه. اوس په نطاقي کې هغومره زړه ور نه یم لکه پنځلس کاله پخوا چې وم. په اوله کې مې داسې هم کول چې لیکنه وار له مخکې ونه لولم او سټډیو ته لاړ شم خو اوس ورته قلم را اخلم، یاگانو ته ټکي ږدم، چیرته چې مکث لازم وي هلته کامه ږدم، که د کلمې په تلفظ کې شک

وکړم پوښتنه کوم یا ډکشنري پسې ګورم، غټ عددونه په الفبا لیکم، که په نثر کې تېروتنه وي تر وسه وسه یې د سمولو هڅه کوم او دا هم ممکنه ده چې په کومه کلمه تاکید پکار وي د هغې لاندې کرښه وباسم.

**پوښتنه: د متن د ګرامر سموالی له ښې نطاقي سره څومره تړاو لري؟**

ځواب: ماته خو چې یو نثر په ګرامري لحاظ سم ښکاره نه شي، ویل یې راته ډیر سخته وي.

**پوښتنه: ستاسې د خوښې کار کیسه لیکنه ده، ایا د کیسه لیکنې او نطاقي تر منځ رابطه وینئ؟**

ځواب: لنډه کیسه یوه نثري ژانر دی. زما په ګومان د هر ښه نثر دوه خصوصیته تر نورو مهم دي. یو دا چې وضاحت پکې وي او بل روان وي یعنې ژبه یې د ویلو په وخت په تکلیف نه شي. د نثر وضاحت ته ممکن د ډیرو لیکوالو پام وي خو د نثر رواني ته شاید د ډیرو پام نه وي، ځکه موږ نثرونه په پټه خوله لیکو او په زړه کې یې لولو. هغوی چې نثرونه په لوړ اواز لولي د نثر د رواني په برخه کې یې حساسیت زیاتیږي.نطاقي له دغه مقصد سره ښه مرسته کولای شي.

**پوښتنه: یو ښه نطاق باید کومې ځانګړنې ولري؟**

ځواب: زما په ګومان څوک چې غواړي زموږ په ژبه کې ښه نطاق شي باید د نثر له باریکیو سره ځان بلد کړي، ځکه ناسم او بدرنګی متن د تکړه نطاق کار هم ضایع کوي. البته که نطاق په نثر کې د تصرف حق ونلري، دا بېله خبره ده.

یو کامیاب نطاق باید د تاکید ځایونه وپیژني. ځینې تاکیدات له ګرامر سره تعلق نیسي. ما ډیر ځله اوریدلي دي چې د (کابل راډیو) د ویلو په وخت نطاقان په ( راډیو) باندې تاکید کوي، حال دا چې دلته د صفت او موصوف رابطه وینو او پر( کابل) باید تاکید وشي. موږ ممکن له خپلو نطاقاتو واورو چې د ( هیله ده) د ویلو په وخت په ( ده) باندې تاکید وکړي، حال دا چې په ( هیله) باندې تاکید پکار دی. ځینې نور تاکیدات له عمومي معلوماتو سره تعلق نیسي. که مثلا یو خبر ولرو چې

د تېلو د یوه بېرل بیه لس ډالرو ته ورسېده، اوس که نطاق د تېلو د اقتصاد په باره کې عمومي معلومات ولري نو پوهېږي چې په وروستیو کلونو کې د تېلو بیله هیڅکله دومره زیاته نه وه راپرېوتې او په همدې وجه به د لس په کلمه باندې تاکید وکړي خو ناخبره نطاق به د تاکید دغه ځای ونه پیژني.

دغه راز نطاق باید د مکث ځایونه وپیژني. په دې جمله کې چې وایو: دا دی د فلم په اړه څو خبرې واورئ؛ له فلم څخه وروسته مکث بې ځایه دی ځکه ( فلم) له ( په اړه) سره تړلی دی. ځینې نطاقان هغه ځای توقف خوښوي چې ساه اخلي او دا سمه نه ده.د ځینو نورو نطاقانو د ویلو طرز یو ثابت آهنګ لري؛ که د هغوی د طرز آهنګ هر چرته مکث غوښت یا تاکید، دوی هماغلته مکث یا تاکید کوي. دا هم بده نطاقي ده.

**پوښتنه: د نطاق او اورېدونکي د رواني رابطې په باره کې څه وایاست؟**

ځواب: هر نطاق چې غواړي اورېدونکي ته خپل مهارت نبغ نبغ کړي او په خپل مخاطب باندې د لاسبري هڅه وکړي، د مخاطب زړه ته لاره نه شي کولای. په نورو باندې د تسلط او لاسبري موندلو روحیه خطرناکه ده او روابطو ته زیان رسوي. نطاق ته پکار ده د هغه چا غوندې وي چې د زړه له تله غواړي خپله خبره موږ ته راورسوي او موږ ورباندې وپوهوي.

د ویلو ځینې طرزونه ډېره رسمي بڼه لري. اورېدونکی ممکن دا احساس وکړي چې نطاق یو پردی سړی دی او هسې د وظیفې په اساس لګیا دی خبرې کوي. اورېدونکی غواړي زموږ د ویلو په طرز کې صمیمیت احساس کړي.

په اوله کې ما له تېز ویلو خوند اخیست. په دې به خوشحالیدم چې اورېدونکی فکر وکړي چې په متن باندې ډېر حاکم یم خو تجربو راوښودله چې دا خطا لاره وه. مخاطب راڅخه اصلا دا غواړي چې زه خبره په داسې انداز وکړم

چې هغه ورباندې سم پوه شي او بل هغه توقع لري چې زما په خبرو کې صميميت او خپلوي احساس کړي، نه پرديتوب او کلانکاري.

هغه څوک چې خپل لوستونکي او خپلې ژبې ته احترام نلري او مينه يې ورسره نه وي، هغه ته به ښه نطاقي تقريبا ناممکنه وي.

**پوښتنه: د نطاق لپاره غږ څومره مهم دی؟**

ځواب: زما په نظرد اکثرو کسانو غږ د نطاقي لپاره نامناسب نه دی. د نطاق نورې ځانګړنې مهمې دي. ګومان کوم زموږ په وطن کې چې د نطاقي لپاره څوک استخداميږي ، ډير اهميت يې غږ ته ورکول کيږي خو که زما اختيار وي، زه به ډير اهميت د نطاق د معلوماتو زياتوالي او په ژبه باندې لاسبري ته ورکړم.

**پوښتنه: د نطاقي د وخت يوه خاطره راته ووایاست؟**

ځواب: په ۱۳۷۷ کې مې د تهران راډيو د سهارنی خپروونې لپاره کار کاوه. خپروونه به په شپږ بجې پيلېدله. يو ساعته وه . زه به د شپې په دوه بجې راډيو ته تلم. يوازې به وم. کمپيوټر ته به ناست وم، خبرونه به مې انتخابول، برابرول او ژباړل. دغه راز دوې تبصرې مې ژباړلې او د پرزنتيشن لپاره مې مواد چمتو کول. يوه ورځ مې ليکنې راواخيستې، سټديو ته روان شوم. زموږ دفتر په شپږم منزل کې و او سټديو تر زمکې څو منزله لاندې وه. د خپروونې پيليدو ته دوې دقيقې پاتې وې چې سټديو ته ورسېدم. که ګورم د خپلو مطالبو په ځای مې نورې پاڼې راوړې دي. په دوه دقيقې کې د تلو او راتلو امکان نه و خو بله لاره نه وه. تخنيکي همکارې ته مې چې په سټديو کې ناسته وه، ستونزه واوروله، زه په لفت کې پاس وختم. په خپروونې باندې درې دقيقې تېرې وې چې راورسېدم. د پروګرام په اخر کې مې تخنيکي همکارې ته وويل چې چاته به غږ نکوې خو هغې وويل: که رپورټ ورنکړم جنجال جوړيږي. اخر مو فيصله وکړه چې دا به څو ساعته صبر کوي ، که خبره افشا شوه، رپورټ به ورکوي او کنه ځان به غلی نيسي. ښه وو د خپروونې مسولينو خپرونه نه وه اروېدلې؛ بلا وه، برکت يې نه و.

له هغه وروسته چې به د ژوندۍ خپروونې لپاره سټډیو ته تلم، پاملې به مې په دقت کتلې او ځان مې مجبوراوه چې پنځه، شپږ دقیقې دمخه حاضر واوسم.

زما یو عادت و چې په ژوندۍ خپروونه کې مې هم سټډیو ته راسره کتاب وړ. کله چې به د ثبت شویو مطالبو د خپرولو نوبت وو، ما به کتاب راواړاوه، څو ځله داسې شوي چې ثبت شوي مطالب به ختم وو، څراغ به سور و خو زه به خبر نه وم. دغه عادت مې تر پایه ترک نکړ. اوس ښه دی ژوندۍ نطاقي او پرزنټېشن نه کوم، دغسې جنجالونه نه راپېښېږي.

**پوښتنه: یو تازه کار نطاق ته څه ویل غواړئ؟**

ځواب : گومان کوم په دا ټولو خبرو کې تازه کار نطاقان مخاطب وو. البته، ډیر نور څه هم شته چې نوي نطاقان باید پام ورته وکړي. د ( رې) په شمول ځینې توري داسې دي چې ځینې کسان یې سم نه تلفظ کوي یا مثلا د کابل ځینې اوسېدونکي ( الف) د ( ح) غوندې وايي. تازه کار نطاق ته لازمه ده هر هغه څه چې سم یې نه تلفظ کوي، له ځان سره تمرین کړي. ما به د ( الجزایر) کلمه سمه نه شوای لوستی، یوه ورځ مې څو دقیقې سر په سر له ځان سره په لوړ اواز تکرار کړه، مشکل ختم شو.

موږ چې خبرې کوو، د هرې کلمې وروستی توری او د هرې جملې وروستۍ کلمه ممکن پوره تلفظ نه کړو. تازه کار نطاق ته پکار ده ځان داده کړي چې د متن د ویلو په وخت یې د کلمې وروستی توری او د جملې وروستۍ کلمه هم سمه تلفظ کړې ده. بهتره ده چې نطاق د کلمو د سم تلفظ لپاره یوه کتابچه ولري او هلته هره هغه کلمه نوټ کړي چې په سم ویلو کې یې شک لري. زموږ ځینې نطاقان سم تلفظ ته اهمیت نه ورکوي او په دې ډول خپل زحمت بې ارزښه کوي. موږ باید په خپلې حافظې ډیره تکیه ونه کړو، د نویو معلوماتو لیکل پکار دي او د زړه معلوماتو چیک کول.

زما تجربه دا ده چې هر تازه کار نطاق خپل غږ نه خوښوي او له دې درکه خوربېږي، حال دا چې د ده ممکن بهترین غږ وي. تازه کار نطاق باید یوازې د ځان د رسولو په فکر کې وي او د خپل غږ په باره کې قضاوت نورو ته پرېږدي، په تېره بیا پردو کسانو ته، ځکه د یوې کورنۍ غړي ممکن د یو بل په غږ کې ښکلا ونهویني. البته، د کار په ابتدا کې دې د خپل غږ په باره کې د پردو کسانو منفي قضاوت ته هم چندان اهمیت نه ورکوي ځکه په اوله کې غږ په کنټرول کې نه وي او دغه شی د تازه کار نطاق د غږ په اړه قضاوت مشکل ګرځوي. له بلې خوا، زموږ په ټولنو کې زوړ نسل د ځوان نسل ژر منلو ته تیار نه دی. ځوانانو ته پکار ده چې د خپلې ټولنې دغه تریخ واقعیت هېر نه کړي او د صبر و حوصلې لمن پرې نه ږدي.

**پوښتنه: د نطاقي لپاره د معیاري ژبې په اړه څه نظر لرئ؟**

ځواب: د تمثیل او نطاقي ژبه فرق لري. نطاقي باید په معیاري ژبه وي خو سوال دا دی چې معیاري ژبه کومه ده؟ ځینې کسان یوې لهجې ته معیاري وایي، ځینې نور بلې ته. زما په ګومان دا بې ګټې کوښښ دی. زه په لیکوالي کې یوې نتیجې ته رسېدلی یم چې غواړم په نطاقي کې هم هماغسې وي. د پښتو هره لهجه طبعا ځینې نیمګړتیاوې لري. دغه کمزوري اړخونه، له نیکه مرغه په هره لهجه کې محدود دي او په اسانه یې موندلای شو. زما په فکر که لیکوال خپله مورنۍ لهجه هېره نکړي او صرف د هغې د نیمګړتیاوو مخه ونیسي نو نثر به یې سم وي، ټول به وربانديې پوهېږي، خوند به ځینې اخلي. زما د مورنۍ لهجې یو لوی عیب دا دی چې د ( دی) په ځای ( ده) وایو. د لیکلو په وخت دا څرګنده غلطي نه تکراروم، په نطاقي کې هم.دغه راز که د کونړ ځینې اوسیدونکي د ( کړي دي) په ځای ( کلي دي) ووایي، سمه نه ده او که د خوست اوسېدونکي په خبرونو کې هم ( الف) په فتحه بدل کړي او ( کابل) ته ( کبل) ووایي، تېروتنه کوي. زما په خیال که هر څوک په خپله لهجه کې هغه تېروتنې، چې محدودې دي، تکرار نه کړي، نور نو د ټولو یوه پښتو ده، البته داسې یوه

پښتو چې د تنوع ښکلا به لري او د واقعیت په ستنو به ولاړه وي. موږ د ( خه) یا ( شه) په ځای ( ښه) ځکه لیکو چې په درې واړه ډولونو یې تلفظ مثل شوی دی. مونږ باید د غلطیو په مقابل کې حساسیت ولرو خو دا چې ټول نطاقان دې یو شان وغږیږي، دا کار نه ګټه لري، نه شونی دی.

**پوښتنه: کیدای شي د نورو نطاقانو د کار په باره کې خپله یوه نیمه خاطره بیان کړئ!**

ځواب: ما پخپله د امریکا غږ د پښتو څانګې د نطاقانو له ویاندي ډېر خوند اخیستی دی کله چې به شپون صاحب، نور صاحب ،تږي صاحب یا جلالي صاحب په امریکا غږ کې کوم مطلب لوست نو که به مطلب جالب هم نه و، د دوی د وینا د فصیح انداز په خاطر به مې اورېده، خوند یې راکاوه.

البته، لس، یولس کاله پخوا یوه شپه د بي بي سي د یوه نطاق خبرو دومره په تکلیف کړم چې په سر مې درد شو. تر سهاره سردرده وم. بیا مې ډیر وخت بي بي سي نه اورېدله.

یو متن که د راډیو له لارې خپرېږي ، یا په کومه مهمه نشریه کې چاپېږي او ماته ناسم معلوم شي، ځوروي مې، ممکن په سر مې درد شي. ستا مخې ته دې حیا وي، کابل راډیو هم یو دوه ځله سر درد کړی یم.

**پوښتنه: کابل راډیو اوس اورې؟**

ځواب: چې مجبور نه شم نه.

**پوښتنه: یعنې زموږ نطاقان ستا په نظر کمزوري دي؟**

ځواب: نطاقان ښه دي، غنیمت دی، خو متن چې سم نه وي نطاق څه وکړي؟موږ باید د افغانستان په راډیو تلویزیون کې داسې کسان هم ولرو چې په پښتو سم پوه شي او چارواکي وي، یعنې د خبرونو او نورو مطالبو د سمولو صلاحیت ولري، کنه نو خانه به خوست و کشت به لوګر نه کېږي.

# د ښکلا په باره کې مرکه

دا مرکه د نويو فکرونو او خيالونو څښتن عنايت ديدار په ۲۰۰۸ کال کې راسره کړې او وروسته يې بيا په کاغذ باندې کښلې ده. څرنګه چې په اصل کې شفاهي مرکه ده نو د خبرو انداز پکې يو څه زيات دی.

---

**ديدار:**

**حسن دی بس حسن چې هم خدای اوهم جانان دی**
**دې فنا مکان کې بل مشال د لامکان دی**
**يو د ګلاب مخ کې چې پراته کوم خوابونه دي**
**نشته يوهم نشته د منطق په کتابونو کې**
**(غني خان بابا)**

**ښکلا ته ولې داسې تعريف نه پيدا کيږي چې هرچاته د منلو وړ وي؟**

غضنفر: ځينې شيان کيفي وي د انسان له ذوق سره تعلق لري، د انسان له باطني قواوو سره تعلق لري ، انسان يې په عقلاني قوت باندې، په خپل فکر باندې نه شي اندازه کولی، انسان داسې وسايل نه شي ورته جوړولی چې هغه اندازه کړي، نو د داسې څيزونو تعريف ډېرمشکل شي . نه يوازې د ښکلا بلکې د هنر تعريف ډېر ګران دی. د هغه څه چې مونږ يې د خپل وجدان او ذوق په مرسته احساسوو د هغو دقيق بيان ډېر مشکل وي، ښکلا هم په هم دې لړکې ده.

**ديدار: اپلاتون وايي چې ښکلا په هرځای کې شته دی،خو د هغې د ادراک لپاره خپل، خپل معيار پکار وي ، څه خيال مو دی هغه**

**څوک چې مونږ ته دلته ښکلی دی د افریقا تورپوستو ته به هم وي؟ یعنې ماحول په معیار کې څومره توپیر راوستی شي؟**

غضنفر: ماحول په ښکلا باندې ډېر اغېز کولی شي. مختلف کلتورونه او د تمدن درجه د ښکلا په اړه د یو قام په تعبیر او تفسیر ډېر اغېز کوي. تا مخکې افریقا یاده کړه. د تورپوستکو په یوه ټاپو کې چې عیسویانو د مریم بي بي مجسمه جوړوله ،په تورو تیږو پسې گرځېدل، دوی ته تورې تیږې ښکلې ښکارېدې، دا ځکه چې تورې تیږې د دوی د ښکلا له معیارسره برابرې وې، خو سپین پوستي معمولا د مریم بي بي د مجسمو د جوړولو لپاره په سپینو تیږو پسې گرځي . تاسو پښتو شاعري وگورئ هرچرته وایي چې تورې سترگې ،تورې زلفې؛ ځکه چې دلته د زیاتو خلکو سترگې تورې دي ، دوی ډېر ښاېست په تورو سترگو کېویني او په رنگونو کې بیا د غنمو رنگ یادوي. حمید بابا د غنمرنگو په اړه وایي:

پلار مې د غنمو دانې ویوست له جنته
زه لا تمه دار د غنمرنگو د وفا سم

کله چې دې سیمې ته مغول راغلل د مغولو پوزې ټیټې وې، سترگې یې نرۍ او وړې وې. وروسته چې بیا کومه انځورگري دلته راغله نو که تاسو د څو پېړیو پخوا میناتورونه وگورئ په هغو کې معمولا مغولي حسنونه دي ځکه چې غالب قام مغلوب و او مغلوب قومونه د غالبو قامونو تر اغیز لاندې راځي، د ذوق په لحاظ هم د هغو پېروي خوښوي، نو نتیجه دا ده چې د ماحول شرایط د ښکلا د معیارپه ټاکلو کې لوی لاس لري. دغه راز د تمدن د درجې په لوړېدو سره د انسان په خوی او ذوق کې ظرافت زیاتېږي او شدلوالی کمېږي. وروسته پاتې قامونه ممکن تېز رنگونه، تېز عطر او احساساتي ادبیات ، د هغو قامونو په نسبت ډېر خوښ کړي چې ترقي یې کړې ده. اروپایان چې څو پېړۍ پخوا وروسته پاتې او اکثره بې سواده وو، د اعدام پېښې ته به داسې راغونډېدل لکه جشن

چې وي، خو چې هر څومره يې د تهذيب او تمدن درجه بهتره کېدله هغومره يې د اعدام نندارو ته پام بده شوه او د وژلو په مقابل کې حساسيت پکې زيات شو. منظور دا چې د يوه قام د تمدن درجه د هغه قام د ښکلا پېژندنې په معيار باندې اثر لري ، لکه د قام په خوی او اخلاقو چې يې لري.

**ديدار:وايي چې ليلا دومره ښکلې نه وه لکه قېس يې چې څومره مجنون کړی و ،که راته ووايې چې ښکلا دعاشق په سترګو کې ده که د معشوق په مخ کې ده؟**

غضنفر:کېدای شي چې دواړه ځايه وي. په دې اړه د ښکلا پېژندنې دوه لويې نظريې دي ، يوې ته د ښکلا انفسي يا subjective نظريه وايي او بلې ته د ښکلا آفاقي يا objective نظريه. ډېر خلك په دې عقيده دي چې ښکلا هم په بهرکې ده اوهم د انسان په زړه او سترګو کې . په دې اړه د شلمې پيړۍ د لوی اروا پوه کرل ګوستويونګ خبره د اوريدو وړ ده .هغه وايي چې انسان نه يوازې فردي لاشعور لري، نه يوازې هغه لاشعورلري چې له ماسره د يو فرد په توګه تعلق لري او زما هيري خاطرې پکې پرتې دي بلکې هرانسان يو جمعي لاشعورهم لري چې د ټول انسانيت تجربې پکې شته. هغه وايي که څوك په چامبين شي ،کيدای شي معشوق يې هغه څوك وي چې د عاشق په ټوليز لاشعور او مشترك انساني لاشعور کې يې له پيړيو پيړيو راهيسې تصور موجود وي. نو دی بې له دې چې په ځان پوه شي او د ښکلا په باره کې په خپله کوم تصور ولري، ممکن د لاشعوري قوتونو په ذريعه چې هغه نه يوازې د ده په خپل ژوند کې بلکې د ده د نيکونو په ژوند او تجربو کې ريښه لري، په يو چا باندې زړه بايلي. دې نظريې ته په پام سره سړی همدا خبره کولی شي چې ښکلا هم د عاشق په سترګو او هم د معشوق په حسن کې ده. دغې ارواپوهيزې نظريې هاغې زړې خبرې ته يو نوی دليل پيدا کړی دی.

**دیدار: که خبره د لاشعور او معیار وي او دا هر څه انسان له ځان سره راوړي وي نو د ښکلا پالنې ذوق او تنده تر ماشومتوب ولې په زلمیتوب کې ډېره وي ؟**

غضنفر: په ماشومتوب کې د انسان مختلف قوتونه هم ماشومان وي، د یو ماشوم عقلاني او جسمي قوت او تجربې هغومره نه وي لکه د یوه لوی؛ البته د مخالف جنس په اړه چې انسان کوم تصورات پیدا کوي هغه د جنسي بلوغ له وخت سره تعلق لري. ډېر خلك ښکلا او جنسي غریزه بي ارتباطه نه بولي، که څه هم زیگمونډ فروېډ چې د جنسي غریزې په اړه یې ډېر تحقیقات کړي دي او دې غریزې ته یې د انسان د خوی او شخصیت په جوړولو کې ډېر زیات اهمیت ورکړی دی،هغه په دې فکر و چې د ښکلا احساس له جنسي غریزې سره ډېر تعلق نه لري.

**دیدار:غضنفرصېب ،ډاکټرسټیفین هاکنگ په خپل یوه کتاب ( A Brief History of Time) کې لیکي چې د نړۍ د بدلون په چکر کې به یوازې څو کسان ژوندي پاتې شي، دا به هغه خلك وي څوك چې له ښکلا او انساني فطرت سره نږدې تعلق لري، د چا په لیکنو کې چې د فطرت عکس وي .همدا راز د پښتو ژبې عظیم شاعر غني خان بابا هم استاد بېنوا ته په یوه لیك کې لیکي چې هرشاعر دې تل ځان د حسن غلام گڼي، هم په دي اساس انسان ځان د ډېران نه باغ عدن ته او د فرش نه عرش ته رسولی شي. د نړۍ نورو لویو پوهانو هم دا خبرې کړې دي، که راته ووایې چې ښکلا د هنر په ښه والي اوبد والي کي ولې دومره لوی رول لري ؟**

غضنفر:په دې کې شك نشته چې هر په تول پوره هنر او شعر او هرهغه ادب چې پاتې کیدونکی دی، هغه باید د انسان د فطرت ترجمان وي خو د انسان فطرت یوازې له حسن سره تعلق نه لري، د انسان فطرت له نورو ډېرو

انساني تجربو سره تعلق لري، حسن ډیر اهم څیزدی خو حسن ټول ژوند نه دی، ژوند تر حسن ډیر وسیع دی.

**دیدار: ژوند خو پخپله حسن دی اوهر رنګ اوهر حالت یې له یوه پټ سرور نه ډک وي او هغه د افلاطون خبره ده چې وایي: (که یوه انسان د دښمن په پنجو کې هم وخت تېرکړی وي اوهر راز ستونزې یې لیدلې وي، نو یوه نه یوه ورځ به د هغې تېرې ورځې ارمان کوي) چې خبره داسې ده نو د ژوند هر رنګ ته ښکلی نه شو ویلی؟**

غضنفر: موږ د حسن د اهمیت د ښودلو لپاره داسې خبرې کوو. دا یوه تشبیه ده چې وایو ژوند حسن دی او دقیقي خبرې د تشبیه په اساس نه کېږي. په ژوند کې لوړه شته ،کاختي شته، په ژوند کې لږې نه بلکې ډېرې بدرنګی شته . د ژوند په اړه په دې وروستیو پېړیو کې داروین ډېرتحقیقات کړي دي. چارلز داروین د ژوند د ارتقا د معلومولو په لټون کې او د ژوند د اصل د لټون په باره کې ځان ډېرستړی کړی و، هغه خو وایي چې د ژوند د ارتقا راز په تنازع کې دی، یعنې ژوند هغه وخت د تکمیلېدو په لور ځي چې انسان له طبیعت سره ، له بل همنوعه سره او له نورو انواعو سره په کشمکش کې وي، حال دا چې موږ چې د حسن کوم تعبیرکوو په هغه کې دا جنګونه نشته. حسن په نهایت کې له سولې سره ډېر تعلق لري نه له جنګ اوله کینې سره، خو دا هله چې موږ د حسن معنوي اړخونه په نظر کې ونیسو.

**دیدار:وایي چې د نړۍ ټول هنري تخلیقونه یا پنځونې د حسن تر اغېز لاندې شوي دي تاسو ورسره اتفاق کوئ ؟**

غضنفر: انسان اکثره وخت هنر د دې لپاره لولي یاویني یا یې را منځ ته کوي چې یو تېر شوی ژوند بیا را ژوندی کړي او یا په هغه ژوند کې د تخییلي ګډون زمینه مساعده کړي چې ده نه دی کړی خو د تجربه کولو ارزو یې ورسره ده. زه یوازې یو ژوند کولای شم ،حېوان هم یو ژوند کولی شي خو زه د انسان

په حېث د نورو د ژوند په اړه یو تصورلرلای شم خو حېوان یې نه شي لرلی. چون حېوان د بل چا د ژوند په اړه تصور نه لري نو هنر ته اړتیا نه لري خو زه د پخوانیو خلکو او د راتلونکو خلکو او د اوسنیو د ژوند په اړه فکرونه او تصورات لرم، مګر د نورو په ژوند کې د شاملېدو او د نورو د احساسولو وخت او امکانات راسره نشته ، نو دا کار د هنر د لوستلو یا د هنر د ښځولو په ذریعه کوم او د هنر له لارې په مختلفو ژوندونونو کې ګډون کوم. د دې لپاره چې خپل ژوند لا شتمن کړم، یا هنر رامنځ ته کوم یا هنر اورم، وینم او لولم. دغه ذریعې دي چې زه په حقیقت کې خپل ژوند پرې غني کوم یعنې غواړم چې په لا ډېر ژوند کې تخییلي ګډون وکړم. دا تجربه ډېره وسیع ده، دا اړینه نه ده چې له حسن سره دې خامخا او تل تعلق ولري. د ژوند ډېرې تجربې دي چې له حسن سره ډېرتعلق نه لري. یو خړ دېوال چې چپه شوی دی کېدای شي ښاېست ونه لري خو انسان ته یو څه وېل غواړي او په هنري موضوع بدلېدای شي. هنر زموږ له ټولو جذبو سره تعلق لري، په هغو کې قهر،مینه ،خواخوږي اونور ډېر څیزونه شامل دي. د هنر یوه لویه موضوع له مرګ سره مقابله ده، دا موضوع له حسن سره چندان تعلق نه لري. موږ غواړو چې واوسو .یو وخت ما ته یو چا ووېل چې زه له ژوند څخه یوازې یو شی غواړم، هغه دا چې که زه مړهم یم خو چې د دې دنیا له حاله خبر شم، زه د معلوماتو تږی یم. په هنر کې مونږ د معلوماتو تنده هم لرو. زه چې کله ماښام په ښار کې ګرځم او د کورونو څراغونه بل وي، نو د شیشو ترشا چې رڼا ته وګورم ډېرعجیب هوس وکړم چې کاشکې د دې شیشو له ورها خوا ژونده خبر وای. یوه مور څه کوي؟ یو ماشوم څه کوي؟یوه نجلۍ څه وایي؟ یو هلك په څه بوخت دی؟ دوی څه خبرې کوي؟ څه سره وایي؟ په څه بوخت دي؟ څه پخوي؟ څه ارزوګانې لري؟ دا په حقیقت کې له حسن سره تعلق نه لري،دا د معلوماتو تنده ده. انسان ډېر وسیع وجود دی .حسن د ده د ژوند یوازې یوه تجربه ده، البته مهمه تجربه خو ټوله تجربه یې نه ده.

**دیدار: د سکروټې رنګ هم سوردی او د ګل رنګ هم، د ګل هرڅوك مينه وال دي خو د سکروټې يوهم نه يعنې يوازې رنګ نه دی چې انساني معيارمسخرکولی شي . ستاسو په يوه کيسه کې يوهلك په يوې نجلۍ مينيږي هغه بداخلاقه وي ،په بلې مينيږي هغه په ښوونځي کې تمبله وي، بيايوه شپه داهلك خوبويني چې دا اوهغه ټولې جينکۍ په يوې نجلۍ بدلې شوې وي په دې وخت کې هلك راوښيږي اوشکرباسي چې د ريښتياوو په جهان کې داسې يو څوك نشته ،کنه نو دی به ټول عمر د چاغلام و، که راته ووایاست چې اخلاق په حسن څومره اغېزلرلی شي ؟**

غضنفر :انسان اقدارلري چې په دغو اقدارو کې يې درې ډېر زيات مهم دي. يو ښېګنه، بل حسن اوبل حقيقت. دا د انسان عالي اقدار دي . دغه اقدار کله کله يو له بله بېلولی هم نه شو. د يوه انګرېز پوه يوه مشهوره جمله ده وايي چې حقيقت حسن او حسن حقيقت دی. د دې مانا دا ده چې دا سره نژدې دي که يو څوك ډېر ښکلی وي او اخلاق ونه لري ، د ده ښکلا راته ښه نه ښکاري. زما پلار يوه خبره کوي وايي چې په حشراتو کې لړم ډېر ښکلی دی خو د هر چا بد ايسي ځکه چې تاوان پېښوي. دغه راز حسن له حقيقت سره تعلق لري. يو شعر که هر څومره هم ښکلی وګڼې خو چې له حقيقت سره نږی تار ونه لري زړه ته دې نه لويږي .هنر که هر څو خيالي وي په يو شکل د اشکالو به يې منې چې هو، داسې کيږي . که ته په يوه خبره باندې هيڅ باور ونه کړې، هغه خبره در باندې اثر نه شي کولای. په پخوانو نکلونو کې د دېو و ښاپېرۍ و جادو مسايل ډېر دي، دا ځکه چې دغه شيان د خلکو زړهٔ ته پرېوتل. اوس چې باورونه بدل شوي دي، د کيسو موضوعات هم بدل شوي دي، او که دېو وښاپېرۍ او بلا هم په کيسه کې راوړو نو په هماغه پخوانۍ بڼه ممکن نه وي، مثلا ښاپېرۍ ممکن د نېکۍ و ازادۍ و مينې د سمبول په توګه په کيسه کې راوړو. د ا په حقيقت کې يو نوی نقش دی چې ښاپېرۍ ته يې ورکوو.

پخوانو پاچایانو به په خپلو دربارونو کې شاعرانو ته انعامونه ورکول چې د دوی مدحې وکړي . زرکاله پخوا یو شاعر و چې عنصري نومېده، وېل کېږي چې دهٔ د سرو زرو انغري لرل. ده به دا ټولې پېسې په مدحو ګټلې خو دغه مدحې يې د وجدان په حکم نه کولې؛دغه مدحې د شعر د فن په لحاظ ډېرې عالي وې مګر کامل شهکارونه او ښه ادب ځکه ورته نه شو ويلی چې حسن او فني ښکلا يې له حقيقت او خير سره نه وه يو ځای کړې. هغه که به هر څومره ښه شعر و خو د ظالم مدحې به پکې عېب پيدا کړ او د دې عېب په وجه ورنه پوره خوند نه شو اخيستلی،نو فکرکوم چې دا درې سره تړلې خبرې دي، دا درې عالي اقدار له يوبل سره نږدې تعلق لري.

**ديدار:ډاکټر رودوال وايي چې:**

**د څېرې خبره مه کوه جانانه**

**هسې روح مې ستا په روح باندې مېين دی**

**هېڅ معيار توپير د مينې دود کې نشته**

**هرمېين د چا په روح باندې مېين دی**

**په دې اړه موخه خيال دی که داسې نه وای نو انسان به هره ګړۍ نه مېينېده ؟ کله چې سترګې د روح ترجمانې شي او دا مخ د روح په معيار برابر شي نو مينه رامنځ ته شي، دې کې څه واياست؟**

غضنفر:دا خو شعر دی، په دې باندې شاعرانه بحث کېدای شي، نور بحث ور باندې ګران دی. هغه خلك چې مومن دي ، په دې باورلري چې روح شته او په قرآن کريم کې راغلي دي چې :( **وَ يَسْئَلُونَکَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَ ما أُوتيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلاَّ قَليلاً**) نو روح د خدای امر دی او د هغه په حصه کې موږ معلومات نه شو لرلی.

په فلسفه کې په اول ځل افلاطون د مثالي او غير مادي ښکلا په اړه سيستماتيکې خبرې کړې دي. افلاطون د فلسفې يوه ډېره شانداره مانۍ جوړه

کړه. د لویدیځ خلکو چې تجربي علومو ته مخه کړه، د افلاطون له مانی راووتل، خو موږ تر اوسه په دې مانۍ کې اوسو. شاعرانو په هره زمانه کې د افلاطون له خپرو الهام اخیستی دی، خو ښکلا او ښکلا پېژندنه له یو بله توپیر لري. په ښکلا پېژندنه کې به ته د بلې هرې پېژندنې غوندې مجبور یې د اندازه کولو او تجربه کولو په وسایلو پسې وګرځې. نو لکه څنګه چې ورته اشاره وشوه اسلام هم وایي چې د روح په باره کې انسان معلومات نه شي لرلای او بحث ورباندې سخته شي.

**دیدار:ځینې شاعران حسن ته لمبه، اور او....وايي اوځینې یې بیا ارتقا ته د رسېدو پوړۍ ګڼې، ستاسو په خیال په دوی کې بریالي هنرمندان څوک دي ؟**

غضنفر:زه به بیاهم فروید ته لاړشم. فروید په خپله اروایوهنه کې یوه اصطلاح لري چې(Sublimation)ورته وايي. موږ هغه تصعید بولو یعنې له ارتقا سره اړیکه لري. هغه وايي چې انسان له خپلې جنسي غریزې یا لیبیدو د ارتقا لپاره استفاده کوي ، مثلا که یوڅوک شعر لیکي، دی رواني انرژي په یوه عالي شي بدلوي، یا که یو څوک ساینس پوه دی هغه له همدغه رواني انرژي ( لیبیدو یا جنسي غریزې) نه په حقیقت کې سره زر جوړوي څکه د انسانیت د خیرلپاره، د حقیقت د کشف لپاره او د انسان د بقا او ترقی لپاره یې پکاروي، نو ښه خبره خو دا ده چې حسن له ارتقاسره تړلی وبولو، دا به په خیروي ،او دا چې څوک یې سور اور بولي یا یې سکروټه بولي ، دا شاعرانه خبرې هم د حسن په باره کې له ځینو تجربوسره تعلق لري ، سرې یې ډېرې هوايي نه شي ګڼلی.

**دیدار:غضنفرصېب هرڅوک له نورو نه په ځان کې ډېره ښکلاویني، تاسو لیبیدو یاده کړه نو ماته د نارسیسیزم موضوع را یاده شوه څکه چې فروید په دې دواړو باندې په یوه څپرکي کې بحث کړی دی که راته ووایئ چې په نارسیسیزم اخته کسان د ټولنې په ګټه دي که په زیان؟**

غضنفر:د ناسیسیزم په برخه کې هم ډېرتحقیقات شوي دي نتیجه یې تقریبا دا د ه چې که انسان بیخي نارسیسیزم ونه لري نوبیا د ځان لپاره هم څه نه شي کولی.انسان باېد یو څه په ځان مېین وي چې لوی کارونه وکړي ،خو دلته یو فرق شته. یو سړی په ځان مېین دی خو له دې لارې غواړي نور وځپې ،دی ډېر قدرت ولري او نور تحقیر کړي،د نورو په وړولو کې خپله لویي ویني. دا هم ناسیسیزم دی یوځوك لگیا دی شپه اوورځ خولې تویوي، شپه او ورځ فکر کوي ،غواړي چې انسانیت ته خېر ورسوي، دی دا خېر د دې لپاره هم رسوي چې دی په مهم انسان بدل شي، چې نور ووایي چې دی عالي انسان دی نو دا هم نارسیسیزم دی، نو نارسیسیزم هغسې هم تعبیرېدی شي ،هغه شکل هم نیوی شي اودا هم او که انسان هېڅ نارسیسیزم ونه لري دا په حقیقت کې په رواني لحاظ پخپله یوعېب دی خو که دا نارسیسیزم له معقول حده تېرشي لکه د هټلر نارسیسیزم شو،د سټالېن شو، د نورو ظالمانو، ډېر نور خلك دي چې هغومره زور نه لري خو ډېر سخت نارسیسست دي، په هر حال د دوی نارسیسزم بد دی. نارسیسیزم په خپله نه گټه رسوي نه تاوان. خبره دا ده چې وگړی خپل نارسیسیزم کومې خوا ته هدایت کوي، که ځان داسې غواړي چې خدمت وکړي او له دې لارې ځان لوی کړي نو دا خو یې ټولنې ته گټه ورسوله اوکه ځان داسې لویوي چې نور تر پښو لاندې کړي نو دا یې ټولنې ته زیان ورساوه . نارسیسیز م في نفسه نه ټولنې ته گټه رسوي نه زیان، دا په هغه انسان پورې تړلې ده چې دی څنگه کار ترې اخلي. فرویډ وایي چې د یوه نارمل انسان نارسیسیزم تقریبا د ټولنې په گټه دی.

**دیدار:مننه چې دومره ډېروخت دې ځان ستړی کړ او راسره کېناستې.**

غضنفر:خدای دې تل راوله.